



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتون په تراژيدۍ کې

# او د ژغورنې لار

(د سیمینار د مقالو ټولګه)

۱۳۹۳ ل کال

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: پښتون په تراژیدۍ کې

لیـــکوال : ببلاببل

خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

د خپرندوی پرله پسې نومره: (۱)

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ وار: لومړی

چاپ نېټه: ۱۳۹۳ ل کال

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیك


| ګڼه | سرلیك | لیکوال | مخ |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | پښتون په تراژیدۍ کې | پوهنوال محمد اسمعیل یون | ۱ |
| ۲ | په تراژیدۍ کې ژوندی قوم | دارالانشاء | ۵ |
| ۳ | د پښتنو تعلیمي او کلتوري شاته... | محمد ابراهیم شینواری | ۸ |
| ۴ | د پښتنون مشرتابه خلا | فیروزخان صادق | ۳۵ |
| ۵ | د جومات او ښوونځي ترمنځ... | غلام فاروق وردګ | ۳۹ |
| ۶ | تعلیم او نوی نسل | عبدالرحمن افغانیار | ۴۸ |
| ۷ | پښتانه او ټاکنې | محمد اجمل هوډمن | ۵۱ |
| ۸ | پښتانه او هنري نړۍ | محبوب الله خان | ۶۲ |
| ۹ | پښتانه او سیالې ژبې | عزت الله شمسزی | ۶۹ |
| ۱۰ | پښتون | چترال همت شینواری | ۷۸ |
| ۱۱ | اوسنی سیاست او پښتون | اعجاز خټك | ۸۵ |
| ۱۲ | په افغانستان کې له معارف سره... | محمدحسن حقیار | ۸۹ |
| ۱۳ | په مورنۍ ژبه د زده کړې حق او... | امید حیران | ۱۰۱ |
| ۱۴ | د پښتنو د بیوزلۍ لاملونه او... | محمد داود نیازی | ۱۰۷ |
| ۱۵ | د لرو او برو پښتنو د پیوستون... | عبدالهادي قریشي | ۱۱۵ |
| ۱۶ | د لرو او برو پښتنو د یووالي | اسدالله داودزی | ۱۲۳ |


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۷ | پښتنانه | | ۱۳۰ |
| ۱۸ | پښتني غیرت او پښتني مېړمني | برېښنا امېل | ۱۴۲ |
| ۱۹ | پښتنانه په کړلېچونو کې | محمد هاشم احمدزی | ۱۴۵ |
| ۲۰ | په پښتنه ټولنه کې ښځینه محرومي | حسینه ګل | ۱۵۷ |
| ۲۱ | پراخ کمیف او موثر کیفیت | پوهنوال محمداسمعیل یون | ۱۶۱ |
| ۲۲ | د ډیورنډ کرښه او د هغې اغېزې | پوهنمل سرور ماموند | ۱۶۴ |
| ۲۳ | پښتنانه او نړۍ | داود جنبش | ۱۷۴ |
| ۲۴ | پښتنانه چارواکي او مضر احتیاط | عطاء الله حیران | ۱۸۰ |
| ۲۵ | پښتنانه او ګاونډیان | ثناءالله تسل | ۱۸۶ |
| ۲۶ | مذهبي افراطیت او پښتنانه | محمد اصف ننګ | ۱۹۶ |
| ۲۷ | وینا | ثناالله خان یوسفزی | ۲۰۵ |
| ۲۸ | وینا | ډاکتر اکرم خپلواك | ۲۰۸ |
| ۲۹ | پښتنانه او د هغه بشري ځواك | انجنیر امین ظریف | ۲۱۶ |
| ۳۰ | وینا | جنرال عبدالواحد طاقت | ۲۱۹ |
| ۳۱ | پښتنانه او افراطیت | محمدحلیم فدایي | ۲۲۳ |
| ۳۲ | وینا | دوکتور شفیق صمیم | ۲۳۴ |
| ۳۳ | وینا | پروفیسور عبدالخالق رشید | ۲۳۷ |
| ۳۴ | په تېره یوه لسیزه کې ... | غلام جیلاني ځواك | ۲۳۹ |
| ۳۵ | پرېکړه لیك | ګډونوال | ۲۴۱ |


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحریك له اساسي څانګو څخه یوه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاریخي، ملي، کلتوري ورځو او تاریخي او ملي شخصیتونو نمانځل ددې څانګې نورې دندې دي.

د هېواد د لیکوالو د علمي، دیني، روزنیزو او معلوماتي اثارو چاپ هم ددې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهیسې چې تحریك خپل عملي فعالیتونه پیل کړي دي، نو دې څانګې هم ورسره سم خپل فعالیتونه چټك کړي دي. تاریخي ورځې یې نمانځلي، تاریخي واټونو ته یې لوحې جوړې کړي. علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړي دي.

د تحریك دې څانګې د تحریك د عمومي هدفونو په رڼا کې وټپېیله چې په یوځایي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره دیني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کوي.

دا اثر (پښتون په تراژیدۍ کې) چې ستاسو په لاس کې دی، د هغو بېلابېلو لیکوالو د لیکنو ټولګه ده چې (پښتون په تراژیدۍ کې) علمي سیمینار لپاره یې لیکلې وې او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هیله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحریك خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاینې په هیله

په درناوي

د افغانستان ملي تحریك

فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتون په تراژيدۍ کې

د ۱۳۹۲ل کال په پيل کې د افغانستان ملي تحريك پرېکړه وکړه چې له اوسني ناورين يا تراژيدۍ څخه د افغان ولس په تېره بيا د پښتانه قوم د ژغورنې په خاطر يو علمي او اکاډميك سيمينار جوړ کړي، دې سيمينار ته له لرو بر څخه مېشت افغان ليکوالان، پوهاندان او د چارو څېړونکي راوبولي او هغوی د خپلو ليکنو او ويناوو له لارې له اوسني بحران څخه د پښتانه قوم د راويستلو لارې چارې په ګوته کړي. دا علمي سيمينار د ۱۳۹۲ل کال د وږي مياشتې پر (۷) مه نېټه د کابل ښار په کابل ستار هوټل کې جوړ شو.

په دې سيمينار کې له کوزې پښتونخوا، هندوستان، منځنی ختيځ هېوادونو، د هېواد له بېلابېلو ولايتونو، اروپايي هېوادونو او نورو سيمو څخه ګڼ شمېر افغان ليکوال او پوهان راټول شوي وو. په سيمينار کې ګڼو ليکوالو خپلې ليکنې او ويناوې واورولې، د سيمينار سکرتريت د هغو ليکوالو ليکنې پر همغه وخت راټولې کړې چې بشپړې وې او هغوی چې د خپلو ليکنو لنډيز واوروه، هغوی يې د بشپړتيا ژمنه وکړه او هغوی چې ويناوې وکړې، هغوی هم ووېل چې موږ به خپلې ويناوې په ليکنۍ بڼه واړوو او د تحريك فرهنګي څانګې ته به يې وسپارو. ځينو ليکوالو خپله ژمنه پوره کړه، تر سيمينار وروسته يې هم خپلې ليکنې راولېږلې او هم د خپلو ويناوو ليکنۍ بڼه، خو يو شمېر نور يې د يوه کال په تېرېدو سره هم د خپلې ليکنې او ژمنې په عملي کولو بريالي نه شول، ملي تحريك پر هغوی باندې د خپل ټينګار ترڅنګ يو کال انتظار وويست، خو بيا هم د ځينو ښاغلو ويناوې، د ليکنو لنډيز او نظريې چې خورا ګټورې وې، پر بشپړو ليکنو بدلې نه شوې، کله چې د ملي تحريك فرهنګي څانګې د ۱۳۹۳ل کال په بهير کې د خپل فرهنګي پلان له مخې بل فرهنګي ګام اوچتاوه او پر يوځايي او هم مهالي ډول يې د (شلو عنوانو) علمي اثارو د چاپ تکل عملي کاوه، نو نور يې په ياد سيمينار کې د پاتې ليکوالو، پاتې ليکنو ته انتظار نه شو اوږدولای، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه خو زموږ له هڅو سره سره بیا هم یو شمېر ګټورې ویناوې او لیکنې به دې اثر کې له چاپه پاتې شوې.

اوس ملي تحریک د ۱۳۹۳ل کال لپاره خپل کلنی فرهنګي پلان او نور کارونه بشپړوي، یقیني خبره ده چې که خدای(ج) ژوند او مجال ورکړ، نو د ۱۳۹۴ل کال لپاره به خپل بل کاري پلان او ستراتیژي ولري، په هغه کې به هم انشاالله ګڼ شمېر نور اثار چاپ شي، خو اوس د ملي تحریک په استازې لازمه بولم چې د ۱۳۹۳ل کال په بهیر کې چې چا هم له ملي تحریک او بیا ددې تحریک له لارې له افغان ولس سره خپله هر ډول مالي او معنوي مرسته کړې، له هغو ټولو څخه د زړه له کومې مننه وکړم. په تېره بیا ددې (شلو عنوانو) بېلابېلو علمي اثارو له لیکوالو، کمپوزرانو، سمونچارو او مالي ملاتړو څخه چې دا اثار یې د چاپ تر برېده ورسول. پوره باور دی چې که پرله پسې او همغږیز کار او ملګرتیا نه وای، نو په یوځایي ډول د شلو عنوانو اثارو چاپ څه اسانه خبره نه ده. دا اثر چې اوس ستاسو په لاس کې دی، د همدې شلو عنوانو پیل دی او د دې اثارو د لړۍ لومړۍ کړۍ ده. ملي تحریک په یوځایي ډول د شلو عنوانو اثارو د چاپ هوډ ځکه وکړ چې (شل) داسې یو بشپړ عدد دی چې په ریاضي کې د خپل مفهوم ترڅنګ نور ټولنیز او کلتوري مفاهیم هم لري. دا یو متل یا مقوله ده، چې د یو کار شل کول اسانه کار نه دی. ټول همدا وایي چې دا دنیا چا شل کړې نه ده، یا دا چې د ټولو کارونو پوره کول او کره کول اسانه کار نه دی او که څوك تر خپل وسه پورته سخت کارونه پوره او بشپړ کړي، نو وایي چې پلانکی ډېر د کار سړی دی اخر یې هم شل کړه، مانا کار یې بشپړ او هدف یې ترلاسه کړ. ملي تحریک هم کلك هوډ کړی و چې پوره (شل عنوانه) اثار به چاپوي او خپل هوډ به (شلو) ته رسوي، تحریك خپل هوډ پوره کړ او دا کار موږ او زموږ نوي کهول ته دا پیغام راکوي چې که کلکه اراده، ټینګ تکل او پوخ تدبیر موجود وي، نور ډېر کارونه به (شل) شي.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کتابونو کې يو شمېر کتابونه ديني کتابونه دي، په خپله ژبه د اسلامي کتابونو کمی زموږ د ټولنې يوه علمي نيمګړتيا ده، ملي تحريك غواړي تر خپله وسله د هېوادوالو په مرسته دا نيمګړتيا ورو ورو له منځه يوسي او موږ هيله من يو د ګڼو ديني اثارو په چاپ سره به زموږ په ټولنه کې د اسلام د سپېڅلي دين له مفاهيمو او احکامو څخه ځو ګونی او ناسم تعبير له منځه لاړ شي او د دين اصلي جوهر به خلکو ته وځلېږي.

ملي تحريك له خپلو خوږو او قدرمنو هېوادوالو څخه غواړي، لکه څنګه چې د ملي تحريك له لارې ددې شلو عنوانو د اثارو د چاپ په لومړي او بريمن ګام کې يې د ملي تحريك د فرهنګپالو غړو او زموږ د خوږو ليکوالو لاسنيوی، مرسته او ملاتړ وکړ، دغسې د تحريك په دويم ستر فرهنګي هوډ کې هم د برياليتوب تر بريده د هغوی ملا وتړئ او په خپل مادي او معنوي ملاتړ د دوی هوډ او تکل د برې تر بريده ورسوئ. ملي تحريك پلان او هيله لري چې د (۱۳۹۴)ل کال تر پايه پورې په مجموعي ډول (سل عنوانه) علمي، ادبي، تاريخي او هنري اثار چاپ کړي، له قدرمنو ليکوالو څخه په خورا درنښت هيله کوو چې خپل ليکلي اثار تر ايډېټ او سمون وروسته د ملي تحريك فرهنګي څانګې ته د چاپ لپاره راولېږي، هغه هېوادوال څخه چې مالي امکانات لري له هغوی څخه په خورا درناوي غواړو چې ددې اثارو د چاپ په برخه کې مرسته او ملګرتيا وکړي او په دې جاريه صدقه او د ثواب په کار کې ځان شريك کړي.

موږ غواړو د ليکوال، سمونچاري او مالي مرستندوی (درې واړو) د قرباني، زيار، زحمت، ملي هوډ، اسلامي احساس او ګډې ملګرتيا له لارې خپل مظلوم، باعزمه او مستحق ملت ته فرهنګي خدمتونه او ډالۍ وړاندې کړو.

طبيعي خبره ده چې دومره ستر کارونه د يو تن، يوه ګروپ يا يو شخص حرکت تر وسه پورته خبره ده، خو که:

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کاڼي به لعلونه شي دا بوټي به لونګ شي

په همدې هیله چې نور نو د جنګ او جګړو د تورو لوګیو پرځای زموږ په غرو او رغو، کلیو او بانډو، لارو او کودرونو، کلیو او ښارونو کې د مینې فرهنګ او لونګ زرغون شي. په همدې هیله خپلې خبرې راټولوم.

د افغان ولس د سوکالۍ په هیله

ستاسو یو خدمتګار

محمد اسمعیل یون

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په تراژیدۍ کې ژوندی قوم

درنو او قدرمنو حاضرینو، د سیمینار قدرمنو ګډونوالو، د هېواد له بېلابېلو سیمو او له هېواده بهر راغلو مېلمنو، درنو پښتنو، ښاغلو او اغلو ټولو ته تر هر څه دمخه د افغانستان ملي تحریک په استازۍ سلامونه، درناوی او احترامونه وړاندې کوم.

هر کله راشئ، په خیر راغلئ!

درنو مشرانو، لیکوالو، پوهانو او ددې پرتمین او فکري سیمینار ګډونوالو!

تاسو تر هر چا زیات پوهېږئ، پوره درې نیمې لسیزې کېږي، چې افغان ملت په تېره بیا پښتون ولس په یوه لویه تراژیدۍ کې راګیر دی. دې غمیزې کې د پښتون ولس ایساربدل، څه تصادفي، او ناقصدي خبره نه ده. په دې تراژیدۍ کې په سیمه او نړۍ کې د پښتنو لرې او نږدې ټول دښمنان او رقیبان شامل دي. دا داسې لویه تراژیدي ده چې نه یوازې پښتون په کې د رقیبانو له خوا ټکول کېږي، بلکې خپله پښتون یې هم د خپل ځان دښمن کړی دی. قاتل او مقتول دواړه له یوه قوم څخه دي. د پښتنو هغه متل دی چې هم مړ یم هم پړ یم.

پر پښتنو دا راغلې غمیزه دومره څو اړخیزه ده چې څوک په کې پښتنو ته د زګېروي او فریاد ایستلو مجال هم نه ورکوي. که هر شعوري، بادرده او با احساسه پښتون افغان له دې غمیزې څخه د راوتلو فریاد پورته کوي، نو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې د پښتنو د شعوري دښمنانو او سیالانو له خوا ګواښل کېږي؛ د نشنلستانو او فاشیستانو ټاپې پرې لګول کېږي، بلکې په خپله د یو شمېر ځانپلورو، ورځچارو، ځانساتو، ځان خوښو او ځانګټو پښتنو له خوا هم پرې په دې پلمه تورونه پورې کېږي چې دا خلک حساسیتونه راپاروي او د دوی په اصطلاح ملي تفرقې ته لمن وهي. دا ډول پښتانه د بې غیرتۍ او مضر احتیاط په وروستي حالت کې ژوند کوي او د پښتنو د ناپښتنو مخالفینو تبر ته لاستي جوړوي.

په هر حالت! همدغو نا انډوله کارونو پښتون قام دې غمیزې ته ټېلوهلی او په دې تراژیدۍ کې یې دا دومره موده ساتلی دی.

د افغانستان ملي تحریک چې له ډېرو شعوري، هېوادپالو، ملتپالو، اسلامپالو او سمونپالو افغانانو څخه رغېدلی دی. پر پښتون ولس او ټول افغان ملت که لر دی او که بر، هېڅ ډول څرګند او نا څرګند ظلم که له خپل لوري وي که د بل، نه شي زغملای او تر دې زیاته ورته د دې تراژیدۍ غځېدل په هېڅ ډول د زغم وړ نه دي. په همدې خاطر یې (پښتون په تراژیدۍ کې او د ژغورنې لار) دا علمي سیمینار جوړ کړ، د دې سیمینار هدف همدا دی چې په علمي ډول له دې اوږدې غمیزې څخه د ژغورنې لارې چارې په ګوته او بیا یې د یوې تګلارې په توګه پښتنو سیاستوالو او واکوالو ته په لاس کې ورکړي. که چېرې پښتانه سیاستوال د دې تګلارې د پلي کېدو لپاره هڅې وکړي، نو کېدی شي له دې غمیزې څخه د دې قوم د ژغورنې هیله پیدا شي.

د افغانستان ملي تحریک څو موده وړاندې د دې سیمینار د جوړونې وعده کړې وه، دا دی نن یې خپله دا وعده پوره کړه، ملي تحریک په ډېره کمه موده کې د هېواد په کچه ډېر مهم پاموړ کارونه ترسره کړي دي. په سروبي ولسوالۍ کې سېلابځپلو ته د مرستو رسول او نورو مرستو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو هڅول، د پښتونستان واټ د نوم تازه کول، ښوزلو او اړمنو هېوادوالو ته د وينې ډالۍ، د زمري د (۲۸) جشن نمانځل او ځينې نور کارونه، چې نه غواړم د ټولو تفصيل دلته وړاندې کړم. د افغانستان ملي تحريک د يوه منظم سيستماتيک او شعوري حرکت په توګه خپل مياشتني، درې مياشتني، شپږ مياشتني او کلني پلانونه لري، چې د همغو په رڼا کې حرکت کوي. د افغانستان ملي تحريک په پام کې لري د سنبلې پر (۹) مه نېټه له پښتنو او بلوڅو سره د پيوستون ورځ يا د پښتونستان جشن هم په شاندارو مراسمو سره ونمانځي او يو ځل بيا لرې او نږدې رقيبانو او سيالانو ته دا په ډاګه کړي چې دا قوم په تراژيدۍ کې هم ژوندی دی او لا هم خپل ارزښتونه پالي او د مرګ له ګوابنه نه وېرېږي.

نور مو ډېر وخت نه نيسم، د لوی، اباد او سوکاله افغانستان

د جوړېدو په هيله

په درناوي

د ملي تحريک دارالانشاء

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتر محمدابراهیم شینواری

# د پښتنو تعلیمي او کولتوري شاته پاتې والی، سببونه او حل لارې

زما په نظر د پښتنو لویې ستونزې څلور دي:

۱) پښتانه سم په منځ نیم شوي دي. انګریز زموږ واحد بدن ته داسې ګوزار راکړی دی چې تر ننه ترې وینې څاځي.نیم پښتانه هلته د پنجابي تر لاس لاندې په اقلیت کې دي. دلته هم په واک کې یوازې سمبولیکه نماینده ګي لري. د افغان بدن د پیاوړې متې په توګه د لویو زبر ځواکونو تر دوامداره یرغلونو لاندې دي. فکرونه مو هم دومره مغشوش دي چې د لېوه او چوپان توپیر نشو کولی.

۲) فقر او بد بختي د پښتنو د ټول عمر ملګري دي.

۳) پښتانه تر اوسه لا هم له ښارونو او تمدن نه لرې په دښتو، غرونو او باندو کې اوسېږي. که ښارونو کې هم مېشت کېږي، خپل هویت له لاسه ورکوي.

۴) له تعلیمي او کولتوري شاته پاتې والي سره مخ دي.

ما ځانته د بحث لپاره وروستنی موضوع ټاکلې ده. که څه هم دا موضوع ډیرو ژورو څېړنو او مطالعې ته اړه موضوع ده، ځکه د پښتنو د تعلیمي او

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولتوري شاته پاتې والي جزئیات، سببونه او ورته حل لارې میندل کلونه کلونه کار غواړي، خو له نیکه مرغه دا کار د ۱۳۸۸ کال پښتو نړیوال کنفرانس تر ډېره حده کړی دی. دغه کنفرانس د افغان کولتوري ټولنو جرګې له خوا د لویې جرګې په خیمه کې جوړ شوی و. د هیواد له دننه، پښتونخوا، کراچۍ، عربي او غربي هیوادونو ورته په سونو پوهان راغلي وو او درې ورځې یې پر له پسې په ګروپي ډول د پښتنو د کولتوري ستونزو په باب بحثونه وکړل. د دوی د شریک فکر او پوهې نتیجې په یوه کوچني کتاب ګوټي کې چاپ شوي دي. دا چې د راټولولو، اډیټ او چاپ ته د تیاري کار یې ما تر سره کړی و، نو زه پوهېږم چې زموږ لپاره یو له بهترینو کتابونو څخه دی. دلته د همدغه کتاب لنډیز بیانوم او پرې ځینې مثالونه، ارقام او شواهد ورزیاتوم.

زه ټول پښتانه پوهان، روڼ اندي، مشران او ځوانان دې ته رابولم چې د ۱۳۸۸ کال د پښتو کنفرانس د سپارښتنو په عملي کولو کې هر یو پخپله برخه کې کار وکړي.

د پښتنو تعلیمي او کولتوري ستونزې په درې لویو برخو کې لنډې شوې دي:

لومړی: د پوهنې په برخه کې ستونزې

دویم: په پښتنو کې منفي رواجونه

دریيم: د پښتو ژبې د ودې په مخه کې پرتې ستونزې

یوه عمومي پرتلنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- له نړۍ سره: د نړۍ په ۵۰۰ تر ټولو ښو پوهنتونو کې یو هم د کوم اسلامي هېواد نه دي. پدغه لست کې د افغانستان د کوم پوهنتون راتلل خو خیال و محال و جنون ښکاري .

- له ګاونډیانو سره:

– پاکستان دوه زره فزیک پوهان لري، موږ یو تن؟

– په ایران کې د سواد کچه ۸۵٪ او په افغانستان ۲۸٪ کې ده

- د هیواد په دننه کې: له یوه تر ټولو وروسته پاتې غیر پښتون ولایت څخه شپږ سوه کسان عالي پوهنځیو ته بریالي شوي دي، د پښتنو له ورته ولایت څخه درې کسان. د دایکندي مظلوم خلک چنده ټولوي، په کابل ښار کې د کانکور د اماده ګۍ تر ټولو ښه استاد خپل ولایت ته بیايي، د کابل په نسبت لوړ معاش او درې وخته ډوډۍ ورکوي شاګردان یې وروزي. مشران یې په کابل کې ورته لیلیې نیسي، د کورسونو، غذا، هستوګنځي او انټرنټ اسانتیاوې ورته برابروي، خو زموږ کوم مشر ته که وواېې له نورو ورونو خو تاسو هم یو څه عبرت او غیرت واخلئ (غیرت خو د ګور له مړو هم ولاړېږي) نو درته به وواېې چې نورو ته خو اوس هم چیني راچالان دي، پر موږ خو چینې ودریدلي دي. حال دا چې شخصي چینې یې هم دومره وي چې پوره خیر ترې رسولای شي .

- **نتیجه**: نو هم له نړۍ، هم له ګاونډیانو او هم له خپلو افغاني ورونو شا ته پاتې یو !!!

د چخوف په شان باید د خپلې بدمرغۍ دا حقیقت ومنو تر څو د حل په میندلو مجبور شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې لاندې به لطفاً یاد کنفرانس نتیجې ولولئ. البته دا باید بیا هم روښانه کړم چې لاندې نظرونه زما یوازې شخصي نظرونه او فکري ملکیت نه دی، بلکې د هغو سلګونو درنو او معززو ګډونوالو د فکر او کار ارزښتمن محصول دی چې د ۱۳۸۸ کال پښتو نړیوال کنفرانس کې یې ګډون کړی و. البته ما یې تنظیم او ترتیب کړی دی.

## لومړی: د پوهنې په برخه کې ستونزې

د پښتنو د کولتوري ستونزو د زنځیر لومړنۍ کړۍ د پوهنې د کچې ټیټوالی، د کیفیت خرابي او د کم ثمره پوهنې له امله په پوهنه د خلکو بې باوري ده. پښتانه فطرتاً علمدوست او د پوهې د حصول لېوال دي. د سردار محمد داود خان په جمهوریت او د حامد کرزي د حکومت په لومړیو کلونو کې له پوهنې سره د خلکو بې حده مینې دا ثابته کړه چې که په امن او سوله کې د پوهنې زمینې ډېرې شي، نو په پښتنو کې به ډېر ژر پوهنه عامه او دوی به په دې برخه کې لوړو درجو ته ورسېږي.

اوس پښتانه د پوهنې په برخه کې له ډېرو داسې ستونزو سره مخامخ دي، چې که پر وخت او بیړنۍ توګه یې علاج و نه شي، دا ملت به د نړیوال تمدن او پر مختګ له کاروانه (نور هم) دومره په شا کړي، چې جبران به یې ناشونی وي. زموږ فقر، ناروغۍ او بد مرغۍ زیاتره زموږ له ناپوهۍ څخه راولاړې شوې دي. د پوهنې په برخه کې د پښتنو د ستونزو حل ددې ملت،شا و خواسیمې او ټولې نړۍ د پرمختیا، نېکمرغۍ او ثبات لپاره مهم دي . د پوهنې په برخه کې له افغانانو سره د نړیوالو له مرستو باید اعظمي ګټه تر لاسه شي او د ډیورند د هاغاړې پښتنو د ښوونې او روزنې لپاره هم ورته مرستې جلب شي. د پوهنې په برخه کې زموږ د ستونزو لنډیز دا دی:

۱) پوهنې ته د لاسرسي په برخه کې ستونزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **تشریح**: پښتانه په لرې پرتو سیمو کې له ښوونځیو او پوهنځیو څخه لرې اوسېږي. پوره او کافي اندازه ښوونځي او پوهنځي نه لري. ښوونکې او درسي وسایل یې کم او ټولو ته نه دي رسېدلي. ځینې کورنۍ خپل اولادونه ښوونځیو ته نه لېږي. د نا امنۍ له امله یې ښوونځي تړل شوې او سوځول شوي دي .
- **سببونه**: له تعلیمي مؤسسو څخه د واټن زیاتوالي، د مالي منابعو کمي او په وېش کې یې د دولتونو له خوا بې عدالتي، بې کفایتي او کله کله بد نیتي، د خلکو فقر او د اولاد د پوهنې په عمر کې د هغوي کار او عاید ته اړتیا ، د پوهنې د ثمرو کمي او کله کله خلکو ته د ژوند او معیشت د یوه ښه بدیل په توګه نه تمامېدل، د پښتنو پر ضد یوه نړیواله او سیمه یيزه توطیه کوښښ کوي چې دا قوم د ښوونې روزنې، روغتیا او د تمدن د ټولو نښو نښانو ، لکه: ښار، سړک، پل، روغتون، کمونیکېشن او نورو څخه بې برخې کړي .
- **د هواري لارې**: لرې پرتو سیموته دې دولتونه ځانګړې پانګه بېله کړي. د درسي موادو او تعلیمي موادو په وېش کې دې د مساوات په څنګ کې د عدالت اصل ته په جدي توګه پام وشي. ولسونه دې دولتونو باندې له معقولو لارو فشارونه راولي، چې د دوی د اولاد په تعلیمي او تربیتي حقونو معاملې ونه کړي. په لرې پرتو سیمو کې دې ښوونکېو ته اضافي امتیازات ورکړل شي. د خلکو او ټولنو د ژوند د شرایطو د عمومي لوړوالي پروګرامونه دې جوړ او پلي شي. د ښوونځیو د سوځولو پرخلاف دې د دولتونو ، ولسونو او نا دولتي ټولنو له خوا پراخ پروګرامونه جوړ او پلي شي. (د هنداري کولتوري ټولنې له خوا د ۱۳۸۶ کال جوړ شوې سیمینار سپارښتنوته دې پام وشي.) د نجونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلکانو جلا ښوونځي او پوهنځي دې جوړ شي.دغه راز، هغو نجونو او هلکانو ته چې تر لومړنيو او منځنيو زده کړو وروسته د ليسې زده کړو ته لاسرسی نه شي لرلی، د لرې زده کړو يا له فاصلې څخه د زده کړو زمينه برابرول، د لرې پوهنتوني زده کړو، د انټرنټ پر بنسټ د زده کړو رواجول، د پرانيستو پوهنتونو د سيستم جوړول، د دولتونو له خوا د ښوونځيو او پوهنځيو او دغه راز، د زده کوونکو او ښوونکو د امنيت تأمينول، د ولسونو له خوا د مرستې کول، د نا امنه سيمو په ولايتي مرکزونو او کابل کې ليليه ښوونځي جوړول، د پراخې سياسي توطئې پر ضد په ملي او نړيواله کچه د هڅو منسجمول.

## ۲) د پوهنې د کيفيت ستونزې

- **تشريح**: تعليمي نصابونه مبتذل او د زماني له شرايطو سره سم نه دي. د ښوونکيو د روزنې پروګرامونه نيمګړي او ناقص دي. په مورنۍ ژبه د زده کړو زمينې کمې او نابرابرې دي. درسي وسايل او د عملي کارونو امکانات کم او وروسته پاتې دي. د تعليم په څنګ کې تربيې ته کم پام شوی دی.
- **سببونه**: د جګړې له امله د تېرو سيستمونو ورانېدل او د نويو هغو نه جوړېدل، د کارپوهو او متخصصو ښوونکو مړينه او فرار، د بېلابېلو نصابونو ازمايل او په سياسي اجنډاوو يې ډکول، د نورو هېوادونو د ښوونيزو او روزنيزو سيستمونو کاپي کول اما له خپلو شرايطو سره يې نه برابرول او خپل وسايل او امکانات په پام کې نه نيول، د څارنې او ارزونې د يوه کاري او اغېزمن پروګرام نشتوالي، د آزاد رقابت او مکافات او مجازات د سيستم نشتوالي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونکو د معاشونو کمي او د دلچسپۍ وسايل ورته نه برابرول، د مسلکي او حرفوي زده کړو کمزوري، په مورنۍ ژبې له زده کړو سره د ښوونکو، کورنيو او چاروکو بې مېنېتوب او بې پروايې (ځکه چې دوي پخپله په مورنۍ ژبه زده کړې نه وي کړي او د چاپېريال تر تاثير لاندې راغلي وي).

- **د هوارې لارې چارې:** د نويو ښوونيزو سيستمونو په جوړولو کې د ټولنې عيني اړتياوې په پام کې نيول، د نصاب اصلاح کول، له ځانګړيو سياسي اغېزو بې خوندي کول او هغه بډايول، د څارنې او ارزونې او مکافات او مجازات د يوه عادلانه سيستم رواجول، د ښوونکو د روزنې د پروګرامونو پراخول او با کيفيته کول او ورته د ژوند او معيشت د شرايطو برابرول، لايقو زده کوونکيو ته جايزې ورکول، د تدريس نوي ميتودونه رواجول او شاګردان په عملي کارونو بوختول، په تعليمي نصابونو کې د تربيې اساسي مسائلو ته پوره پام کول. په زده کړو کې مسلکي او عملي برخو ته ډېر پام کول، چې په پای کې يې فارغان د مثمر ژوند خاوندان شي. په مورنۍ ژبه د زده کړو لپاره د ملي، اسلامي او بشري حقونو د اسنادو په رڼا کې له ورکتونه تر پوهنتونه پورې کار د زده کوونکو يو بشري حق ګڼل او هغو ته لومړيتوب ورکول. (د افغان کولتوري ټولنو جرګې اسنادو ته دې پام وشي.)

### ۳) له پوهنې سره د بې مېنېتوب ستونزې

- **تشريح:** د ځينو سيمو خلک پوهنه دومره ضرور نه ګڼي. ځينو ته لا هم پوهنه د دين خلاف ښکاري. د نجونو زده کړې د غيرت خلاف ګڼي. نجونې تر هلکانو کمې مستحقې ګڼي. ځينې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچنیوالي کې اولادونو ته ودونه کوي او بیا هغوی د زده کړې وخت او امکانات نه پیدا کوي.

- **سببونه:** د خلکو ناخبري، د اسلام له نظره د عالم او علم د قدر په باره کې کم معلومات، په دیني او دنیوي نومونو د پوهې وېشل، د نجونو د تعلیم او تربیې په برخه کې د تبلیغاتو او پروګرامونو کمي، د نجونو او هلکانو د جلا جلا تعلیمي مؤسسو نشتوالی. د زده کړې له معنوي او مادي ګټو ناخبري.
- **د هواري لارې چارې:** د پوهې او علم د ارزښت په باره کې دې د دیني عالمانو او ټولنو، دولتي او نادولتي ادارو او رسنیو له خوا ډېر پراخ (مثبت) تبلیغاتي کار وشي. پوهنې دې نه ویشل کېږي او له متبحرو علماوو څخه دې فتوا واخیستل شي چې کومه پوهه د انسان په خیر وي، د ضرورت په اندازه فرض ده. د نجونو د پوهنې په بدل کې دې والدینو او پخپله نجونو ته جایزې ورکړل شي او د دیني علماوو مرسته دې جلب شي چې خلک وپوهوي چې پوهه ترلاسه کول نر او ښځې دواړو باندې فرض دي او پوهه د مؤمن ورکه ده او هر چېرته چې یې پیدا کړي د همده ده. ددیني مدرسو او ښوونځیو د فارغانو د متناسبو او مساوي حقوقو د تأمین له لارې دې د دیني او عصري په نوم د پوهې او پوهانو تر منځ فاصلې لرې شي. په راتلونکېو کلونو کې د لیسو د فارغانو زیاتېدا او په پوهنتونو کې د هغوي د جذبېدا او بیا د فراغت په وخت کې د هغوي لپاره د کارموندنې پلانونه باید له همدا اوسه جوړ او پلي کېدل یې دې پیل شي.

## دوه یم: په پښتنو کې منفي دودونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ولسونو رواجونه د هغوی د فرهنګ یوه برخه وي، او فرهنګ د ولسونو د ګډو ارزښتونو ټولګه ده، چې په خاصو ټولنیزو او اقتصادي حالتونو کې را منځ ته کیږي. هر یو رواج د یوه خاص ټولنیز ضرورت له مخې پیدا کیږي او په هغو خاصو حالتونو کې د ارزښت په توګه منل کیږي.او تر څو چې ورته په همغه ټولنیز سیستم کې اړتیا وي، هغه رواج نه بدلیږي. رواجونه کله کله مهم شي. د تقدس کچې ته ورسیږي. د ټولنو د تکامل په مخه کې ودریږي اوپه همدغه وخت کې بیا منفي شي .

له دې سره سره چې پښتانه ډېر مثبت رواجونه لري او پښتونولي د پښتنو یو مستقلانه لیکل شوي کوډ او کلک اخلاقي ډسپلین دی، خو بیا هم په کې ډېرخواشینوونکې رواجونه شته، چې د کره شنني او ارزونې په مټ ورته د هواري علمي او عملي لارې چارې پیدا کېدلای شي.

١. له اسلامي اصولو څخه د ناخبرۍ له امله رازیږېدلي منفي رواجونه

- **تشریح**: په ځینو حالاتو کې دیني علما د ستونزو په حل کې نه پوښتل کیږي(خصوصا په ښارونو کې). برعکس، پښتانه د کلي ټول دیني او دنیوي مسائل په ملایانو حلوي. زیاتره خلک د حق او انصاف په مقابل کې د خپلې کورنۍ، خپل ټبر او قام ګټې غوره ګڼي کله کله د دین د ناسم تعبیر له امله لویې لویې ستونزې راولاړیږي. په ځینو سیمو کې منفي رواجونو ته د دیني ارزښتونو په توګه کتل کیږي، چې هغه په حقیقت کې له دین سره هېڅ اړیکې نه لري. پښتانه د کلکې مسلمانۍ له دعوې سره سره، لوڼو ته د میراث، په خپله خوښه د واده او تحصیل حق کم ورکوي. کونډو او ماشومانو ته پوره حق نه ورکوي او پر ښځه او نر د تعلیم فرضیت نه عملي کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **سببونه**: له دین څخه د خلکو پوره نه خبریدا ، د مسلکې دیني عالمانو کمی، د دیني او عصري علومو تر منځ فاصله، د پښتنو قبیلویتوب او کورنی تعصب ځینې وخت تر دین څخه مهم ګڼل، د دیني عالمانو اقتصادي ستونزې، د دولتونو د سیستم کمزوري، دین د سیاست لپاره کله کله په ناسمه توګه کارول، له نویو علومو او عرف څخه د ځینې عالمانو ناخبري، د پوهنې د نصاب نقص او ځینې نور مسائل .

- **د هواري لارې چارې**: له دین څخه د خلکو سم او پوره خبرول، د مسلکي دیني عالمانو روزل، د دیني او عصري علومو تر منځ فاصله له منځه وړل، د عالمانو د اقتصادي ستونزو د هواري لپاره د دولتونو له لورې پروګرامونه جوړول، د پوهې خپرول، عالمان له عرف او نویو علوموڅخه د اړتیا په اندازه خبرول،د تعلیمي نصابونو سمول، ملا د ټولنې په یوه فعال غړي بدلول، د ښه ژوند او معیشت زمینه ورته برابرول او په ټولنه کې ورته مناسب دریځ ورکول.

۲. په اقتصادي مسائلو پورې اړوند منفي رواجونه

- **تشریح**: سود ، ګروي، له سوداګرۍ، کسب، مهارتونو او کار سره بې علاقه ګي، پانګه په کار نه اچول، ړوند تقلید او د فیشني فرهنګ رواج پالل (د ودونو، وفیاتو، تر حج وروسته، مراسمو کې له حده ډیر لګښتونه)، د عصري زراعتي سیستمونو نه عملي کول او نور په اقتصادي مسائلو پورې مربوط منفي رواجونه دي .

- **سببونه**: د فقرد له منځه وړلو د پروګرامونو نشتوالي، د اسلام او نوي پېرله اقتصادي ښوونو روزنو څخه د زیاتره وګړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناخبري، د پښتنو په سيمو کې د مالي او معاشي منابعو کمی، په خلکو، خصوصا ځوانانو کې د کسبونو او مهارتونو کمي، د دولتونو کمزوري او غفلت، د جګړو او طبيعي آفتونو له امله د موجودو سيستمونو ژر،ژر نړېدل، د مالدارۍ او کرنې د سيستمونو کمزوري او نور،

- **دهواري لارې چارې**: دځمکو اصلاحات، دکرنې او اوبه خور نظام جوړول او اصلاح شوي تخمونه برابرول، د کيمياوي سرې برابرول، د کرنې ميکانيزه کول، د څارويو د نسل اصلاح کول، د باغونو اصلاح کول او د سبو د ساتلو لارې چارې برابرول، د معدنونو، اوبو، انرژۍ او بندونو د لويو پروژو عملي کول، د ودونو، مړيو، حج او نورو ټولنيزو مراسمو پر مهال د لګښتونو کمول، د مرګ ژوبلې، او خيرات مناسب موازين او نورمونه جوړو ل، مسلکي روزنې، په خاصه توګه د ښځو لپاره د مسلکي ښووني روزنې زمينه برابرول، د ښوونځيو او کورسونو له بشري ځواک څخه ګټه اخيستل، پښتنو ته په حکومت کې د شمېر په تناسب برخه ورکو ل، د کليو په کچه د روشنفکرانو او پوهو کسانو د ټولنو جوړول، د خلکو راوېښول، له مشرانو، وکيلانو او چارواکيو سره د ستونزو د هواري عملي لارې چارې پيدا کول، د سود تحريمول او د زکات اصل عملي کول، له بهرنيانو سره د ملي ګټو او برابرۍ پر بنسټ تړونونه کول چې د کار دوام، ګټه او اغېز په کې په پام کې نيول شوي وي.

۳. دښارونو او کليو له فرهنګي توپير څخه رازېږېدلې ستونزې

- **تشريح**: د ښارونو ځوانان هر څه د بدلون په نامه زياتره په پټو سترګو مني.دوی له واره ښاري فرهنګ قبلوي او خپل هويت، ژبه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لباس، د ژوند ژواک ډول او پېژندنه بدلوي. یا بر عکس، د کلیو ځینې وګړي د تمدن له ارزښتونو سره حساسیت غیرت ګني.د ژوند عصري سیستمونو ته د شک په سترګه ګوري.له بدلون او نوښت سره حساسیت ښیي او تغیر او بدلون ته بد وایې. د کلیو د خلکو په نظر ښاریان دین ته (ظاهرا) کمه توجه کوي.

- **سببونه**: ښارونو ته د خلکو کم راتګ او په ډېرو خلکو کې د لړو ورکېدل، زیاتره پښتانه په کلیو کې اوسېدل، د کلیو د خلکو د ژونداو معلوماتو ټیټه سطحه او رواج ته د دین په کچه لوړ کتل، د ښار او کلي د بېلو بېلو تقاضو او شرایطو د طبیعي بهیر اغېزې او نور درست سره هغه سببونه دي چې د ښارونو او کلیو په رواجونو کې یې تفاوت او توپیر پیدا کړی دی.

- **د هواري لارې چارې**: د ښارونو او کلیو اوسېدونکو ته د یو شان سهولتونو برابرول، مثبتو فرهنګونو ته په درنه سترګه کتل او په دې باره کې عام پوهاوی پیدا کول، په پرېکړو کې ټولو پرګنوته فعاله ونډه ورکول او د ټولو وړاندیزونه او سپارښتنې منل، اړیکې او راشه درشه زیاتول، خلک د فرهنګونو د بدلون طبیعي بهیر باندې پوهول، په ښارونو کې د پردیو د کلچرد مخنیوي لپاره د ښو فرهنګي بدیلونو پیدا کول، په ښارونو کې د کلیو په څېر اسلامي شعایرو ته په درنه سترګه کتل او هغه عملي کول، د کلیو د پراختیا لپاره ځانګړي پروګرامونه جوړول. د ښاري کېدا د بهیر لپاره د دولتونو او ټولنیزو بنسټونو له خوا لارې چارې لټول.

### ۴. تاو تریخوالي، زور زیاتي او جګړه ماري

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **تشــريح**: کرکــه، کينــه، شــخړې، جګــړې، دښــمنۍ، د پوهاوي او زغم کمی، تربوروليي، ضد ، ځيل، ځانځاني، لالچ، شوکه، غلا ، د غيرت منفي تعبير، په تاريخ او نيکونو وياړ، وژنو او تيري ته د غيرت نوم ورکول، او د راتلونکې لپاره پلان نه لرل هغه ستونزې دي چې پښتنانه ورسره تر ډېره لاس و ګرېوان دي.
- **سببونه**: د پښتنو خطرناکه طبيعي او سياسي جغرافيه، په غرنيو سيمو، دښتو او ګرځند ژوند کې د شخصي امنيت لپاره وسلې ته اړتيا، د دولتونو له خوا د خلکو د امنيت په تأمين کې کمزوري، فقر، نيستي او د اقتصادي منابعو کمي، د دولتونو ژر ژر له منځه تګ، د واک خلا ، وسله وال مشرۍ ته رسېدل په وسله کې مشري او عزت ميندل،له فقر او غمونو ځخه زيږېدلي اروايي عوامل، په اسلام سم نه پوهېدل، د زده کړې پوهنې کمي، سياسي اختلافات،بېکاري، کله کله د ليکوالو او رسنيو له خوا د تشدد تلقين، د نورو هېوادونو لاسوهنې، د ناقانونه وسلو رواج.
- **د هواري لارې چارې**: په امن راوستلو او ساتلو کې د دولتونو له خوا د خپلو مسؤوليتونو ادا کول، د قانون حاکميت او تنفيذ او جنايي عدالت تطبيقول،د خلکو د ژوند او معيشت د کچې لوړول، د تعليم عامول او عصري کول، د عصري او ديني تعليماتو ترمنځ فاصله له منځه وړل، د شعورد راويښولو او پوهاوي د خپرولو پروګرامونو ته وده ورکول، د رسنيو او مطبوعاتو عامول او کورونو ته رسول، د توري پر ځای قلم چلولو ته تبليغ کول، د روزنې تعميم او خپرولو ته پام کول، د تشدد په کمولو کې د ولسي او ديني مشرانو مرسته جلبول، په بېلابېلو لارو د خلکو ذهنونه روښانول، د ديني مراجعو او عالمانو مرسته ترلاسه

www.mellitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول، فطرتي حقونو او د انساني ژوند ارزښتونه په تعلیمي نصاب کې ځای پر ځای کول.

## ۵. سلوکي ستونزې

- **تشریح**: په زیاترو سیمو کې نظافت او پاکۍ ته پام نه کېږي. نشو او د مخدرو توکېو کارولو ته مخه ډېرېږي. منفي انګېرنو، لکه جادو او کوډو باندې باور لرل، هنر او هنرمند ته په کم نظر کتل، خپلې ګټې تر هر څه لوړې ګڼل او منفي رقابتونه پالل په زیاترو سیمو او خلکو کې شته دي.
- **سببونه**: له اسلامي او نورو اړوندو پوهنو څخه ناخبري، ناپوهي، د مخدرو توکېو د کرنې او سوداګرۍ شتوالي، د تعلیمي نصاب نیمګړتیا او په کې د پوهې، مهارت او سلوک د برخو ناانډولي، د جګړو اثرات، اقتصادي ستونزې، په رسنیو کې د تعلیمي پروګرامونو کمی، دولس د سواد ټیټه کچه.
- **د هواري لارې چارې**: د مخدرو توکېو د مخنیوي لپاره د سختو قوانینو عملي کول، د دیني او عصري تعلیم او تربیې پیاوړي کول، د رسنیو له لارې تبلیغات کول، مدني حقونو باندې د ټولنې پوهول، په نظافت، ښو دودونو اوغوره رواجونو باندې د خلکو پوهول، په کلیو او ولسونو کې د متبادل کار پیدا کول،په مختلفو برخو، لکه زراعت، صنعت او نورو کې د عام ولس د پوهولو او د هغوی د ستونزو د حلولو لپاره علمي، تخنیکي او رسنیز پروګرامونه جوړول،په ټول هېواد او په خاصه توګه په کلیوالي سیمو کې د مدني او فرهنګي بنسټونو جوړول او پیاوړي کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲. ښوونې او روزنې پورې اړوند رواجي ستونزې

- **تشریح**: تعلیم په خاص ډول د نجونو تعلیم ته کم ارزښت ورکول، د سواد ټیټه کچه، د ماشومانو ناسمه روزنه، د خبرو او نظر ښکارندولو موقع نه ورکول، رټل، کم ګڼل، یتیمانو ته پام نه کول او کم یې ګڼل، صلاحیت نه ورکول، مشرۍ ته یې نه پرېښودل.
- **سببونه**: د ښځو د تعلیم په اهمیت نه پوهېدل، د هلکانو او نجونو د جلا تعلیمي مؤسسو نشتوالي، د ښه تعلیمي سیستم نشتوالي، د نصاب ناکره والي، د خپلې خوښې ځانګو کې د تعلیمي زمینو کمی، د اسلامي او عصري پوهنو تر منځ فاصله، په ځانګړې توګه په لرې پرتو سیمو کې د مدرسو او درسي موادو کمی، د مسلکي او حرفوي زده کړو کمي، د تعلیمي مرکزونو لرېوالی، د یونیفورم ستونزې، د تعلیم د کیفیت خرابي، د ماشومانو ناسالمه روزنه، ماشومانو ته د روزنې مناسب چاپېریال نه برابرول.
- **د هوارې لارې چارې**: ټولو سیمو او ولسونو ته په کافي اندازه دښوونیزو ادارو جوړول، د نجونو د پوهنې لپاره فوق العاده بودجه ځانګړې کول، د تعلیمیافته ښځو د کار اجوره اوچتول، د نجونو او هلکانو جلا جلا پوهنځي جوړول، په تعلمیي نصاب کې د دیني او عصري علومو انډول ته پام کول، د لرې پرتو سیمو د نجونو لپاره د آنلاین زده کړو (د لېسي د دورې) پروګرامونه جوړول، د مسلکي او حرفوي زده کړو مرکزونه جوړول، د نجونو د تعلیم لپاره له دیني عالمانو څخه مرسته او فتوا اخیستل، د پوهنې او په ځانګړي ډول د نجونو د پوهنې لپاره د رسنیو یو پراخ کمپاین کول، د ښوونځیو د

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوځولو د مخنيوي لپاره يو پراخ پروګرام جوړول، د هغو سيمو لپاره چې امنيت يې ښه نه دی، ليليه ښوونځي جوړول.

### ۷. د ښځو او نجونو د ټولنيز حالت په اړه منفي رواجونه

- **تشريح**: په زياترو سيمو کې نجونې له زده کړې محروميږي. په ځينو سيمو کې اوس هم په بدو کې ورکول کيږي. بوډاګانو ته ودېږي. په کوچنيوالي کې واده ته مجبورېږي. په زور ودېږي. د خپلوانو تر منځ د ودونو دود ډېر زيات دی. درانه او ملاماتوونکې ولورونه اخيستل کيږي. نجونې پلورل کيږي، په ځينو سيمو کې په نجونو باندې غږ يا چيغه کيږي. په ماشومتوب کې هلکانو ته په نامه کيږي. په نکاح کې د هلک او نجلۍ رضا نه پوښتل کيږي. د ميراث له شرعي حق نه محروميږي. کم او خراب خواړه ورکول کيږي. نارينه اولاد ته د نجونو په نسبت ترجيح ورکول کيږي. په کور کې د ښځو کار کم شميرل کيږي او په بهر کې هم کمه اجوره ورکول کيږي. د ښځو عين ګناه تر نارينه وو ډېره او سخته ګڼل کيږي. کونډو باندې ظلم کيږي او په خپله خوښه دواده حق نه ورکول کيږي. د اولاد زيږولو په برخه کې د ښځو روغتيا ته پام نه کيږي- حتي ژوند يې په خطر کې لوېږي. د ښځو مشوره زياتره نه منل کيږي او په پريکړو کې د ګډون حق نه ورکول کيږي .
- **سببونه**: د ښځو د عصري او ديني تعليم کمی، د ټولني عمومي فقر او بېوزلي، د ښځو د عايد نشتوالی، له اسلام او بشري حقونو څخه ناخبري، د دښمنۍ او تربګنۍ لپاره هلکانو ته ضرورت، د عايد او مزدورۍ لپاره هلکانو ته ضرورت، په کليو کې د ښځو د ژوند او پوهې د کچې د لوړولو د پروګرامونو نشتوالی يا کمی، د نارينه وو بېسوادي، کله کله د ښځو خپل احساساتيتوب او تردد، کله کله د دين

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پښتونولۍ ناسم تعبیر، د نجونو بهر ته نه پرېښودل، د نارینه ځان غوښتنه، د رسنیو منفي نقش، د پردي فرهنګ په افراطي توګه منلو کې د ځینو ښځو غلط مثال کېدل.

- **د هواري لارې چارې**: ښځو ته دې داسې تعلیم او مهارتونه ورزده شي چې عاید پیدا کړي شي. د پښتنو په سیمو کې دې قانون حاکم کړای شي چې د جګړې لپاره د ځوانانو اړتیا له منځه ولاړه شي. ښځو ته دې په میراث کې برخه ورکړل شي. په قوانینو کې دې د بې ضرورته زیاتو ودونو، د کوچنیانو د ودونو، په بدو کې د نجونو د ورکولو او نورو مسائلو په باره کې کلک اصول وضع شي. د ښځو په باره کې دې د منفي کلچر او ادبیاتو په وړاندې مبارزه وشي. په ټولنیزو، اقتصادي، تعلیمي او نورو برخو کې دې ښځو ته د ګډون زمینه برابره شي. ښځې دې د مدني ټولنې بنسټونه جوړ او فعال کړي. کورني تشدد او خشونت ته دې په قانون کې د جدي ستونزې په توګه وکتل شي او په وړاندې یې دې مبارزه وشي. خلک دې وپوهول شي چې نارینه او ښځینه اولاد ته په یوه نظر وګوري. د مور او ماشوم روغتیايي کلینیکونه دې جوړ شي. د ښځو لپاره دې ځانګړې تعلیمي اداري جوړې شي. په تعلیمي نصاب کې دې د ښځو مسألو ته زیاته توجه وشي. ښځو ته دې د نکاح او طلاق په مسائلو کې شرعي معلومات ورکړل شي. له اسلام او بشري حقونو څخه دې نر او ښځې دواړه خبر کړی شي. نر او ښځې دې وپوهول شي چې دیني، ملي او انساني ارزښتونو ته پام وکړي.

## ۸. د مثبتو رواجونو او مؤسساتو کمزوري کېدل

- **تشریح**: د پښتنو ځینې مثبت رواجونه او مؤسسات لکه: جرګه، دېره، حجره، چغه، ننواتې، ناغه، بسپنه، اشر، مېلمه پالنه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني نور چې د ستونزو د هواري پخواني سيستمونه دي، په ځينو سيمو کې د کمزوري کېدو په حال کې دي.

- **سببونه**: له مثبتو رواجونو نه د سياسي او اقتصادي ګټو لپاره ناوړه استفاده، په ځينو سيمو کې پخوانيو رواجونو ته د ضرورت کمی، د بېلابېلو فرهنګونو هجوم، د زماني تقاضې او د حالاتو بدلېدل، د انسانانو د ارزښتونو او د جامعې له عيني واقعيتونو سره سم د رواجونو د بدلېدا طبيعي بهير.
- **د هواري لارې چارې**: په هغو سيمو کې چې لا هم عنعنوي سيستمونو ته اړتيا ده، نو د هغو د ژوندي ساتلو او فعالولو لپاره دې کار وشي. دا دې طبيعي وګڼل شي چې کوم رواجونو ته ضرورت پاتې نه شي، هغه نور له منځه ځي. کومو رواجونو ته چې لا هم ضرورت شته، هغه دې عصري شي او يا دې ورته متبادل سيستمونه فعال شي. د مثبتو ولسي رواياتو د خوندي ساتلو لپاره دې داسې هڅې وشي چې د دې مؤسسو واک بېرته د قامي مشرانو لاس ته ورشي.

## دريېيم: د پښتو ژبې د ودې په مخه کې پرتې ستونزې

ژبه د انسان د هويت يوه نښه او د پوهاوي تر ټولو مهمه وسيله ده. ټولې ژبې د الله تعالی د قدرت نښې دي او هره يوه ژبه د بشريت د سترې کورنۍ يو ګډ فرهنګي ميراث دی چې ساتنه، پالنه او روزنه غواړي. په مورنۍ ژبه زده کړه، خبرتياوو او معلوماتو ته لاسرسی (چې د ژبې په واسطه تر لاسه کېږي) او د هويت لرل او ساتل په بشري حقونو کې راځي او هر بشري حق په يوه اندازه عام، مهم، حياتي، يو له بله نه بېلېدونکي او د عملي کېدا وړ دي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتوژبه د منځنۍ آسیا ، جنوبي آسیا او غربي آسیا په منځ کې د مېشت یوه لوي قام ژبه ده.شا و خوا شپېته میلیونه وګړي ورباندې خبرې کوي.خو د دغومره لوي شمېر نفوس او د دوی د سیمې له لوړ ارزښت سره سره ور ته ډېره کمه توجه شوې ده.همدغه وجه ده چې تر اوسه پورې یې لازمه وده نه ده کړې. پښتوژبه د پرمختګ ډېر لوي پوټنشیل لري او په لږ وخت کې چټکه او اساسي وده کولی شي. خو که له مخې یې پرتې ستونزې لرې شي.

د پښتو ژبې په وړاندې پرتې غټې ستونزې دا دي:

۱. پښتو ژبه په دفتري او رسمي چارو کې نه کارول کېږي او یا ډېره کمه کارول کېږي.

- **تشریح**: پښتانه په دفترونو کې په پښتو باندې کار نه کوي.له دې سره سره چې د پښتو رسمي حیثیت په اساسي قانون کې تسجیل شوی، اما د افغانستان دولت خپل ماموران په پښتو لیکلو نه مکلفوي. ځینې ماموران پښتو لیکلی نه شي، او په ځینو برخو کې له پښتو لیکنې او کارونې سره پټ او ښکاره مخالفت کېږي. عام پښتانه لاد هویت په ساتنه، ملت جوړونه اوښوونه روزنه کې دخپلې ژبې له اهمیت څخه ناخبره دي.
- **سببونه**: په دولت کې د پښتنو مامورانو فیصدي ډېره کمه ده.حکومتونو په پټ ډول دې ته زمینه برابروله چې د ژبې په برخه کې اساسي قانون پلي نه شي. پښتانه ماموران د بې کورۍ او فقر دومره ژورې ستونزې لري چې د ژبې مسألې ته یې اصلا پام نه دی. د پښتو دفتري اسنادو لپاره موډلونه او لارښودونه نه دي جوړ شوي....

www.melitahrik.com 0777 400 116

- **د هوايي لارې چارې**: ټول پښتانه ماموران دې خپل دفتري کارونه په پښتو وکړي. پښتانه وزيران او نور اداري مشران يې دې له خپلو دفترونو پيل کړي.اداري مشران دې په لومړۍ مرحله کې خپلو پښتنو ماموراتو ته ډاډ ورکړي چې پښتو مکاتبه کومه ستونزه نه، بلکې يو قانوني عمل دی. په ادارو کې دې خلک د آزاد رقابت له لارې ځاي پر ځاي شي. د پښتو دفتري اسنادو لاربنودونه او موډلونه دې جوړ او ماموراتو ته دې تدريس شي. ولسمشر او پارلمان دې د قانون د تطبيق د اصلي مسؤولانو په توګه خپله دنده ترسره کړي. په دفترونو کې دې د پښتو ژبې د کارونې لپاره تخنيکي وسيلې برابرې شي. د پښتنو په ګډون د ټولو ماموراتو اقتصادي ستونزې دې حل شي.حکومت دې ټولو افغانانو باندې په پښتو او دري دواړو رسمي ژبو په تدريجي توګه د شفاهي او تحريري افهام او تفهيم شرط کېږدي. د ورانکارو مخه دې د قانون په وسيله ونيول شي. په کوزه پښتونخوا کې دې په قانون کې د پښتو ژبې د ځاي پر ځاى کولو او د هغې د پلي کولو لپاره سوله ييزه او مشروع مبارزه وشي او د پښتونخوا ايالتي او د اسلام اباد مرکزي حکومتونه دې د پښتنو ددغه حق په ورکولو کې نور غفلت نه کوي.

۲. پښتنو ته په مورنۍ ژبه د زده کړې حق نه دی ورکړل شوی

- **تشريح** : په ښوونځيو او پوهنتونونو کې په مورنۍ ژبه تدريس نه شته، او يا کم دی. ښوونکي او استادان زياتره په مورنۍ ژبه زده کړې ته توجه نه کوي. په مورنۍ ژبه د زده کړې لپاره کافي درسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مواد نه دي برابر شوي. پښتنو ته په مورنۍ ژبه د زده کړې حق بشپړ نه دي ورکړل شوي.

- **سببونه**: په افغانستان کې د قانون نه تطبيق او په کوزه پښتونخواکې د پښتنو محکوميت، د دولتي چارواکو غفلت، په ښارونو کې د پښتنو کم او خور وور نفوس له خوا خپل دغه حق په کلکه نه غوښتل، د کادرونو او شعور کمی، دپښتو ژبې او پښتنوعمومي فقر او وروسته پاتې والی.

- **د هواري لارې چارې**: په افغانستان کې دې قانون پلي او په کوزه پښتونخوا کې دې د پښتنو دغه حق يقيني شي. پښتانه دې ښاري شي او په مورنۍ ژبه د زده کړې له اهميته دې خبر کړي شي. د دولتي او نادولتي ټولنو او ولسونو تر منځ دې د همغږۍ هڅې او هلې ځلې زياتې او منظمې شي. پښتانه ښوونکي او استادان دې وروزل شي او ودې هڅول شي چې په مورنۍ ژبه تدريس وکړي. په پښتو ژبه دې تدريسي مواد برابر شي. د افغان کولتوري ټولنو جرګې او نورو فرهنګي ټولنو له اسنادو او تجربو څخه دې ګټه واخيستل شي.. د ښوونکو د روزنې په موسسو کې دې زده کړه په دواړو ژبو شي چې راتلونکي ښوونکي په دواړو ژبو د تدريس وړتيا ولري.

## ۳. په رسنيو او هنري فعاليتونو کې پښتوژبه د اړتيا په اندازه نه کارول کېږي

- **تشريح**: پښتوپه رسنيو او هنري چارو کې کمه ده.په پښتو ژبه ډېر کم هنري فعاليتونه کېږي. ژورنالستان او د ابتکاري پروګرامونو چلوونکي کم دي. پښتنو پر رسنيو پانګونه نه ده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **سببونه**: پښتانه لا د رسنیو او هنرونو په اقتصادي ګټو نه دي روږدي شوي. دا چې د پښتنو د زده کړې ژبه خپله نه ده، نو کله کله ورته تر خپلو ژبو د نورو رسنۍ او هنري چارې ډېرې مهمې ښکاري. دولتونو او حکومتونو پښتو رسنیو او هنرونو ته کم کار او پام کړی دی. د هنرمندانو او رسنیو د کارکوونکو منظمې ټولنې کمې دي.
- **د هواري لارې چارې**: په اقتصادي ګټو د ولاړو رسنیو او هنرونو روزنې ته دې منظم کار وشي، چې د ولس په ملي او ټولنیزه روزنه کې مرسته وکړي. ممثلان، ژورنالستان او د رسنیو تخنیکي کارکوونکي دې وروزل شي او ددوی د انسجام لپاره دې ټولنې جوړې شي. دولتونه دې له پښتو رسنیو سره مرسته وکړي. ولسونو کې دې تبلیغات وشي چې خپلې رسنۍ واوري،وګوري،ولولي او تقویه یې کړي، سوداګر او پانګوال دې له خپلو رسنیو سره مرسته وکړي او اړیکي دې ورسره وساتي. په رسنیو کې دې د پښتو ژبې اصلي او عادي بهیر ته په جدي توګه پام وشي او په دې برخه کې دې له تکلف او تصنع څخه ډډه وشي. د رسنیو چلوونکي او خاوندان دې داسې پروګرامونه جوړ او وړاندې کړي، چې د هېواد، سیمې او حتی نړۍ په کچه له نورو رسنیو سره مقابله وکړای شي او د پښتنو د اړتیاوو اودیني او ملي ارزښتونو مطابق وي.

## ۴. په دیني آثارو کې د پښتو ژبې برخه کمه ده

- **تشریح**: پښتو په پوره ډول د دین او مذهب ژبه نه ده. مهم دیني آثار ورته نه په پوره اندازه راژباړل شوي او نه په کې په کافي اندازه لیکل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **سببونه**: ديني عالمانو دې لوري ته کمه توجه کړې ده. په پښتنو کې د لويو ديني عالمانو او منظمو ديني مدرسو کمی دی. داسې بنسټونه چې د ديني آثارو د ليکنې، ژباړې او خپرولو لپاره کار وکړي، کم دي.

- **د هوارې لارې چارې**: دين او ژبه دې تړلي ارزښتونه وګڼل شي. تفاسير دې ترجمه شي. د ملايي او عامې پښتو د نږدې کولو او يوځای کولو هڅې دې وشي. د ټکي په ټکي ترجمې پر ځای دې د عادي او معياري پښتو کارولو ته کار وشي.اهم ديني آثار دې درست وژباړل شي او د دين د ټولو علومو او فنونو ډولونه دې پښتو ته راواړول شي.پښتانه اديبان او پوهان دې له ديني مدرسو سره همکاري وکړي چې ديني علوم په عادي او معياري پښتو وژباړي.ديني ارګانونو سره دې همکاري وشي.

## ۵. په عامو چارو کې د پښتوژبې استعمال کم دی

- **تشريح**: په عامو او سوداګريزو چارو کې پښتو کمه کارول کېږي.د ژبې پر بنسټ کورني نظام جوړولو ته پښتانه کم پام کوي.د روښانفکره، روحاني او اجتماعي بنسټونو ترمنځ همغږي کمه ده. پښتانه ډېر ژر خپله ژبه پرېږدي او د نورو په ژبو افهام او تفهيم کوي.

- **سببونه**: پښتو ژبه، ادب او هنر د اقتصادي ګټې وټې د ترلاسه کولو وسيله شوې نه ده. پښتو په دربار او دفتر کې نه شته. په ښارونو کې د پښتنو د خورور شمېر له امله دوی په نورو کې منحلېږي.په ښځه او مېړه کې که يو هم پښتون نه وي نو راتلونکې کورنۍ پښتو ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېروي. سوداګر او عام پښتانه په پښتو کارولو کې کومه ګټه او په نه کارولو کې يې کومه ستونزه نه ويني .

- **د هواري لارې چارې:** پښتانه دې له خلکو سره په لومړي ځل مخامخ کېدا کې له هر چا سره پښتو ووايي. دوه يمه ژبه دې يوازې هغه وخت وويل شي، چې مقابل لوري په پښتو (ببخي) نه پوهيږي. څوک چې پښتانه نه دي او مات ګوډ پښتو غږېږي، بايد وهڅول او وستايل شي.کورنۍ دې ماشومان وپوهوي، چې په خپله ژبه خبرې وکړي.ښار، بازار کې د دوکانونو، شرکتونو، او نورو ملکېتونو لوحې، شخصي سندونه او ليکونه دې په خپله ژبه وليکل شي. رسنيو ته اعلانونه دې په پښتو ورکړل شي.

## ۲. پښتو په علمي، ادبي او ژبپوهنيزه برخه کې ستونزې لري

- **تشريح:** د رسمي او ولسي ژبې او ادب ترمنځ توپير يا فاصله ډېره شوې ده. په پښتو کې ضروري او علمي آثار کم دي. د پښتو د انکشاف لپاره کوم نړيوال علمي مرکز نه شته. د لهجو د پيوستون او ځېړنې لپاره پوره هڅې نه دي شوې.د ژباړې د فرهنګ محدودوالي او د يوه علمي مرکز نشتوالي، د ژبپوهانو کمی،له عصري تخنيکي وسيلو سره د پښتو ژبې واټن، د پښتنو ليکوالو د يوه سراسري مرکز نشتوالی، د چاپي او نشراتي مرکزونو کمی، د پښتو آثارو د يوه بشپړ ډيټابيس نشتوالی او د ساده او اسانه کوچنيو ګرامرونو او د ژبې د آسانې زده کړې د کتابونواو لارښودونو نشتوالی تر ټولو غټې ستونزې دي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **سببونه**: په دولت او حکومت کې د پښتو درسمي کېدا تجربه ډېره لنډه او نيمګړې ده. له بده مرغه، شخړو او جګړو دغه تجربه لا پسې ټکنۍ کړې ده. دژبې د علمي او معياري کولو منظم سيستمونه نه شته. متخصص او په لوړه کچه روزل شوي پوهان کم او دنشت په حساب دي. دولتونه او حکومتونه خپل مسؤوليتونه نه تر سره کوي.

- **د هواري لارې چارې**: ولسي ژبې او ادب ته دې پام وشي. له علمي ژبې سره يې دې د نړدوالي پروګرامونه جوړ شي. د پښتو ژبې د ودې لپاره دې يو وجهي صندوق جوړ شي.د ډاکټرۍ (Ph.D.) تر کچې پورې دې د پښتو د زده کړو امکانات برابر شي.په پښتو ژبه دې لومړۍ لاس کتابونه وليکل شي-نه دا چې د ژباړې له لارې هر څه پښتو ته راواړول شي.د اقتصاد، ټکنالوژۍ، سياست او نورو ساحو کې دې پښتو آثار وليکل شي.د پخوانيو هلو ځلو په رڼا کې دې د پښتو واحد ليك دود لپاره کار ته دوام ورکړل شي. د پښتو ژبې د معياري ګرامر ليکلواو د پښتو اسانې زده کړې لارښودونو ليکلو لپاره دې کار وشي. تخنيکي او علمي کتابونه دې وليکل شي او ويب پاڼې دې جوړې شي. ولسونه دې له حکومتونو نه په کلکه خپل حقونه وغواړي. لنډۍ او نور ولسي ادبيات دې په بهرنيو ژبو وژباړل شي.هرښه کتاب دې پښتو ته راوژباړل شي او په دې برخه کې دې ضروري کتابونه تر نورو مخکې کړای شي.پښتو آثار دې په نورو ژبو وژباړل شي. د افغانستان په هر ولايت او د پښتونخوا په هره ضلع کې دې د ريسرچ (څېړنې) مرکزونه جوړ شي.کال په کال دې پښتو نړيوال کانفرانس ته ورته کنفرانسونه جوړ شي چې د کارونو د پرمختګ جريان وڅاري او تر تحليل او ارزونې وروسته يې د نويو پروګرامونو سپارښتنې وکړي .

www.melltahrik.com 0771 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فرهنګیانو او روښانفکرانو رول او حالت:

د دغو پاس ستونزو د حل د وړاندیزو د پلي کولو او تعقیبولو تمه له فرهنګي ملګرو کېږي، خو دوی پخپله یوه نړۍ ستونزې لري، لکه:

۱) د دوی زیاتره د شخصي فرصتونو په تمه دي، دا د هر انسان په شان د دوی هم حق دی، خو دوي سره د ملت یو امانت دی چې هغه د دوی استعداد دی. باید منظمو ټولنیزو هڅو ته هم وخت ورکړي، ځکه ټولنیز بدلون په فرد منځ ته نه راځي.

۲) زموږ ځوان فرهنګیان د خپلې سویې لوړولو لپاره ژوره مطالعه نه کوي، ورځپاڼې، د شعر او داستان کوچنۍ رسالې فکر نه شي روزلی، یوازې ذوق خړوبولی شي. د ژور او رسا فکر روزلو لپاره د دین، تاریخ، فلسفې، عالي ادبیاتو، ټولنپیژندنې، انسان پېژندنې اروا پوهنې او نورو برخو ژوره مطالعه پکار ده.

۳) د زیاتره فرهنګي ملګرو مصروفیتونه پر دې منحصر دي چې په مشاعره کې شعر ولولي، د کره کتنې غونډو ته ورشي، په فیس بوک کې خپل شعر شریک کړي او په ګردي مېز کې مباحثه وکړي.

۴) سره له دې چې د خدمت او شریک کار لپاره ډېرې لارې شته، خو د هر چا جلا ـ جلا لارې دي او (دلته هر سړي پیدا دی خپل خپل کار لره کنه)

۵) زیاتره ملګري پر کوچنیو مسئلو مصروف دي. که یو چا په شپه کې په کوم محفل کې کومه بې ادبه خبره کړې وي، یا یې کومه نامأنوسه کلیمه کارولې وي، دوی به ورپسې شمعې ولګوي او هغه به دومره مشهور کړي چې ده به یې تصور هم نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶) بې شميره حرکتونه پيلېږي او بيرته سقوطيږي. زياتره دوه دوه نفري حرکتونه وي. دوه نفره يې سبا بيل وي، هر يوه ځانته يو يو ملګرى پيدا کړى وي. بيا هغه دواړه سره بيل وي او کېسه له سره پيل وي.

۷) په ګرمو ورځو کې ګرم وي: د تباکنو ورځې دي، دا ورځ ده او هغه ورځ ده، خو ژوند او د سمون لپاره مبارزه يوه ورځ کې نه کېږي، هغه دوامدار تعهد غواړي. د تداوم، ثبات او تکليف کارونه مورږ زياتره سترې کوي .

۸) زياتره ملګرو سره د رهبرۍ خيالونه شته خو پلان شوو کارونو ته تن نه ورکوي

a. نه د وسپنې ځيلۍ په پښو کوي، نه د سيلاب په مقابل کې د لامبو چل زده کوي

b. نه شکسپير او خوشال کېدو لپاره ټوله شپه په لوستلو او تفکر په وينښه سبا کوي

c. نه د خير، فلاح او صلاح لپاره هر کور ته سل ځلې د دعوت لپاره ورځي

d. نه تر سل ځل غورځېدو وروسته د بيا جګېدو هڅه او عزم کوي

که همدغسې روان يو، نو دا کشتۍ به منزل ته ونه شو رسولاى: اګر اين معلم است و اين ملا، کار طفلان را خراب ميبنيم

زما وړانديز زما فرهنګي ملګرو ته دادى چې دا وطن تر هر بل يوه ډېر کار او خدمت ته اړتيا لري او دغه تمه له هم تاسو څخه ده. انفرادي هڅې مو منسجمې او متمرکزې کړئ. موضوعات او د کار ساحې سره وټاکئ، ټول ملګري په هغو کارونو مصروف کړئ دوى يې ښه کولى شي، له داسې پروګرامونو ملاتړ وکړئ چې هم لنډه ګټه کوي او هم اوږود مهاله .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

فېروز خان صادق

# د پښتون مشرتابه خلا

دا حقیقت لکه د لمر روښانه دی چې پښتانه زرګونه کاله لرغوني تاریخ لري. دغسې دوی خپل ځانګړي روایات، اقدار، تهذیب، تمدن، دود، دستور او عنعنات هم لري او دا هغه بهادر، جرات مند، مېړني او تاریخي قام دی، چې تل یې پخپل ننګ، ناموس، وطن غیرت کړی دی او په نړۍ کې یې د خپل ځانګړي فطرت او طبیعت یو جدا حقیقت قایم کړی دی. د پښتون قام وګړي انتهايي زړه سواندي، خېرخواه، همدرد او له نورو سره د ښېګړې په صفاتو سینګار او سمبال دي. د لوظ پابند او د روغې جوړې منونکې دي، په ټولنیزه توګه دوی داسې کارنامې ترسره کړي دي چې نور قومونه او ولسونه ورته حېران دي او په ځانګړې توګه یې هم کړي، داسې د جرات او ځانګړي شجاعت څرګندونه کړې ده. چې یوه نړۍ یې متعرفه ده. سره له دې چې ددې قوم په اړه په عامه توګه دا ویل کېږي چې تعلیم نه لري، بلکې د تعلیم مخالفت کوي خصوصاً په نجونو خو بیخي د زده کړې دروازې بندې ساتي بیا ځیني روایتونه او قدغنونه هم داسې دي چې د زده کړو په لاره کې خنډان ګڼل کېږي. خو ولې بیا هم پښنتانه وګړي په مختلفو څانګو کې داسې کارنامې ترسره کوي هم په تېرې زمانې کې او هم اوس مهال چې ټوله نړۍ یې په حیرت کې اچولې ده. د فکر ځای دی چې هر کله د یو قوم کوچنیانو او ځوانانو ته خصوصاً نجونو ته د تعلیم لارې هم تړلې شوې وي. له ځانګړو بندېزونو او قدغنونو سره هم مخ وي ولې بیا هم دومره پرمختګ وکړي نو یقیناً چې دا ددې خبرې غمازي کوي چې پښتانه ډېر باصلاحیته قوم دی. خو که چیرې دوی د روزنې، پالنې، زده کړې او ښوونې بندوبست په سمه توګه وکړای شي او په صحیح اسلامي او افغاني طریقې سره ورته تعلیم ورکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، نو د نړۍ تر هر قوم زيات پرمختګ کولی شي او ډېر ناممکن کارونه ممکن کولی شي. ځکه چې دا قوم ډېر زړه ور او جراتمند قوم دی. چې په هر حال کې دوی د خپل محنت او صلاحيت په برکت لارې وباسي لنډه دا چې پښتون ډېر لرغونی له کمال او هنر نه ډک قوم دی. چې د نړۍ په مختلفو هېوادونو يې حاکميت هم کړی دی او د پښتنو بادشاهۍ سلسله په ټول هندوستان کې مشهوره ده. چې تر اوږدې مودې پورې يې ډېره په عادلانه توګه بادشاهي کړې ده، خو له بده مرغه چې پښتون قوم د دومره لوی تاريخ درلودلو باوجود په بعضې اړخونو کې تر نورو قومونو څخه ډېر وروسته پاتې شوی دی، لکه د مثال په توګه پښتون قوم په هره زمانه کې د يو مخلص، ذهين او ځيرک مشر د سيوري څوک نه دي پيدا شوی چې دا خو اور تس نس قوم يې په يو ټغر راغونډ کړی وي يا اوس يې راغونډ کړي. ځکه چې د پښتنو دا لويه بدمرغي ده چې دوي د ځان نه بغير بل څوک مشر نه مني هر يو ځان زمري بولي او نور ورته ګيدړان ښکاري. حال دا چې دا ممکنه نه ده چې هر څوک دې زمري شي او د دنيا تاريخ شاهد دی چې د ټول قوم مشري يو کس کوي. هر څوک ددې جوګه نه وي او هغه قوم پرمختګ کولی شي چې د خپل مشرتابه په احکاماتو او پريکړو په خلوص او اتفاق سره عمل کوي. ولې د پښتون قوم بخت په دې لړ کې ببدار نه دی او د بې اتفاقۍ ښکار دي. له دې سره يوه مهمه خبره هم کولی شي چې د پښتنو اتحاد د يوې توطيې له مخې تار تار کېږي، خو دا لا تر اوسه پورې چا معلومه نه کړه چې ددې توطيې تر شا څوک دي او ولې د پښتون قوم وحدت ته زيان رسوي په دې لړ کې زموږ پوهانو ته د خپلو صلاحيتونو، تجربو او ادراک پر بنسټ کار کول پکار دي چې د پښتون وحدت خلاف سازشي لاسونه راڅرګند کړي او د هغو مخونه بې نقابه کړي. کوم چې په دې سازش کې ککړ دي. له بده مرغه دا حقيقت هر څوک مني چې پښتون قوم مشرتابه نه لري خو ددې لپاره عملي

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار تر اوسه پورې چا هم ونه کړو چې د پښتون د یووالي او د دوی د رهبرۍ او مشرۍ لپاره لاره هواره کړي. ټول پښتون په یو مزي وپیي. ځکه چې نن پښتون قوم له کومو مشکلاتو او کشالو سره مخ دی، کوم جنګونه چې په پښتنه سیمه کې شروع کړای شوي دي. ددې ټولو بنسټیز علت د پښتون رهبر نشتوالی دی. د پښتون راغونډېدل، یوکېدل د دوی د هر دښمن ماتې ده، لکه خوشال بابا چې وايي.

اتفاق په پښتانه کې پیدا نه شه
ګنې ما به د مغل ګریوان پاره کا

اسلام دین هم موږ ته د یووالي لارښوونه کوي او دا د خوښۍ ځای دی چې پښتانه د اسلام پر سپېڅلي دین کلک مین دي او پر اسلامي تعلیماتو باندې عمل کوي. هم ددې لارښوونو په تنیجه کې موږ ټول پښتون قوم ته پکار دي چې په یو مشرتابه راجمع شو او د یووالي څرګندونه وکړو. بله زموږ د قوم دا هم بدمرغي ده چې اقتدار یې لاس ته راغلی دی، خو ولې بیا هم د خپلې ژبې، کولتور، ادب او د خپل ملت لپاره یې کوم بنسټیز ګامونه نه دي پورته کړي، خصوصاً د ژبې په برخه کې خو تېرې تاریخ ډېر ګیله من دي او وايي چې دوي په خپلو بادشاهیو کې د دوی دولتي او درباري ژبه پردۍ وه د لیک لوست ژبه پردۍ وه، ځکه خو پښتو ژبې هغومره پرمختګ ونه کړو څومره چې یې تاریخ اوږد دی او اهمیت یې معلوم دي. داسې نور هم ډېر عوامل او علتونه دي چې هغه د پښتون قوم د پرمختګ په لاره کې خنډونه دي. اوس موږ ته ضرورت ددې خبرې دی چې نور زموږ د یوویشتمې پېړۍ پښتون ځان وپېژني او د پښتون مشرتابه دا خلا پخپل سوچه فکر، سپېڅلي سوچ او روښانه ذهن د یو داسې مشرتابه په صورت کې پوره کړي چې څلورو کروړو پښتنو لپاره د منلو وړ او د رهبرۍ جوګه وي او هم دا هغه فیصله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذریعه ده چې په پښتنه سیمه کې لګېدلي اور وژلی او پښتون قوم د موجوده او راتلونکېو بدمرغیو سره د مقابلې وړ ګرځولی شي. نن چې پښتانه د دنیاآ په ګوټ ګوټ کې د هجرت او اذیت کوم ستونزمن ژوند تېروي د هغه نه نجات موندلی شي او د یو امن خوښې، وطن پرست او د ملت خېرخوا په عصري علومو پوه، مهذب او مترقي قوم ترې جوړېدی او د نړی په قومونو کې د سیال قوم په توګه خپله پېژندګلوي جوړولی او ساتلی شي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې د وزیر ډاکتر غلام فاروق وردګ

# د جومات او ښوونځي تر منځ واټن او د افغان ماشوم غمیزه

الحمدلله و کفی و الصلاة و السلام علی عباده الذینصطفی و بعد:

قل هل یستوي الذین یعلمون و الذین لا یعلمون

د ډېرې خوښۍ او خوشالۍ ځای دی، چې نن د یوې خورا مهمې، حیاتي، دیني او انکشافي موضوع د څېړلو په موخه ددې ستر کنفرانس له لارې ستاسو درنو عزیزانو په خدمت کې یم او په دې اړه خپل نظر در سره شریکوم.

غونډې ته ستاسو د هریوه راتګ بختور غواړم، هر کله راشئ قدمونه مو زموږ په لېمو. په دې او دې ته ورته معارف پاله غونډو کې ستاسو ګډون او برخه اخیستنه، د هېواد د ځوان نسل له روزلو او زموږ او ستاسو بچیانو ته د هغوی د خدایي حق (تعلیم او تربیې) له ورکړې سره ستاسو محترمینو بې حده مینه ښیې، چې زه یې د زړه له کومې ستایم او تقدیر یې کوم.

ددې ترڅنګ د کنفرانس له تنظیموونکي، د هېواد له علمي او ادبي شخصیت پوهنوال محمد اسمعیل یون څخه مننه کوم، چې د لومړي ځل لپاره یې په هیواد کې د هیوادنیو مشکلاتو د څېړلو او هغو ته د حل لارې موندلو په موخه داسې ستر پروګرام جوړ کړ، خدای دې ددې ښېګڼې له مخې اجرونه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عزیزانو، لکه څنګه چې دوستانو اشاره ورته وکړه، د دې کنفرانس عمده موخه په افغانستان کې د تېرو اوږدو جګړو له امله رامنځته شوې غمیزه او پر افغان ولس یې اغېز دی.

ماته به د معارف د وزیر او په دې برخه کې ستاسو د یوه خدمتګار په توګه ډېره ښه وي، چې ددې غمیزې او د پوهنې برخې ته له هغې د راپیدا شویو ستونزو په اړه خبرې وکړم.

یو مهم بحث چې په افغانستان کې د پوهنې په برخه کې ډېر مطرح دی او د کنفرانس غوښتنه هم داوه، چې موږ رڼا پرې واچوو، هغه د ښوونځي او مدرسې بحث دی، یا که په مشخص ډول ووایو، د معاصرو عصري علومو او له ډېرې پخوا را روانو دیني علومو بحث، چې متاسفانه تر دې وړاندې په یوه سترګه نه ورته کتل کېدل.

موږ په داسې حال کې، چې د اسلام مبارک دین د خپلو ټولو دیني معتقداتو او کړنو منشا بولو او دا پر ځان فرض ګڼو، چې هر اقدام او هر عمل مو د اسلام له مبارک دین سره برابر وي، په ټول افغانستان کې په اسلامي او افغاني اصولو د ولاړو معیاري او پرمختللو زده کړو غوښتونکي یو او د داسې یوه تعلیمي نظام د رامنځته کېدو هوډ لرو، چې رسمي او متبادل تعلیمات پکې یو د بل ممد او متمم وي.

په دې ترخ کې د لوی خدای ج په مرسته او د ولس په بې شانه همکاریو تر توقع لوړو اهدافو ته رسېدلي یو او لاهم پرمختګ کوو.

موږ د پورتني اصل په پام کې نیولو سره په خپل تعلیمي نصاب کې اسلامي او عصري دواړو زده کړو ته د یوې با ارزښته فریضې په سترګه ګورو او دې اصل ته پوره ژمن یاستو، خو په څنګ کې یې دا هم منو، چې د تېرو اوږدو کلونو جګړو، ناخوالو، بهرنیو لاسوهنو، د ولس پر وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راټوکېدلو بد بینیو او په ټوله کې د افغانستان د معارف پر وړاندې را پیدا شویو خنډونو او دښمنیو دې ته زمینه برابره کړې، چې د مدرسې او ښوونځي ترمنځ واټن رامنځته شي.

دغه ستونزه د افغانستان د آزادۍ تر ګټلو وروسته د غازي امان الله خان له مهاله، له هغه وخته رامخې ته شوه، چې په هیواد کې د معارف د تمدن او زموږ د هیواد د باسواده کولو هڅې پیل شوې. متاسفانه له همغه وخته زموږ د دیني او عصري زده کړو بهیر متضاد مسیرونه خپل کړل او یو ډول منفي رقابت رامنځته شو.

د ښوونځي او مسجد دغې تپل شوې، ناروا، نا مطلوبې، مضرې، تباه کوونکې او په پایله کې د نورو له خوا دېکته شوې منفي سیالۍ نه یوازې دا چې زموږ د معارف سیستم په بنسټیز ډول اغېزمن کړ، بلکې په هیواد کې یې د ګڼو تربګنیو بنسټ کېښود او د زرګونو افغانانو ژوند یې واخیست.

دې نا سالم رقابت زموږ هیواد داسې یوه ځای ته ورساوه، چې متاسفانه څو کاله وړاندې یې د نړۍ په کچه له ښوونځي او ښوونیز بهیره د بهر پاتې شویو ماشومانو شمېره تر هر چا لوړه وه او په هېڅ صورت یې د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره په پوهنیز ډګر کې رقابت نه شواې کولای. ددې ترڅنګ یې زموږ د دیني او عصري منل شویو زده کړو مسیرونه کاږه کړل او ولس یې د بې سوادۍ او له تعلیمه لرې والي کندې ته ټیل واهه.

ددې ستر ناورین په پایله کې یې زموږ (۱۲) میلیونه هیوادوال د بې سوادۍ کندې ته ټیل وهل او د ښوونځي د عمر شاوخوا (۸) میلیونه تنکې ماشومان او زلمیان یې ښوونځیو ته له تللو بې برخې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ په داسې حال کې، چې یاد منفي بهیر د افغانستان د تاریخ تر ټولو کرغېړن او تور بهیر بولو، د هغه د په ټپه دربدو په اړه مو اوږده او اغېزناک ګامونه پورته کړي.

دولس کاله وړاندې موږ ته د پوهنې یو داسې نظام را پاتې و، چې تر یو میلیون څخه ټیټ شمېر نارینه زده کوونکو په (۳،۴۰۰) تعلیمي موسساتو کې د (۲۰،۰۰۰) ښوونکو له خوا په غیر معیاري ډول زده کړې په کې کولې، واحد تعلیمي نصاب موجود نه و او د زیاترو تعلیمي موسساتو ودانۍ تخریب شوې وې، دا په داسې حال کې ده، چې اوس زموږ د زده کوونکو شمیر (۱۰,۵) میلیونه تنو ته رسیدلی چې د (۲۱۱,۰۰۰) ښوونکو له خوا په (۱۲،۲۰۰) تعلیمي موسساتو کې د یوه معیاري نصاب په موجودیت کې په زده کړه بوخت دي.

پوهنې وزارت په دې توانېدلي، چې د تېرو (۱۲) کلونو په جریان کې شاوخوا (۲۱۳) میلیونه جلده درسي کتابونه چاپ کړي، چې له دې ډلې تر (۵۷) میلیونو ډېر یوازې سږکال چاپېږي.
تر (۸۰۰۰) څخه زیاتو ښوونځیوته یا خو له سره نوې ودانۍ جوړې شوي او یا ترمیم شوې دي.

همدارنګه د پوهنې وزارت توانېدلی چې نه یوازې په ملي، بلکې په نړیواله سطح خپل بریالتیوب په اثبات و رسوي چې د:

GPE

UN Ed. Above All,

UK GGECF,

Qatar Educate a child,

(c) ketabton.com: The Digital Library

UAE New Initiative,

په پروګرامونو کې د افغانستان ویاړمن غږيتوب يې نمونې دي او د دې بریالیتوبونو لړۍ به د لوي خداي (ج) په توکل نوره هم دوام پیدا کوي.

همدارنګه موږ په دې وتوانېدلو، چې د هیواد له څلورو میلیونو ډېر وګړي د سواد زده کړې په کورسونو کې د روزنې له مخې باسواده کړو. په دې ترتیب سره اوس زموږ د (۱۲) میلیونو هغو هیوادوالو شمېره چې لیک لوست نه شي کولای (۸) میلیونو ته راښکته شوې او په دې ترتیب سره مو په هیواد کې د سواد کچه له ۲۰٪ څخه ۳۴٪ ته لوړه شوې ده.

پوهنې وزارت همدا اوس په ټول هیواد کې تر (۳۰،۰۰۰) ډېر د سواد زده کړې کورسونه لري، چې د (۳۰،۴۴۲) تنو استادانو له خوا په کې (۷۷۰،۰۰۰) تنه د لیک لوست په زده کړو بوخت دي.

یادې لاسته راوړنې یوازې په پورته برخو کې نه خلاصه کېږي. موږ د پوهنې په اوسني سیستم کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو برخې ته هم جدي پاملرنه کړې ده. په دې برخه کې موږ د ګوتو په شمار انستیتونو او مسلکي ښوونځیو څخه پیل وکړ او اوس د لوی خدای(ج) په مرسته په ټول هیواد کې د مسلکي او تخنیکي زده کړو (۲۴۹) ښوونځي او انستیتونه لرو، چې (۱۴۲) يې ښوونځي او (۱۰۳) يې انستیتونه دي. په دې ډول زموږ د پوهنې د بهیر د پام وړ برخه زده کوونکي، چې (۸۲،۲۴۲) نجونې او هلکان زده کړې په کې کوي.

د سواد، عمومي زده کړو او مسلکي او تخنیکي زده کړو په برخه کې د پورته لاسته راوړنو ترڅنګ، پوهنې وزارت د اسلامي تعلیماتو هم ابتدايي او هم عالي زده کړو ته ډېره پاملرنه کړې. موږ د ښوونځي او مسجد ترمنځ واټن نه منونکی بولو او په ډاډ سره ویلای شو، چې دغه واټن اوس له منځه

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

تللې او زموږ په هېواد کې د دواړه ډوله زده کړو بهير خوا په خوا کې د افغاني ژوند د يوې مهمې اړتيا په توګه روان دی.

موږ مسجد او د هغه ابتدايي زده کړې د افغاني ټولنې د پوهې هغه ستره پانګه بولو، چې لوی خدای زموږ پر ولس لورولې او ښايې ډېر نور ولسونه يې ونه لري. زموږ د جومات بغدادي قاعده، الفبا سيپارې او قرآني لوستونه زموږ ماشومانو ته د ليک لوست او خدای پېژندنې لومړني اصول ور زده کوي او پردغو اصولو برابر يې ښوونځيو ته را استوي، چې بې له شکه د ښوونځي او عصري علومو لپاره تر ټولو ښه ممد او مرستندوی ثابتېږي، لوړو زده کړو ته اساس رامنځته کوي او د علم معراج ته تر رسېدو پورې د زده کوونکو د لارې مشال ګرځي. موږ ددې اهميت په درک سره نه يوازې داچې نه پرېږدو دغه ستر او مقدس مرکزونه اغېزمن شي، بلکې د پياوړتيا، همغږي کولو او لاښه تنظيم هڅې يې کوو.

که څه هم د اعليحضرت محمد ظاهر شاه او شهيد سردار محمد داود خان پر مهال او تر هغه وروسته او وړاندې هم د مسجد او مکتب ترمنځ د واټن د لرې کولو هڅې شوې دي، خو متاسفانه ډېرې کارنده نه دي ثابتې شوې.

موږ د لوی خدای ج په فضل، پر هر نر او ښځه د علم د فريضې په منلو او دې خدايي حکم ته د بشپړ تابعيت پر بنسټ په پوره ژمنتيا سره پر دې کار کړی او کوو، چې زموږ هر بچی په دواړو ديني او عصري علومو مجهز وي. ديني علوم زموږ د عصري علومو نه بېلېدونکې برخه جوړوي، موږ د يوه پرمختللي، آباد او باسواده افغانستان لپاره د مسجد او مکتب وجود حياتي بولو او هر تعليم يافته مو بايد په دواړو ديني او عصري علومو مجهز وي.

ددې ترڅنګ د دواړو عصري او ديني زده کړو په برخه کې بېسارې او تاريخي لاسته راوړنې لرو. په داسې حال کې، چې د مسجدونو ټولو زده کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د يوه ضرورت په سترګه ګورو او هره کورنۍ تشويقوو، چې خپل ماشومان د لومړنيو زده کړو لپاره مسجدونو ته واستوي، په هيواد کې د ديني مدارسو او دارالعلومونو پر وده او پراختيا هم کار کوو. موږ د هېواد په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د اسلامي زده کړو معينيت رامنځته کړی، چې په هيواد کې د اسلامي زده کړو بهير تنظيموي. د اسلامي تعليمي موسساتو د مدرسينو په شمول دامهال (۲،۹۵۱) تنه علما د ياد معينيت په چوکاټ کې په کار بوخت دي.

لله الحمد پوهنې وزرات په دې توانېدلی، چې په خپلو تعليمي موسساتو کې د رامنځته شويو حياتي او تاريخي پرمختګونو پر بنسټ د ديني زده کړو د طالب العلمانو شمېر د ١٢٪ اناثو په شمول (۲۵۷،۸۹۱) تنو ته ورسوي. دغه طالب العلمان په (۱۰۰۱) بابه تعليمي موسساتو (۲۰ بابه دارالعلوم، ۱۳۳ بابه دارالحفاظ، ۷۱۰ بابه مدرسو، ۹۸ بابه الحاقيه) کې د (۲،۹۰۲) تنو مدرسينو له خوا په ديني زده کړو بوخت دي.

پوهنې وزارت همدارنګه (۲۲۱) تنه ديني علما او ملا امامان د سواد زده کړې د موجوده کورسونو په برخه کې د استادانو په توګه استخدام کړي، چې په ډېر اغېزناک ډول زموږ د ولس نالوستي قشر ته ليک لوست ور زده کوي او هر ملا امام د سواد زده کړې د (۲) بابه کورسونو مسووليت پر غاړه لري. د پوهنې وزارت پلان لري چې په راتلونکې کې (۱۰،۰۰۰) ملا امامان په دې برخه کې په کار وګوماري.

پوهنې وزارت د هيواد په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د (۲۵،۰۰۰) هغو امامانو څخه چې خصوصي زده کړې يې کړې وې، معياري ازموينه واخيسته، چې د ياد شمېر امامانو له جملې څخه (۳۷،۲۲۷) کسانو ته د (۱۴) او (۱۲) په کچه اسناد ورکړل شول. د پوهنې وزارت د ۱۲ ټولګيو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فراغت اسنادو ددغو علماو (۲۷،۷۰۰) کسانو او د ۱۴ ټولګي د فراغت اسنادو (۹۵۱۱) کسانو ته د پوهنې وزارت په ګډون د هېواد په بېلابېلو اداراتو کې د کار زمینې مساعدې کړې دي.

ددې ترڅنګ موږ بیاهم د هیواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره په هېواد کې د اسلامي زده کړو مرکزونو ته داسې درسي نصاب ترتیب کړی او د بشپړېدو په حال کې دی چې زموږ د هیواد پوهنیزو اړتیاوو ته په کتو د اسلامي هیوادونو له معاصرو تجربو څخه استفاده پکې شوې او د زده کوونکو یا طالب العلمانو هر ډول علمي او مسلکي اړتیاوې په کې په پام کې نیول شوې دي.

د همدې نصاب د اووم، اتم او نهمو ټولګیو لپاره ۷۱ عنوانه کتابونه تالیف او چاپ ته تیار دي، د لسم، یوولسم او دولسمو ټولګیو د کتابونو کار ٪۹۰ بشپړ شوی او د دیارلسم او څوارلسمو ټولګیو د کتابونو په تالیف هم کار روان دی.

همدارنګه مو په ښوونځیو کې هم د دیني زده کړو د مضامینو ساعتونه ډېر کړي دي. همدا اوس زموږ د ښوونځیو زده کوونکې د نورو معاصرو علومو ترڅنګ دیني زده کړې، حدیث، تفسیر، عقاید او داسې نور مضامین لولي او د خپل دین په رڼا کې خپلې زده کړې پرمخ بیایې.

پوهنې وزارت هڅه کړې، چې په خپل هیواد کې د دیني زده کړو د پراختیا لپاره د هغو اسلامي هیوادونو همکاري را جلب کړي، چې په دې برخه کې بریالۍ تجربې لري، لکه د دوست هیواد مصر او دوست هیواد ترکیې همکارۍ چې په کابل کې د مصر د الازهر د جامعې او ترکیې د امام خطیب ماډل دارالعلومونو تاسیس یې غوره بېلګې دي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ديني زده کړو په موخه د مصر عربي جمهوريت ته د يو شمېر افغان محصلينو لېږل د همدې هڅو يوه برخه ګڼلاي شو.

همدارنګه هر کال د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو د معينيت په نوښت د قرآن کريم د حفظ او تجويد مسابقې په ملي سطح تدويروي، چې په ځوان نسل کې د قرآن پوهنې او قرآن زده کولو روحيه پياوړې کړي.

موږ په داسې حال کې، چې په دې برخه کې د لاسته راغلو برياليتوبونو په اړه د لوی خدای(ج) شکر ادا کوو، په ډاډ سره ويلای شو، چې په تېرو پنځو کلونو کې مو د لومړي ځل لپاره د ښوونځي او مسجد تر منځ واټن له منځه وړی. په دې برخه کې مو هڅې جاري دي او که خدای(ج) کول د مساجدو او ښوونځيو په همغږۍ فعاليت سره به په نږدې کې د (پوهنه د ټولو لپاره) اعلان شوي هدف ته تر ټولو لومړی ځانونه ورسوو.

اقول قولي هذا استغفرالله لي ولکم

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرحمان افغانیار

# تعلیم او نوی نسل

له نکتې نــــه تــمام علم حاصلېږي

درست خروار له یوه مشته نمایان شي

(رحمان بابا)

پښتانه د نړۍ پر مخ یو له هغو قومونو څخه دي، چې د ژوند ټوله نقشه یې د غمونو، تراژیدیو، ویرونو، دردونو، مرګونو یو غم لړلی داستان دی. په تېره بیا دې درې لسیزو خو د پښتنو کولتوري او عقیدوي دوه لوی ډګرونه هوجره او جومات په سرو وینو رنګ کړل، پښتنې مېندې کونډې، بورې او ووژل شوې، د پښتنو سیمه د نړۍ د جنګونو یوه لویه تجربه ګاه وګرځېده له هر چا په دې مځکه خپلې وسلې وازمایلې او سیالیانې یې سره شروع کړې، ددې په ردعمل کې پښتون مړ، زخمي، ګوډ او شل شو. هېچا هم د پښتنو پرهرونه او زخمونه ټکور نه کړل، بلکې نورې مالګې یې هم پرې وشیندلې، هر چا تر خپله وسه پورې ښه په اخلاص ددې لوی کور په رنګولو کې برخه واخیسته. همدا لاعاملونه ول چې پښتانه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تیت و پرک شول، په پردیو هېوادونو کې په مزدورۍ بوخت شول، د تعلیم ډګر تربنه پاتې شو. ددې اثر پر نوي او ځوان نسل باندې ډېر وشو، له قلم او کتاب نه لرې شول، ددې په مقابل کې له وسلې او وحشت سره لاس و ګریوان شول. په داخل او بهر کې چې کوم مکتبونو فعالیت کاوه، په هغو کې هم ټوپک، کلاشینکوف، او ټانکونه د هر څه پر ځای سمبولونه شول، پښتنو لا د وحشت او بربریت پلو ته مخه کړه. مکتب او مدرسه ورته د تدریس او

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاربښونې پر ځاي د جنګ د ټريننګ مرکز شو.

همدې اثراتود پښتنو د ماشومانو پر نفسياتو ژوره اغېزه وکړه، بل پلو غربت هم په دې ټولنه کې خپلې ريښې لا پسې ټينګې کړې او خلک يې دې ته مجبور کړل چې د خپلې خېټې لپاره يوه مړۍ ډوډۍ پيدا کړي.

بهرني ملکونو د پښتون نسل تربيه د خپل فکر مطابق شروع کړه، خپل تاريخونه يې پرې ولوستل، خوشال خان، ميرويس خان، احمد شاه يې ترې هېر کړل خپل اتلان يې ورته د اتلانو په توګه معرفي کړل، چې په فکري توګه هم پښتون ماشوم د بل په تقليد او اثر کې راګير شو.

د مکتب او مدرسې معلمان او لاربښوونکي هم د ماشومانو لپاره د وحشت او ويرې سمبولونه وګرځېدل، نوی نسل د مکتب نه فرار او تيښتې ته مجبوره کړاي شو، د مينې او محبت په مقابل کې د مکتب او مدرسې استادانو د وهلو او ټکولو فلسفه خپله کړه. نوي نسل نشو، فلمونو او نورو بدرنګيو ته مخه کړه. چې يو خوا يې سالمه روزنه ونه شوه، بله خوا پرې پردۍ نظريې او فکرونه نور هم حاوي شول. په مقابل کې نورو ټولنو خپل نسل په ساينسي، سياسي، علمي، ادبي، عقيدوي او عصري علومو سمبال کړ، پښتانه له بدبختيو او ګواښونو سره مخ شول. نورو ټولنو د نوي نسل د روزنې او پوهاوي په اړه مختلف سمينارونه او غونډې وکړې، له نوي نسل سره د رويې په اړه يې خصوصي ناستې وکړې، ښوونځي د مينې او محبت يو مرکز وټاکل شو. په مقابل کې پښتون نوی نسل تباه شو، ورټل شو او مړ شو.

دا چې زده کړه د هر ماشوم انساني او عقيدوي فريضه ده، نو نن له موږ سره د نوي نسل د روزنې لپاره تر يو څه اندازه وسايل او لارې چارې شته، که نن مو هم نوی نسل له تعليم او تربيې نه بې برخې پاتې شو، نو سبا ورځ به مو تر ننني ورځې نه هم بدتره وي. زموږ نوی نسل به د پرديو لومو کې راګېر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردې نظريې او فکرونه به يو ځل بيا په دې سيمه کې وده وکړي. دا سيمه به د درنو بمونو او وسلو تجربه ځای شي. که مو نن د نوي نسل فکري روزنه وکړه نو دا نسل به د سبانۍ ورځې لپاره ډال او توره وي، ګنې دا نسل به د خپل نغري دښمن وي. زه له ټولو بااحساسه افغانانو او پوهانو څخه هيله کوم چې د نوي نسل په روزنه کې خپله تجربه او پراخه ونډه په کار راولي، دې بدبختيو ته د پاي ټکې کېږدي، د قام او ملت ګټه د ځان ګټه وبولي. ځانونه دې اينده زمانې ته د تاريخ په پاڼو کې سپېڅلي او مقدسه نقش کړي. په اخره کې د افغانستان ملي تحريک څخه نړۍ نړۍ مننه کوم چې په داسې حالاتو کې يې د پښتنو د ويښتيا په خاطر د داسې يو سيمينار تابيا ونيوله او پښتنو ته يې يو فکري ډګر خلاص کړ. اخره کې درنه د خوشال بابا په يو شعر اجازت غواړم.

چې يې علم هنر نه وي ځنې تښته
بې هنر سړی که وګورې لا شی دی
خوشال بابا

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمداجمل هوډمن

# پښتانه او ټاکنې

ټاکنې د ولسواکۍ لومړنی او بنسټیز اصل دی. ولسواکي په یوه عبارت د اکثریت واکمنۍ ته وايي، چې د ټاکنولـه لارې رامنځته کېږي. پښتانه په افغانستان کې دغوڅ اکثریت په توګه هغه مهال کولای شي د افغان ملت د یوې لویې برخې په توګه د ولسواکۍ په ټینګښت د ځواکمن سیاسي اقتدار په رامنځته کولو او سیاسي ثبات کې خپل کردار ادا کړي، چې د ولسواکۍ ننګه وکړي. قومي اکثریت په یوه هېواد کې د سیاسي ثبات په ټینګښت او ساتلو کې مخکښ رول او تر نورو ډېر مسئوولیت لري. په دې باندې ټول پوه دي، چې افغانستان پښتنو جوړکړی، پښتنو ساتلی او دفاع یې ترې کړې او تر دې وروسته به یې هم ساتي خو اوس د مبارزې او هېواد ساتنې وسایل بدل شوي که پرون وطن په توره او ټوپک ا و وسله والو مبارزو ساتل کېده نن په پوهه، ولسواکۍ، او سوله ییز سیاست ساتل کېدای شي.

که دا خبره ومنو، چې په ولسواکۍ کې د اکثریت واکمني تضمین ده، چې بې له شکه همداسې ده، نو په افغانستان کې ولسواکي د ټول ملت خو په ځانګړې توګه لـه هرچا مخکې د پښتنو په ګټه ده، خو په دې شرط چې پښتانه په ټاکنو او سیاسي فعالیتونو کې په خپل پراخ ګډون سره له خپل قومي اکثریت څخه سیاسي اکثریت جوړکړي او دا خبره د امتیاز په توګه نه، بلکې د یوه مسئولیت په توګه ومني، چې د یوې ځواکمنې واکمنۍ په جوړولو سره به د هر ډول لاسوهنو او دسیسو مخنیوی کوي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان دښمنان په دې پوهېږي، چې که پښتانه په هره اندازه، د هېواد د برخلیک په ټاکلو کې ګډون ولري په هماغه تناسب افغانستان د ثبات پرلور روانیږي او د بهرنیو لاسوهنو مخه نیول کېږي، همدا لامل دی، چې پښتانه له هرې خوا په بېلابېلو توطئو کې ښکېلوي او د خپل برخلیک د ټاکلو له حق څخه یې محروم ساتي. خو دا په دې مانا نه شي کېدی، چې ملامتي یوازې په بهرنیو دښمنانو ور وتپل شي، د پښتنو پر وړاندې زموږ د بهرنیو دښمنانو د دسیسو په اړه زموږ د مورخینو، سیاسیونو او څېړونکو سمو خو تکراري بحثونو پښتنو ته د نه ملامتۍ انګېزه او احساس ورکړی او دا احساس د دې سبب شوی، چې پښتانه د هرې نیمګړتیا او ناکامۍ پر وخت نورو ته د ملامتۍ ګوته ونیسي خو خپلو مسئوولیتونو ته پام نه کوي. حتا همدا نن، چې د علم پرمختګ، څېړنې او د بیان د آزادۍ دور دی په پښتنو کې د سمون په موخه سیاسي او ټولنیز نقد ګستاخي او سپکاوی ګڼل کېږي او همدا دلیل دی، چې موږ ته خپل عیب د ولو منځ ښکاري او لاهم له خپلو نیمګړتیاوو او ستونزو نا خبره پاتې یو. پښتانه باید جدي شي او د خپلو نیمګړتیاوو او ستونزو په هوارولو سره دې خپل ځان د بهرنیو توطئیو د مخنیوي جوګه کړي.

درنو حاضرینو !

په داسې حال کې، چې د ولسمشرۍ ټاکنې را روانې دي ماته د دې څېړنغونډې د تنظیموونکو له خوا دنده سپارل شوې، چې خپله مقاله د پښتنو او ټاکنو په اړه ولیکم.

د ټاکنو بحث د ټولو افغانانو په ځانګړې توګه د پښتنو لپاره ډېرمهم او جدي دی. د یوه مسئوول پښتون افغان په توګه په هېواد کې نورو مېشتو قومونو ته په درناوي سره غواړم ووایم، چې پښتانه یانې افغانستان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان یعني پښتانه زما لپاره دا دواړه مفاهیم یو دي. که څوک غواړي، چې د افغان ملت د واحد بدن لویه برخه له صحنې حذف کړي ګواکې افغانستان حذفول غواړي. د افغانستان د حذفولو لپاره تر نورو مخکې پښتون په نښه شوی. لومړي ګام له واکه د پښتنو لرې کول، له واکه ګوښه ساتل او واک ته د پښتنو د رسېدو مخه نیول دي. د دې موخې لپاره پښتانه له هر ډول دسیسو سره مخامخ دي. بل لوري ته پښتانه له دې توطئیې څخه د بچېدو لپاره سیاسي انتظام او پر حیاتي مسایلو باندې منحیث قوم اتفاق نه لري او له همدې له امله ده، چې په راتلونکو ټاکنو کې د پښتنو د فعال ګډون پر وړاندې ډېرې ستونزې پرتې دي، چې په لاندې توګه یې یادونه کوم.

## جنګ او تهدید:

د پښتنو پرخاوره د پردیو له خوا تپل شوې نیابتي جګړې زموږ ټول مادي او معنوي شته له منځه وړي، د جنګ له لاسه ده، چې پښتانه نه شي کولای د افغانستان په سیاست کې سوله ییز رول ولوبوي. پښتانه په خپلو سیمو کې یوازې د ژوندي پاتې کېدو لپاره ژوند کوي. موږ د پرله پسې جګړې له لامله حتی د پرمختګ او په خپل حالت کې د بدلون راوستو لپاره د فکر کولو وخت هم نه لرو. زموږ ټوله انرژي، وخت او امکانات د جګړې له ناوړه پایلو څخه د خلاصون لپاره لګول کېږي. په ټاکنو کې پراخ او اغېزمن ګډون یوې سوله ییزې فضاته اړتیا لري، د پښتنو په خاوره کې هرځلې د ټاکنو په رارسېدو سره د جګړې ډګر نور هم تودېږي او نه پرېږدي، چې پښتانه په ټاکنو کې ګډون وکړي. دا جګړې که له یوې خوا بهرنۍ ریښې لري له بلې خوا کور دننه هم ځینې ډلې د پردیو په لمسون په ټاکنو کې د پښتنو د ګډون د مخنیوي په موخه مصنوعي جګړې رامنځ ته کوي. په جنوبي او ختیځو سیمو کې دوامداره جګړه روانه ده، خو په شمالي ولایتونو کې یوازې د ټاکنو

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمهال د جګړو تنور تود ېږي. په تېرو پارلماني ټاکنو کې د کندز، تخار او بلخ په ولایتونو کې د پښتنو په سیمو کې، چې دولسي جرګې د پښتنو کاندیدانو د نفوذ ساحه وه تر ټاکنو وړاندې او وروسته هېڅ خبره نه وه، خو د ټاکنو پر وخت هم مصنوعي طالبان پیدا شول او هم نمایشي تروریستان !

د پښتنو پر خاوره د جګړې دوام حتا هغه کسان ، چې د قانون پرحاکمیت باورلري، دې ته مجبوره کړي، چې د خپلې بقا لپاره انتخاباتي درغلۍ یوه اړتیا وګڼي. دې حالت یو شمېر فاسدو کسانو ته موقع ورکړې، چې د امنیت د نه شتون او په ټاکنو کې د پښتنو له نه ګډون نه په استفادې سره د تقلب او درغلیو له لارې ځانونه د پښتنو استازي کړي او بیا په پارلمان کې د هغو پر برخلیک معامله وکړي. جګړې زموږ د حقونو له سوداګرو نه موږ ته په ظاهره قانوني استازي تراشلي او په دې توګه په مقننه او اجرائیه ځواک کې زموږ د واقعي سیاسي استازیتوب مخه نیول شوې.

وړاندې مو د یوه هېواد په سیاسي ثبات کې د قومي اکثریت د رول خبره وکړه. په افغانستان کې متاسفانه جنګ له پښتنو څخه د مخکښ سیاسي رول وړتیا اخیستې او د اکثریت په توګه یې اقلیت ته محتاج کړي دي. تاسو خبریاست چې همدا اوس د ولسمشرۍ احتمالي پښتانه کاندیدان یوېې هم پکتیا، خوست، کندهار، هلمند، ننګرهار، فراه او نورو سیمو ته د تلو زړه نه ښه کوي ټول لګیا دي په کابل ، مزار او جوزجان کې دلړکېو د قومي رهبرانو دروازې ټکوي، دا ځکه چې د پښتنو په سیمو کې رایې نشته. ښکاره ده چې د دې ډول معاملو په پایله کې رامنځ ته کېدونکې واکمني نه شي کولای افغانستان ته ثبات راستون کړي لکه په تېرو دوولسو کلونو کې یې چې راستون نه کړ. راځئ دا ومنو چې موږ د جګړې له امله منحیث قوم منزوي شوي یو داسې انزوا چې حتا هغه کسان چې موږ یې خپل رهبران

(c) ketabton.com: The Digital Library

بولو، یا دوی خپل ځانونه زموږ رهبران بولي، هم پر موږ حساب نه کوي دا ځکه، چې پر موږ باندې په ټاکنو کې د پراخ ګډون باور نه کېږي.

## د منظمو سیاسي فعالیتونو نه شتون او پر سیاستوالو بې باوري:

ټاکنې یوه سیاسي پروسه ده ،په دې پروسه کې بریالیتوب دهغه چا په برخه وي ، چې سیاست یې کړی وي، خلک یې منسجم کړي وي، دخلکو په درد او کړاو کې یې ځان شریک بللی وي او دخلکو له حقونو یې دفاع کړې وي. خو په موږ کې یو پربل باندې دبې باورۍ ترڅنګ په سیاست او سیاسي فعالیتونو بې باورۍ انګېزه وژلې ده په پښتنو کې سیاست تر بل هرڅه ډېر ځپل شوی. ټول پښتانه په سیاست کې ملامت دي خو هغه کسان چې تر نورو ډېره تمه ورنه کېده ډېر مسوولیت لري. موږ د خپل ځان پر وړاندې ملامت یو . زموږ پښتانه سیاستوال په هر ظلم ، زیاتي ، بې عدالتۍ او سیاسي فساد سکوت کوي . د خلکو د حقونو او د پښتنو پر وړاندې د روانو دسیسو او بې عدالتیو نندارچیان پاتې کېږي، خو هرځل چې ټاکنو ته څو میاشتې پاتې شي بیا ټول فعال شي او هر چېرې پېتې او ښکاره غونډې کوي . د وفادارۍ ټټر وهي .

په قبیلو او قبیلوي شوراګانو باندې وېشل شویو پښتنو کې سیاسي رهبري او سیاسي جوړښتونه نشته. د لویو مصیبتونو او دسیسو پر وخت هیڅ ږغ نه اوچتوي هېڅوک نه غواړي لومړی خبره وکړي. ټول نورو ته سترګې په لار وي خپله عمل او اقدام نه کوي، ځوان سیاستوال چې هیوادپال او له فساد نه پاک خلک دي په خپلو کې یو پر بل دبې اعتمادۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

له غرب نه دراستنو شویو پروفیسورانو او په سیاست کې دناکامو جهادي رهبرانو او قوماندانانو په بې لاریو کې بې لارې او بې لوري دي.

په تیرو انتخاباتو کې پر اشرف غني باندې له را ټول شویو ځوانانو یو سیاسي قوت جوړیداي شواي خو که ډاکتر اشرف غني احمدزی په خپلو خبرو درېدلی او تر ټاکنو وروسته یې دیوه مهذب او ملي اپوزیسیون رهبری ته دوام ورکړی وای او بیرته یې په هغه حاکمیت کې، چې د ده پر وینا فاسد بلل کېده، نه وای شریک شوای. ځوان سیاستوال پوهېدل چې ډاکتر صیب اشرف غني احمدزي به بریالي نه شي، خو د سیاسي اخلاقو له نظره په بل چا پسې تلل ور ته له وطن او قوم سره غداري ښکارېده، خو هغه ځوان سیاستوال په نیمه لار کې پرېښودل . ډاکتر صیب احدي چې د افغان ملت ګوند له منځه را ووت او بېرته یې دافغان ملت د نامه په حذف سره خپل ځان ته د ملي کاندید لقب ورکړ، د کاندیدانو دنوم لیکنې په وروستۍ ورځ یې نظر بدل شو او پر ده باندې چاپېر افغان ملتیان او نور پښتانه یې په نیمه لاره کې پرېښودل . ډاکتر صیب علي احمد جلالي خو له کاندیدۍ نه دانصراف پر مهال حتا له هغو کسانو سره هم مشوره ونه کړه چې د ده لپاره یې میاشتې میاشتې خواري کړې وه.

دوی او دوی ته ورته نور شخصیتونه، چې له ډېرو نیمګړتیاوو او ملامتیو سره سره هغه مهال په پښتنو کې د نویو سیاسي خوځښتونو د پیلولو د ابتکار سترګې ور اوښتې په پښتنو کې د نوي سیاسي ځواک د رامنځ ته کېدو د مخنیوي مسوول دي . دوی له ولسواکۍ سره د ولسواکۍ تر مخالفینو زیاته جفا کړې . اوس بیا اوازې دي چې دوی هم په ټاکنو کې دکاندیدۍ علاقه مند دی خو ګومان نه کېږي، چې دوی دې په دومره لږ وخت کې خپل له لاسه ورکړی اعتبار بیا ترلاسه کړي . دوی یو ځای کار کولو ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دي تيار ، هريو يې خپله خبره لري او هر يو يې خپل ځان نسبت بل يوه ته مستحق بولي . هېڅ داسې سياسي حرکت او شخصيتونه چې په پښتنو کې سياسي ملاتړ ولري نه شته. په دې توګه موږ د راتلونکو ټاکنو لپاره هېڅ تياری نه لرو هرڅه بايد نوي پيل کړو. ځکه پښتنو په تېرو دوولسو کلونوکې داسې يو سياسي جريان رامنځ ته نکړای شو، چې پښتنو ته د ور پېښې غيمزې د مخنيوي لپاره لاس په کار شي. هغو پښتنو ډلو او کسانو چې په يو نه يو ډول يې د واک خوند وڅکه د هرناسم کار پر وړاندې يې چوپتيا غوره وبلله. پښتنو ته منسوب سياسي ګوندونه د سمون او اصلاح راوستو پر ځای د شخصي ګټو لپاره واک ته درسېدو او په واک کې پاتې کېدو ته استخدام شول، د دې ګوندونو مشرانو د ځوکېو په مقابل کې سکوت غوره وباله او د دې لپاره چې ځانونه ملي وښيي، پښتنو ته يې شا کړه او نورو قومونو ته منسوبو سياسي ځېرو ته يې د ځانونو د نږدې کولو هڅې پيل کړې، خو د بهرنيو لاسوهنو له امله قومي درزونه دومره ژور وو، چې دوی نه يوازې هغوی خپل نه کړل، بلکې پښتانه يې هم له لاسه ورکړل. په داسې حال کې چې پخوانۍ ستونزې نورې هم ژورې شوې په دومره لږ وخت کې چې موږ يې په مخ کې لرو د ولس او سياسيونو ترمنځ داعتماد او باور فضا نه شو رامنځ ته کولای او دا بې باوري په ټاکنو کې د پښتنو پر وړاندې دويمه لويه ستونزه ده.

## د پښتنو پر وړاندې اکثريت سازي او د پښتنو اقليت ښودل:

په دې کې هيڅ شک نه دی پاتې، چې پښتانه په افغانستان کې له قومي پلوه يو اکثريت دی د دې لپاره چې دا قومي اکثريت په سياسي اکثريت بدل نه شي او يوه با ثباته واکمني رامنځ ته نه شي، د پښتنو پر وړاندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقلیتونو اکثریت سازي روانه ده. دا توطئیه بهرني او کورني اړخونه لري. د بن له کنفرانس څخه را پدې خوا د پښتنو د اقلیت ښودلو لپاره منظمې او ښکاره هڅې روانې دي. د بن کنفرانس ګډون کوونکې (۲۳) په سلو کې پښتانه وو او په موقتي اداره کې (۲۵) په سلو کې واک پښتنو ته ومنل شو، ویل کېږي، چې د بن په کنفرانس کې د پښتنو ونډه او قومي سلنه په عمدي ډول په سلو کې (۳۵) ښودل شوې او تر هغه راوروسته تر ننه پورې په ټولو سیاسي معاملاتو او معادلاتو کې پښتنو ته یوازې له ۳۰ ــ ۳۵ سلنه رول ورکول کېږي. د اسلنه د حکومت په ترکیب، عالي رتبه مامورینو او حتا د ملي اردو په لیکو کې په پام کې نیول کېږي. زما له نظره په یوه ملي واکمنۍ کې چې د اساسي قانون له مخې د وګړو ترمنځ فردي مساوات حاکم وي د قومي سلنې پر بنسټ د واک او څوکېو وېش مردود او ناوړه عمل دی، خو که تر یوه وخته پورې د قومي تناسب له مخې د واک وېش استثناً د یوه اصل په توګه منل کېږي نو بیا هر قوم ته باید د هغه د شمېر پر بنسټ حق ورکړل شي.

د پښتنو د اقلیت ښودلو او پروړاندې یې د اقلیت د اکثریت ښودلو د سیسه په رسمي اسنادو کې په منظمه توګه روانه ده، په ځانګړې توګه د موقتې او انتقالي ادارې د واکمنۍ په کلونو کې د هېواد په شمال، کابل او مرکزي ولایتونو کې د تابعیت په تذکرو کې یو لوی شمېر پښتنو ته د قوم پر ځای تاجک او د ژبې پرځای دري لیکل شوې ده، چې په دې اړه مستند اسناد موجود دي. د دې توطیې یوه لویه هڅه په ناامنه شرایطو کې، چې د پښتنو په سیمو کې د مرکزي احصائې د مامورینو تګ راتګ ناشونی دی، دوه کاله وړاندې د عمومي سرشمېرنې د ترسره کولو اقدام و، چې له نېکه مرغه د کولتوري ټولنو د کوښښونو په پایله کې دا د سیسه شنډه شوه. په وروستیو کلونو کې د تابعیت په تذکرو کې د قومي هویت پر ځای د ملي هویت (افغان) لیکلو پرېکړې د دې د سیسې مخه تر یو حده پورې نیولې، خو د نوي قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه مخـې د الکترونیکـې تـذکرو د وېـش پـه ډیټـابیس کـې چـې د تـذکره اخیستونکي قومي هویت او مورنۍ ژبه به پـه کې لیکل کېږي دا اند ښـنې یو ځل بیا راپارولي، چې کېدی شي ځینې فرصت طلبه مامورین به یو ځل بیا په ډیټا بیس کې د پښتنو دهویت او ژبې پر ځاي ناسم معلومات ولیکي. موږ پښتانه د افغان له هویت سره د خپلې مینې له امله په دې ویاړو چې په تذکره کې راته افغان ولیکل شي، خو دې ته مو پام نه دی، چې کېدی شي په ډیټا بیس کې، چې زموږ لـه سترګو پناه دی د دښمنانو د دسیسې ښکار شو. د حقوقپوهـانو شـبکې وړانـدیز کـړی و، چـې پـه ډیټـابیس کـې د درغلیـو د عاملینو لپاره دې په قانون کې سخت مجازات په پام کې ونیول شي خو چا ونه منله.

د اموضـوع ولـې پـه ټـاکنو کـې مهمـه ده. ؟ لکـه څنګـه چې پـه پورتنیـو مسـایلو کـې د پښـتنو د اقلیت ښـودلو هڅـې روانـې دي د ټـاکنو پـایلې هـم همداسې ارزول کېږي. د ولسمشرۍ د تیرو ټـاکنو پـر مهـال یـو قـومي رهبـر وویل ( کمیت هر قوم متناسب بـه تعـداد رای شـان اسـت ) پښـتانه د جنـګ لـه امله په ټاکنو ګډون نه شي کولای، پښـتانه دبې سـوادۍ لـه وجې د ټـاکنو پـر اهمیت نه پوهېږي. دپښتنو نیمایي برخه ( ښځې ) له کورونو څخه د رایـې د ورکولـو لپـاره نـه راوځي. پښـتانه د مـذهبي افراطیت لـه وجې ولسـواکي او ټاکنې ناروا بولي او ګډون نه په کې کوي. پښتانه منظم سیاسي تشکېلات نه لـري، سـیمه ییـز اوملـي رهبـران نـه لـري، چـې خلـک پـه ټـاکنو کـې ګـډون تـه وهڅوي او انګېزه ورکړي. په دې اساس په ټاکنو کې ګډون کوونکې پښـتانه د ټول افغانستان د وګړو له ۲۰ ــ ۳۰ پـه سلوکې وګړي جوړوي. کـه مـوږ بیـا هرڅه د اکثریت نارې وهو څوک یې نه راسره مني دوی زموږ ستونزې نه مني دوی فقد پـه شمېر خبره کوي. بیانو قدرت، څوکۍ ، مـالي امکانـات، پـروژې او هرڅه د همدې احصائې لـه مخې وېشـل کېږي. د همـدې تصـور د لـه منځـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړلو لپاره پښتانه ښځینه او نارینه باید خپل اکثریت والی ثابت کړي. تذکرې واخلي. د رایې کارتونه واخلي، په سرشمېرنه او ټاکنو کې دې ګډون وکړي. که موږ په ټاکنو او نورو ملي پروسو کې ګډون نه کوو یوه ناوړه پایله یې همدا ده چې موږ خپله دا ثابتوو چې موږ اکثریت نه یو. ټولو پښتنو ته وواېئ بیا حق نه لرئ، چې په نورو نیوکې وکړي بیا به تاسو خپله د خپل اقلیت ثابتولو مسئول یاست.

پښتانه په سیاست او ټاکنو کې له ګڼو نورو ننګونو سره مخامخ دي، چې کېدی شي د نورو ویناوالو په ویناوو کې یې یادونه وشي، زه خپلې خبرې را غونډوم خو د حل د لارې په توګه پښتنو ته لاندې پیغامونه لرم.

پښتانه باید د یوه امتیاز په توګه نه، بلکې د یوه حق او مکلفیت په توګه په افغانستان کې دیوې ځواکمنې او باثباته واکمنۍ در امنځ ته کولو هدف وټاکي، پښتانه باید د خپلو ستونزو او هغو دسیسو په اړه چې دوی ورسره مخامخ دي، درک ولري او د مخنیوي لپاره یې د شکایت پر ځای حل لاره ولټوي.

پښتانه باید منحیث قوم په ځینو حیاتي مسایلو موافقه وکړي او ستری ګټې د وړو او سلیقوي اختلافاتو له قرباني کېدو وژغوري. پښتانه باید د افغان ملت د اکثریت برخې په توګه د ولسواکۍ او ټاکنو ملاتړ وکړي او په خپل پراخ ګډون سره دا ثابته کړي، چې له یوه قومي اکثریت څخه سیاسي اکثریت جوړېدی شي.

پښتانه باید په خپلو سیمو کې د پراختیایي چارو جدي غوښتنه وکړي. د پښتنو سیمو ته د برېښنا، تلویزیون، انټرنیټ، کتابتون او نورو اسانتیاوو راوستل د پښتنو ډېرې ستونزې هوارولای شي. موږ باید تعلیم جبري او عام

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو تر څو هېڅوک ونه شي کولای زموږ له منځه زموږ پر ضد بشري ځواک وروزي.

پښتانه باید منظم سیاسي جوړښت او حرکت رامنځ ته کړي، پخواني سیاسي جوړښتونه باید له خپلو داخلي اختلافاتو تېر شي او لږ ترلږه د سترو ګټو د تحقق او د روانو دسیسو د دفع کولو لپاره دې ګډه دریځ ونیسي. موږ باید په نویو سیاسي خوځښتونو کې تر حده د زیات تعدد مخه ونیسو. که د پخوانیو او نویو سیاسي خوځښتو ترمنځ د بې باورۍ له وجې یو ځای کار کول شوني نه وي، لږ ترلږه نوي سیاسي خوځښتونه باید پر یوه محور را ټول کړو. پښتنو ته منسوب سیاسي تشکېلات باید د روانو دسیسو او د پښتنو د راویښولو او د سوله یېز سیاست پر لور د هغو د خوځولو لپاره څرګند دریځ ولري او په دې توګه په ولس کې د باور فضا رامنځ ته کړي. همدا باور کولای شي موږ د پورتنیو ټولو ستونزو پر وړاندې د مبارزې جوګه کړي.

والسلام

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبوب الله خان

# پښتانه او هنري نړۍ

## هنر څه ته وايي؟

د هنر پېژندونکو د وينا له مخې هنر بېلابېل تعريفونه لري. ماته يې تر ټولو اسانه پېژند يا تعريف داسې برېښي: په هر څه کې د ښکلا او تناسب د رامنځته کولو په خاطر يو څه کمولو او يا زياتولو ته هنر وايې. يو شمېر هنرپالان بيا په هر څه کې د لذت او خوند رامنځته کولو ته هنر وايي.

## د هنر تاريخ:

د هنر د تاريخ په اړه هم ډول ډول نظريات شته دي. ځينې يې پېنځه ويشت زره کاله او ځينې يې پنځوس زره کاله بولي، دلته هم زه د درېيمې کرښې په لور ځم او داسې به ووايم چې له کله نه انسان په دې نړۍ کې ژوند پيل کړی دی، له هماغه وخته هنر هم رامنځته شوی دی. د بېلګې په توګه به دومره ووايم چې له کله نه چې انسان خبرې پيل کړي له هماغه وخته يې شعر او سندرې هم پيل کړې دي. که موږ او تاسو د زړه په سترګو د نړۍ طبيعي ښکلاته وګورو نو هرو مرو ترينه خوند اخلو او د لذت احساس کوو، د دې ترڅنګ موچې په زړه کې هر ډول خبرې تېرېږي. که همدغه خبرې ووايو سندرې ترې جوړېږي، که ويې ليکو شعر، ډرامه او فلم ترې جوړېږي، که رنګ راواخلو او په ساده کاغذ يې وکاږو نو انځور به ترې جوړ شي او همداسې نور هنري ډولونه ترې راوځي.

## د هنر ډولونه:

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

هنر د پېژندنې له مخې بېلابېل ډولونه لري، د دې ترڅنګ اوس مهال په نوې نړۍ کې د هنر ډولونه په تیوریکي ډول هم لوستل کېږي. اوس د نړۍ په زیاتره پوهنتونونو کې د ښکلو هنرونو پوهنځي شته دي چې د هنر ډولونه په کې په عملي او نظري توګه لوستل کېږي. څو سوه کاله پخوا هنر پر لاندې مهمو ډولونو باندې وېشل کېده:

## غږیز هنر:

غږیز هنر هغه دی چې د اوازونو او توکیو په واسطه رامنځته کېږي، لکه موسیقي،شعر،ډرامه او فلم.

## ګونګ هنر:

ګونګ هنر هغه دی چې د لاسونو او توکیو په واسطه رامنځته کېږي. لیدل کېږي، خو اورېدل کېږي نه، لکه رسامي، میناتوري، معماري او مجسمه سازي.

## اسلامي هنر:

د اسلام دین تر راتګ د مخه بت جوړونې ته په ډېره درنه سترګه کتل کېدل،

د اسلام تر خپرېدو وروسته په عثماني دورکې معمارۍ ډېره وده وکړه، د دې تر څنګ په اسلامي نړۍ کې میناتورۍ او خطاطۍ ډېره وده وکړه.

## غربي هنر:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هنرونه چې تر اسلام دمخه په نړۍ کې رواج وو ،وروسته دغربي هنر اصطلاح غوره کړه چې مجسمه سازي،انځورګري او موسيقي يې مهم ډولونه دي.

## اوسمهالی هنر:

اوسمهالی هنر چې اوس ورته ښکلي هنرونه هم وايې په نړۍ کې د اولسمي پېړۍ په پای کې په تيوريکي ډول رامنځته شو. په دې وروستيو کې د ښکليو هنرونو يو زيات شمېر ډولونه رامنځته شول. خو موږ يې دلته څو مشهور ډولونه در پېژنو:

شعر،موسيقي،تياتر،سينما ، انځورګري، نڅا ، مجسمه سازي.

فرعي ډولونه: معماري، فيشن

## په افغانستان کې د هنر شاليد:

په افغانستان کې هم هنر ډېر اوږد تاريخ لري، چې دشتو اثارو له مخې يې شاليد زرګونو کلونو ته رسېږي، دطلا تپې خزانه،دبودا مجسمه، پښتو سندرې او ټپې، اتڼونه او کالالي يې ستري ښېلګې بللي شو.

## پښتانه او هنري نړۍ:

پښتانه اوس هم له هر ډول ستونزو سره په هنري نړۍ يو ځانته ځای لري،پښتنه ټولنه د ځينو سياسي تحولاتو او جګړو له امله د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې مېشته ده، له بده مرغه داسې هم شوي چې پښتون خپله ژبه او فرهنګ پرېښي او په نورو ژبو يې خپل هنر نړۍ ته وړاندې کړي دي. لکه احمد فراز چې خپله پښتون و، خو شاعري يې په اردو کې وکړه، يا د هندوستان د سينما نامتو پښتانه ستوري او داسې نور، خو ددې تر څنګ بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو شمېر داسې پښتانه هم شته چې په ادبي او شعري هنر کې په ټوله نړۍ پېژندل شوي دي، لکه خوشال خان خټک، رحمان بابا او دا سې نور.

## د هنر اړتیا:

ښايي دلته له ډېرو خلکو سره دا پوښتنه را پيداشي چې موږ ولې د هنر په اړه دومره غږېږو؟ خو زه دلته دا خبره په زغرده کوم چې زموږ ټولنه تر هرې بلې ټولنې هنر ته زياته اړتيا لري. ځکه چې اوس مهالی هنر د هر هېواد او ټولنې له فرهنګ او کولتور سره تړلي دي. که موږ د پردي فرهنګ مخه نیول غواړو او یا موږ د پرديو ډرامو او فلمونو مخه نیول غواړو نو موږ بايد په خپله ټولنه کې هنري ودې ته پام وکړو او له دې لارې د پرديو فرهنګي یرغلونو مخه ونيسو. ددې ترڅنګ له اوسنيو بېلابېلو هنرونو څخه په ګټه اخيستنې سره خپل اصيل فرهنګ نورې نړۍ ته وړاندې کړو.

## تر د ېرش کلنې جګړې دمخه:

درې لسيزې دمخه زموږ په هېواد او ټولنه کې هر څه په نسبي ډول سم وو.

هغه مهال په خلکو کې دټولنيز شعور کچه هم لوړه وه،له همدې امله له لږو امکاناتو سره سره زموږ په ټولنه کې هنري وده په پراخېدو وه. دبېلګې په توګه موږ په شعر، موسيقي، ډرامې، تياتر ، انځورګرۍ او نورو برخو کې ستر هنرمندان لرل چې هم يې خلکو ته تفريح ورکوله او هم په ګاونډيو هېوادونو کې د اصيل پښتني فرهنګ د ودې لپاره کارکاوو.

## اوسنی حالت:

له تېرو پينځه دېرشو کلونو راهيسې په پښتنه ټولنه کې دجګړې اور بل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوله او امنیت نه شته،د پردیو ایډیالوژیو او فرهنګونو خپرېدا او پراختیا ښه په درز کې روانه ده، د ژوند لومړیتوبونه هم اقتصاد، کار او ... نور دي ، که لږ دا خبره روښانه کړو نو دومره به وو ایو چې اوس مهال پښتانه په ټولیزه توګه له ګڼو ستونزو سره مخ دي، خو که یو نیم څوک پیدا شي چې هنر ته مخه کړي نو ډېرې ستونزې او خنډونه ورته په مخ کې پراته وي. هغه مجبور دي چې یا هنر پرېږدي او له دې ټولنې وتښتي او کوم بل هېواد ته پناه یوسي.

## ستونزې او خنډونه:

پخوا په پښتنه ټولنه کې دهنر د ودې په مخکې ستونزې ډېرې کمې وې خو اوس ډېرې شوې دي.

## شرم:

کله چې زموږ په ټولنه کې څوک هنر ته مخه کوي، نو ټولو لومړی خنډ شرم دی. که بیا هم څوک جرات وکړي خو هغه ته زموږ په ټولنه کې په سپکه سترګه کتل کېږي. دبېلګې په که یو څوک وغواړي چې سندرغاړی شي، نو اول خو ورته په کور کې اجازه نه ورکول کېږي. نو هنرمند مجبوره دی چې په پټه هنر ته مخه کړي. که دکور اجازه ترلاسه کړي، نو بیا له ملایانو دفتواوو او کفري ټاپو څخه نه خلاصېږي.

## د چاپېریال نه شتون:

زموږ په ټولنه کې دهنري چاپېریال نه شتون یوه ستره ستونزه ده، دبېلګې په توګه که یو څوک په خپل کور کې انځور ګري کوي، که هغه خپل هنر ننداري ته وړاندې نه کړي او یا څوک دهغه دهنر په ارزښت پوه نه شي، ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر څنګ هغه ته له دې لارې مادي عايد لاس ته ورنه شي نو هغه به ډېر ژر له خپل هنر نه لاس په سر شي، نو له همدې امله د هنرمند او د هنر د ودې لپاره دیوه مناسب چاپېريال شتون ډېر اړين دی.

## د روزنيزو مرکزونو نه شتون:

په نوره نړۍ کې د هنر د ودې لپاره روزنيز هنري مرکزونه وي چې ځوانان په کې روزي او همدارنګه زياتره دغه ډول مرکزونه په رخصتيو کې پرانيستي وي چې ځوانان او ماشومان او په تېره نجونې ترې ګټه پورته کړي خو زموږ په ټولنه کې دغه ډول مرکزونه نه شته او که وي هم د پوهنتون په کچه، همدا لامل دی چې موږ د کدر له کمښت سره مخ يو.

## ابتذال:

داسې هم نه ده چې زموږ په ټولنه کې هنري هڅې يو مخ پر ټپه ولاړې دي،موږ هم هنر لرو خو هغه مبتذل هنر دی، د بېلګې په توګه او سني پښتو فلمونه چې د پنجابيانو له خوا په پښتو جوړېږي، خو د هنر ځرک په کې نه ستر ګو کېږي .

## په پښتنه ټولنه کې د هنر د غوړېدا لارې چارې:

زموږپه پښتنه ټولنه کې يو شمېر داسې هنري بېلګې لرو چې که کار ورته وشي او نړۍ ته وړاندې شي نو ډېر ژر به په نړۍ کې پښتون هنر وده وکړي، په دې برخه کې که د بېلګې په توګه اتڼ راواخلو او ګروپي ډول يې بېلابېلو هېوادونو ته واستوو نو په ټوله نړۍ کې به زموږ د فرهنګ د خپرېدو زمينه برابره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه مهال بیا د یوه هېواد حکومت او د فرهنګ وزارت اړ دی چې په دې برخه کې کار وکړي او خپل هنري فرهنګ ته په منظم ډول کار وکړي.

خو که چېرته حکومت دې برخې ته پام نه کوي، نو روښنفکره ټولنه مسولیت لري چې په دې برخه خپل رسالت تر سره کړي.

## راتلونکې هیلې:

که هر څنګه وي په راتلونکې کې یو شمېر ځوان استعدادونه کولای شي د هنر لار ونیسي او د خپلې ټولنې هنري اړتیاوې ورپوره کړي.

## پایله:

تر دې ټولو خبرو وروسته موږ دې پایلې ته رسېږو چې پښتانه په هنري نړۍ کې غوره استعدادونه لري، که اوس موږ دغو هنرمندانو نوملړ جوړ کړو، نو ښایې شمېر یې تر زرګونو ورسېږي. خو تر ټولو مهمه خبره داده چې په پښتنه ټولنه کې د هنري ودې او پراختیا لپاره لومړی په خپل ځان او بیا په ټولنه کې هنري ذوقونه وروزو او دیوه هنري چاپېریال په رامنځته کولو سره د سیالو ټولنو په کتار کې راشو.

په پای کې دا خبره هم دیادونې وړ بولم چې که هر څومره زموږ په ټولنه کې هنر وده کوي نو هومره به سولې او امنیت ته لاره هوارېږي.

په پښتني ټولنه کې د هنري ودې په هیله

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

عزت الله شمسزي

# پښتانه او سيالې ژبې

نورې ژبې زده کول که لوی کمال دی
خپله ژبه هېرول بې کمالي ده

د ملګرو ملتونو يوې څېړنيزې ادارې پر ۱۹۹۷ ميلادي کال د نړۍ د (۶۵۲۸) ژبو تر څېړنې وروسته وانګېرله چې په راتلونکو سلو کلونو کې به ددې ژبو نيمايي يا مړې شوې وي او يا به هم له خطر سره مخ وي، چې له خطر سره مخامخ ژبو کې پښتو ژبه هم ياده شوې ده. دغه خبره او سمهال يو ځل بيا يو انګرېز ژبپوه او ژورناليست نيکولاس اوانس NicholasEvans هم په خپل کتاب (دغه کلمات چې مري) کې کړې ده. دده په نظر کله چې د يوې ژبې ويونکې له سياسي، اقتصادي او د چاپېريال له بېلابېلو ستونزو سره مخامخ شي، نو دوه لارې لري؛ يا به ځان له خپلو ګاونډيو ژبو سره سيال کوي او يا به د زورورو ژبو غېږې ته ورلوېږي. دده په نظر او سمهال د ژبو ترمنځ سيالي دومره سخته ده چې ټولنې يې له نه جبرانېدونکو زيانونو سره مخ کړې دي.

په ننني شرايطو کې ډله ييزې رسنۍ يا الکټرونيکي اطلاعات لکه انټرنېټ، ټلوېزيون، راډيو، د کتابونو چاپول، چاپي رسنيو او د عامه پوهاوي نورو وسايلو دومره چټک پرمختګ کړی چې هره شېبه له ملي پولو څخه نړيوالو پولو ته ور داخلېږي او خپلې اغېزې پر نورو ملتونو او قومونو شيندي. دغه الکټرونيکي انقلاب اوس د مخاطبينو د راجلبولو لپاره په يو سيالۍ بدل شوی او هرڅوک هڅه کوي زيات خلک د خپلو ژبو او

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروګرامونو تر پوښښ لاندې راولي. هر ګاونډي هېواد يا ژبه چې د نورو په پرتله په سياسي، اقتصادي او کولتوري برخو کې پرمختللې وي ارو مرو به خپل ګاونډيان تر اغېز لاندې راولي. افغانستان له د پرشو کلونو راهيسې د روسانو تر يرغل وروسته او بيا تر کورنۍ او ننۍ جګړې پورې په سياسي، اقتصادي او کولتوري برخو کې له ګڼو ستونزو سره مخامخ شوی، چې په ځانګړي توګه پښتانه بيا د روانۍ تراژيدۍ له امله په ټولو سياسي، اقتصادي او کولتوري برخو کې تر نورو زيات زيانمن شوي دي.

د پښتنو سياستوالو د ناسالمو سياستونو له کبله سره له دې چې پښتو ژبه له ۱۳۴۳ کال راهيسې په اساسي قانون کې په ملي او رسمي ژبه منل شوې ده، خو تر اوسه يې هم په ادارو او دفترونو کې رسمي حيثيت نه دی پيدا کړی. رسمي اعلاميې، قوانين، لوايح لومړی دري او بيا پښتو ته اړول کېږي. له ښوونځيو نيولې د لوړو زده کړو تر موسساتو پورې او بيا د سياست، اقتصاد، ډيپلوماسۍ نه نيولې تر ورځنيو رسمي او کله کله نارسمي چارو پورې يې استعمال دومره محدود شوی چې په نشت حساب دی. سياستوال مو فکر کوي چې که ځان نورو ته غير پښتون وښيي او خپله ژبه هېره کړي، نو نړيوالو او په افغانستان کې مېشتو قومونو ته به ملي شخصيت ښکاره شي، پښتون ليکوال فکر کوي که په دري ژبه کتاب وليکي، نو خلکو ته به لوی عالم ښکاره شي، د شخصي ښوونځيو جوړوونکي پښتون وايي که زده کړې په پښتو ورکړو، نو بيا به مو شاګردان کم وي، ملي تجار باور لري چې که پر کومې رسنۍ پانګونه کوم، نو ژبه يې بايد دري وي چې مخاطبين مې زيات وي، لنډه دا چې په هره برخه کې تر دغسې يوې ځپل شوې روحيې لاندې کار کوو. تر اوسه پورې يوازې په دري ژبه کې سلګونه علمي کتابونه پښتنو ليکوالو ليکلي، دغه پښتانه ليکوال ددې لپاره چې ځانونه ډېر با استعداده وښيي او يا د دربارونو حاکمانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان ملي شخصيت وښيي بيا نو ټولې او يا مهمې ليکنې په پارسي ژبه تر سره کوي. همداسې په سلګونو نورو پښتنو ډاکټرانو، پوځي ماهرانو، انجينرانو، تاريخ پوهانو، سياستپوهانو، ژورناليستانو او لويو ديني علماو خپله ژبه له نظره غورځولې يا يې دري ته مخه کړې ده او يا هم اردو ته. زياتره ملايان خو مو له بده مرغه له دري او عربي پرته يوه صفحه هم نه شي ليکلې. دا ستونزه يوازې په افغانستان کې نه ده، په کوزه پښتونخوا کې هم زيات شمېر ليکوال همداسې يو برخليک سره مخ دي چې هڅه کوي خپل کمالونه په اردو ژبه خلکو ته وښايي.

پورتنۍ يادې شوې ستونزې او دې ته ورته نور لسګونه خنډونه ددې سبب شوي چې علمي او اکاډميک بنسټونه مو وده نه کوي، هغومره پانګونه چې زموږ پر سيالو ژبو؛ اردو، پارسي او ددې ژبې پر علمي، اقتصادي او کولتوري بنسټونو کېږي، پر پښتو ژبه نه کېږي. په کابل او پېښور کې همدا اوس پښتانه زده کوونکي له غټ چلينج سره مخامخ دي، د لوړو زده کړو په دولتي او شخصي موسساتو کې چې کوم درسونه ويل کېږي، زياتره سرچينې يې يا پارسي دي او يا هم اردو او انګرېزي. دکابل او پېښور لويو لويو کتابتونونو ته چې سړی ننوځي په زرګونه پارسي، اردو او انګرېزي کتابونه په کې موندل کېږي، مګر پښتو کتابونه او په ځانګړي ډول په پښتو ژبه ساينسي او علمي کتابونه په کې په نشت شمار دي. د پوهنتونونو هغه پښتانه استادان چې محصلانو ته زده کړه ورکوي د هغوی چپترونه او يا کتابونه هم زياتره په دري ژبه ليکل شوې دي او هڅه يې دا وي چې درس هم په دري ژبه ووايي.

پر دې سربېره له تېرو څو کلونو را پدېخوا په کوزه او بره پښتونخوا کې د ځګړو او نورو غميزو له کبله سينمايي، د ډرامې، تياتر او موسيقۍ هنرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته هم ځانګړې پاملرنه نه ده شوې، د پنجابي ژبې په اړه مې اورېدلي وو چې پنجابي ژبه د مړینې په حالت کې وه، خو همدې پنجابي موسیقۍ له مرګه وژغوره، ډرامو، تیاترونو او سینما وده ورکړه تر دې چې که له اردو ژبې نه بې ځان مخکې کړی نه وي، نو وروسته خو ترې نه دي پاتې. مګر پښتانه چې د یوه غني کولتور او فرهنګ خاوندان دي دومره شاته پاتې شول چې خپله هنري تنده پر اردو، هندي، ترکي او پارسي فلمونو، ډرامو او سیریالونو ماتوي.

د پښتو ژبې یوه بله لویه ستونزه داده چې لیکوال او شاعران یې فکر کوي ټوله ژبه همدا شعر او لنډۍ کیسې دي، ته به وایې دوی یوازې د خپلو سیالو ژبو شعرونه او لنډې کیسې لیدلي او نور یې پر علمي او څېړنیزو کارونو خبر نه دي. زموږ د ګاونډیو ژبو اردو او پارسي لیکوال او شاعران نه یوازې دا چې هنري اثار پنځوي، بلکې هر کال د ژبې د ودې او لا پراختیا لپاره لسګونه علمي غونډې او سیمینارونه جوړوي، خپل مشران او پوهان نازوي او د لغتونو هغه توپان چې انګرېزي ژبې نه ددوی د ژبو پر لوري روان دي د هغه مخې ته یا خو بندونه جوړوي او یا ورته نورې حل لارې پیدا کوي. د پارسي او اردو ژبې په اړه ویل کېږي چې لسګونه ژبپوهان یې یوازې په همدې برخه کې کار کوي چې ورځنۍ سیاسي، علمي، اقتصادي، ساینسي، ادبي او نورې کلیمې او اصطلاحات په خپلو ژبو کې حل کړي، داسې ټکي ورته لټوي چې ریښه یې ددوی له خپلو ژبو څخه وي، چې بالاخره ددوی ملتونه وکولی شي په اسانۍ دغه لغتونه او اصطلاحات هضم کړای شي.

افغانستان ته د نړیوالو له راتګ سره سم د نویو ساینسي، اقتصادي، سیاسي او نورو رسنیزو نومونو، کلیمو او اصطلاحاتو یو سیل را خوشې دی، موږ هره ورځ د بانکدارۍ، زراعت، مالدارۍ، رسنیو او ډېرو نورو برخو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې په دوامداره توګه پردۍ کليمې او اصطلاحات کاروو، مګر ددغو کليمو او اصطلاحاتو لپاره که څېرته پښتو ټکې لرو هم، نو هغه يا په نشت شمېر دي او يا پرې په ډله ييزه توګه د مسلکي ليکوالو له خوا کار نه دی شوی، همدا يې سبب دی چې ددغو پښتو ټکو پر ځای يا خو پارسي ژبې ته مخه کوو او يا هم اردو ته. ددغسې اکاډميکو کارونو د نشتوالي له کبله زياتره ليکوال د ساينسي او عصري علومو د کتابونو د نه ژباړلو او يا هم ليکلو لپاره زړه نه ښه کوي، ځکه ددوی په اند تر اوسه معياري قاموسونه نه دي رامنځته شوي چې له پارسي او اردو سره سيالي وکړای شي.

## حل لارې:

- ژبه د يو قوم او هېواد ملي هويت دی، چې د غړېدا سربېره پرې د خپل ژوند ټولې چارې مفاهمه،راکړه، ورکړه او راشه درشه هم کوي، خپل دينې، کولتوري شعاير او ارزښتونه او خپلې وياړنې او احساسات له همدې وسيلې نورو ته لېږدوي، که چېرې يې ژبه ختمه شوه نو بيا يې هويت هم ورسره ختمېږي. پښتانه که چېرې غواړي چې ژبه يې لږ تر لږه له ګاونډيو ژبو سره سياله شي، نو په پياوړي پښتني روحيه دې د ژوند په هر ډګر کې کار کولو ته ملا وتړي. سياستوال دې په سياست کې پښتون شي او ملي سوداګر يې په سوداګرۍ، ليکوال يې په ليکوالۍ او هنرمند يې په هنري نوښتونو کې.
- پښتنو زده کوونکو او محصلانو ته دې زمينه برابره کړای شي، په خپله ژبه زده کړه وکړي او په خپله ژبه کې خپل علمي خلاقيت او استعداد ته وده ورکړي.
- د پښتو ژبې لپاره دې علمي بنسټونه لکه د لوړو زده کړو موسسې، څېړنيز مرکزونه، هنري او کولتوري مرکزونه او لوی لوی عامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابتونونه جوړ شي چې په دغو علمي بنسټونو او مرکزونو کې پښتنانه پوهان د نورو ملتونو له تجربو نه مثبته ګټه واخلي او خپله ژبه او هویت ژوندی وساتي.

- د کولتور او هنر د ودې لپاره دې په ولایتونو کې لوی لوی سالونونه جوړ شي چې پښتانه هنرمندان، لیکوالان، شاعران او د نورو مسلکونو خاوندان په کې خپلې صنفي غونډې جوړې کړي او خپلې ستونزې حل کړي.

- ژبه باید یوازې تر ویلو پورې محدوده پاتې نه شي. زموږ ځوان استعدادونه دې یوازې په شعر، کیسه او ناول کې نه، بلکې د ژوند په ټولو ډګرونو، ساینس، حقوق، اقتصاد، ټکنالوژۍ، سیاست، طب او نورو برخو کې کتابونه ولیکي، ځکه ژبه په همدغسې کتابونو او ارزښتناکو اثارو له نورو سره سیاله کېدای شي.

- د ماشومانو لپاره دې ګټور تصویري او کیسه ییز کتابونه ولیکل شي. په اردو او پارسي ژبو کې او سمهال ماشومانو ته ان ساینسي قاموسونه او نور ډول ډول الکترونیکي مواد برابر شوي چې ذهنونه یې پراخوي او غواړي اولادونه یې د نړۍ له کاروانه شاته پاتې نه شي.

- ددې لپاره چې د رسنیو له شته والي سمه ګټه واخیستل شي او د ګاونډیو ژبو د رسنیو له فرهنګي یرغل نه بچ شو، لازمه ده چې یو شمېر پانګوال د ډرامو، سیریالونو او نورو هنري کارونو د تولید مرکزونه جوړ کړي. زما د معلوماتو له مخې همدا اوس زیاتره ډرامې یا خو په پېښور کې د پنجابي پانګوالو په مټ برابرېږي او یا دلته په کابل کې د ایراني ډوله کابورا او نورو مرکزونو په وسیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- له بهرنیو ژبو څخه پښتو ته ژباړه که څه هم په ګډوډ ډول روانه ده، خو په دغه بهیر کې باید هڅې منظمې شي، ډېر ځله داسې لیدل شوي چې یو کتاب دوه ځلي چاپ شوی او یا هم په غیر شعوري توګه داسې یو کتاب له اردو، پارسي، انګرېزي او نورو ژبو څخه ژباړل شوی چې تر ګټې یې موږ ته تاوان ډېر وي. د ژباړې کار دې هم چټک او هم دقیق شي. د اردو او پارسي ژبې یو غټ شمېر کتابونه هغه ژباړې دي چې دوی له روسي، انګرېزي، فرانسوي او الماني ژبو څخه کړې دي، خو زموږ او ددوی ترمنځ توپیر صرف همدومره دی چې دوی د خپل مسلک سره سم ژباړې کوي او موږ د نورو کتابپلورونکو او یا هم سیاسي مشرانو په ذوق او سلیقه کار کوو.

- هغه پښتانه چې انټرنټ کې ورتیا لري که وکولی شي د ګوګل ژباړې ته پښتو ور پورته کړي. پښتو که څه هم انټرنټ ته ورداخله شوې ده، خو هغه ډول چې ګاونډۍ ژبې په پراخه توګه انټرنټ کې شاملې شوې دي، پښتو ژبه لا هم ستونزې لري.

- د ګاونډیو هېوادونو په ژبه ګڼ انلاین کتابتونونه موندل کېږي او دوی ان خپلې زړې کتابخانې او ارشیفونه هم انټرنټ ته ورپورته کړي، که پښتانه هم وکولی شي د یوه منظم پلان له مخې پښتو کتابونه انټرنټ ته پورته کړي او په انټرنټ کې غني کتابتونونه ولري چې پښتانه د نړۍ په هر ګوټ کې دې موادو ته لاسرسی ولري.

- د خوشال بابا د وینا په مصداق پښتو لا اوس هم بکره پرته ده او لاهم د نړۍ د ژوندیو ژبو په پرتله ډېر لږ کار ورته شوی او لږ نورو خلکو ته معرفي شوې ده، هغه کسان چې نورو ژبو ته د ژباړې ورتیا لري ددې ژبې کولتوري، هنري اثار، شعرونه، داستانونه او ان روانې تراژیدۍ او غمیزې که د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینمایي او ډرامې هنرونو په بڼه وي او که لیکل شوې وي نورو ته دې په معیاري ډول و ژباړي.

- هغه لیکوال چې له نورو ژبو څخه ژباړه کوي مثبتې او ګټورې لیکنې او کتابونه دې وژباړي او لومړی دې د نورو ژبو اصطلاحات او جملې د خپلې خوږې ژبې پښتو په باده کې واچوي او بیا دې یې د نورو دتندې ماتولو لپاره وړاندې کړي.

- هغه دیني علما چې د کتابونو د لیکلو وړتیا لري دیني او اسلامي علوم دې په کتابي بڼه په پښتو ژبه ولیکي او خپل ولس ته یې وړاندې کړي.

- اوسمهال په کوزه او بره پښتونخوا کې یو شمېر رسنۍ لرو، چې تر یوه حده په خپلو کارونو کې بریالۍ دي دا به ډېره ښه خبره وي چې پښتانه سوداګر خپل اعلانونه پښتو ژبو رسنیو ته ورکړي او له دې لارې ددوی مالي ستونزې ور حل کړي.

لنډه دا چې نن سبا هغه وېره ختمه شوې چې پښتو ژبه د روزګار ژبه نه ده، اوسمهال که څوک پر پښتو ژبه پانګونه وکړي، نو هم به یې خپل ولس ته خدمت کړی وي او هم به یې ژبه د نورو سیاله شوې وي. په لسګونو داسې صنعتونه شته چې په ملیاردونه ډالره پانګه په کې بښکته پورته کېږي، که موږ خپله ژبه ورته چمتو نه کړو بیا به نو دغه صنعتونه او ګټې هم زموږ نه وي. اوسمهال د فلم، ډرامې، الکترونیکي میډیا، د کتاب صنعت، د ژباړې صنعت، د وکالت، تبلیغاتو او زرګونو نورو صنعتونو او کاري فرصتونو خپلول یوازې په دې کېدلی شي چې هم نورې ژبې زده کړو او هم خپله ژبه مو دومره وړتیا ولري چې له دغو کاري فرصتونو ګټه واخیستلای شو او که نه هماغه د انګریز ژبپوه نیکولاس اوانس په خبره به د نړۍ له صنعتي انقلابه شاته پاتې یو او دا شاته پاتې والی به ددې سبب شي چې خدای مه کړه زموږ ژبه او هویت هم په دې روانه تراژیدۍ کې رانه ورکه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو شاعر وايي:

وچـو شګو کـې کورونه نه جوړېږي
پــه هــوا کــې محلونه نـه جوړېږي
د عمل قوت پیدا کړه په خپل ځان کې
پــه خبـرو خـو قـومونـه نه جوړېږي

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

چترال همت شینواري

# پښتون

کله هم چې پښتون د نورو انسانانو په څیر د نړۍ په سینه ژبړېدلی را لوی شوی او د ژوند ژواک اسبابو او وسایلو ته یې لاس ور وړاندې کړي او د ځمکې پر مخ یې خپل قدم وهلی نو ځان یې ښاغلی ګڼلی خو نور هم ورته ښاغلي ښکاره شوي خپل ځان یې د ځمکې پر مخ د عزت پرېښته بللې او د نورو عزت ته یې په درنه سترګه کتلي په خپله هنداره کې یې خپل ځان، بادار لیدلی، خو د نورو غلام کولو څخه یې بد راغلي نو همدا وجه ده چې پښتون د خپلې زیږې ژبې پښتو ته هوډمن پاتې شوی او دنورو ژبو په نیمګړتیا یې غوږ نه دی خوځولی نو همدا دلیل دی چې پښتو د پښتون څېره ده یوازې د پښتون څېره نه بلکې د نړۍ د لوی کور بله ډیوه ده او ټول کور پرې رڼا دی نو که چېرته دغه رڼا زیانمنه شي نو کور به مو د تیاري ښامار به غېږ کې راتاو شي او زړه به مو د ویرې په زولنو وتړل شي او دعقل لمن به مو دومره تیاره او خیرنه وي چې د مار او لړم ځالې به په کې جوړې وي او دخپلې کوټې تغر او لمڅي نه به د بلاګانو اوازونه راته شروع کړي ځکه چې هره تیاره بلا زیږوي او د رڼاګانو په وطن کې د بلا مور بوره شوې وي نو اوس دا زموږ فرض دی چې د خپل کور ډیوه بله وساتو تر څو د نړۍ د تورتم د بلاګانو ښکار نه شو او هیچا ته اجازه ورنه کړو چې د پښتو او پښتون په نوم د دلالۍ ګرمه نغاره وټنګوي او په دې خبره د نړۍ په کچه ټول اوده ذهنونه راويښ شي چې پښتو د څو کسو مال او متاع نه ده او نه یې څوک دعوه ګیر کېدی شي، بلکې پښتو د ټولو پښتنو او په مجموع کې د ټول انسانیت مال دی ځکه چې پښتو د انسانیت نوم دی پښتو د مینې او محبت فلسفه ده نو ځکه پښتون په پښتو سره د اسلام د ښکلا او ښایست مجموعه ده او حضرت انسان کولای شي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل خواږه ژوند خیره او مضمون د پښتو په هنداره کې وګوري او دا حقیقت درک کړي چې پښتون په پښتو سره د ژوند ،سیاست ،دین ، مذهب او دنورو انساناني همدردیو معمار او ساتونکی دی او دا د همدې پښتون رسالت دی چې ټولې نړۍ ته د پښتو د مینې او محبت هغه روڼ تصویر له تیارو دماغونو څخه راوباسي چې پښتونواله تري جوړه شوي او حضرت انسان پدې قانع کړي چې د ولس او وطن خادم په پښتو پیژندل کېږي او دا ټولې نړۍ ته وښايې چې پښتون قوم په پښتو سره د ټولو مذاهبو اخلاق او نور دی د وفا او ایمانداری عظیم قوت دی .

د ټولو تهذيبي فلسفو او په هغي پوري اړونده فرامینو او قوانینو د ژوند ژواک او خیر ښېګڼو لپاره پښتو او پښتونواله یوه ژوره روزنیزه مدرسه بلل شوې نو ځکه دا د پښتون فرض دی چې د نړۍ هغه تور او تیاره ذهن چې د پښتون قوم پر وړاندې د دښمني مزي غزولي راویښ او قانع کړي او دنړۍ ګوډ ګوډ په دې و پوهوي چې د پښتون پر وړاندې نیولی سنګر پرېږدي، ځکه چې پښتون د سولې ، امن ، انصاف ، عدالت او ریښتینولي نوم دی او دا هم وښايې چې د پښتون قوم زړه او ذهن د ریښتیني دیموکراسۍ مرکز دی او د پښتون په دیموکراسي کې د نوري دنیا په څیر چل ول ټګي او برګي له سره وجود نه لري د نوري نړۍ چل ولي دیموکراسي فتنه او فساد زېږوي او د ولس ستر او اخلاق زیانمنوي خو د پښتون په دیموکراسۍ کې چې د پښتو په اصولو سمبال وي مساوات او ټولنیز عدالت په کې له ورایه ښکاري او بیا پښتون ښه سپاهي هم دی چې د مظلوم په ملاتړ له ظالم سره ښه مقابله کولای شي او د نړیوالې ورورګلوی لپاره د ظالم د لاس توره او تبرګي د خپلې سینې لاندې راوستلی شي، ځکه چې د پښتون په قاموس کې داسې اخلاقي فلسفه پرته ده چې د نړۍ نورو قومونو هغه په خوب کې هم نده لیدلې او نه یې د خیال او فکر نیلي په هغې خوا ځغلولي دي ځکه د پښتون فلسفه پښتو ده نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا پښتو پښتون ته د غلا ، چل ، فریب ، د انساني ازادۍ مخنیوي ، انسان غولوني ، ټګي او برګي دوکه او په امانت کې خیانت او په وعده کې بې وفایې او داسې نور عملونه چې انسان د اکرام د سپکاوي سبب ګرځي اجازه نه ورکوي چې د پښتون په پاکه لمن دې د پلیتۍ تور داغ را ښکاره شي ځکه چې په سیاسي دنیا کې هر پښتون د حیاناکې دیموکراسۍ پلو او ملاتړی دی او نړیوالې ازادی لپاره هوډمن پاتې شوي خو د خپل طبیعي خصلت له مخې د نظام هغه ځیره یې ډېره بدې راغې چې هلته د حیا او عزت د لوټولو بازارونه لګېدلي وي او وعده او وفا ، عهد او پیمان ، عقیده او ایمان د بې حیا دیموکراسۍ په زنځیرونو تړل شوي وي ځکه چې د پښتون فلسفه یو نړیوال تصویر دی او پښتون ازادي د انسان لپاره غواړي مینه او محبت له انسان سره کوي بیدون له دې چې ووایې دا څوک دی؟ د کوم ځای دی؟ په کوم رنګ او کومه عقیده لري ولې هغه پرمخ تللې نړۍ چې د بشر پالنې او بشر ساتنې بیرغ یې په لاس نیولی دی او ځانونه د ټول انسانیت ټیکداران معرفي کوي په ډېر تور زړه او خیرن ذهن سره بشر ته د خدمت تر جنډې لاندې د بشر د هلاکت او تباه کولو منصوبې جوړوي او هغه ریښتینې دیموکراسي چې په هغې کې د بشر اصلي حقیقي او اخلاقي ازادي موجوده وي زندۍ کول غواړي نو ځکه وایو چې د ښکېلاک ګري نړۍ فلسفه د پښتون د فلسفي په اندول ډېره کمزوري ده ځکه چې د پښتون فلسفه پښتو ده او پښتو په دې اصل ډېره محکمه ولاړه ده چې بشر لپاره خدمت ، د مظلوم ملګرتیا ، د ظالم مقابله ، په خپله خبره ودریدل ، د ځان دفاع او ساتنه ، نورو ته ضرر نه رسول ، خپلي حیا ا وعزت سره مینه د نورو د عزت درناوی خلاصه دا چې د پښتون په فلسفه د ټول انسانیت مقام خوندي ساتل شوی او پښتو او پښتونواله هیڅکله ته په هیڅ صورت د دې اجازه نه ورکوي چې خپل ځان خپله ژبه خپل لاس خپل زور او قوت د بل په ضرر استعمال کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو برعکس د نړۍ د نورو فلسفو پیروانو بیا د ګناهونو لار نیولې او د دې پر ځای چې د انسان د مقام دفاع او ملاتړ وکړي او د ازادۍ لوی نعمت یې خوندي وساتل شي د انسان په ضد یې توره پورته کړې او د بشر د حقوقو انګړ لا د تور رنګو او سپین رنګو تضادونو مرکز دی او په غرب پورې تړلې دیموکراسي څخه د اسرایلو نظامي سنګر جوړ شوی او د بشر د حقوقو او دیموکراسۍ تر شعار لاندې یې ټوله نړۍ په نمرودي اور کې سوزیږي او د چور او چپاو لپاره یې په یوه خوله کې شل ژبې را پیدا کړې خو اوس یې د عمل او نظر په غلا ټوله دنیا پوهیدلې، نو ځکه پښتون قوم نړیواله فلسفه او غربي ډیموکراسي چې د زور او ظلم ځاله جوړه شوې تر سوال لاندې نیسي او دا خبره په کلکه ردوي چې ګویا پښتون قوم د افراطیت تر سیوري لاندې د نړیوال امن او سولې څخه د جنګ په لوري بغاوت شروع کړي، خو د نړۍ د کاذبي فلسفي پیروان او تش په نامه د دیموکراسۍ دعوه ګیر په دې نه پوهیږي چې د پښتون قوم د ۱۹ نه بیا تر ۲۰ پیړۍ په ټولو لسیزو کې د ازادۍ، خپلواکۍ او د یوې غني ډیموکراسۍ لپاره څومره قربانۍ ورکړي او څومره انسانانو ته یې د ازادۍ لار خلاصه کړې او د کبر او غرور ماڼۍ یې را نسکورې کړي او د څومره انسانانو له غاړو څخه یې د اسارت زنځیرونه غورځولي.

دا خو د پښتون قوم د تاریخ یو روڼ مثال دی، خو سوال دا دی چې د خپلو خلکو غرور او همت ته احترام چې د نورو په ضرر نه وي ایا دا افراطیت دی له خپلو خلکو او وطن سره مینه د وطن ساتنه د خپل کولتور او ثقافت ژوندي کول او د غلامۍ له ژغ څخه د خپلې غاړې خلاصول ایا دا افراطیت دي دا که هر څوک له خپل قوم سره مینه دهغوی د غرور او همت ته احترام د کولتور، ثقافت ، وطن ساتنې او ازادۍ لپاره مبارزه افراطیت بولي نوپښتون قوم دا د افراطیت میړانه د خپل ځان لپاره تاریخي ویاړ بولي، خو د بد بختۍ اصلي

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره په دې ځای کې ده چې د نړیوالې فلسفې پیروان په دې نه دي توانېدلي چې سیمې او نړۍ ته د افراطیت څنګه تعریف وړاندې کړي او د پښتون قوم قرباني په کوم ردیف کې راولي .

له کومې ورځې چې نړۍ د پوازیتوب ژوند غوره کړ د قوم قبیلي تاریخ ورک شو مور او پلار د پالنې مستحق ونه ګڼل شول، ځوانان نیم لوڅي بدن د پارکونو مېلمانه شول نو ټوله نړۍ د لېونۍ نه شي په غېږ کې ولویده او یوه چغه پورته شوه چې پښتون قوم یو افراطي او بې کولتوره قوم دی، خو پښتون قوم د خپلې روایتي فلسفې د حکم له مخې دا نه مني چې د پښتون کړنه او عمل افراط بلکې د اصیل ژوند مانا او میراث دی او وایي چې د مور پلار ساتنه د مشرانو په کشرانو شفقت په هوجره او جماعت کې مېلمه پالنه دود کول د روغ او رنځور پوښتنه، خپل هېواد سره بې کچې مینه د ازادۍ لپاره مبارزه او قرباني د غریبو لاس نیوي حیا او عزت ، شمله او پګړۍ او د تېري او تجاوز په مقابل کې کلک هوډ او ځان تېریدنه د پښتون په فلسفه کې افراطیت نه بلکې د انساني ژوند مکمله مجموعه ده او دا دنړۍ پر مخ پرتې ورانۍ او ویجاړۍ د پښتون د فلسفې زېږنده نه، بلکې دا د نړیوال تروریزم زیږنده ده او د سیمې د ککړو استخباراتو په اشاره افراطیت ته غلط تعریف ورکوي او هغه پښتون قوم چې د تاریخ په اوږدو یې کې د سولې امن او ازادۍ لپاره مجاهده کړې، قرباني ورکوي افراطي ونومول شو او پښتو یې د افراطیت مور وبلله حال داچې د افراطیت او پښتو د تعریف په منځ کې د ځمکې او اسمان په فاصله فرق موجود دی، یعنې پښتو او افراطیت یو د بل سره هیڅ نوعه شباهت او ورته والي نه لري او دا نن چې د نړۍ په سر کوم اور بل دی دا د هغې اشتباه محصول دي چې د حقیقت په ځای افراطیت ته غلط تعریف ورکړل شو دا د نړیوالو هغه بد نیتي او تېروتنه وه چې د سیمې د لوټمارانو په خوله یې پښتون افراطي او پښتو یې بې کولتوره وګڼله او

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړیوال لا له دې بد نیتی، نه دي راوتلي چې د سیمې استخباراتو او ګاونډیانو په اشاره د پښتون د وژلو او ورکولو منصوبې جوړوي، خو نړیوال باید فکر او سوچ وکړي او په ډیر احتیاط او سیاسي هوښیارتیا خپله کړنه او پروګرام وڅاري څګه چې پښتون قوم په سیمه او منطقه کې ډېر غابښ ماتي او سرماتي لري، نو دا د نړیوالي ټولنې مسولیت دی چې د پښتون قوم موجودګي د تاریخ د په هنداره کې وګوري چې جنګ او جګړه په پښتون قوم تپل شوېده او که له پښتون څخه جګړه مار جوړ شوی، د پښتون قوم تور زړي او بد نیته ګاونډیان او د هغوی استخباراتي کړی، د پښتون قوم پرمختګ او خوشالي نه شي زغملی او په دې هڅه کې دي چې څنګه د نړیوالو په وجود کې د پښتون قوم د نسل وژنې منصوبه جوړه کړي او دنړیوالو په لاس یې عملي کړي چې په دې کار کې مکار او مخ تورن ګاونډیان مخ پر وړاندې تللي او نور هم د وړاندي تګ په هڅه کې دي څګه هره ورځ د دې شریکې منصوبې پر اساس پښتون وژل کېږي د پښتون کور ورانېږي او د پښتون جنازه خاورو ته سپارل کېږي او دا لړی، لا روانه ده او د پای ټکی یې نه شته، خو نړیوال دي په خلاصو غوږو واوري چې پښتون قوم نور د ګاونډیانو شر او سیمه ییزو استخباراتو جګړه په خپل کور نه شي منلی او نه یې نورمنلو ته تیار دي او پښتون د دې مسولیت لري چې خپل ځان په پښتو سمبال کړي کور او ژوند، واک او اداره، سیاست او مجاهده تجارت او معاملي ته د پښتو رنګ ور واغوندي او نړیوال په دې وپوهوي چې ژوند په پښتو کېږي عزت په پښتو ساتل کېږي سیاست په پښتو روانېږي د انساني همدردی، ملاتړ په پښتو کېږي او بالاخره د جګړې افراطیت او تروریزم ملا په پښتو ماتیږي او همدا پښتو ده چې پښتون ژوندی ساتي او د سیالی، او ساسیت په میدان یې سر لوړي یې ور په برخه کوي او همدا پښتو وه چې پښتانه یې د ظلم له پیرانو او موریدانو څخه خلاص کړل او همدا پښتو وه چې پښتون یې د سکندر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چنګېز، تېمور، اورنګ او فرنګ، روس او نورو په مقابل کې د غره په څېر ودراوه او د برې میدان یې خپل کړ او د همدې پښتونولۍ زور او پښتونولي وه چې د نړۍ په کچه یې ولسونو ته ازادۍ ته الۍ وړاندي کړه نو ددې په خاطر چې سیمه او منطقه نوره د بحران غیږي ته لاړه نه شي نو نړیوال دې د افراطیت په تعریف چې یوه اکاډیمکه غلطي وه بیرته واخلي او د پښتون قوم څخه دې معافي وغواړي او په دې کار کې د پښتون قوم د دې اخلاقي هڅې مننه وکړي او نړیوال باید له تیرو کړنو پښیمانتیا ښکاره کړي او که نه نو بې له صبره بله لار نشته .

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعجاز خټک

(داماراتو پښتو ادبي ټولنې- دوبۍ، مشر سکرتر)

# اوسنی سیاست او پښتون

په عامه اصطلاح کې سیاست د بدلون نوم دی، خو له بده مرغه زموږ سیاسي لوبغاړو پښتانه ټولنه کې چې کوم رول لوبولی او یا یې لوبوي، د هغې په سبب د سیاست مفهوم او مانا بېخي بدله شوې ده. اوس خلک سیاست ته د منافقت نوم ورکوي. حقیقت هم دا دی چې نن له سیاست نه تجارت جوړ شوی دی، د ملیونو نو انسانانو د ولس د قسمت فیصلې هم په پارلیمان کې ناست درې څلورسوه یا تر دې نه زیات هغه کسان کوي چې پارلمان ته د راتلو نه مخکې خپل ولس سره ډېرې وعدې وکړي، ډېرښنه باغونه ورته وښايي، خو چې د پارلمان پستو څوکیو ته ورسي. نو بیا یې هغو خړو پړو پښتنو سره کړې وعدې داسې هېرې کړي لکه یو جانان چې له خپل عاشق سره د سحر وعده تر بل ماښام وځنډوي او داسې هره ورځ یې هرماښام شي تر سبا. ربښتیا خبره داده چې سل کاله وړاندې په پښتنه ټولنه کې دا خبره خوره شوې وه.

سبق د مدرسې وایې
د پاره یې د پیسې وایې
جنت کې یې ځای نه شته
دوزخ کې به غوپې وهې

پښتانه طبعاً ډېر مذهب پرسته او عقیدوي خلک دي، دا خبره ورته د مسجد د امام په خوله شوې وه، نو هغوی پرې داسې ایمان راوړی وچې دا

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره یې په پټهو سترګو منلې وه ځکه چې هغوی دا ګڼل چې علم، پوهه او زده کړه یوازې د پیسو ګټلو ذریعه ده. ګنې د علم او تعلیم مطلب هرګز دا نه و او نه یې دا مقصد دی. د تعلیم مقصد خو له انسان نه انسان جوړول دي. بل ظلم دا وشو چې علم یې په دوو برخو وویشلو، یو دیني او بل دنیاوي.اوس به موږ دا ګورو چې زموږ خوږ پیغمبرصلی الله علیه وسلم دا وایي چې علم لپاره که چین ته هم تلل وي، نو باید چې لاړشئ. سوال دا پیدا کېږي چې څوارلس سوه کاله مخکې خو نه چین کې دیني مدرسې وې او نه اوس شته .موږ ته چین ته دتلو ولې وایي؟ ځکه چې داسې دور روان و چې مسلمانانو ته به دنوي دورد ټیکنالوجۍ ضرورت پیښېږي، که دوي سره دا نه وي، نو غېرقامونه به پرې هغه څه کوي کوم چې نن تاسو په رڼو سترګو ګورئ.نن زموږ دوه اویا فیصده د نورو قومونو شیان استعمالوو، موږ ورته بکې خولې نیولې، زموږ هرڅه د هغوی د مرستې نه بغېرنه شي چلیدلی، نن هغه چین په نړۍ کې نړیوال قوت جوړشوی دی، په ټولې نړۍ اقتصادي راج کوي، دستنې نه واخله لویې لویې مشینرۍ او الوتکې جوړوي. هغه په یووخت کې د کوکنارو په نشوکې بدمست قام و، نن دنړۍ د لویې قوتونوپه سترګوکې ازغي ښکاري. خو زموږ پښتنه ټولنه دخپلوزرخریدومشرانو له لاسه اغیارو داسې وروسته پاتې کړه چې نه د دین پاتې شو اونه د سادین. نتیجه یې دا راوختــه چــې نــن زمــا بچــی پــه لارو کوڅــوکې دا نعــرې وهــي چــې کبارړشته،ترمابنامه دانعرې وهي، مابنام چې کورته لاړشي، نو ایله سل یونیم سل روپۍ یوسي، د موږپه څولۍ کې به یې واچوي، له پلار نه یې چې پوښتنه وکړې نو دابه وایي چې یو پاو وړه مې ګټلو.ټوله ورځ مې مزدورۍ کې تېره شوله.ګنې هغه دا خبره هم کوي چې الله تعالی روزي رسان دی.ولې بیا هم ټول ژوند یې یوپاووړو ګټلوکې تېرشي. دمور یې دا حال وي چې سحرنه ترمابنامه دکورکار او غوا مېښو په سنبالولوکې تیره شي.خاوند یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا عقیده وي چې ښځه خود کور ده یا د ګور ده. په داسې ټولنه کې یو وګړی به په سیاست څه پوهېږي ، هغه د نړیوالو توطیو نه څه خبرېږي ، هغه چې زما او ستا نه څه واوري نو بس دومره به وواییي چې مړه خپل کار به کوي، زموږ ورسره څه، موږ د خپلې او د بچیو ګیډې غم وکړو که ملکي شخړو ته پاملرنه وکړو، چې څوك په څوکۍ ناست دي، هغوی پوهې شه او د هغوی کار پوه شه. موږ ته یې څه راکړي،په داسې ټولنه کې یو سړی به په سیاست څه پوهه شي. د هغه په لاس کې ټوپك دی ځکه چې دا خبره ورته په مغزوکې اچولې شوې ده، چې ټوپك د پښتون کالي او سینګار دی.خو دا فکر نه کوي چې نن کوموقامونو ترقي کړې ده د هغوی په لاسونوکې ټوپك و که قلم؟؟ هغوی په خلاګانوکې خپلې پنجې ښخې کړې او پښتون لا تراوسه د ټوپك د شپېلۍ له صفاکولو نه وزګار نه شو.خلکو په سپوږمۍ خپلې وزرې وغړولې، خو پښتون دخپلو تربګنیو نه لا تراوسه خلاص نه شو.دا نن چې کوم اړې ګړې د پښتون په مځکه کېږي ، دا سل کاله مخکې د دې منصوبه بندي شوې وه، جان پرکنز په خپل کتاب (معاشي قاتل) کې دا هرڅه جوت لیکلي چې د دنیانورو قامونوسره به پښتون څنګه وهو؟ ځکه چې د پښتون مځکه له هرقسم خزانو او خامو موادو نه ډکه ده. له سرو زرو نه واخله، د تېلو ، کویلې، قدرتي ګیس او ګڼ معدنیاتو نه ډك غرونه لري، که دوی په معاشي او اقتصادي توګه ماړه شول نو هېڅوك به یې مخه ونه نیسي. دوي به په ټولې نړۍ راج کوي. پښتون د نړۍ یو داسې قام دی چې نن یې هم څوك مخه نه ګوري خوبس دومره خپل ځان یې نه دی پېژندلی، بې تعلیمه پاتې شوي دي، څه دخپلو واکدارانو له لاسه او څه د اغیارو له لاسه، د یوپاو وړو په ګټلو یې اموخته کړي، په نړۍ کې څه کېږي او د دنیاخلك څه کوي ، ددې نه یې لرې ساتلي، دمدرسې طالبانو ته چا یو غوایه خېراتې ورکړو، نو هر طالب به راتلو،خوله به یې پرې پرانستیله او غاښونه به یې لیدل. اخر غوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره په تنګ شوه، چې د سپينو جاموسړی به يې ليدونو مخکې نه به يې ورته خوله وازه ونيوله، د پښتنو هم دغه حال دی، په سياسي بيانونوکې چې څوك ورته دا خبره وکړي چې وره او غنم به ارزان وو، نودوی يې د زنده باد په نعرو سوروکې د اقتدار څوکۍ ته ورسوي. او بيا يې وازې خولې نيولي درنې درنې ښکنځلې کوي، خو اوبه له ورخه تيرې شوې وي. د پښتنو اوسنی سياست په دوو خبرو سياسي مداريان کوي چې په هرڅيزپورې ورته اسلامي ټکي لګوي، دويم يې په ډالرو او نورو لکه دګډوبزو اخلي. نورغم يې دوی هم نه کوي. خبرې ډيرې خو سريې يو ، پښتانه همېشه په عالمي سياست کې د ګوډاګي په توګه استعمال شوي دي ، هغه که د سوړ جنګ دور و ، که نن د عالمي ترهګرۍ پر ضد اړۍ ګړۍ دي، خو زياته د افسوس خبره دا ده چې د پښتون قام د سرسړي د پښتنو په ځمکه روان جنګ کې د سرلښکر په توګه ټاکل شوي دي، ولې هغوي دې ته هېڅ پام نه کوي چې دا روان جنګ د ترهګرۍ په شکل کې د لويو قوتونو ترمنځ د مفاداتو جنګ دی، په هر دور کې پښتون د تورې او ډال په توګه استعمال شوی دی، عام وګړي له دې نه ښه خبر دی، خو بې وسه دي او د سرسړی يې د دښمن په مکمله توګه مرسته کوي ، نن سبا جنګونه د ميډيا په زور کېږي، پر عالمي رسنيو لويو قوتونو داسې قبضه ده چې يو پښتون که ډېر هم وغواړي، خود هغوی د مرضۍ نه بغير ورته لاسرسی نه شي کولی. بله دا چې پښتون يې همېشه په ببلا ببلو پلمو ساتلی دی ځکه خو وايي.

کله د خدای په مينه مست، کله دقام په جذبه
سرونه دومره ارزان بيه پښتانه ورکوي
دا چې سحرمابنام لوټي دخپل ولس مالونه
دومره غريب سړي به بل غريب ته څه ورکوي
د پښتنو د لا برياتوب په هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي محمد حسن حقيار

# په افغانستان کې له معارف سره دښمني

ښوونه او روزنه په دین او دنیا کې د بریا ضامن او د دوارو دارینو د ښکلا او فلاح لار ده .له پوهې او زده کړې، بشري او دیني معارفو پرته هم دنیوي ژوند او هم اخروي ژوند سخت دی. علم رڼا ، علم ښکلا ده، علم د تیارو دښمن، علم د نجات یوائینۍ ذریعه ده.

دا علم دی چې انسان ته یې پرنورو موجوداتو لوړوالی او کرامت ورکړی او دا علم دی چې انسان ته یې ټول کائنات تابع کړي او دا علم دی چې له برکته یې پاکو پرښتو انسان ته د تعظیم سجده وکړه.

د علم او پوهې پر ارزښت هېڅوک هم سترګې نه شي پټولی، هېڅ ټولنه، منطقي وګړي، دین، ایین، ځمکني او اسماني قانون د علم او پوهې پر حیاتي ارزښت منکر نه دي او نه ترې د سالم فطرت خاوندان انکار کولی شي.

ان ډېر هغه ټولنې هم چې تر یوه حده له انساني معیاري اخلاقي حدودو وتلي دي د علم له ارزښت څخه منکر نه دي او په ساینسي برخه کې لاسته راوړنې لري.

اسلام چې د فطرت علمبردار او رښتوني جامع او دکایناتو غوښتنو او د بشر پوښتنو ته منطقي اومعقول ځواب ورکوونکی دین دی، علم او پوهې ته ترهرچا او تر هر څه ډېر ارزښت ورکړی او په نر اوښځه یې فرض وګرځاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام وکړي د ناپوهۍ له تورو تیارو څخه د علم او معرفت روښنايي ته را وبلل وړومبنيو او وروستنيو علماوو لیک او لوست ته ځانګړی ارزښت ورکړی دی.

په اسلام کې د پوهې او معرفت ارزښت له دې څخه ښه جوتیږي چې کله الله(ج) خپل محبوب په رسالت مبعوث کړ، نو ترهرڅه لومړی یې ورته په لوستلو امر وکړ او د قلم لویې او عظمت یې ورته ورڅرګند کړ، لکه چې فرمايي: [ اقرا باسم ربک الذی خلق خلق الانسان من علق ، اقرا وربک الاکرم الذی علم بالقلم ،علم الانسان مالم یعلم ] (۱)

یعنې: (( ولوله د خپل رب په نوم سره چې د ټولو پیدا کوونکی دی پیدا کړی یې دی انسان له ټوټې د وینې څخه، ولوله ستاربلوی کریم دی کوم چې علم وښودلو په قلم سره او ویې ښودلو انسان ته هغه څه چې دی پرې نه پوهېده .))

د الله(ج) له دې وینا څخه د علم او قلم مقام او عظمت ښه څرګند یږي چې د لومړۍ وحې او د خپل کلام پیل یې پرې وکړ. اسلام زده کړه د خپل دین اساسي خط او سترشعار معرفي کړ، بل ځای کې فرمایي: [ ن ، والقلم ومایسطرون ] (۲)یعنې: (( قسم دی په قلم او څه چې لیکي))

ټول مفسرین په دې متفق دي چې الله(ج) په هغه څه سره سوګند یادوي چې په هغه کې ستره ګټه او ډېر ارزښتمن وي.

الله(ج) خپلو بندګانو ته لارښوونه کوي چې له الله(ج) څخه په علم او پوهه کې د زیاتوالي دعا وغواړئ.

[ وقل رب زدنی علما ] (۳) .. یعنې: (( و وایه ای زما ربه علم مې زیات کړه))

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت قتاده ص فرمايي : (( قلم د الله تعالی لوی نعمت دی که قلم نه وای، نو نه به د دين څه پاتې و او نه به د دنيا څه کاروبار کېده ))

تعليم انسان له نورو حيواناتو څخه پورته او اشرف ګرځوي، نو لکه څنګه چې روښانه ده چې د دين احکام نارينه او ښځينه دواړو ډلو ته شامل دي، نو بيا هېڅ داسې معقول دليل نه شته چې د هغه په سبب ښځه له تعليم څخه محرومه وګرځولی شي، رسول الله ص فرمايي: ( د علم طلب په هر نر او ښځې دواړو فرض دی )

يوه ښځه د رسول(ص) حضور ته راغلله او عرض يې وکړ چې يا رسول الله ص نارينه ستا خبرې اوري او عمل پرې کوي، نو موږ ته هم له خپله پلوه يوه ورځ وټاکه چې تاته راشو او څه چې الله(ج) د رښودلي دي موږ ته يې راوښيې، رسول ص ورته و فرمايل چې: ښه ده په فلانۍ ورځ په فلاني ځای کې راغونډې شئ. هغوی به په هماغې ټاکلې ورځې هلته راغونډېدلې او رسول الله ص ورته تعليم کاوه . (۴)

حضرت شفاء بي بي رض فرمايي: (( زه له حفص رض د رسول الله ص له مېرمن سره ناسته وم ، چې رسول ص راغی او راته يې وفرمايل چې : ته دې ته د سرخ باد (پر بدن سرې دانې راخېژي) ( ځينو روايتونو کې د سرخ باد پرځای مېږې هم ياد شوي دي)، دم ولې نه ښيې لکه څنګه دې چې ورته ليکل ښودلي دي ) (۵)

صحابه و به ښځو ته علم ورښود په صحابه وو کې لکه عايشه رض لويې عالمانې وې هغوی به لويو لويو صحابه وو ته د تفسير ، حديث او فقهې درس ورکاوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام قونوي ليکي: که د ښځې خپل مېړه عالم و نو له همغه څخه دې زده کړه کوي او که نه و نو بهر ته د علم د حاصلولو لپاره وتلو څخه يې ايسارولای نه شي .(۶)

اسلام نه تنها داچې د ديني تعليم اجازه کړې ده، بلکې د ديني او داسې علم چې انسان ورته په ورځني ژوند کې اړتيا لري زده کول يې په نر او ښځې دواړو لازم کړي دي .په دې هکله امام ابو الاعلی مودودي رح وايي: ((هغه علمونه چې له انسان څخه پرې انسان جوړېږي، د هغه اخلاق پرې ښايسته کېږي، د هغه له کبله ترې يوه مؤدبه ښځه جوړېږي، د داسې علمونو زده کول هرې ښځې ته ضروري او که د نورو علمونو زده کول غواړي، نو اسلام د هغې په مخکې نه خنډ کېږي)) (۷)

په کورنۍ کې چې پوهه ښځه وي د کورنۍ نظم ښه وي د اولاد روزنه ښه کېږي، په ښځو کې د پوهې او استعداد خاوندانې ډېرې دي او په کار ده چې د دوی استعداد عبث او بې ځايه نه شي، ځينې علوم دي چې ښځه يې هرومرو بايد زده کړي او له هغو څخه په ناخبرۍ کې ورته ستره ستونزه ده او داسې مسائل هم شته چې نارينه وو ته د هغې ښکارول د شرم او ننګ خبره ده نو په کار دي چې ښځې خپل علاج په خپله وکړي او داسې مسايل زده کړي لکه په شرعي علومو کې، حيض، نفاس، په طبي علومو کې د ښځينه ځانګړيو ناروغيو علاج .چې دېته اړتيا پېښه نه شي چې د پردي نارينه پر وړاندې خپل عورت لوڅ کړي.

شيخ مرغيناني وايي .....[ وينبغي للمراة ان تعلم مداوتها لان نظر الجنس الي الجنس اسهل . ](۸)

يعني : ((او مناسب ده چې ښځه د ښځې د ناروغۍ علاج زده کړي، ځکه چې خپل جنس ته کتل اسان دي . ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلام کې نه يوازې دا چې پر اشرافو علم فرض دی، بلکې وينځو، مرئيانو دکورونو خادمانو او د ټولنې د ټيټ کسب خاوندانو ته هم د علم د حاصلولو حق ورکړل شوی دی، آن هغوی ته په تعليم ورکولو حکم شوی دی، رسول الله ص فرمايي: (ايما رجل کانت عنده وليدة فعلمها فاحسن تعليمها وادبها فاحسن تاديبها ثم اعتقها و تزوجها فله اجران.) (۹)

يعني: ((هر څوك چې وينځه ولري او ور ته تعليم ورکړي او ښه ادب او تهذيب ورزده کړي، بيا يې ازاده کړي او واده يې کړي، نو هغه لره دوه اجره دي.))

لکه وړاندې موچې ورته اشاره وکړه پوهه او معرفت د ټولنې او وګړيو د دنيا او اخرت د بريا، نېکمرغۍ پرمختګ، ښه ارام، ډاډه ژوند تضمين کوي او نالوستي يا ناپوهي دناکامۍ، وروسته پاتې والی، اسارت، بدمرغۍ اړتيا، احتياج لامل ګرځي، نو ځکه دځوکالو راهيسې ځينو اسلام دښمنه او افغان دښمنه کړيو په پوره ناځوانۍ هڅه پيل کړې چې افغانان او په ځانګړې توګه پښتانه ناخبره، بدمرغه، خوار، ذليل، نورو ته اړ نېستمن، در په دره اسير، مريان له تهذيب او شايستګۍ څخه لرې وساتي، دوی پوهېږي چې د لوستو، پوهاو پرځان ويسا اوبسيا ملتونو ښکېلول او ايلول اسانه نه دي اوغواړي چې افغان ولس ايل او ښکېل کړي او کله چې دې موخې ته ځان رسول غواړي، نو اسانه او يواځينۍ لار او چاره يې داده چې هغوي ناپوهه، نالوستي ناخبره، له نړۍ، مدنيت ساينس او ټکنولوژۍ، ديني او بشري معارفو خپل دين او مذهب څخه چې پر پوهنه ترهرڅه ډېر ټينګار کوي لرې وساتي، همدا لامل دی چې د څو کالو راهيسې يې په ټول افغانستان او په ځانګړې توګه په پښتون مېشتو سيمويا لره او بره پښتونخوا کې له معارف

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره دښمني پيل کړې او تراوسه يې سلګونه ښوونځي ياسوځولي او تړلي دي.

د نور او رڼا دې شب پرستواوشامپرکو دښمنانو په افغانستان کې له پوهنې او ښوونې او روزنې سره جګړه پيل کړه په لره پښتونخوا او افغانستان کې يې سلګونه ښوونځي وسوځول، سلګونه ښوونکي، د ښوونځيوامرين، مامورين،کارکوونکي او آن تنکي او معصوم زده کوونکي يې ووژل.

د پژواک خبري اژانس د يو راپور له مخې ، د ۱۳۹۱ هجري لمريز کال يواځې د غويي د مياشتې په (۲۶) ورځو کې د افغانستان په سويلي او سويل ختيځو سيمو کې (۴۰) ښوونځي تړل شوي او په همدې مياشت کې يواځې د ننګرهار ولايت په چپرهار ولسوالۍ کې (۴) ښوونځي سوځول شوي دي. د معارف وزارت په وينا ، په ۱۳۹۱ کال کې يواځې د هېواد سويلي او سويل ختيځو سيمو کې (۵۲۶) ښوونځي تړل شوي او د (۳۵۰زره) زده کوونکيو پرمخ د پوهې او معرفت ځراغونه مړه شوي وو. دا ښوونځي يواځې په سويلي او سويل ختيځو سيمو کې نه، بلکې د هېواد په مرکزي، شمال، شمال ختيځواو ان غربي ولاياتوکې هم سوځول شوي او تړل شوي، خو غوځه ډېره برخه ( ۴۳۰) يې په سويلي او سويل ختيځ، سيمو کې دي که په زغرده وواېو، د باميانو، پنجشېر، پروان، بغلان، سمنګان، بلخ، تخار، بدخشان، کندوز، دايکندي، جوزجان او سرپل په شمول په ټول هېواد کې له پوهنې او ښوونې سره دښمني شوې او ښوونځي تړل شوي او سوځول شوي دي، خو ددې کار ډېر بوج په پښتون مېشتو سيمو په ځانګړې توګه په ننګرهار، پکتيا ، پکتيکا ، غزني، زابل، کندهار، خوست او ميدان وردګو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسانيت او معرفت دښمنان د ښوونځيو په سوځولو بسيا نه شول، بلکې د رڼا او پرمختګ د مخنيوي لپاره يې نورې کړکجنې او خيزنې لارې هم غوره کړې، مثلاً د نجونو پر مخونو يې تېزاب وشيندل، هلکان او نجونې يې ښوونځيو ته د تګ په جرم شهيدان کړل، لسګونه ځله يې نجونې په ښوونځيو کې مسمومې کړې، د پوهنې د ډيوې د پتنګانو د وېرولو لپاره يې ښوونځيو ته د نه ورتګ شپې پاڼې خپرې کړې او داسې نور.

که څه هم حکومت د شاوخوا شپږ سوو ښوونځيو د تړل کېدو خبر ورکوي، خو حقيقت دا دی چې دا شمېره هېڅکله هم دقيقه نه ده او ښايي تر دې شمېرې ډېر ښوونځي تړل شوي او سوځول شوي وي، ځکه چې حکومت په ځينو هغو ساحو کې چې ښوونځي په کې تړل شوي، کنترول نه لري او نه يې هم له حالته خبرېږي.

دځينو نړيوالو سرچينو د سروې، له مخې اوس هم شاوخوا درې مليونه افغان کوچنيان د ناامنۍ له کبله له زده کړو بې برخې دي.

څومره دهېښتيا او خفګان خبر ده چې افغانستان د نړۍ په کچه د هغو درې هېوادونو په سر کې دی چې اوس هم په کې پوليو يا ګوزڼ موجود دی.

## د معارف دښمنان څوک دي ؟

هغه څوک چې مسلمان، ريښتونی افغان او يا هم د سالم فطرت او وېښ ضمير خاوند وي هغه د مسلمان او افغان خو پرېږده ان د هندواو يهودي پرمخ هم د پوهنې دروازې نه بندوي او نه ښوونځي او پوهنځي سوځوي.

## ښه نو په افغانستان کې دا وحشت څوک کوي؟

که څه هم افغان حکومت ددې کار د پړې ګوته خپلو وسلوالو مخالفينو (طالبانو) ته نيسي خو طالبانو په کراتو او مراتو دا دعوه رد کړې ده او ويلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چې دوی د علم او پوهنې پر دیني او دنیوي ارزښت ترهر چا ډېر پوهېږي او هېڅکله هم د پوهې پر وړاندې نه خنډ کېږي. طالبانو ان ویلي دي چې که بل څوک دا کار وکړي اودوی ته په ګوتو ورشي، نو سزا به ورکړي مثلاً د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د ۱۳۹۰ هجري لمریز د سلواغې په ۱۲مه پژواک خبري اژانس ته ویلي دي چې دوی له ښوونځیو سره نه یواځې دا چې دښمني نه لري، بلکې مرسته ورسره کوي اوکه څوک د ښوونځیو په سوځولو ونیسي، نو درنه سزا به ورکړي.

هغه اضافه کړې ده چې هرڅوک ددوی د کنترول په ساحو کې له دوی سره په تفاهم ښوونځي جوړولی شي او دوی ورسره مرسته هم کوي. مجاهد دعوه کړې چې ښوونځي د کابل د اداري استخبارات د دوی بدنامولو په خاطر سوځوي.

زما په باور هېڅ شک نه شته چې اسلام دښمنه او افغان دښمنه مافیا د طالبانو صفوفو ته هم ننوتې ده اوکله کله د همدې کړیو لخوا د طالبانو په یونیفورم کې ښوونځي سوځول کېږي.

همداډول ښکېلاک د طالبانو په جامه کې داسې کسان استخدام کړي دي چې هغوی نه طالبان دي، نه یې لمونځ زده دی او نه اودس خو دهشت وحشت، خشونت او بربریت کوي، په کوچنۍ اشتبا خلک وژني، ملکي او بې ګناه انسانان وژني په مساجدو، جنازو د جمعې په لمونځونو کې ماینونه ږدي د دوی د ماموریت مهمه برخه د ښوونځیو او نورو ټولګټو بنسټونو نړول اوسوځول دي.

له دې پرته د افغان حکومت په اعتراف، په افغانستان کې له اویا ډېر استخباراتي چینلونه کارکوي چې دوی هم د ښوونځیو د سوځولواو تړلو په شمول د افغانستان په ډېرو جنایتونو کې لاس لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان ګاونډیان هم په دې اړه سپینې پرښتې نه دي. د افغان حکومت په استخباراتو کې هم داسې کړۍ شته چې ښوونځي سوځوي. مثلاً د معارف وزارت یو مرستیال راته کیسه کوله چې د لغمان په قرغیو ولسوالۍ کې ولس هغه خلک چې ښوونځي یې وسوځوه لاس په لاس ونیول. خو وروسته جوته شوه چې دې کسانو د ملي امنیت د یوه مرستیال په وینا دا کار کړی و او هماغه مرستیال ورته وړاندې ولاړ هم و.

پژواک د ۱۳۹۰ کال د سلواغې په دولسمه خبر ورکړ چې د پروان امنیتي چارواکیو د (ADA) موسسې هغه (۷) تنه روزونکي نیولي چې د چاریکارو د ښار اړوند صادقي ښوونځي یې سوځولي و. دا (۷) تنه ددې موسسې له خوا همدې ښوونځي ته د روزونکو په توګه ورلېږل شوي و.

په فیس بوک به مو هغه رسنیو ته په لاس ورغلی سند لیدلی وي چې د شمال امیر خپلو کسانو ته د طالبانو د بدنامولو په خاطر د یوه ښوونځي د سوځولو هدایت کوي.

د معارف وزارت چارواکي په خپلو راپورو نو کې وايي چې د ښوونځیو د سوځولو ځینې پېښې جنايي بڼه لري معنا داچې له وسلوالو مخالفینو پرته د نظام ترسیوري لاندې هم ځینې خلک شته چې ښوونځي سوځوي.

هلمند ته د یوسفر په ترڅ کې د هلمند والي راته وویل چې دوی یوولس داسې تړلي ښوونځي موندلي چې هلته هېڅ امنیتي ګواښ نه شته او ځینې یې د لښکرګاه د ښار په ساحه کې هم دي، خو مدیرانو یې ددې لپاره تړلي چې د ښوونکو او مامورینو معاش یې په خپل جیب کې واچوي.

**مخنیوی:**

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم اوس الحمدلله د ښوونځیو د سوځولو ګراف ډېر راټیټ شوی او دا وحشت راکم شوی دی د پوهنې وزارت د ارقامو له مخې، تېر ۱۳۹۱کال کې په ټول افغانستان کې ۱۱۱ پېښې شوې دي چې له دې جملې یې (۴۸) جنایي بڼه لري سرکال د چنګاښ تر وروستۍ پورې ټولې (۱۹) دا ډول پېښې شوي چې (۸) یې جنایي بڼه لري، خو په ټوله کې باید ډېر ژر ددې پېښو ګراف صفر ته راښکته شي.

ددې کار مخنیوی د حکومت، عام ولس او طالبانو دیني او ملي رسالت دی.

**حکومت چې ځان ددې هېواد ساتونکي او ژغورونکي بولي، پر دې ولس او هېواد واکمني کوي خپله کمزورتیا هم نه مني اوحکومتي چارواکي په همدې نوم امتیاز اخلي، نو ترهرڅه لومړی دا ددوی دنده ده چې دا ملي مجرمین ډاګیزه محاکمه او درنه سزا ورکړي.

د افغانستان د نوي اساسي قانون د(۴۳) او(۴۴) مو مادو او د بشر د حقوقو د نړیوال کنوانسیون له مخې دولت مکلفیت لري چې ټولو افغانانو ته په مساوي بڼه د زده کړې زمینه برابره کړي.

د زده کوونکو د مسمومیت پېښې، خو تقریباً ټولې په هغو سیمو کې ترسره شوي دي چې دولت په کې ډېر حاکم دي، لکه تخار، بامیان، مزار، د کابل ښار او...او دا پېښې په لسګونو ځله تکرار شوې خو ملت ونه لیدل چې حکومت دې په دې جرم یوتن ته هم سزا ورکړې وي.

**ولس باید بې تفاوته پاتې نه شي، دیني او ملي شعور او ملي عقیده او احساس یې باید راوپاربږي. موږ لسګونه داسې نمونې لرو چې ولس په انارشۍ کې خپله خپل ځان اوخپل ملي او دیني ارزښتونه ساتلي دي. زه ډاډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یم چې که ولس ځان ناکاره او ناګاره نه کړي، نو د معارف د ښمنان به بریالي نه شي.

- **طالبان چې ځان ددې ملت وارثین او ژغورونکي بولي او د پوهې پر ارزښت هم ترهرچا ډېر پوهېږي باید په دې ډګرکې هم په عمل کې ثابته کړي چې دوی د علم او عرفان خادمان او د علم او معرفت د ډوبېدونکې بېړۍ ژغورونکي دي دوی باید لکه څنګه یې چې ژمنه کړې هغه چاته هم درنه سزا ورکړې چې ددوی په ساحوکې ښوونځي سوځوي، موږ په کراتو اورو چې طالبانوهغو جنایتکارانو ته چې ددوی په ساحه کې یې جنایت کړی سزا ورکړې خو یوځل مو هم وانه ورېدل چې هغه چاته یې هم سزا ورکړه چې ددوی د واکمنۍ په ساحه کې یې ښوونځي سوځولي، یایې معارف او زده کوونکي وژلي او یا تعذیب کړي دي.

طالبان باید لکه په تګاب کې یې چې عملي کړي د خپل کنترول په ټولو سیمو کې د ښوونکو او زده کوونکو حاضري وڅاري، له عذر پرته دندې ته نه راتلونکې استادان او زده کوونکي د هغوی له وس سره سم جریمه کړي، له معارف سره مرسته وکړي او خپله ښوونځي وساتي.

## اخستنې:

(۱).العلق : ۱_۵ .

(۲).-القلم : ۱

(۳).طه : ۱۱۴

(۴).متفق علیه .

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

.(۵)ابوداود متفق علیه .

.(۶) البریقة شرح الطریقه

.(۷). پرده سید ابوالاعلی مودودي .

.(۸) هدایه

(۹)بخاري

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

امید حیران

# په مورنۍ ژبه د زده کړې حق او اړتیا!

په مورنۍ ژبه زده کړه د ماشومانو طبیعي حق ، او په مورنۍ ژبه زده کړې شونتیا برابرول ددولت قانوني مکلفیت دی .

د افغانستان د اساسي قانون د ۱۲ مادې پربنسټ پښتو او دري د افغانستان رسمي ژبې دي اوله بلې خوا داساسي قانون په ۴۳ مه ماده کې په ځرګندو ټکو کې راغلي دي ،چې دولت مکلف دی په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او تامین لپاره اغېزمن پروګرام طرح او پلی کړي .

د بشر د حقونو نړیوالې اعلامیې په ۲۲ مه ماده کې داسې راغلي ،چې میندې او پلرونه حق لري ،د خپلو ماشومانو لپاره یې د ښوونې اوروزنې ډول غوره کړي.

همدارنګه دماشومانو د حقوقو تړون (سي آر سي ) په ۳۰ مه ماده کې وایې، چې ماشوم باید له خپلو حقونو بې برخې نشي ،ترڅو له خپل کولتور ځخه خوند واخلي او خپل مذهب ومني او په خپله مورنۍ ژبې سره د ژوندانه چارې سرته ورسوي ،د ګوتېګن د پوهنتون پوهاند ابېر هارد پخپله څېړنه کې وایي : په هېواد کې مېشتو قومونو بچیانو ته که په مورنۍ ژبه زده کړې اماکانات برابرشي د هغوی په شخصیت جوړولو کې به خورا لویه ونډه ولري.

نو په داسې حال کې پښتنو ماشومانو ته چې په کابل کې اکثریت دي ،په خپلې مورنۍ ژبه دزده کړو پروګرام پلي کول د ملي یووالي له ټینګښت او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

محرومیتونو له منځه وړلو سره لویه مرسته کولی شي ،ترڅو نورور قومونو سره د سیالۍ جوګه شي .

د ۱۳۵۷ لمریزکال د غويي د کودتا سره جوخت د روسانو د یرغل پرمهال په سلهاوو زره پښتانه کابل ته راکډه شول د ښوونځیو ماشومان یې د ازمویني پرمهال نه یوازې په دري ژبه دازموینې جوګه نه و ،بلکې هغه مهال به ،چې یوه ښوونکی په تخته د ازمویني سوالونه ولیکل ،پښتو ژبو زده کوونکو ددې وس نه درلود چې پوښتنې د آزموینې په پاڼه کې ولیکې ،دغه زده کوونکې پدې اړکېدل چې له ګاونډ ناست دري ژبې زده کوونکی نه یې پخپل پاڼه کې ولیکي .

وروسته ترلیکلو به خپل ځای کې په ډېرې ناهیلۍ او وارخطایې سر به ناست وو ،کله چې به ښوونکی وپوښتل چې ولې سوالونو ته ځواب نه لیکئ ؟ زده کوونکی به په ډېرې ناهیلۍ سره دتل لپاره مخه ښه وکړه ،چې د کابل په سلګونه ښوونکې ددې خبرې شاهدان دي .

د مهایم پوهنتون د ټولنپوهنې د څانګې پوهاند (هارتر موت اربسر ) وایې : له خپلې مورنۍ ژبې له زده کړې څخه د یوه تنکې بچې محرومول ددې سبب ګرځي چې ماشوم د عقلي ذهني روحي ،اخلاقي ،او داروایې عقدو ښکار شي او د افراط او تفریط خواته وخویېږي .

یوبل الماني څېړونکی (هانس مالف) په ۲۰۰۴ م کال کې په یوه څېړنه کې، یوه خورا مهم ټکې ته نغوته کوي ،چې یو ماشوم تر شپږکلنۍ پورې پخپله مورنۍ ژبه ۱۳ زره لغاتونو پورې د زده کولو وړتیا لري.

چې په هر دویم ساعت کې د یونوي لغت زده کولو ته چمتو دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د بدبختۍ او افسوس ځای دی ،چې د کرزي د دولت او اوسني دولت یوه ډله لوړ پوړي چارواکې د پورته یادشوونړیوالو حقونو اوداساسي قانون په ۴۳ ماده باندې سترګې پټوي او دافغانستان اصلي وارثانو سره دومره خاینانه کړنه کوي .

او د اساسي قانون ۴۳ مادې د پلي کېدو رسره حساسیت او غبرګون ښيي .همدارنګه د پوهنې وزارت ښوونیز نصاب اومې مادې سره چې ښوونه او روزنه باید په مورنۍ ژبه وي .

یو شمېر د ملي ګټو ،یووالي ،پښتوضد او ایران پلوه عناصر او کړۍ یې په عملي کېدو حساسیت ښيي او ډول ډول پلمې ورته جوړوي.

چې داډول خلک زه د ملي خاینانو څخه هم په ټیټ پوړ کې ګڼم .

اوس ځینې افغان لوړپوړو چارواکو ښه چل زده کړی،کله چې د پښتنواو پښتو د حقونو د ورکړې خبره کېږي نو ځینې تش په نوم افغانان (؟) او ایران پلوه متعصبې کړۍ او ګوندونه وایي چې دا ملي یووالي ته زیان رسوي او کله چې د نورو قومونو او ژبو د حقونو او چوپړ خبره راشي، بیا همدوی وایي چې ملي یووالی پرې ټینګېږي ،هر څوک ملي یووالي پخپله ګټه تعریفوي خو سړي نه پوهېږي چې دملي یووالي د سیوري لاندې پښتانه نور څومره خپل حقوق دلاسه ورکوي .

حال داچې په مورنۍ ژبه زده کړه ملي یووالي ته زیان نه بلکې ملي یووالی نور هم ټینګوي چې ښیلګې یې په ځینو اروپایي هېوادونو کې لرو .

په مورنۍ ژبې زده کړه کومه د تعصب خبره نده او نه کوم سیاسي رنګ لري بلکې یوه علمي ،اکاډمیکه او حقوقي موضوع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د هر ماشوم فطري حق دی چې پخپله مورنۍ ژبې زده کړې وکړي ځکه یو ماشوم د یوې دوۍمې ژبې زده کړې پرمهال ځینې ذهني ځواک له لاسه ورکوي ،د زده کړې پرمهال د نیمګړتیا احساس کوي ،او د رواني غوټو ، بې زړه توب او چوپتیا سربېره په ټولګي کې ځان خجالتي او یوازې احساسوي .

څرنګه چې په مورنۍ ژبه زړه کړه قرآن عظیم الشان ،د هېواد اساسي قانون ، نړیوالو اعلامیو ،دیونسکو د مدیرانو جرګو ،او نړیوالو قوانینو په مورنۍ ژبې زده کړو باندې ټینګار کړی .

نو کله چې اسلام مبارک دین ،اساسي قانون، بشر حقونو نړیوالې اعلامیې او یونسکو حق او اجازه راکړې او خلک هم غواړي چې لورګانې او ځامن یې په مورنۍ ژبه زړه کړې وکړي او بل خوا ولسمشر هم پښتون دی او شرایط هم برابر دي، نو بیا ستونزه په څه کې ده؟

ولې پښتنو ته دا حق نه ورکول کېږي؟

څو کاله پخوا دا پروسه په کابل کې څه ناڅه د پلې کېدو په حالت کې وه او یو ښه مېکانېزم یې هم ورته جوړ کړي وه چې لومړي به نوي ښوونځي جوړوي بیا به د پښتو ټولګي ببلوي د ماشومانو د پېژندپاڼو او سوانحو پام کې نیولو سره او د کابل په احمدشابابا مېنه کې یوڅه پلې هم شوه ،خود خواشینۍ ځای دی ،چې پوهنې وزارت ته د نوي وزیر راتګ سره سم داپروسه په ټپه ودرېده چې سبب یې لاروښانه ندی .

نو دپوهنې وزیر باید جرئت وکړي،کلک هوډ او پاکې ارادې سره سر له نن په پلازمېنه کابل په پښتو ژبه د زده کړې لارې چارې برابرې کړي او هیچا ته دې ملي پروسه کې وېره ونکړي او نه چاته اجازه ورکړي چې ددې پروسې خنډ وګرځي که هر څوک وي، او د وېرې یاغلا خبره هم نده ځکه

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد زموږ دی او د اساسي قانون او نورو نړیوالو قوانینو سره سم عمل دی .زه پښتو ژبه ځکه یادوم چې نورو ژبو ته داحق ورکړل شوی خو پښتنو او ازبکو ته داحق ندی ورکړل شوی او محکومه ژبه ده ،خو زه بیا یوازې دپښتو یادونه هم نه کوم زه وایم چې په بلخ ،فاریاب ،جوزجان ،بدخشان او سرپل کې هم باید په ازبکې ژبه ښوونځي جوړ شي د بده بختنه زموږ ازبک ورونه هم په دري ژبه زده کړې کوي چې باید په ازبکې یې وکړي چې لومړنی زړه کړې یې قانوني حق دی .

خو لومړی باید داکار د پلازمېنې کابل نه پیل شي، دلته ځینې خلک پدې تېروتي او فکر کوي چې ګوندې کابل یو دري ژبی ولایت دی ،خو داډېره غیر علمي او بې منطقه خبره خبره ده ،ځکه کابل ولایت د ښارسربېره د ولسوالیو د نفوسو په تناسب یو پښتون ولایت دی .

او کابل کې اکثریت وګړي پښتانه اوسېږي ،او څوک چې ددې خبرې سره مخالفت کوي هغه دې خپل کور نه راووځي او لږدې بهر وګوري .

بل داچې که څوک د مورنی ژبې زده کړو سره مخالفت کوي ،او یا ورسره حساسیت ښیې نو زه وایم چې مهرباني دې وکړي شرافتمندانه دې خپله کډه بار کړي او زموږ هېواد نه دې ووځي او کوم بل هېواد ته دې کور یوسي .

خوبیا هم یادونه کوم چې داکومه د تعصب خبره نده ،بلکې یوه علمي او اکاډمیکه مسله ده چې د ټولې نړۍ پوهانو پرې هوکړه کړې .

او که څوک ورته سیاسي رنګ ورکوي دادهغوئ خپله ستونزه ده زما په یاد دې چې د ولسي جرګې په تېر پړاو کې داخبره راپوته شوه ،جالبه داوه چې حفیظ منصور ،لطیف پدرام ،او مهدي ددې خبرې سره مخالفت وکړ او دایران دسفارت په لمسون یې وویل چې داچاره ملي یووالي ته زیان رسوي او موږ باید د پښتو او دري توپیر ونکړو ،خو ملالۍ شینواري ورته ډېرښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب وکړ ،ملالۍ ورته وویل چې که پښتو او دري یوشان دي او تاسو یې ترمنځ توپیر نه کوئ! نو تاسې مهرباني وکړئ خپل بچیان په پښتو ښوونځیو کې داخل کړئ د ملي یووالي لپاره هسې هم پښتو او دري ترمنځ تاسې توپیر نکوئ او یو شان دي،نو پدې خبرې سره دوي چوپ شول او چټل نیتونه یې ځرګند شول.

زه په اخره کې بیا هم دپوهنې وزارت له چارواکو غواړم چې جرئت وکړي په مورنۍ ژبې زده کړې دې دود کړي او پدې برخه کې دې د هیچاڅخه ویره ونکړي او دوېرې ځای هم ندی، ځکه د قانون سره سم عمل دی او د ماشوم فطري حق دی .

۱.　　　او که حکومت په ځانګړي ډول د پوهنې وزارت پدې برخه کې نااغېزي وکړي نو افغانانو او تاریخ ته به یې شرموونکی تاریخ پرایښي وي چې راتلونکی نسل به پرې لعنت وایي، زه وایم چې پوهنې وزرات باید اصلا دومره باید ناوخته شوې نه وای او پخوایې داپروسه پلې کړې وایي خو اوس هم سر وخت دی، ماهي چې هر وخت له اوبونه وباسې تازه وي،زه په پای کې دحکومتي او ناحکومتي مسولینو ،مدني ټولنو، بشرحقونو اداري ،یونسکو ،رسنیو او ځوانانو نه هیله لرم چې ددې بنسټیز حق په غوښتلو کې چوپه خوله پاتې نشي او غږپورته کړي.ترڅو د خپل سالم حق نه برخمن شي، پدې هیله چې زموږماشومان پخپلې مورنۍ ژبې زده کړې وکړي اودین،هېواد ،ملت ،کولتوراو ژبې ته د چوپړتیا سبب وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد داود نیازی

# د پښتنو د بېوزلۍ لاملونه او د پرمختګ لارې چارې

بیــــوزلي: د بیـــوزلي د پیژنـــدلو لپـــاره اړینـــه بـــولم څـــو لـــومړی د بیوزلي،اصطلاح وپیژنو: بیوزلي لوږې، بې سرپنايې، ناروغي، ډاکـتر ته دتللو توان نه درلـودل،ښـوونځیو ته لاس رسـی نه لرل،بې سـوادې،ددندې نه درلـــودلوته وايـــې .بیوزلـــي دې تـــه هـــم ویـــل کېـــږي چـــې یوســـړی دخـــــــپلولومړنیوا ړتیاوو (کور، کالي، ډوډۍ درمل) دپوره کېدو توان ونــه لري. بیــو زلـه هغـه چاتـه ویـل کېـږي چې دخپلـو لـو مړنیـو اړتیـاؤ(کـور ،کالي، ډوډۍ ، ښــوونه او روزنه او داســـــې نور) دپوره کولـــو تـوان ونه لري. ببوزلي د پرمختللو هېوادونو په پرتله په وروسته پاتې هېوادونو کې ډېره او ژوره ده.دبې وزلۍ د رامنځته کېدو عوامل په دري ډوله دي :

١- د نفوسو په پرتله د اقتصادي زیرمو او امکاناتو کمښت

٢- د اقتصادي کړنو د پروګرامونو نشتوالی، له زیرمو ناسمه ګټه پورته کونه او په اقتصادي کړنوکې د توازن نشتون .

٣- د اوږد مهاله جګړې او طبیعي پیښې لکه سیلاب ،زلزله او نور پیښیدل

اوس راځو دې ته چې د پښـتنو د ببوزلې لاملونـه کوم دي ؟ د پښـتنو د ببوزلي سببونه ډیری سیاسي او ټولنیزه بڼه لري چې لـه همدې کبله پښـتانه ببوزله پاتې شوي دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. پرلپسي جنګونه : په هره سیمه کې چې امنیت شتون ونلري په هغې سیمه کې هیڅ ډول اقتصادي کړنې نه تر سره کېږي د پښتنو سیمې په تیرو څلورو لسیزو کې د جنګ ډګر و نو ځکه دا خلک له ښوزلې سره مخ دي چې دا جګړې د نړیوالو د سیسو له کبله په دې سیمه کې په قصدي ډول ترسره کېږي تر څو پښتانه ښوزله وساتي . همدارنګه تیرو جګړو پښتانه له ښونې لرې وساتل یوازې په یو څو کسبونو پسې وتړل .

۲. د حکومتونو له خوا اقتصادي تعصب : که له یوې خوا د پښتنو په سیمو کې جګړې دي له بلې خوا د وخت حکومتونو د پښتنو سیمو سره تعصبي چلند تر سره کړی د ساري په ډول د پښتنو په ډیرو سیمو کې( کنړ،لغمان،لوګر، هلمند ،اروزګان،زابل ، پکتیا ،خوست،پکتیا ،پکتیکا ،فراه ...) یوه صنعتي فابریکه شتون نلري. همدارنګه پښتنو سیمو کې د بریښنا نشتون چې د اقتصادي پرمختګ عامل ګڼل کېږي .له بلې خوا په دې سیمو کې د لویو اقتصادي پروژو نه عملي کېدل ، په حکومتي ادارو کې پښتنو ته متناسبه ونډه نه ورکول...

۳. صنعتکارانو ته په ښه نظر نه کتل او بیلابیلو نومونو یادول: په ډیرو پښتنو سیمو کې ځینو صنعتکارنو ته په ښه سترګه نه کتل کېږي او د ټولنې ټیټه طبقه یې بولي د ساري په ډول دا فلانې پښتګر دي ،ترکاڼ دي ،جولا دی او نور. چې دا په خپله د صنعت د پرمختګ مخه نیسي او خلک د ښوزلې په لور سوقوي .

۴. د پرمختګ د احساس نه شتون : په ډیري پښتنو کې د پرمختګ احساس شتون نلري او یوازې هغه زاړه کورونه ،وروسته پاتې کلیوالي ژوند خوښوي او له عصري وسایلو سره چنداني علاقه نلري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. د ښاري ژوند نه خوښول : لکه څرنګه مې چې پورته ذکر کړه چې ډېرى پښتانه وروسته پاتې کليوالي ژوند خوښوي او په کليو او بانډو کې اوسيږي او د ښار خلکو ته په ښه نظر نه ګوري خو د ښار په پرتله په کليو او بانډو کې د ژوند آسانتياوې کمې وي په ښار کې د کلي په پرتله ډېري کاروبار موقې شتون لري.

۶. د پښتنو ځيني ناوړه دودونه : له بده مرغه په پښتنو کې ځيني داسې دودونه شتون لري چې پښتانه له بېوزلې سره مخامخوي د ساري په ډول کله چې يو پښتون زلمي کوزده وکړي هغه مجبور دي تر څو لکونو افغانۍ د ولور په نامه خسرګنۍ ته ورکړي چې دا په ځوانانو ډېره بده اغېزه لري او په دې ډول ځوانان مجبور دي چې له هېواده ليرې په کلونو کلونو مسافر پاتې شي او تل پوره وړې وي .

۷. د نفوسو ډيريښت: په پښتني سيمو کې د وسايلو په پرتله د نفوس وده ډېره چټکه ده د پښتنو د نفوس پرتله وسايلو ته ډيره وي.ګټمن نفوس نلري ګټمن نفوس هغه نفوس ته ويل کېږي چې په عملي ډول اقتصادي کړنې تر سره کوي.چې په پښتنو کې دا ډول نفوس ډير لږ دی.همدارنګه په پښتنو کې په ډير کم عمر کې ودونه ترسره کېږي چې د نفوسو د ډيريښت سبب ګرځي .

۸. په ډيري سيمو کې د کرنيزو ځمکو لږ والی : د هيواد په ختيځ کې چې وګړي يې پښتانه دي کرنيزې ځمکې ډيرې لږې شتون لري او خلک يې هم ټول په همدې لږه ځمکه کې کار کوي چې په دې توګه په کرنه کې ډيره پټه بيکاري شتون لري پټه بيکاري هغې بيکاري ته ويل کېږي که څوک له توليدي کړنې لرې شي په توليداتو اغيزه نلري چې په حقيقت کې دا ډول خلک کار نه تر سره کوي دا ډول بيکاري ته پټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیکاري وايې.د پښتنو سيمو خلک يوازې په کرنې پسې تړلي او د عوايدو دلاسته راوړلو يوازينې سرچينه کرنه جوړوي .

٩. بې ځايه لګښتونه : په پښتنو کې ډير داسې خويونه شتون لري چې د لوړ لګښتونو لامل ګرځي لکه د خانۍ دسيستم شتون ، په ودونو کې ډير لګښتونه کول او نور .

١٠. خپل منځي دښمني او تربګني: پښتانه په خپل منځ کې ډيرې دښمنۍ او تربګنۍ لري چې له همدې کبله يې ډير په کور ناست وي او کاروبار نشي تر سره کولاي او ډير ځوانان يوازې په کور کې ناست وي او خپلې ډيرې ساتي د دښمنيو له کبله له کور لرې نشي تللي .

١١. په اقتصادي کړنو کې د ښځو کمه ونډه : ښځه د ټولنې نيمه برخه جوړوي خود پښتنو ښځې يوازې د کور کارونه ترسره کوي په اقتصادي کړنو کې ونډه نلري . د کور د ټولو اقتصادي اړتياو پوره کول په نارينو پورې تړاو لري .

١٢. مالداري : د پښتنو د نفوسو ډيره برخه په مالدارۍ بوخته ده په ځانګړې توګه کوچيان چې د هيواد په اقتصاد کې ډيره مهمه ونډه هم لري خو له بدمرغه په دې وروستيو کې د کوچيانو څرځايونه د زورواکو له خوا ونيول شول،د حيواناتو لپاره يې پاملرنه ونشوه او مالداري يې لمنځه لاړه چې دې عمل کوچيان يې هم ببوزلۍ سره مخ کړل .

د پښتنو د اقتصادي پرمختګ لارې چارې

د پښتنو سيمو د اقتصادي پرمختګ لپاره د يو منظم پلان جوړول چې د اقتصادي پلان جوړونې په وسيله په د پښتنو د پرمختګ لپاره هغه برخې ځانګړې شي چې د دوې په ژوند کې بدلون راولي او دوې له ببوزلۍ وژغوري .اقتصادي سکتورونه ځانګړي کړي چې کوم ته بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي توب ورکړي . د پښتنو د اقتصادي پرمختګ لپاره باید لاندې کارونه تر سره شي :

۱) دکرنیز سکتور پیاوړتیا :د پښتنو ډیري نفوس په کرنه بوخت دی چې د عوایدو د تر لاسه کولو یوزاینې سرچېنه یې هم کرنه ده .کرنه ډیره ابتدایي بڼه لري ،د پرمختک لپاره یې هیڅ ډول کار نه دی تر سره شوی . هماغه پخوانی دودیز شکل لري دد ې لپاره چې پښتانه له بېوزلې وژغورل شي باید د پښتنو کرنیز سکتور ته لاندې کارونه ترسره شي :

- په کرنه کې له ماشین الاتو کار اخیستل
- غوره کېمیاوي سرې په کرنه کې کارول، په کرنه کې د غوره کېمیاوي سرې څخه ګټه اخېستل.
- د کېمیاوي سرې او ماشین الاتو د اخیستلو لپاره اسانه شرایط برابرول
- د نباتاتو د مرضونو د مخنیوي په موخه کروند ګروته درمل په واک کې ورکول
- د اوبو شیندلو اسانتیاوې برابرول
- د کرنیزو تو کو لپاره د مارکېټ پیدا کول
- کروند ګرو ته مسلکي زده کړې ورکول
- کروندګرو ته د لیږد رالیږد اسانتیاوې برابر ول

۲) دصنعتي سکتور پیاوړتیا: په پښتني سیمو کې منځني صنعت وروسته پاتې دی ،د صنعت سکتور کارکردګي او د تولید قوت ډیر کم دی د تولیداتو د پرمختګ لپاره اړینه ده تر څو د کرنیز سکتور عواید او اومه مواد په منځني صنعت کې ولګول شي. په پښتنو سیمو کې د منځني صنعت د پیاوړتیا لپاره باید لاندې اقدامات تر سره شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د سپماوو دودل
- په پښتني سيمو کې د پانګونې شرايط برابرول
- په بيلابيلو صنعتونو د صنعت کارانو هڅول
- دصنعتي پرمختګ لپاره يو منظم پلان جوړه ول
- د پښتنو په سيمو کې صنعتي زونونه جوړول
- صنعت کارانو ته د پور اسانتياوې برابرول
- صنعت کارانو ته د پانګيزو توکو په واردولو کې اسانتياوې رامنځته کول
- صنعت کارانو ته د صنعت په برخه کې د کورنيو او بهرنيو پوهانو له خوا روزنه ورکول.
- د پښتنو سيمو د صنعت د پرمختګ لپاره ځانګړي امتياز ورکول

۳) د مالداري ښه کول: دا چې د پښتنو ډير برخه په مالداري بوخت ده مالداري د پرمختګ لپاره بايد لاندې کارونه تر سره شي:

- حيواني فارمونو جوړول
- حيواني کلينکونه جوړول
- لبنياتو ته بازار پيدا کول
- د لبنياتو د پروسس لپاره د فابريکو جوړول
- د کبانو فارمونه جوړول
- د حيواناتو د پوستکو لپاره د مارکېټ پيدا کول او د پروسس عمليه اجرا کول

۴) ځنګلونه: له بده مرغه د پښتنو سيمو ډيري ځنګلونه په بې رحمه توګه پرې شوي دي ځنګلونه د پښتنو په ژوند کې خورا مهمه ونډه لري. چې د ځنګلونو لپاره بايد لاندې اقدامات تر سره کړي:

- د ځنګلونو د پرې کولو مخه نيول

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د پرې شويوونو پر ځای نوي نيالګي کېنول شي
- د ځنګلونو له لرګيو څخه د بيلابيلو توکو د جوړولو لپاره د فرنيچرو د جوړولو فابريکې رامنځته کول دي .

۵) د نفوسو کنټرول: په پښتني سيمو کې نفوس په ډېره چټکه توګه پرمختګ کوي چې د نفوسو وده په اقتصادي پلان جوړونې اغېزې لري. د نفوسو د ودې د نه مخنيوي په صورت کې د اقتصادي پرمختګ خبره بې مانا ده او د ژوند سطحه نه لوړيږي نو له دې کبله د نفوسو د کنټرول لپاره بايد لاندې کارونه تر سره شي:

- د کورنۍ پلان عملي کول
- له پوهانو کار اخيستل
- د درملو او مشورو لپاره روغتونونه جوړول
- د کم عمره ودونو مخه نيول
- د ښوونې اسانتياوې برابرول
- تفريحي اسانتياوو برابرول
- ځوانانو ته د کار موقې پيدا کول

۶) د پانګې جوړښت: په پښتني سيمو کې د بېوزلې د مخنيوي لپاره د پانګې جوړښت ډېر اړين دی د پانګې جوړښت په سپما پسې تړلی په پښتنو کې د خلکو عوايد کم وي له دې کبله د سپما اندازه هم کمه وي په پښتني سيمو کې بايد د پانګې د جوړښت لپاره لاندې کارونه تر سره شي:

- د غيرې اړينو توکو د واردولو مخنيوي کول
- د بانکونو څانګې په بيلابيلو برخو کې جوړه ول
- په پښتنو سيمو کې د پانګونې هڅې کول
- په پښتنو سيمو کې د کار موقې پيدا کول

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د پښتنو په سیمو کې د مالي ادارو جوړول

۷) مسلکي پوهه: په پښتنو سیمو کې د بېوزلي او بیکاري د له منځه وړلو لپاره مسلکي پوهې ته اړتیا ده نو له دې کبله باید عامه ښونیزو ادارو پر ځای مسلکي اداري جوړې شي د مسلکي پوهې په وسیله وسایل په ښه توګه کارول کېږي چې ورسره ملي تولیدات او سړي سر عاید لوړیږي.

۸) ټولنیزې چوپړتیاوې: په پښتني سیمو کې د ښوونې ،روغتیا ،داوسیدو ،د پاکو اوبو چوپړتیاوې برابرې شي چې ورسره په هیوادکې کاري وړتیا ډیریږي،ملي تولیدات او سړي سر عاید لوړیږي چې ورسره د خلکو په زړونو کې د پرمختګ هڅې ډیریږي.

۹) ټرانسپورټ: ټرانسپورت په اقتصادي پرمختګ کې اساسي ونډه لري د پښتنو د اقتصادي پرمختګ لپاره باید د پښتنو په سیمه کې لوې ټرانسپورتي لارې جوړې شي.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالهادي قریشي

# د لرو، برو پښتنو د پیوستون لارې چارې

ددې لویې غونډې عزتمندو، درنو ګډونوالو، ښاغلیو علماوو استادانو او اغلیو السلام علیکم! خوښ یم چې ځو شیبې له تاسو سره هم صحبت یم – دا چې کومې لارې چارې یې ولټول شي، ترڅو د لرو برو درنو پښتنو د پیوستون لپاره کاروایې او عملي پیوستون یې هم تر سره شي، په دې اړه لنډې خبرې ،تیوري او له محبت ډک اندونه لرو :

ښاغلیو او اغلیو !

ښايي تر ټولو لومړی د یوه لنډ تمهید (پېژندنې، وضاحت) په توګه ځینې خبرې تر ځیرنیز لید لاندې ولرو او د حالاتو جاج واخلو !

جناب اعلیحضرت احمدشاه بابا غازي په (۱۷۴۷م) کال په یوې (۹) ورځنۍ جرګه کې کوم چې د ښکلي کندهار په ښېر سرخ نومي ځای کې جوړه شوې وه – د جرګې د پرېکړې په پام کې نیولو سره د افغانستان د ټولواک په توګه وټاکل شو.

نو هغه ستر شخصیت ډېر ژر پرګنیز بنسټ پیدا کړ او یوه ستره اردو یې جوړه کړه . لومړي ځل لپاره په افغانستان کې توپ او باروت جوړ شول او د پاني پت په جګړه کې استعمال شول – دغه اردو چې ګڼه یې (۱۲۴۰۰۰) تنو سپرو او پلي او توپچي ځواکونو ته رسیدله په خپل خوا کې یې د هر کاره باشي (استخباراتي) قواوي او هم یې د اساس او شهنا (کوتوالي یا پولیس) هم درلورل او نور ملکي او دولتي تشکیلات یې بشپړول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه یوه لویه ستر واکې (امپراطورئ) جوړه کړه او هغه په وطن مین – مومن – هیواد پال – عادل – باطور – زړه ور ټولواک و . هغه به ویلي :

د ډیلي تخت هیرومه چې رایاد کړم

دخپلي پښتونخوا د غرو سرونه

یا یې په دري کې ویلي دي :

ما به صلحیم و فلک درپي جنګ است اینجا

دل ازین حادثه بسیار تنګ است اینجا

هغه بزرګوار د لوي افغانستان اساس کېښود -

خو ورو-ورو دغه لوي سرحدات له اعلیحضرت شاه زمان خان څخه وروسته کوچني شول او یو کوچني افغانستان په اوسنئ جغرافیایې اډانه کې مونږ ته راپاتي شو.

چې په جلا جلا مهالونو کې بیلا بیل ژمنلیکونه یعنې د سرحدونو تعین پیمانو ته لاسلیک (عقد) شول لکه : د آمو دریاب پوله په (۱۸۷۳) د امیر شیرعلي خان په عصر کې دافغانستان او روسیې تر منځ د (۱۸۰۰) کېلو مترو په اوږدوالي د ریجوې خط په (۱۸۸۷) کال کې د پامیر خط په (۱۸۹۵)م کال کې د مکمهان خط په (۱۹۰۵) کال کې او د ډیورنډ کرغیړنه کرښه په (۱۸۹۳)م کال کې د نومبر په (۱۲) د (۲۴۱۲،۵) یا (۲۴۲۴) کېلو مترو په اندازه په فرضي توګه د سر هاتري مارټیمر ډیورنډ د برتانوي هند د سیاسي استازي کوم چې د هماغه کال په اکتوبر کېیې د کمکې خیبر له لارې له (۱۰۲) ملګرو سره د کابل بتخاک سیمه کې هر کلي شوي او بیا د (۴۰) ورځو لپاره په چهلطقوت مانۍ کې دیره شوي و – او بیا یې د اعلیحضرت عبدالرحمن خان سره یاده

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاهده یوازې په نقشه کې موضوع په ګوته کړې ده ، خو یوازې د زور او به په پیچومي خیژي متل دي او بس .

له هماغه نیتې څخه بیا تر اوسه داسي اسناد نه د برتانیا په بهرنیو چارو وزارت کې او نه په کابل کې شته ، چې رسماً یې ثابت کړي چې دغه کړښه رسماً مهر – امضا شوي وي نه دلته پارلمینټ و او نه لویه جرګه بلل شوې وه او نه ملت تایَید کړېده .

چې په هماغه مهال امیر عبدالرحمن خان او له هغه څخه وروسته (۱۶) پاچاهانو تر اوسه پورې د ښاغلي افغان ملت په شمول دغه کرښه نده منلې او هغه یعنې د ډیورنډ کرغیړنه کرښه صرف د فرضي خیالي کرښې په توګه ګڼل کېږي .

نو همدا لامل و ، چې له (۱۹۲۴) م کال څخه راپه دې خوا بیا تر (۱۹۴۷) کال پورې د جناب خان عبدالغفار خان او بیا د هغه تر څنګ مولانا ابوالکلام آفراد او ګاندهي جي سره په ګډه مبارزه پیل کړه او لومړي کانګرس هندي پارټۍ جوړه شوه او په خوا کېیې د (اصلاح الافغان انجمن (انجمن اصلاح افغانه) په اپریل (۱۹۲۱) کې جوړشو او په دې کې ډیر پښتانه څه آخوا او څه دیخوا سره راټول شول –چې په دې کې هم سیاسیون – فرهنګیان قلموال او ملي شخصیتونه او رجال شامل شول .

څرنګه چې د امیر حبیب الله خان په عهد کې د کوزي پښتونخوا جمو حالت او بره پښتونخوا (سیاسي بیلوالي) یا (----) په افغانستان کې د نهضت مشروطیت یا د باچا خان په خبره یو آیني تحریک د مختلفو انجمنو او ټولنو په شکل کې څرګند شو – غازي باچا شاه امان الله خان د ټولو تحریکونو او ټولنو سره په پټه او څرګنده تماس حاصل کړي و او افغانستان تر شاه امان الله خان تر مخه د یو پروتکتورات دولت او یا د یوې کالونۍ بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلود .بیا جناب پاچا خان د خان عبدالغني خان په مټ په هند کې (زلمو جرګه) په (۱۹۲۹) سپتمبر کې او په نومبر کې د (خدایي خدمتګارانو تحریک) جوړ کړل او بیا په (۱۹۲۸) کې د (-----پښتون) مجله د وګړو د اندونو د خپرونو او ښو تبلیغاتو د خپرولو او هم د فرهنګیانو آواز د اوچتولو او د پښتنو دمضرو او دښمنو کسانو د دیماګوژیک پروپیګنډو د شنډولو لپاره دغه مجله خپره شوه او لا تر اوسه پورې ښه ځلیږي چېهمدا مجله د یاد انجمن قلمي ،فرهنګي نوښت و چې فکري انقلاب راغي او د ټولو پښتنو او د افغانانو په بیدارئ کښې رول درلود .

خو جناب پاچا خان او د هغه ملګرو ډیرې ستونزې وګاللې حتي هغه کس درې ځلي زنداني شو چې په ډیر بد زندان کې ------------------کښې هم ډیري ترخې ورځې شپې تیرې کړیدي.

پر هغه مهال جناب فخر افغان پاچا خان په پښتنو کې د یوه سم انقلاب یعنې د

(عدم تشدد) راوستو لپاره ډیر ښه پروګرام جوړ کړي وه لکه چې د پښتون مجلې په (۲۰۰۷) کال جولاي لومړئ ګڼه کې په (۴۸) مخ کې راځي :

پښتنو ته یې یو ځل بیا د خپل حق د غوښتلو او حاصلولو لپاره چل وروښود او ورسره یې د نوې ډیموکراسئ اصول وښودل .

باچا خان او د هغه ملګرو د یو داسې جهاد بنسټ په پښتونخوا کې کښود چې هغه په توره نه و ، بلکې په علم او قلم باندې ولاړ و او پښتون ولس او ټول افغانان یې د عدم تشدد (-------------------------) په لاره راواړول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اختصاري توګه !

د باچا خان او د نورو ټولو پښتنو د لوړو خيالاتو او اندونو رمز او د لرو برو ولسونو د پيوستون لپاره تيوريکې لارې چارې او لنډه کتنه :

په دې کې شک نشته چې د (۱۹۴۷) کال څخه را پدېخوا د پښتنو د ځپلو لپاره په اسلام اباد کې د پوځي کميشنرانو او استخباراتي کړيو او د بازيو عاملان او هم د پنځمي ستنې او په اوسني مهال کې د پروکسي وار (------- ----------------) ځپونکې او اجاره شوې وژونکې لوبې ، بمبارئ ، ښوونځي سوځوني لا پايښت لري .

په دې توګه به کلونه ، کلونه لکه د شلمي پيړئ ټولو ورځو او مهالونو په څير به پښتونستان او بلوچستان د يوه حايل (----------------) په توګه وي څه د روس او لويديځ تر منځ او څه نور-

او دغلته به جګړې وي هغه د پيرنګي د (۱۵۰) کاله دمخه هغه د بې اتفاقي او شافت کهيل فورموله به چې د شرق لپاره يا پښتنو لپاره .

۱ : فقر

۲ : جهل ( بېسوادي )

۳ : مرض

به هميشني وي او د هغوي په منځ کې به د بې اتفاقي لوبې جاري وي ، نو دغه سپيڅلي ولس ځوريدلي ولس او کړيدلي ولس او خاوره به تر ښکېلاک او زبېښناک (کلوتياليزم او ايکسپوليشن )لا ندې وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا به تر څو دومره سترې شي او وربرېږي او تر خطرونو لاندې وي . ښه دا ده چې لرو بر پښتانه سره په يوه واحد اند يو ځاي شي او د استعماري او ( ) شومو پلانونو په وړاندې په يوه قوي ځواکمن متې ( واحد طاقت ) په توګه دغه توره لومه خيرې کړي او واحد لوي افغانستان جوړ کاندي لکه په لاندې ټکو کې :

تر ټولو لومړي دې واحده رهبري او لارښود چې حقيقي جان نثار لارښود وي په شاوخوا راټول شي او جرګه دې شي او يوه واحد ژمنليک د طرح اصول او عملي کاندي او تر يوه بيرغ لاندې متحيدانه مبارزه وکړي د ښوونځيو او درس تعليم لپاره د يوه واحد وطن ( لوي افغانستان ) تعليمات وشي په حب الوطن سره دې په پښتني معاشرت او لوړې وطني ------------- خيالاتو دسمون او تره قي او واحد پيوستون لپاره روزنه او پالنه وشي .

سياسي ليډران پاليسي جوړونکي علمي - فرهنګي رجال او نور روڼ اندي او ملي شخصيتونه دې سره په يوه واحده سلا او خبره ايکي يوازې د پښتنو (لروبرو) درنو ولسونو لپاره په خورا اهميت او سياسي -او د نهضتونو په خالصانه صادقانه سپېڅلي مشارکت سره د نوو لارو چارو بندوبست وکړي.

په پوځي پوهي سره د ځان او متې رغول پالل او يو بل ته سره لاس نيوي او پوره ملاتړ او د يوې لويې جرګې چې د قبيلوي ټولنې اصلي بنيادي توکې دي او پيوستون رمز پکې نغښتي دي ، جوړه شي او بيا د بهرنيو په وړاندې ملي جهاد اعلان او ملي مبارزه پيل شي .

نو دا د ګران افغانستان د نورو اقوامو د پوهو شخصيتونو ملاتړ هم حاصل کړي او په يوه ځواک به مبارزه پر مخ يوسي او بريالي به وي او له ظلم تاريک بيني څخه د ژغورني نجات او د ملي يو ځاي والي پيوستون

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنصر به وي – په سياسي شننو سره بايد وپوهېږي او استخباراتي کړي اخوا پښتنو لپاره ضروري بريښي – او خپل ځانو ته بايد د پنځمي ستني له لومي څخه وژغوري او په وړيا توګه قرباني ورنکړي، بلکې هره چاره هدفمنده او ملي وي .

کوچني تحريکونه د لويو نهضتونو او په تيره بيا د جناب باچا خان د مفکورو پيروي وکړئ او په دې توګه دې مبارزه قوي ګړندئ کوټلې او واحده کاندي .

د اخيستلو ځايونه !

پښتون مجله – جنوري (۲۰۰۷) لومړئ ګڼه د پيښور چاپ

جرګه مجله (۱۳۸۹) کال د زمري مياشتي ګڼه – کابل

په سيمه کې د جرګو تاريخ او ارزښت د عبدالهادي قريشي اثر

د پښتنو مبارزې الفت مجله (۱۳۸۵) پيښور

باچا خان او عدم تشدد – په نړيوال کنفرانس کې علمي تحقيقي کنفرانس کې د حامد کرزي وينا – له رسالې څخه -

افغانستان د جمهوريت په کالونو کې د ښاغلي غفار فراهي اثر څخه -

لېه مجله د (۱۳۸۵) دوهمه ګڼه کې د ښاغلي ډاکتر روستا تره کي او د ډاکتر محمد حسن کاکړ مقالو څخه

د باچا خان ليکونه – دښاغلي بختاني صاحب اثر څخه اخيستنه -

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیورنډ لاین مقاله – د جرګې مجله د (۱۳۹۱) کال دویمه ګڼه د عبدالهادي قریشي مقالې څخه –

باچا خان دستر آزادي دوست شخصیت په توګه د (۱۳۸۹) کال دوهمه ګڼه د مطالعات ستراتیژیک مجله د عبدالهادي قریشي لیکنه – د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت خپرونه.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسدالله داودزی

دافغان پوهنتون دنړیوالو اړیکو او سیاسي علومو استاد

# دلرو او برو پښتنودپیوستون لارې چارې

دشپېتو کلونو څخه د ډېرې مودې راپدېخوا د لراوبریوپښتون،یو افغان او پښتونستان چغې وهوخو تراوسه یې هېڅ کومه ګټه او پایله نه ده لرلې بلکې په دې اړه دخپلونا دوراندېشه، بې سنجشه اوپراحساساتو ولاړو لارو اوسیاستونو له کبله دلانورو ډېرو ستونزو ،غمیزو ،ننګونو اومشکلاتو سره مخ شولوچې لاتراوسه ورسره لاس اوګرېوان یو.

ددې قضیې په اړه نه موږاو نه زموږحکومتونو کومه متفقه، عملي، روښانه، څرګنده او په عیني واقعیتونو ولاړه تګلاره، دریځ او ډپلوماسي نه لرله بلکې زموږدغې متزلزلې،ژربدلیدونکې،کاواکه او ناروښانه کړنلارې هم په خلکو کې او هم په نړیواله ټولنه کې ددغې قضیې مشروعیت، حیثیت او اعتبارله مینځه یوړ.

کله هم چې دلراوبرپښتنودپیوستون خبره کېږي نوهلته به ضرور دهغوي د بېلتون خبره هم کېږي چې کوم وخت او دکومو لاملونو او عواملوله کبله دغه ستریوموټي ولس په دوه بېلابېلوبرخو او دوه جلا جغرافیو وویشل شو.

دبېلتون موضوع ټولو ته جوته ده چې دچاله خوا په کوم وخت کې ددغه لوی قوم سره دغه جفا او سترتاریخي ظلم ترسره شونوله بیلتون څخه تیریږم او غواړم په پیوستون او دهغو په لارو چارو وغږیږم.موږچې کله د دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو د پېښور ستون خبره کوو نو دا باید په پام کې ولرو چې دا دوه اړخه او بعده لري چې دا په خپله دوه بنسټیزې او اساسي پوښتنې راولاړوي، یوه یې دا چې مورږ د لراو بر پښتنو پيوستون د جغرافیو د پیوستون په تناظر کې غواړو؟او که د جغرافیې او پولو د پیوستون پرته له نورو لارو چارو څخه؟

زه نه غواړم دلته د جغرافیې د پیوستون په تناظر کې د پښتنو پرپيوستون خبرې وکړم بلکې غواړم د جغرافیې د پیوستون پرته له نورو لارو چارو څخه پرپیوستون وغږېږم.له دې وړاندې چې د پیوستون دغه لارې چارې په ګوته کړم اړینه بولم چې ووایم چې په دې اړه ټول پخواني روشونه او دریځونه ناکامه شوي دي او باید اوس د نني عصر د تقاضاؤ، غوښتنو او ځمکنیو واقعیتونو په رڼاکې خپل نوي روش او دریځ غوره کړو چې دغه نوي روش او دریځ تر ډېره بریده په لاندې لارو چارو کې روښانه کړې دي، دغه لارې چارې په لاندې ډول دي:

:۱کولتوري،فرهنګي او ادبي تبادله او همکاري:

څرنګه چې ټولو ته معلومه ده چې د پولې دواړو غاړو ته میشت پښتانه ګډ او مشترک کولتور، فرهنګ،ژبه او ادب لري خو سربېره پردې مشترکاتو بیاهم په دغو برخوکې یو له بل څخه لرې پاتې شوي دي او په دې برخه کې تراوسه پورې داسې کوم د پام وړ اقدام او هڅه نه ده شوې چې د کولتوري مناسباتو تبادله رامنځ ته شوې وې او یاهم ګډ کولتوري،فرهنګي او ادبي ناستې، غونډې، مجلسونه، محفلونه، مشاعرې، بحثونه او راشه درشه ترسره شوې وي، که څه هم ځینې وختونه په غیررسمي توګه لږډېر تبادلې کېږي خو هغه هم په اوړو کې د مالګې په اندازه.نو که غواړو چې دواړه پښتانه سره په فکري، کولتوري، فرهنګي او ادبي مزو سره وپېيلوو نو کولتوري او ادبي تبادله یې تر ټولو غوره او اسانه لاره ده.لکه د ګډو مشاعرو، ادبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډو ،دکولتوري ورځو د نمانځلو ، د مشترکو ویاړونو اوګډو ورځو اوشخصیتونو دلمانځلو له لارې.

۲: دموادو او معلوماتو تبادله:

د پښتو ، پښتنو ، پښتانه شخصیتونو ، ویاړونو ، تاریخونو او دپښتو او پښتنو په اړوند دنورومعلوماتو او موادو تبادله چې دکوزې پښتونخوا څخه په پورته برخو کې دلته معلومات اومواد راوړل اوتبادله کول او له دې ځای څخه هلته،که هغه په هره بڼه وي دمجلو ،جریدو ،اوونیزو ،مهالنیو او کتابونو له لارې وي او یاهم دویبپاڼو ،بریښنالیکونو او نورلارو وي ځکه چې دیوبل په اړه ددواړو پښتنوبې خبري او سمو اومعتبرو معلوماتو اوموادو ته نه لاس رسي دوي یوله بل څخه پردي او اجنبي کړي او ډیروخت دیوبل له حالاتو او جریاناتو څخه بې خبره او غافله پاتې کېږي چې دا په خپله دیوبل څخه دواټن اخستلو اولري کېدلو لامل ګرځي.

په دې برخه کې غواړم یو لنډ مثال وړاندې کړم،ماخپله ځاني د کوزې پښتونخوا دپښتو مجلو دمسوولینو سره په دې اړه ډیرې خبرې کړې دي اوهغوي مې دې ته هڅولي چې خپلې مجلې دلته هم راولیږي ځکه چې له مخکې څخه هغوي دلته حتما یو استازی لري، نو کولای شي دهغه سره په همغږۍ دغه کاروکولای شي اوهمدارنګه ددې خوا فرهنګیانو سره مې هم په دې هکله خبرې شوي دي ترڅو دوي خپلې مجلې اوجریدې هلته دخپل استاځي له لارې ولیږدوي ترڅو دواړه پښتانه دیوبل مطالبو اوموادو ته په اسانه توګه لاس رسي ولري او یودبل څخه په ښه توګه خبرشي.

په دې برخه کې ما دپښتنو اوپښتود ریښتوني استاځې اوترجمانې مجلې (لیکوال) له قدرمن مسؤول مدیرنورالبشرنوید صیب سره خبرې وکړې او هغوي په ډیرې لیوالتیادا خبره راسره ومنله اوویې ویل چې دا کاربه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک وکړي؟نوما ورته وويل چې په کابل کې ستاسو استاځي،نو هغوي وويل:چې استاځي مو داکارنه شي کولاي ځکه هغوي يواځې دمجلې ترپانې استاځي وي نوريې له دې کارونو سره سراوکارنه لري،نو ماورته وويل چې زه دې کارته په رضاکاره توګه غاړه ږدم زه هسې هم په مياشت دوه مياشتو کې يوځل ضرور ځم اوراځم،نو هغوي ډيرخوشحاله شول خو دايې هم راته وويل چې ليکوال مجله دپاکستان دپوځ اواستخباراتو پسې ډيرې خبرې کوي نو هلته په ورلو کې په لاره کې څه ستونزه درته جوړه نه کړي؟!نو ماورته وويل:چې چمتو يم چې دا رسک او خطرپه غاړه واخلم.

اوهمدارنګه مې دپسرلي مجلې دقدرمن مسؤول مديرذبيح الله احساس صيب سره هم خبرې شوي چې ان شاالله ډيرزربه دا معتبره مجله هم له دې ځايه هلته تبادله او انتقال شي،سره له دې پسرلي دپاکستان پرضد ډير تبليغات او ليکنې کوي خو بياهم دلراوبرپښتنو دمسايلو په اړه په کې ډيرمواد شتون لري اونسبت نورو پښتو مجلو ته په دې ارزي چې کوزې پښتونخوا ته يوړل شي.دا و په دې برخه کې يوه وړه اوناچېزه هڅه ،خو زه باورلرم که چېرته دغه تبادله په پراخه او منظمه توګه ترسره شي نوددواړو پښتنو په نږدې کېدو کې ډيرګټوراو ممد ثابتيداي شي.

**۴**: دقومونوراشه درشه او ګډې جرګې او شوراګانې:

دډيورند دپولې دواړو غاړو ته يو قومونه مېشت دي چې کولاي شي د دواړو خواوو دقومونو راشه درشه،تبادله،اړيکې،ګډې ناستې او جرګې دغه کرغيړنه کرښه په خپله له منځه وړلاي شي او دغه يوقوم چې يادې کرښې په دوه ؤ خواوو ويشلي له يوبل سره نږدې کولاي او يو کولاي شي.

دبيلګې په ډول دپولې دې غاړې ته م شينواري، مومند ، اپريدي، سليمانخېل، علي خېل، اڅکزي، کاکړاو نور قومونه پراته دي او له پولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوا هم،نو ددواړو غاړو دغه هریوقوم خپله یوه ګډه جرګه،شورا او ټولنه جوړولاي شي چې وخت په وخت له یوبل سره کښیني او اوونیزې،میاشتینۍ او مهالنۍ جرګې،ناستې او غونډې ولري او په خپلو مشترکو ستونزو ،مسایلو او مشکلاتو سره وغږیږي او خپل ترمنځ همغږي رامنځته کړي او په دې هکله دګډ دریځ په غوره کولو سره ګډکار او مبارزه وکړي چې دا پریوبل داعتماد او باور جوړیدو او دیوبل سره دمینې او راشې درشې دزیاتیدو لامل ګرځیدلاي شي چې دا په خپل وارسره دپولې حیثیت اوددوي غیرقانوني او په دوه جغرافیوویش او بیلتون له منځه وړي او دوخت په تیریدو سره ددوي دا اړیکې دومره پیاوړې کیدلاي شي چې بیا یې هیڅ ډول پولې،ترونونه،دولتونه او جبراو ظلم نه شي بیلولاي.

په دې برخه کې زه یوځل بیا غواړم خپل یو لنډ او وړوکې مثال وړاندې کړم،موږپه خپله شخصا دغه پورته طرحه پرځان پلې او عملي کړې ده او دلراوبراودزي قوم مشترکه اوګډه ټولنه مو جوړه کړې ده ترڅودغه یو قوم چې په دوه بیلابیلو جغرافیو اوسیمو کې چې د ډیورند دکرښې څخه هم ډیرلرې میشت دي سره بیرته یو کړو او ددوي ترمنځ بیرته پخوانۍ اړیکې او خپلوي تازه کړو ترڅودوي له یوبل سره اودیوبل سیمو ته راشه درشه او تګ راتګ ولري اومشترکا د دوادزي قوم لپاره دخدمت،چوپړ اویووالي لپاره له دواړو لور څخه هلې ځلې وکړو نوکه دغه رازدپښتنوهر هغه قوم چې دغه شومې کرښې په دوه جغرافیوویشلي دي دغه طرحه پرځان عملي کړي نو لرې نه ده چې ددغه قومونو ترمنځ به دجلاسیمو او جغرافیې واټن له منځه ولاړشي او په هم پ فکري اوفزیکې لحاظ سره یوشي.

**۵** ګډې تلویزوني خپرونې،پروګرامونه،بحثونه او ګردي میزونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددوا ړنوو لوریو پښتنې رسنۍ باید ګډې رسنیزې(که هغه چاپي وي که غږیزې او یا انځوریزې) خپرونې، ګردي میزونه، بحثونه، اوپروګرامونه ولري چې ددې لوري پښتانه دهغوي دخپرونو او مطالبوته لاس رسي ولري او دهغې غاړې پښتانه ددې خوا خپرونو او مطالبوته او همدارنګه دپښتنو دستونزو په اړه ګډ ګردي میزونه اوبحثونه یوګډ حل او ګډ دریځ رامنځته کولای شي چې ددغوستونزو اومسایلو په اړه ګډدریځ اوبیا دهغو لپاره ګډ کاربه ددواړو لورو اړونده خلک سره نږدې اوپیوسته کړي.

:۶ دپښتنو شخصیتونو، مهموچارواکو، فرهنګیانو، هنرمندانو، کارپوهانو، ښوونکو، زده کړیالانو اوځوانانو تبادله او راشه درشه:

دپورته اشخاصواوافرادو راشه درشه اوتبادله زموږترمنځ دشته واټن، بې باوریو اودیو بل په اړه دناسمو انګیرنوپه له منځه وړلوکې ډیرګټوږثابتیدلای شي، که چېرته دبیلابیلواقشارواوځانګوځخه یاد پښتانه دیوبل سره له نږدې څخه وګوري او دنظرونو، تجربو او مهارتونو تبادله وکړي نو ددوي ترمنځ له یوې خوا د ډیرې مودې فاصلې ختمیدای شي له بل لوري یو دبل له سیمې اودهغو دستونزو، مسایلو اوموضوعاتو څخه په ښه توګه خبریدای شي اوهغه بدګمانۍ چې دوي دیوبل سیمو او حکومتونوپه اړه له ډیره وخته له ځانه سره لري په له منځه وړلو کې خپل رول اونقش لوبولای شي.

:۷ دلراوبرپښتنودیوې ګډې اودوه اړخیزې ټولنې، بنسټ او یامرکزایجاد اورامنځته کول:

دلراوبروپښتنو دپیوستون په موخه بایدیوګډه ټولنه، بسټ او یاهم مرکزرامنځته شي دلراوبرپه نوم په کابل اوپیښبور کې دوه چپټره، ځانګې اوجوړښتونه ولري چې هرچپټرپه خپله سیمه کې دهمغږۍ، همکارۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیوستون لپاره ګډه مبارزه اوکاروکړي او د دواړو غاړو پښتنو د پرمختګ، پوهنې کولتور، ژبې، ادبیاتو اونورو مشترکو مسایلو اوستونزو دحلولو په باب مشترکې غونډې،برنامې،پلانونه،پروګرامونه اوفعالیتونه ولري.

دا اوداسې نور ډیرنوښتګرابتکاري برنامې اوفعالیتونه داوسني پیراوعصردتقاضاؤ،غوښتنو او واقعیتونو سره په تطابق اوسمون کې دلراوبرپښتنودپیوستون پروسه پیاوړې،ګړندئ او ډاډمنولای شي،نه پراحساساتو،جذباتو،تیروتاریخي ناکامه هڅو،تجربو اوایډیالیزم ولاړ سیاستونه،دریځونه،او روشونه لکه څنګه چې اوس هم دډیرو پښتنو حتې دپوهو او روڼ اندو پښتنولخواهم پرمخ وړل کیږي چې دګټوپرځای یې ددواړو لورو پښتنوته زیان اوناوړه پایلې ډیرې لرلي شي چې لرلې یې وي.

نو په اخرکې زماله دغو اشخاصو اوخوځښتونو څخه هیله او تمه دا ده چې دوي دې یوځل دغه پورته یادې شوې طرحې او وړاندیزونو باندې له احساساتو او جذباتو پرته په سړه سینه غوراو فکر وکړي.

دلراوبرپښتنودپیوستون په هیله اوامید

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتانه

موږ ټول اورو چې پاکستان د دې ټولو بد بختيو لامل دی. دا خو سمه ده چې په ظاهره پاکستان د دې صحنې لوبغاړی دی، خو هغه چا چې دغه لوبه جوړه کړې او تنظيموي يې د پردې ترشا کار کوي د هغو پېژندل په کار دي. خلک به هر څه هر څه وايي مگر زموږ اصلي دښمن هغه څوک دی چې د يو اوږد پلان د عملي کولو لپاره يې پاکستان جوړ کړی او له هغه نه خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره د اډې کار اخلي صحنې جوړوي.

زموږ تاريخي او جغرافيوي موقعيت:

ټول په دې پوهيږي چې زموږ خاوره په سنسکرټ کې اريدورت او پښتو کې اريا ورشو بلل کېږي نږدې شپږ زره کلن تاريخ لري او د اسيا په زړه کې پرته ده. دغه خاوره په يوه اوچته پوړۍ کې پروته ده چې په سمسورو ځنگلونو، باغونو، بهانده سيندونو او دښتو او هوارو ځمکو او ښکلې هوا لرونکو اوصافو جوړه ده. په دې خاوره کې ميشته ولس افغانان بلل کېږي د افغان کلمه هم ډېر قدامت لري، هغه داچې، هغه دا چې د ارياپانو لمړي پاچاه ځان (اپگان) باله او د هغې مانا ده (زړور) ورو سته دغه کلمه د عربو له راتگ سره په افغان بدله شوه خو نور اروپائيان دغه کلمه په خپله لحجه څوک اپگان، څوک اوگان او څوک افگان تلفظ کوي چې اصلي ازيائي نژاد او د افغانستان په مختلفو ساحو کې اوسېدل. ځکه نو د احمدشاه بابا د پاچاهي په دوره کې د محلي نومونو پر ځای هغه سيمې چې د يو قلمرو لاندې وې د يو لوی گډ کور يا گډ مملکت نوم افغانستان غوره کړ. د افغانانو بل نوم د پکت، پخت، پښت او پښتون يا پټهان ياد شوي خو اوس د افغانستان ټول کامونه او توکمونه په يو نامه (افغان) يادېږي او په ټوله نړۍ کې پېژندل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د افغانستان جیو پولیټیکل موقعیت:

د هند کوچنۍ وچه د افغانستان په جنوب شرق کې پرته او خورا سمسوره او شتمنه خاوره ده د توکم په لحاظ اریایي نژاد لري. د افغانانو سره د نژاد او توکم له لحاظه نږدې اړیکې لري او ځینې افغانان د خپل ابایي چې هند کې د مېشته کېدو او د وکمنې تر لاسه کولو په هڅه له مغلو سره لاس په ګریووان و چه له هند سره ښې هېڅ اړیکې نه لري صرف د ملکونو نیولو په ترڅ کې یې ډېرې سیمې لاندې کړې وې.

د افغانانو او مغلو ترمنځ سوونه کاله جګړې روانې وې . افغانانو په هندوستان حکومت کړي او د بنګال نه را نیولې تر پایتخت ډهلي پورې سړک د شیرشاه سوري په وخت کې جوړ شوي دغه شان دېرې پخې کلا ګانې او بالاحصارونه یې په دېرو ښارونو کې جوړ کړي و چې اوس هم موجود دي. خو د شیرشاه له مړینې وروسته دغه سلسله د هغوي د زامنو او اولادونو ترمنځ د بې اتفاقۍ ښکار او هڅه برم ورته پاتې نه شو.

انګریزان له یورپ څخه د هند د تسخیر په موخه راغلل او په خو کلونو کې یې د افغانانو او مغلو سلسله غوڅه او خپل حکومت یې جاري کړ. دا مهال په افغانستان کې د احمد شاه بابا د زامنو دوره وه. انګریزانو یوائې د هند په نیولو اکتفا نه کوله او غوښتل یې چې افغانستان هم د هند په مستعمره پورې و تړي ، ځکه یې په افغانستان حملې پیل کړې. انګرېز حکومت د سمندر له لارې په هند قبضه ټینګه کړې وه او هڅه یې کوله چې افغانستان هم لاندې کړي او د روسیې پولو ته ځان ورسوي خو په دې کار کې له درې واړو مسلحو جګړو وروسته هم ناکام شول.

د افغانستان جیو پولیټیکل موقعیت او په هغه کې مېشت غیرتمندو افغانانو هېڅ یو متعرض او مهاجم طاقت ته اجازه نه ورکوله چې د دوي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرتېر او روس برید وکړي او یا د هند خاورې ته د دوي په سرتېر او حکومت وربانديې وکړي ګواکې د شرق او غرب له خوا د دوي په سر د تېرېدو او بریدونو کوښښ رواون و او دوي (افغانانو) یې د سر او مال په قربانۍ مخنیوي کاوه او حائل ګرځېدل. انګرېزان د افغان او افغانستان په ارزښت پوهېدل او کوښښ یې کاوه چې د جګړې په وسیله وي او که د پټو سازشونو سازشونو له لارې په افغانستان کې خپل نفوذ ټینګ کړي. د مخامخ جګړې په وسیله خو څو ځله ناکامه پاتې شول. یواځې د پټو سازشونو له مخې چې د امیر محمد یعقوب خان او عبدالرحمان خان سره یې کړي دي د افغانستان یوه لویه برخه یې د کال اتلس لکو کلدارو په بدل کې انګرېز ته پرې ایښې وه چې افغانانو تر اوسه هغه نه ده منلې او نه یې هغه اتلس لکه کلدارې کله تر لاسه کړي دي چې انګرېزانو د اجارې په شکل منلې وې ، د غه د عبدالرحمان خان او د ډیورنډ ترمنځ تړون د ډیورنډ لاین په نامه یادېږي چې انګرېزانو موږ ته د یو درد سر په څېر نومولې ده که څه هم موهومه او مجهوله کرښه ده ښکاره موجودیت هم نه لري.

خو د افغانان نېکبختي په دې کې ده چې په نولسمه پېړۍ کې د ازادۍ ستوري و ځلېد او دغه ډول ټول تړونونه لغوه اعلان شوي. دا په کال ۱۹۱۹ کې د اعلحضرت امان الله خان غازي د پاچاهي سره سم رامنځ ته شوي. په سر کې انګرېزانو دغه اعلان او د تړونونو الغا نه منله او په جګړه یې لاس پورې کړ ، نو کله چې په جګړه کې د ماتې سره مخ شول نو د افغانستان خپلواکې او د تړونونو ماتېدل یې و منل . خو د افغانستان خپلواکي له داسې یو قدرت څخه چې په قلمرو کې یې لمر نه پرېوته ساده او معمولي خبره نه وه . دا لمړي ځل وه چې د دومره لوي قدرت په وړاندې یو داسې کوچني هېواد ودرېږي او په ډېره مېړانه سره خپله خپلواکې اخلي . دغه یوه تاریخي پېښه وه چې د انګرېز د زوال په مانا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګرېزان په دې و پوهېدل چې د افغانانو سره مخامخ ډغرې وهل څه ګټه نه لري نو د ابلیس لاره یې غوره کړه او د اعلیحضرت غازي امان الله خان په مقابل کې یې له خپلو جاسوسانو کار واخیست ، چې د روحانیونو په جامه کې یې غلط او ناروا پروپاګندونه کول. افغانان په تېره بیا نالوستي افغانان خو د ملا او مولانا خبرو ته غوږ ږدي او هغه په سر سترګو مني. هغوي د شیطان صفته روحانیونو په خبرو وغولېدل او را و پارېدل هلته په کندهار کې د اعلیحضرت په ملاتړ او مخالفت دوه لوي کامونه یو د بل په مقابل کې و درېدل نږدې وه چې دغه دوه ورونه کامونه په وینه تویونه یو د بل ابدي دښمنان شي ، اعلیحضرت د پته حاضر شو چې هغوي ته د وینو تویولو پر ځاي له پاچاهي نه لاس په سر او وطن هم د تل لپاره پرېږدي.

د افغانستان لپاره دا لویه ضربه او خساره وه چې د یو داسې پاچاه له سیوري محروم شو چې غوښتل یې د بر ژر د نړۍ له سیالو سره سیال شي. د اعلیحضرت د لاس په سر کېدو وروسته هېواد ډېر کلونه له جمود او خمود سره مخ شو. په کال ۱۹۴۰ کې په اروپا کې په اروپا کې د نړۍ دویمه جګړه پیل شوه چې دې جګړه کې انګلستان ښکېل شوي و پنځه کاله جګړه روانه وه او په ۱۹۴۵ کې دغه جګړه د انګلیس او امریکې په ګټه پاي ته ورسېده.

د دویمې نړیوالې جګړې د پاي ته رسېدو وروسته استعمار لاندې ملکونو ته په پرلپسې غوښتنو په غبرګون کې استعمارګر حاضر شول هغوي ته خپلواکېو سپاري ، خو د تل پاتې ګټو د خوندي ساتلو لپاره یې نوې لارې چارې جوړې او په کار واچولې او هغه دا چې په خلیج کې د اسرائیل په نوم یو نو مملکت منځته را و باسي او هغه د غربي امپریالستي ملکونو لپاره د عربو د تېلو څخه د ګټې اخستلو لپاره د ژاندارم په حیث کار ورکړي او د اسیا په دې برخه کې چې یو ستراتیژیک اهمیت لري د اسلامي جمهوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت په نوم یوه داسې اډه جوړه کړي چې د تل د پاره د سیالو ملکونو د ګوانښونو لپاره ترې کار واخلي. دا اسلامي جمهوري دولت د پاکستان په نوم جوړ شو چې د افغانستان خاوره (کوزه پښتونخوا)، سند، بلوچستان او د پنجاب یوه برخه ده دا ملک د اسلام په نوم ځکه جوړ شو چې دلته مېشته وګړي مسلمانان دي او له لوي هند څخه په همدې نامه په اسانۍ سره را بېل کړای شو. دا دي د ۶۵ کلونو د تېرېدو څخه وروسته څرګنده شوه چې ددې ملک واګې د (اي. ایس. اي) استخباراتي شبکې په لاس کې ده چې اردو او ورسره ټول پاکستان اداره کوي او په خپله د (اي. ایس. اي) کنټرول د غربي امپریالستانو په لاس کې ده.

دا د دوه ملکونه اسرائیل او پاکستان دېر ژر د اېټم بم خاوندان ځکه شول تر څو د نظر لاندې ملکونه تر ګواښ لاندې و نیسي. افغانستان په لمړي قدم کې تر دغه ګواښ لاندې نیول شوي ځکه چې امپریالستان په دې سیمه کې دوه مهم هدفونه لري:

۱. دا د روس، چین، ایران او منځنۍ اسیا ملکونو ترمنځ پروت او دغو ملکونو سره تماس نیول د همدې خاورې نه د تېرېدو په صورت کې ممکن کېدی شي.

۲. دغه خاوره (افغانستان) له هر راز قیمتي طبیعي معدنونو ډک او سر مهره پاتې ده له هغې نه باید همدوي (امپریالیستان) ګټه تر لاسه کړي. د دې لپاره چې د امپریالستانو دغه اوږد مهاله پروګرام ته ځان ورسوي د پروګرام د عملي کولو لپاره زمینه برابرول په کار ده.

له بله پلوه د امپریالیزم سره سیال اتحاد جماهیر شوروي هم بې کاره نه وه ناست او په دې مکر باندې د برلاسي او د امپریالیزم د مخنیوي او ضمنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تودو اوبو ته د ځان رسولو په فکر کې وه. په منځ کې افغان حکومت د دوه هېڅانو ترمنځ څنګه کولای شول ځان د هغوي له شر څخه خوندي و ساتي. دا يو ستونزمن کار وه، که څه هم د دواړو خواوو په ظاهر کې د افغان دولت بې طرفۍ منلو ته سر خوزاوه خو د پاکستان له جوړېدو راډېخوا د دواړو خواوو توجه ډېره شوې او د امپرياليزم هغه پرمختګ چې د ازادو قبايلو په سيمه کې يې ځارله د تشويش وړ ګڼله. د افغانستان دولت د ډيورند هغه خوا پښتنو د ازادۍ د غوښتلو پلوي کوله خو نه هغه خوا او دېخوا پښتنو کې دا متره وه چې بهرني سترځواک پرته خپله غوښتنه تر سره کړي شي دا ځکه چې په خپله پښتانه لا په خپل تاريخ او د ازاد حيثيت د را ژوندي کولو جوګه نه و او ډېر او ډېر وخت په کار وه تر څو دغه کامونه راوېښ او خپلو ګټو ته متوجه شي.خو روسانو او امپرياليستانو دواړو ته د پښتنو وېښېدل په ګټه نه وه نو ځکه يې خپلې لاس وهنې په ډېر شدت سره پر مخ بيولې. حزبونه او ډلې يې د يو نوي تغير د راوستلو لپاره هڅولې.ښي اړخ او کيڼ اړخي ډلې په ډېر جديت په خپلو پروګرامونو وړاندې بيولو کې بوختې وې. د سردار محمد داود خان د جمهوري دولت سره سم دا ګمان کېده چې سيال طاقتونه به نور په ځاي کېني ځکه هغوي په دې باور و چې داود د هېڅ خوا تر اغېز لاندې نه راځي او د خپل هېواد او هېوادوالو څخه پرته په هېچا اتکا نه کوي.

مګر دا حدس غلط ثابت شو سوسياليستي نظام د کودتا له لارې د خپل خوښې نظام جوړ کړي او د پوځي کودتا له لارې يې دغه مرام ترسره کړ خو د دې ماجرا پاي ته متوجه نه شول چې په دې کار کې يې تاوان حتمي دي ځکه افغاني ټولنه او جهاني ذهنيت د دوي په اصطلاح مترقي مفکوره نه شي زغملي او د هغې پر ضد پاڅون کوي. په حقيقت کې په خپله شورويانو دغه راز قيام ته زمينه برابره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانان له ملک څخه ووتل او په چم ګاونډ کې مېشته او د خپل هېواد د ازادۍ لپاره سره ښېرته منظم شول. امپریالیستان همدې موقع ته سترګې په لار وه او ډېر چانس په لاس ورغي. افغانان خو هسې هم د مرستې او کمک محتاج وه. تنظیمونه جوړ شوه او غربیانو او عربانو خپلې مرستې د پاکستان او د پاکستان د (اي . ایس . اي) له لارې ورکول شروع کړل. دغه جهاد که له یوې خوا کامیاب او سوسیالیستي نظام له په افغانستان او شوروي کې له ېښو و غورځېد. خو په افغانانو کې (اي . ایس . اي) هغومر نفوذ کړي وه چې جهادي رهبران ټول د هغوي په ولکه کې را ګېر و.

دوي د مجاهدو ځوانانو په مټ سوسیالیستي نظام په ګونډو کړ خو خپله د پنجابي غلامانو په حلقه کې را ښکېل شول. جهادي مشران ددې پرځاي چې د یو اسلامي نظام بنسټ کېږدي او په ګډه د ورونو په شان د هغه ملاتړ وکړي ، په خپلو کې بې اتفاقه او په جګړه اخته شول. د غربیانو لوبې پیل شوې یو په بل پسې راغلل او له منځه ولاړل تر دې حده ولس مایوسه او له جهادي تنظیمونو څخه بېزاره شول چې نور د هر هغه نظام منلو ته تیار شول چې دوي له دې تیارې و باسي او نور رڼائي راولي.

دا وضع او شرایط رامنځته کول د غربیانو د پلان په اساس رامنځته شو او غوښتل یې د خپلې برلاسۍ لپاره دلته یو نوي نظام رامنځته کړي ، همدا سې وشول د مګلرو ملتونو په ابتکار په جرمني کې د بن په شار کې یوه افغان شموله جرګه جوړه او په هغې کې تصویب و شو چې د امریکې په مشري دې د ناټو قوه افغانستان ته ننوځي . د طالبانو حکومت په ځاي دې یو ملي ګرا حکومت جوړ کړي ، همدا پروګرام سرته ورسول شو د ناټو قواوې په کابل رانغوتې او بې له ډز او ډوزه ئې په ټول افغانستان قبضه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځل جناب کرزي صیب د ببرک کارمل په شان چې د روسانو په ټانک سپور کابل ته راننوتلي و د ناټو په اوږو سپور کابل ته راغي او په ارګ کې مستقر شو. طالبانو افغانستان امریکایانو ته پرېښود او پاکستان ته ستانه شول او خپل مخالفت یې اعلان کړ. خو افغانانو و انګېرله چې طالبان د امریکایانو په مرسته راغلي و او هغه افراطي کارونه یې ترسره کړل چې د ظالمانو سره ښایي او دغه کارونه د دې لپاره چې عام ولس مایوسه او خوابدي شي په لوي لاس ترسره کړل او د امریکا پلان ته یې لاره هواره او افغانانو زړه نا زړه هر کلي ووایه.

دا دي د امریکې په مرسته په افغانستان کې ډیموکراټیک نظام ټینګ شوي او د دغه نظام له جوړښت څخه ځه لاندې باندې لس کاله تېر شوي و به ګورو کوم کارونه سرته رسېدلي دي؟؟؟

۱. د دولت ډېرې ودانۍ او مکتبونه د جهادي مشرانو او متنفذینو له خوا غصب او نیول شوي دي.

۲. د دولت مامورین غټ دي او که واړه په اختلاس او رشوت اخته او له دې لارې د ډېرو شتو خاوندان شوي. په داخل او خارج کې د بلډینګونو خاوندان او د زېرمو څښتنان شوي دي.

۳. امریکایان وایې موږ په ملیاردونو ډالر د افغانستان سره مرسته وکړه. مګر د افغانستان چارواکې وایې مرسته موږ ته نه ده راکړل شوې بلکه (N.G.O) ګانو ته نېغ په نېغه ورکړ شوې ، چې هغوي په خپل واک ولګوي او بېرته بهرنیو هېوادونو ته لېږل شوې ده. البته یوه اندازه په خپله دولت ته هم ورکړ شوې ، چې هغه د امریکې سره تړلي مامورین او لاس پوځي وربانديې بسیا شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. په افغانستان کې برېښنا ته سخت ضرورت دی په کار وه ، چې په بهانده سیندونو چې اوبه یې ورېا بهر ته بهیږي د برېښنا شبکې په کار لوېدلې او د برېښنا د زېږېدو سره کرنې او زراعت وده کړې واې خو دا کار یې و نه کړ او نه کومه بنیادي پروژه یې په کار واچوله. د امریکا مرستې هغو کسانو ته په لاس ورغلې چې په داخل او خارج کې بلډینګونه ، لوي مجلل هوټلونه او د فساد ځالې جوړې کړې. یانې د ودونو لپاره هوټلونه چېرته چې شراب څکل او ډانسونه ازاد دي. د برېښنا د تولید پر ځای تورید ته ترجیح ورکړل شوه ، چې د را رسولو په سیستم یې لکونه ډالر و لګېدل.

په افغانستان کې د خاشخاشو د کرهنې او د تریاکو جوړولو د مخنیو پر ځای د هغه حجم خو برابره زیات شوي او لاس په لاس خرڅیږي خو بده یې دا ده چې نوم د افغانستان بدیږي زحمت د افغانانو دهقانانو په غاړه ده خو ګټه یې مافیائي کړیو ته رسیږي ، چې په هغو کې چارواکې او بهرني ماهرین برخه اخلي او له اوریدو نه چې طالبان هم ورنه ګټه اخلي.

۵. که څه هم افغانان د نورو خیرات ته ناست دي او افغاني غرور او غیرت یې کمزوري او له منځه ځي خو څوک ددوي په فکر کې نه دي، کار نه شته ، پروژې نشته ، د یوې مړۍ ډوډۍ د پیدا کولو لپاره بهر ملکونو ته مخه کوي ، ډېر ځوانان منزل ته له رسېدو د مخه په لاره ژوند له لاسه ورکوي ، د قاچاق وړونکو د زړو او بېکاره کشتیو کې ډوبیږي او د سمندر د ماهیانو خوراک شي.

۶. دولتي دستګاوې په کامونو وېشل شوي ، نه د کار په اهلیت ، ځکه خو پرسونل د خپل جبب په غم کې دي. دوي ته وطن او

(c) ketabton.com: The Digital Library

وظیفه کومه مانا او ارزښت نه لري. دغه اجرائت او ذهنیت په خپله د فساد لامل ګرځي او په لوي لاس عملي کېږي.

۷. د ژبې او مذهب ته په لويه کچه لمن وهل کېږي ، د تحيېر ځاي دي چې اوس عبادت ځايونه د سياست مرکزونه ګرځېدلي او د ژبې او مذهب د بېلتون او لرېوالي تبليغ په کې کېږي. په عامه جادو کې د بهرنيانو په ګټه شعارونه ورکول کېږي او غواړي خپل ملي ارزښتونه د پرديو په ګټه واړوي.

۸. د ژبې د اکثريت او اقليت ترمنځ واټن پيدا کول او لويول په ملک کې په زغرده روان ده. يوه ډلګۍ لګکېان د ټلوالي په نوم غواړي د ژبې اقليتي توکمونه د سياسي بهره برداری لپاره پارول غواړي. په خپله ددې ډلې څو تنه غږي په ډاګه له دولت نه ياغي شوي ښکاري او د بغاوت نښې نښانې يې په دې کې څرګنديږي چې د مرکز امر نه مني، د بلخ والي ځان د بلخ ټولواک ګڼي او ځينې د واليانو لرې کول او د ځان تابع کول غواړي. چې په دې وسيله مرکزي دولت بې ثباته او بې اعتباره کوي.

۹. ازادې رسنۍ لکه تلوېزون د اخلاقي فساد لامل ګرځي. دوي د خپل اصيل کلچر د له منځه وړلو په فکر کې دي ، ځکه له اخلاقي معيارونو وتلي سيريالونه ښئي او مخنيو يې نه کېږي.

۱۰. د ښځو د حقونو د خوندي کولو په غرض عدلي يا دفاعي مرکزونه پرانستل شوي خو د يو سالم او جوړوونکي نظم پر ځاي داسې اجرائت کېږي ، چې ښځې او نجونې له خپل حقوقي او ملي کولتور چوکاټ نه وتلې ، د ځان او کورنۍ د شرمونو او د مرګ او مير سبب ګرځي او دښمني پيدا کوي.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱. په افغانستان کې د طالبانو او ځانمرګي بريدونو په وسيله ورځ په ورځ کورنۍ تباه کېږي ، کونډې يتيمان او بې اسرې ماشومان زياتيږي. دغه مرګونه او ژوبلې د سولې له بهير سره ترلي ښکاري ، ځکه کله تند او تېز او کله هم لږ ساړه شي، دا هرڅه د غربيانو د سياست قرباني کېږي ، همدوي دغه فشارونه ډېروي او کموي يې څو خپل مرام او هدف ته ورسيږي.

دا خو دي دننه په افغانستان کې د را پېښ شوي ناورين ښې نښانې اوس به وګورو چې دې کې بهرنيان په پاکستان کې څه نقش لوبوي.

د ډيورنډ نه هغه خوا پښتانه چې انګرېزانو په مکر او فرېب له افغانستان نه بېل ساتلي هېڅکله نه شي بېلېدلي او هېڅ يو افغان دغه بېلتون نه منلي او نه ئې مني. له بل پلوه انګريزانو په غير قانوني ډول دوي د پاکستان جز ګڼلي او په نوې جوړه شوې نقشې کې د ځان لپاره ساتلي مګر هر څه يو حد او اندازه لري تر قيامته د چال او غولولو سياست نه شي چلېدلي. د اسلام په نوم خو شپېته ، پنځه شپېته کله و غولول شول اوس خو د پاکستان هويت او ماهيت ټولې نړۍ ته څرګند شوي. غربي امپرياليستان به د يوې نوې پاليسۍ د پرمخ بيولو د خلکو پام اړولو کوښښ وکړي ، خو حقيقت هېڅکله هم نه پټيږي .

د پښتنو په سيمه يوه دوره حکومت د پښتنو اصلي نمايندګانو ته په لاس ورغلي وه ، چې د غربيانو له خوا ونه زغمل شو او د لرې کولو لپاره يې نوې لارې چارې په کار واچولې. د باچاه خان بابا د خدائي خدمتګار پيروانو (نېشنل عوامي پارټي) و کولاي شو يوه دوره حکومت په لاس کې واخلي او ځينې بنيادي کارونه سرته ورسوي ، خو دغه ملي او قومي خوزښت د امپرياليزم د ګټو او اوږد مهاله پروګرام مخالف کار دي ، ځکه نور هغه يې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو زغملي او د طالبانو په لاس د ټول ټاکنو او په هغو کې برخې اخستلو ، په مقابل کې د برخې نه اخستلو اقدام په ډاګه رامنځته شو او سبوتاژ کړي شو ، دوي (طالبان) په سیاست کې برالا لغتې وهلې او د پښتنو د اصلي نمایندګانو مخنیوي یې وکړ. هغه په دې نوم چې مونږ هغه حزب ته اجازه نه ورکوو چې مذهبي صبغه ونه لري یا په بل عبارت واقعا ازاد ډیموکرات او د (اي . ایس . اي) له اداري بهر وي. د هغه پر ځاي یې یو نوي حزب مشر عمران خان ته لاره ورکړه ، د پښتني سیمو واک تر لاس لاندې ونیسي. عمران خان خو تر پرونه د کرکټ کپتان په حیث پېژند شوي شخصیت و نه د سیاست په ډګر کې له میدان نه د سیاست ډګر کې. د کرکټ له ډګر څخه د سیاست ډګر ته راتلل هغه هم ناڅاپه او په لږه موده کې شهرت او اعتبار پیدا کول څه ساده خبره نه ده. نوموړي ته غربیانو موقع په لاس ورکړه چې دغه کار ته ملا و تړي .ده ته څه موده تبلیغات کېدل او وروستي پروګرام یې دا وه چې وزیرستان ته د مارچ په شکل ولاړ شي او هلته دوه مهم ټکي اعلان کړي، یو د بې پیلوټه الوتکې بمباري بندول او بل د افغانستان دننه د جهاد فتوا ورکول.

دغه دواړه خبرې د هغه له خولې اعلان شوې ، خو سره له هغې په دې ډاډه نه شول چې په پښتني سیمه کې به ئې څه کرېډت تر لاسه کړي وي ، دغه بې باوري وه ، چې طالبانو ته دا دنده و سپارل شوه ، چې په ډاګه اعلان وکړي چې احزاب په الکشن (ټاکنو) کې برخه نه شي اخستلي.

په پښتونخوا کې عینا د افغانستان په شان بمونه ، چاودنې او د خلکو وژل او کورونه ورانول روان دي دغو کړاوونو ته بې د پاي ټکي ږدي او که نور هم زیاتیږي او په سیمه کې کوم بدلون رامنځته کول غواړي دا د غربي امپریالیزم کار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

برېښنا امېل

# پښتني غیرت او پښتنې مېرمنې

زه چې په ګران افغانستان کې د افغان مېرمنو او نجونو حالت ته ګورم داسې فکر نه کوم چې په یویشتمه پېړۍ کې دې ژوند کوم اوس هم افغان مېرمنې په تیاره کې ژوند کوي، که کابل نه ووځو لرو پرتو سیمو ته لاړ شو او د افغان مېرمنو او نجنو ژوند ته وګورو، نو له څارویو سره به یې ډېر کم توپیر وشي. د تعلیم نه بې برخې دي، په ښځو باندې تعلیم بې ننګي بولي ایا پښتني غیرت دې ته وایي؟ فکر نه کوئ چې دیوې مېرمنې روڼ اندي د یوې ټولنې دروښتیا سبب ګرځي. که چېرته مونږ سعودي عرب ته وګور چې د اسلام سرچینه یې بولي، هلته هرکال له ډېرشو زرو نه زیاتې نجونې له پوهنتونونو څخه فراغت ترلاسه کوي، ولې هلته اسلام اجازه ورکوي ولې هلته غیرت اجازه ورکوي او زما پښتون ته یې نه ورکوي ولې؟ په ټوله نړۍ کې ښځه حق لري چې تعلیم وکړي، خو زما په هېواد کې داحق نه لري، د نورې دنیا انسانان څه چې ان څاروي یې د تعلیم له نعمت څخه بې برخې نه دي خومونږ ته دا حق څوك نه راکوي مونږ اوس دهغو څارویو نه هم بترشو په افغاني ټولنه کې د ښځې ژوند په لنډو ټکوکې تاسې ته بیانول غواړم، هیله ده چې د زړه په غوږونو یې واورئ.

د اسلامي اصولو له مخې باید پلار او مور د خپلو بچو ترمنځ هېڅ ډول توپیر ونه کړي دواړو ته باید په یوه سترګه وکتل شي، خو په افغاني ټولنه کې بیا دا برعکس دي، نجلۍ ته کم او هلك ته ډېر درناوی کېږي چې دا خپله لویه ګناه ده هم د اسلام له نظره او هم د بشري انساني قانون له مخې ستر جرم دی، نجلۍ چې وړه وي چې لږه غټه شي د وروڼو مزدوره وي ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library

به ورنه کشر وي، خو دا به ورته داسي زغلي لکه په کور کې يې چې نوکره ساتلې وي، چې پېغله شي د مور کارونه ورپاتي کېږي، هغه پرمخ وړي کله چې واده شي بيا خاوند او خواښې خسر خدمت ورپه غاړه شي، چې کله مور شي بيا د بچو خدمت او روزنه ورپه غاړه شي، کله يې چې بچي ځلميان شي بيا د هغو نازونه او د هغو سپکې سپورې وړي، بچو ته چې واده وکړي بيا د زامنو همدغه مور چې ټول عمر يې دخپلو بچو خدمت کړی وي او ستر کړي يې وي داسې چلند ورسره کوي چې دلته بيا فکر کوې لکه نوکره چې وي ترهغې په همداسې کش مکش کې وي چې ومري.

دا و، په افغاني ټولنه کې د يوې افغانې مېرمنې ژوند! تاسې ووایاست په کوم اسلامي هېواد کې له ښځو سره داسې کړنې کېږي لکه چې مونږ سره کېږي.

مونږ ته چې اسلام کوم حقوق راکړي دي زمونږ افغان مېرمنو ته چا ورکړي دي، که مسلمانان يو خو بايد د اسلامي اصلو پابند اووسو.

پيغمبر(ص) کوم سفر کومه جګړه کړې چې په کې دې مېرمنو ورسره ګډون نه وي کړی؟ له خپلو مېرمنو سره به حضرت محمد(ص) په هرکار کې مشوره کوله که مونږ وګورو ډېری حديث د پيغمبر(ص) له مېرمنو په حواله رانقل شوي دي، اسلام مېرمنو ته عزت ورکړ، له اسلام نه مخکې له ښځو سره ډېر بدچلند کېده. الله(ج) د مور په پښو کې جنت مونږ ته راکړی دی، خو مونږ د خپل جنت قدر په هغه شان کړی دی په کوم ډول چې پکار دی؟ زمونږ په ټولنه کې د مېرمنو پر وړاندې ډېر داسې ناوړه دودونه شته، چې د افغان مېرمنو ژوند يې له خاورو سره خاورې کړی دی، خو زه به وربانديې سرسري بحث کوم.

حضرت محمد(ص) فرمايي ؛ که تاسې خپل لور او زوی ته واده کوئ، نو ددوی مشوره رضايت په کې حتمي دی، کوم پښتون ترننه خپلې لور نه دا پوښتنه کړې ده، په بن يې ورکوي، په بدوکې يې ورکوي، قتل ورور وکړي په بدوکې خور لاړه شي، زمونږ ننګ وګوره چې هرچاته مو مور او پلار خوښوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ يې پر وړاندې اخ قدرې هم نه کوو دې ته وايي پښتني ننګ؟ څاروي چې څاروي وي، کله چې د قصاب په لاس کې چاړه وګوري پوی شي چې حلالوي مو نو چې هرڅومره يې کشوي نه ورسره ځي خو موږ افغان مېرمنې خپل ژوند د خپل پلار او دورور قرباني کوو، هلته که هرڅه تېرېږي، تېرو يې دا په اسلام کې شته ؟ اسلام دا جازه په هيڅ قيمت نه ده ورکړې چې ګناه دې يو کوي او سزا دې بل ته ورسېږي.

موږ د يو انسان په توګه د تعليم حق لرو بايد داحق موږ ته راکړل شي په دې برخه کې بايد له موږ سره زموږ مشران او علماء په ټوله مانا مرسته وکړي.

کله چې يوه مېرمنه ناروغه شي نارينه ډاکتر ته يې بوتلل ښه دي که ښځينه ؟ که چېرته موږ باندې تعليم ونه کړئ تاسې به ښځينه ډاکترانې له کومه کړئ.

موږ د هېواد نيمه برخه جوړوو، موږ ته بايد د هېواد په جوړونه کې په سياست کې پوره پوره ونډه راکړل شي.

زموږ مشران روڼ اندي بايد زموږ په ټولنه کې هغه ناوړه دودونه چې پښتنې مېرمنې او پښتانه ځوانان ورسره مخ دي بايد په له منځه وړلو کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي.

موږ نن مظلومې يو، که تاسې مشران له موږ سره مرسته وکړئ دا هېواد له ملالو ډک دی لکه څنګه چې تاسې د ميوند په ملالۍ باندې وياړئ داسې ډېر وياړونه او لعلونه شته، چې تاسې وربانديې وويا ړئ، خو دغه لعلونه په ايرو کې پټ دي دا رايستل غواړي او دا ستاسې مرستې ته اړتيا لري.

موږ ستاسې پړونې يو موږ ستاسې ناموس يو پر موږ ننګ وکړئ پرموږ باندې زړه وخوږوئ.

د لوی ازاد او خپلواك افغانستان په هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد هاشم (احمدزي)

# پښتانه په کړلېچونو کې

مونږ ټول اورو چې پاکستان د دې ټولو بد بختیو لامل دی. دا خو سمه ده چې په ظاهره پاکستان د دې صحنې لوبغاړی دی، مګر هغه چا چې دغه لوبه جوړه کړې او تنظیموي یې د پردې ترشا کار کوي د هغو پېژندل په کار دي. خلک به هر څه هر څه وایي مګر زمونږ اصلي دښمن هغه څوک دی چې د یو اوږد پلان د عملي کولو لپاره یې پاکستان جوړ کړی او له هغه نه خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره د اډې کار اخلي صحنې جوړوي.

## زمونږ تاریخي او جغرافیوي موقعیت:

ټول په دې پوهېږي چې زمونږ خاوره په سنسکرټ کې اریدورت او پښتو کې اریا ورشو بلل کېږي، نږدې شپږ زره کلن تاریخ لري او د اسیا په زړه کې پرته ده. دغه خاوره په یوه اوچته پوړۍ کې په سمسورو ځنګلونو، باغونو، بهانده سیندونو او دښتو او هوارو ځمکو او ښکلي هوا لرونکو اوصافو جوړه ده. په دې خاوره کې مېشته ولس افغانان بلل کېږي، د افغان کلمه هم ډېر قدامت لري، هغه داچې د اریایانو لومړي پاچاه ځان (اپګان) باله او د هغې مانا ده (زړور) وروسته دغه کلمه د عربو له راتګ سره په افغان بدله شوه خو نور اروپایان دغه کلمه په خپله لهجه څوک اپګان، څوک اوګان او څوک افګان تلفظ کوي چې اصلي اریایي نژاد او د افغانستان په مختلفو ساخو کې اوسېدل. څکه نو د احمدشاه بابا د پاچاهۍ په دوره کې د محلي

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومونو پر ځای هغه سیمې چې د یو قلمرو لاندې وي، د یو لوی ګڼ کور یا ګڼ مملکت نوم افغانستان غوره کړ. د افغانانو بل نوم د پکت، پخت، پښت او پښتون یا پټان یاد شوی، خو اوس د افغانستان ټول کامونه او توکمونه په یو نامه (افغان) یادېږي او په ټوله نړۍ کې پېژندل شوي دي.

## د افغانستان جیو پولیټیکل موقعیت:

د هند کوچنۍ وچه د افغانستان په جنوب شرق کې پرته او خورا سمسوره او شتمنه خاوره ده، د توکم په لحاظ اریایي نژاد لري. د افغانانو سره د نژاد او توکم له لحاظه نږدې اړیکې لري او ځینې افغانان د خپل ابایي چې هند کې د مېشته کېدو او د واکمنۍ تر لاسه کولو په هڅه له مغلو سره لاس په ګرېوان و، چې له هند سره هېڅ اړیکې نه لري، صرف د ملکونو نیولو په ترڅ کې یې ډېرې سیمې لاندې کړې وې.

د افغانانو او مغلو ترمنځ سوونه کاله جګړې روانې وې. افغانانو په هندوستان حکومت کړی او د بنګال نه را نیولې تر پایتخت ډهلي پورې سړک د شېرشاه سوري په وخت کې جوړ شوي دغه شان ډېرې پخې کلا ګانې او بالاحصارونه یې په ډېرو ښارونو کې جوړ کړي و، چې اوس هم موجود دي. خو د شېرشاه له مړینې وروسته دغه سلسله د هغوی د زامنو او اولادونو ترمنځ د بې اتفاقۍ ښکار او هڅه برم ورته پاتې نه شو.

انګرېزان له یورپ څخه د هند د تسخیر په موخه راغلل او په څو کلونو کې یې د افغانانو او مغلو سلسله غوڅه او خپل حکومت یې جاري کړ. دا مهال په افغانستان کې د احمد شاه بابا د زامنو دوره وه. انګریزانو یوازې د هند په نیولو اکتفا نه کوله او غوښتل یې چې افغانستان هم د هند په مستعمره پورې و تړي، ځکه یې په افغانستان حملې پیل کړې. انګرېز حکومت د سمندر له لارې په هند قبضه ټینګه کړې وه او هڅه یې کوله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان هم لاندې کړي او د روسيې پولو ته ځان ورسوي، خو په دې کار کې له درې واړو مسلحو جګړو وروسته هم ناکام شول.

د افغانستان جيو پوليټيکل موقعيت او په هغه کې مېشت غيرتمندو افغانانو هېڅ يو متعرض او مهاجم طاقت ته اجازه نه ورکوله چې د دوی په سرتېر او روس بريد وکړي او يا د هند خاورې ته د دوی په سرتېر او حکومت وربانديې وکړي، ګواکې د شرق او غرب له خوا د دوی په سر د تېرېدو او بريدونو کوښښ رواون و او دوی (افغانانو) يې د سر او مال په قربانۍ مخنيوی کاوه او حائل ګرځېدل. انګرېزان د افغان او افغانستان په ارزښت پوهېدل او کوښښ يې کاوه چې د جګړې په وسيله وي او که د پټو سازشونو له لارې په افغانستان کې خپل نفوذ ټينګ کړي. د مخامخ جګړې په وسيله خو څو ځله ناکامه پاتې شول. يوازې د پټو سازشونو له مخې چې د امير محمد يعقوب خان او عبدالرحمان خان سره يې کړي دي، د افغانستان يوه لويه برخه يې د کال اتلس لکو کلدارو په بدل کې انګرېز ته پرېښې وه چې افغانانو تراوسه هغه نه ده منلې او نه يې هغه اتلس لکه کلدارې کله تر لاسه کړي دي چې انګرېزانو د اجارې په شکل منلې وې، د غه د عبدالرحمان خان او د ډيورنډ ترمنځ تړون د ډيورنډ لاين په نامه يادېږي چې انګرېزانو موږ ته د يو درد سر په څېر نومولې ده که څه هم مجهوله کرښه ده، ښکاره موجوديت هم نه لري.

خو د افغانان نېکبختي په دې کې ده چې په نولسمه پېړۍ کې د ازادۍ ستورى وځلېد او دغه ډول ټول تړونونه لغوه اعلان شوي. دا په کال ۱۹۱۹ کې د اعلحضرت امان الله خان غازي د پاچاهۍ سره سم رامنځ ته شوي. په سر کې انګرېزانو دغه اعلان او د تړونونو الغا نه منله او په جګړه يې لاس پورې کړ، نو کله چې په جګړه کې د ماتې سره مخ شول، نو د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلواکي او د ترونونو ماتېدل يې و منل، خو د افغانستان خپلواکي له داسې يو قدرت څخه چې په قلمرو کې يې لمر نه پرېوته ساده او معمولي خبره نه وه. دا لومړی ځل و چې د دومره لوی قدرت پر وړاندې يو داسې کوچنی هېواد ودرېږي او په ډېره مېړانه سره خپله خپلواکي اخلي. دغه يوه تاريخي پېښه وه چې د انګرېز د زوال په مانا وه.

انګرېزان په دې و پوهېدل چې د افغانانو سره مخامخ ډغرې وهل څه ګټه نه لري، نو د ابليس لاره يې غوره کړه او د اعليحضرت غازي امان الله خان په مقابل کې يې له خپلو جاسوسانو کار واخيست ، چې د روحانيونو په جامه کې يې غلط او ناروا پروپاګندونه کول. افغانان په تېره بيا نالوستي افغانان خو د ملا او مولانا خبرو ته غوږ نېږدي او هغه په سر سترګو مني. هغوی د شيطان صفته روحانيونو په خبرو وغولېدل او را و پارېدل هلته په کندهار کې د اعليحضرت په ملاتړ او مخالفت دوه لوی کامونه يو د بل په مقابل کې و درېدل نږدې وه چې دغه دوه ورونه کامونه په وينه تويونه يو د بل ابدي دښمنان شي، اعليحضرت دېته حاضر شو چې هغوی ته د وينو تويولو پر ځای له پاچاهۍ نه لاس په سر او وطن هم د تل لپاره پرېږدي.

د افغانستان لپاره دا لويه ضربه او خساره وه چې د يو داسې پاچاه له سيوري محروم شو چې غوښتل يې ډېر ژر د نړۍ له سيالو سره سيال شي. د اعليحضرت د لاس په سر کېدو وروسته هېواد ډېر کلونه له جمود او خمود سره مخ شو. په کال ۱۹۴۰ په اروپا کې د نړۍ دويمه جګړه پيل شوه چې دې جګړه کې انګلستان ښکېل شوي وو، پنځه کاله جګړه روانه وه او په ۱۹۴۵ کې دغه جګړه د انګليس او امريکې په ګټه پای ته ورسېده.

د دويمې نړيوالې جګړې د پای ته رسېدو وروسته استعمار لاندې ملکونو ته په پرلپسې غوښتنو په غبرګون کې استعمارګر حاضر شول هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته خپلواکي وسپاري، خو د تل پاتې ګټو د خوندي ساتلو لپاره يې نوې لارې چارې جوړې او په کار واچولې او هغه دا چې په خليج کې د اسرايل په نوم يو نو مملکت منځته را و باسي او هغه د غربي امپرياليستي ملکونو لپاره د عربو د تېلو څخه د ګټې اخستلو لپاره د ژاندارم په حيث کار ورکړي او د اسيا په دې برخه کې چې يو ستراتيژيک اهميت لري، د اسلامي جمهوري دولت په نوم يوه داسې اډه جوړه کړي چې د تل لپاره د سيالو ملکونو د ګواښونو لپاره ترې کار واخلي. دا اسلامي جمهوري دولت د پاکستان په نوم جوړ شو چې د افغانستان خاوره (کوزه پښتونخوا)، سند، بلوچستان او د پنجاب يوه برخه ده دا ملک د اسلام په نوم ځکه جوړ شو چې دلته مېشته وګړي مسلمانان دي او له لوی هند څخه په همدې نامه په اسانۍ سره را بېل کړای شو. دا دی د ۶۵ کلونو د تېرېدو څخه وروسته ثرګنده شوه چې ددې ملک واګې د (اي . ايس .اي) استخباراتي شبکې په لاس کې ده چې اردو او ورسره ټول پاکستان اداره کوي او په خپله د (اي . ايس .اي) کنټرول د غربي امپريالستانو په لاس کې ده.

دا د دوه ملکونه اسرائيل او پاکستان ډېر ژر د اټم بم خاوندان ځکه شول تر څو د نظر لاندې ملکونه تر ګواښ لاندې و نيسي. افغانستان په لومړي قدم کې تر دغه ګواښ لاندې نيول شوي ځکه چې امپريالستان په دې سيمه کې دوه مهم هدفونه لري:

۳. دا د روس، چين، ايران او منځنۍ اسيا ملکونو ترمنځ پروت او دغو ملکونو سره تماس نيول د همدې خاورې نه د تېرېدو په صورت کې ممکن کېدی شي.

۴. دغه خاوره (افغانستان) له هر راز قيمتي طبيعي معدنونو ډک او سر مهره پاتې ده له هغې نه بايد همدوی (امپرياليستان) ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلاسه کړي. د دې لپاره چې د امپریالستانو دغه اوږد مهاله پروګرام ته ځان ورسوي د پروګرام د عملي کولو لپاره زمینه برابرول په کار ده.

له بله پلوه د امپریالیزم سره سیال اتحاد جماهیر شوروي هم بې کاره نه وه ناست او په دې مکر باندې د برلاسۍ او د امپریالیزم د مخنیوي او ضمنا تودو اوبو ته د ځان رسولو په فکر کې وه. په منځ کې افغان حکومت د دوه هېڅانو ترمنځ څنګه کولای شول ځان د هغوی له شر څخه خوندي و ساتي. دا یو ستونزمن کار و، که څه هم د دواړو خواوو په ظاهر کې د افغان دولت بې طرفۍ منلو ته سر خوزاوه خو د پاکستان له جوړېدو راډېخوا د دواړو خواوو توجه ډېره شوې او د امپریالیزم هغه پرمختګ چې د ازادو قبایلو په سیمه کې یې خارله د تشویش وړ ګڼله. د افغانستان دولت د ډیورند هغه خوا پښتنو د ازادۍ د غوښتلو پلوي کوله خو نه هغه خوا او د ډېخوا پښتنو کې دا متره وه چې بهرني سترځواک پرته خپله غوښتنه ترسره کړی شي دا ځکه چې په خپله پښتانه لا په خپل تاریخ او د ازاد حیثیت د را ژوندي کولو جوګه نه و او ډېر وخت په کار وه تر څو دغه کامونه راوپښ او خپلو ګټو ته متوجه شي.خو روسانو او امپریالیستانو دواړو ته د پښتنو ویښېدل په ګټه نه وه، نو ځکه یې خپلې لاس وهنې په ډېر شدت سره پر مخ بیولې. حزبونه او ډلې یې د یو نوي تغیر د راوستلو لپاره هڅولې. ښي اړخ او کیڼ اړخي ډلې په ډېر جدیت په خپلو پروګرامونو وړاندې بیولو کې بوختې وې. د سردار محمد داود خان د جمهوري دولت سره سم دا ګمان کېده چې سیال طاقتونه به نور په ځای کېني ځکه هغوی په دې باور و چې داود د هېڅ خوا تر اغېز لاندې نه راځي او د خپل هېواد او هېوادوالو څخه پرته په هېڅا اتکا نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر دا حدس غلط ثابت شو سوسیالیستي نظام د کودتا له لارې د خپل خوښې نظام جوړ کړي او د یوځي کودتا له لارې یې دغه مرام ترسره کړ، خو د دې ماجرا پای ته متوجه نه شول چې په دې کار کې یې تاوان حتمي دی، ځکه افغاني ټولنه او جهاني ذهنیت د دوی په اصطلاح مترقي مفکوره نه شي زغملي او د هغې پر ضد پاڅون کوي. په حقیقت کې په خپله شورویانو دغه راز قیام ته زمینه برابره کړه.

افغانان له ملک څخه ووتل او په چم ګاونډ کې مېشته او د خپل هېواد د ازادۍ لپاره سره ببرته منظم شول. امپریالیستان همدې موقع ته سترګې په لار وه او ډېر چانس په لاس ورغی. افغانان خو هسې هم د مرستې او کمک محتاج و. تنظیمونه جوړ شول او غربیانو او عربانو خپلې مرستې د پاکستان او د پاکستان د (اي . ایس . اي) له لارې ورکول شروع کړل. دغه جهاد که له یوې خوا کامیاب او سوسیالیستي نظام په افغانستان او شوروي کې له پښنو و غورځېد. خو په افغانانو کې (اي . ایس . اي) هغومر نفوذ کړی و چې جهادي رهبران ټول د هغوی په ولکه کې را ګیر و.

دوی د مجاهدو ځوانانو په مټ سوسیالیستي نظام په ګونډو کړ خو خپله د پنجابي غلامانو په حلقه کې را ښکېل شول. جهادي مشران د دې پر ځای چې د یو اسلامي نظام بنسټ کېږدي او په ګډه د ورونو په شان د هغه ملاتړ وکړي، په خپلو کې بې اتفاقه او په جګړه اخته شول. د غربیانو لوبې پیل شوې یو په بل پسې راغلل او له منځه ولاړل تر دې حده ولس مایوسه او له جهادي تنظیمونو څخه بېزاره شول چې نور د هر هغه نظام منلو ته تیار شول چې دوی له دې تیارې و باسي او نور رڼایي راولي.

دا وضع او شرایط رامنځته کول د غربیانو د پلان پر اساس رامنځته شو او غوښتل یې د خپلې برلاسۍ لپاره دلته یو نوی نظام رامنځته کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا سې وشول د ملګرو ملتونو په ابتکار په جرمني کې د بن په ښار کې يوه افغان شموله جرګه جوړه او په هغې کې تصويب و شو چې د امريکې په مشرۍ دې د ناټو قوه افغانستان ته ننوځي. د طالبانو حکومت پر ځای دې يو ملي ګرا حکومت جوړ کړي، همدا پروګرام سرته ورسول شو د ناټو قواوې په کابل راننوتې او بې له ډزاو ډوزه يې په ټول افغانستان قبضه وکړه.

دا ځل جناب کرزی صيب د ببرک کارمل په شان چې د روسانو په ټانک سپور کابل ته راننوتلی و د ناټو په اوږو سپور کابل ته راغی او په ارګ کې مستقر شو. طالبانو افغانستان امريکايانو ته پرېښود او پاکستان ته ستانه شول او خپل مخالفت يې اعلان کړ. خو افغانانو وانګېرله چې طالبان د امريکايانو په مرسته راغلي و او هغه افراطي کارونه يې ترسره کړل چې د ظالمانو سره ښايي او دغه کارونه د دې لپاره چې عام ولس مايوسه او خوابدې شي په لوی لاس ترسره کړل او د امريکا پلان ته يې لاره هواره او افغانانو زړه نا زړه هر کلي ووايه.

دا دی د امريکې په مرسته په افغانستان کې ډيموکراټيک نظام ټينګ شوی او د دغه نظام له جوړښت څخه څه لاندې باندې لس کاله تېر شوي، وبه ګورو کوم کارونه سرته رسېدلي دي؟؟؟

۱۲. د دولت ډېرې ودانۍ او مکتبونه د جهادي مشرانو او متنفذينو له خوا غصب او نيول شوي دي.

۱۳. د دولت مامورين غټ دي او که واړه په اختلاس او رشوت اخته او له دې لارې د ډېرو شتو خاوندان شوي. په داخل او خارج کې د بلډينګونو خاوندان او د زېرمو څښتنان شوي دي.

۱۴. امريکايان وايي موږ په ملياردونو ډالر د افغانستان سره مرسته وکړه. مګر د افغانستان چارواکي وايي مرسته موږ ته نه ده

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکړل شوي، بلکې (N.G.O) ګانو ته نېغ په نېغه ورکړ شوي، چې هغوی په خپل واک مصرف کړي او ببرته بهرنيو هېوادونو ته لېږل شوي ده. البته يوه اندازه په خپله دولت ته هم ورکړ شوي، چې هغه د امريکې سره تړلي مامورين او لاس پوڅي ورباندې بسيا شوي دي.

۱۵. په افغانستان کې برېښنا ته سخت ضرورت دی، په کار وه چې په بهانده سيندونو چې اوبه يې وړيا بهر ته بهېږي د برېښنا شبکې په کار لوېدلې او د برېښنا د زېرېدو سره کرهنې او زراعت وده کړې وای خو دا کار يې و نه کړ او نه کومه بنيادي پروژه يې په کار واچوله. د امريکا مرستې هغو کسانو ته په لاس ورغلې چې په داخل او خارج کې بلډينګونه، لوی مجلل هوټلونه او د فساد ځالې جوړې کړي. يانې د ودونو لپاره هوټلونه چېرته چې شراب څکل او ډانسونه ازاد دي. د برېښنا د توليد پر ځای توريد ته ترجيع ورکړل شوه، چې د رارسولو په سيستم يې لکونه ډالر و لګېدل.

په افغانستان کې د خاشخاشو د کرهنې او د ترياکو جوړولو د مخنيو پر ځای د هغه حجم څو برابره زيات شوی او لاس په لاس خرڅېږي، خو بده يې دا ده چې نوم د افغانستان بدېږي زحمت د افغانانو دهقانانو په غاړه دی، خو ګټه يې مافيايي کړيو ته رسېږي، چې په هغو کې چارواکي او بهرني ماهرين برخه اخلي او له اورېدو نه چې طالبان هم ورنه ګټه اخلي.

۱۶. که څه هم افغانان د نورو خيرات ته ناست دي او افغاني غرور او غيرت يې کمزوری او له منځه ځي، خو څوک ددوی په فکر کې نه دي، کار نه شته، پروژې نه شته، د يوې مړۍ ډوډۍ د پيدا کولو لپاره بهر ملکونو ته مخه کوي، ډېر ځوانان منزل ته له رسېدو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخه په لاره ژوند له لاسه ورکوي، د قاچاقبرانو د زړو او بېکاره کشتیو کې ډوبېږي او د سمندر د ماهیانو خوراک شي.

۱۷. دولتي دستګاوې په کامونو وېشل شوي، نه د کار په اهلیت، ځکه خو پرسونل د خپل جیب په غم کې دی. دوی ته وطن او وظیفه کومه مانا او ارزښت نه لري. دغه اجرائت او ذهنیت په خپله د فساد لامل ګرځي او په لوی لاس عملي کېږي.

۱۸. د ژبې او مذهب ته په لویه کچه لمن وهل کېږي، د تحییر ځای دی چې اوس عبادت ځایونه د سیاست مرکزونه ګرځېدلي او د ژبې او مذهب د بېلتون او لرېوالي تبلیغ په کې کېږي. په عامه جادو کې د بهرنیانو په ګټه شعارونه ورکول کېږي او غواړي خپل ملي ارزښتونه د پردیو په ګټه واړوي.

۱۹. د ژبې د اکثریت او اقلیت ترمنځ واټن پیدا کول او لویول په ملک کې په زغرده روان دی. یوه ډلګۍ غواړي د ژبې اقلیتي توکمونه د سیاسي بهره برداری لپاره پارول غواړي. په خپله ددې ډلې څو تنه غرې په ډاګه له دولت نه یاغي شوي ښکاري او د بغاوت نښې نښاني یې په دې کې ځرګندېږي چې د مرکز امر نه مني، د بلخ والي ځان د بلخ تولواک ګڼي او ځینې د والیانو لرې کول او د ځان تابع کول غواړي. چې په دې وسیله مرکزي دولت بې ثباته او بې اعتباره کوي.

۲۰. ځینې تلوېزونونه د اخلاقي فساد لامل ګرځي. دوی د خپل اصیل کلچر د له منځه وړلو په فکر کې دي، ځکه له اخلاقي معیارونو وتلي سیریالونه ښیي او مخنیوی یې نه کېږي.

۲۱. د ښځو د حقونو د خوندي کولو په غرض عدلي یا دفاعي مرکزونه پرانستل شوي، خو د یو سالم او جوړوونکي نظم پر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې اجرائت کېږي، چې ښځې او نجونې له خپل حقوقي او ملي کولتور چوکاټ نه وتلې، د ځان او کورنۍ د شرمونو او د مرګ او مير سبب ګرځي او دښمني پيدا کوي.

۲۲. په افغانستان کې د طالبانو او ځان مرګي بريدونو په وسيله ورځ په ورځ کورنۍ تباه کېږي، کونډې يتيمان او بې اسرې ماشومان زياتېږي. دغه مرګونه او ژوبلې د سولې له بهير سره تړلې ښکاري، ځکه کله تند او تېز او کله هم لږ ساړه شي، دا هرڅه د غربيانو د سياست قرباني کېږي، همدوی دغه فشارونه ډېروي او کموي يې څو خپل مرام او هدف ته ورسېږي.

دا خو دي دننه په افغانستان کې د را پېښ شوي ناورين ښې نښانې اوس به وګورو چې دې کې بهرنيان په پاکستان کې څه رول لوبوي.

د ډيورنډ نه هغه خوا پښتانه چې انګرېزانو په مکر او فرېب له افغانستان نه بېل ساتلي هېڅکله نه شي بېلېدلی او هېڅ يو افغان دغه بېلتون نه منلی او نه يې مني. له بل پلوه انګريزانو په غير قانوني ډول دوی د پاکستان جز ګڼلی او په نوې جوړه شوې نقشې کې د ځان لپاره ساتلي مګر هر څه يو حد او اندازه لري تر قيامته د چال او غولولو سياست نه شي چلېدلی. د اسلام په نوم خو شپېته، پنځه شپېته کاله وغولول شول اوس خو د پاکستان هويت او ماهيت ټولې نړۍ څرګند شوي. غربي امپرياليستان به د يوې نوې پاليسۍ د پرمخ بيولو د خلکو پام اړولو کوښښ وکړي، خو حقيقت هېڅکله هم نه پټېږي.

د پښتنو په سيمه يوه دوره حکومت د پښتنو اصلي استازو ته په لاس ورغلي وه، چې د غربيانو له خوا ونه زغمل شو او د لرې کولو لپاره يې نوې لارې چارې په کار واچولې. د باچاه خان بابا د خدايي خدمتګار پيروانو (نېشنل عوامي پارټي) وکولای شو يوه دوره حکومت په لاس کې واخلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځیني بنیادي کارونه سرته ورسوي، خو دغه ملي او قومي خوځښت د امپریالېزم د ګټو او اوږد مهاله پروګرام مخالف کار دي، ځکه نور هغه یې نه شو زغملی او د طالبانو په لاس د ټول ټاکنو او په هغو کې برخې اخستلو، په مقابل کې د برخې نه اخستلو اقدام په ډاګه رامنځته شو او سبوتاژ کړی شو، دوی (طالبان) په سیاست کې برالا لغتي وهلې او د پښتنو د اصلي نمایندګانو مخنیوي یې وکړ. هغه په دې نوم چې موږ هغه حزب ته اجازه نه ورکوو چې مذهبي صبغه ونه لري یا په بل عبارت واقعا ازاد ډیموکرات او د (اي . ایس . اي) له اداري بهر وي. د هغه پر ځای یې یو نوی حزب مشر عمران خان ته لاره ورکړه، د پښتني سیمو واک تر لاس لاندي ونیسي. عمران خان خو تر پرونه د کرکټ کپتان په حیث پېژند شوي شخصیت و نه د سیاست په ډګر کې له میدان نه د سیاست ډګر کې. د کرکټ له ډګر څخه د سیاست ډګر ته راتلل هغه هم ناڅاپه او په لږه موده کې شهرت او اعتبار پیدا کول څه ساده خبره نه ده. نوموړي ته غربیانو موقع په لاس ورکړه چې دغه کار ته ملا و تړي .ده ته څه موده تبلیغات کېدل او وروستي پروګرام یې دا وه چې وزیرستان ته د مارچ په شکل ولاړ شي او هلته دوه مهم ټکي اعلان کړي، یو د بې پیلوټه الوتکې بمباري بندول او بل د افغانستان دننه د جهاد فتوا ورکول.

دغه دواړه خبري د هغه له خولې اعلان شوي، خو سره له هغې په دې ډاډه نه شول چې په پښتني سیمه کې به ئې څه کرېډت تر لاسه کړي وي، دغه بې باوري وه، چې طالبانو ته دا دنده و سپارل شوه، چې په ډاګه اعلان وکړي چې احزاب په ټاکنو کې برخه نه شي اخیستلی.

په پښتونخوا کې عیني د افغانستان په شان بمونه، چاودنې او د خلکو وژل او کورونه ورانول روان دي دغو کړاوونو ته بې د پاي ټکي ږدي او که نور هم زیاتېږي او په سیمه کې کوم بدلون رامنځته کول غواړي دا د غربي امپریالیزم کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیده حسینه ګل

# په پښتني ټولنه کې ښځینه محرومي

ښځه الله تعالی ددې کایناتو د ښکلا لپاره د انساني نسل د دوام په خاطر دې نړۍ ته راولېږله. د ښځې راتګ دې کایناتو او ځمکې ته یو داسې زړه راکښون وزړبوه چې انساني ژوند یې د بني ادم لپاره او بني ادم یې د ژوند لپاره لازم او ملزوم وګرځول. ښځې د خپل ذات او وجود له کوره د لوی فطري عمل په نتیجه کې د انساني نسلونو د پیداکولو عمل جاري ساتلی دی، ښځې د ځمکې پر مخ د مینې او محبت لازواله جذبې په ډېره مینه له خپلو فطري صلاحیتونو سره د انسان د ژوندي پاتې کېدو لپاره په کار راوستي او نن د انساني ژوند او تهذیب په دې روان عمل کې د ښځې کردار هر چاته په ډاګه دی. ښځه که د دنیا په هره ټولنه کې ژوند کوي، خو له یو شمېر ستونزو سره د دنیا هره ښځه له څه ناڅه مشکل سره مخ ده. خو د پرمختللو هېوادونو مېرمن که په خپل تکړه والي، جرئت او بهادرۍ خپل کردار په نره ادا کوي، نو دغه رنګ د مخ په ترقۍ هېوادونو مېرمن هم په دې منډه کې تر چا نه کمه نه ده. خو ولې د ستونزو او مسلو ترمخه دغه دواړه ښځې د سړو په ټولنه کې د خپلو حقوقو د مبارزې له عمل څخه تېرېږي.

پښتنه ټولنه په بنیادي ډول د یو قبایلي رنګ جوړه لري، ددې ټولنې اقدار او روایات له نورو ټولنو څخه جلا دي، ځکه نو په دې ټولنه کې پښتنه مېرمن د تاریخ په هر دور کې له دغسې مبارزو او عملي جدوجهد څخه تېره شوې مورږ ته په نظر راځي. په دې ټولنه کې د پښتنو ښځو پټې او ښکاره دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

محرومۍ مدام خپل تاریخ په اوښکو لیکلی دی، ولې چې پدې معاشره کې پټو او څرګندو قوتونو د پښتنې مېرمن هر اواز غلی کړی دی، د هغې د احتجاج او بغاوت لار یې نیولې ده، زه فکر کوم چې په انساني ټولنه کې یو برابر حقونه لرونکي د صبر او زغم حوصله ولې نه لري او خپله ټولنه د دغسې قسمه تعلیماتي رنځونو ته لاره هواروي، کوم چې د هغوی په ټولنیز عمل کې سستي راولي.

په ما به خاورې څوک میئن شي؟

مور مې میره ده ماته کوچ نه راکوینه

د پښتو ټپې کور دې ودان وي چې د هرې پښتنې د زړه او ژوند عکاسي یې کړې ده، د میرې مور کردار خو قدرتي له داسې قسم بې انصافیو او بې رحمیو نه جوړ دی، خو یوه لویه المیه دا ده چې په پښتنو کورنیو کې خپلې سکه خورې میندې په کور کې د لور او زوی تر مینځه ښکاره توپیر ساتي، د ښځې برخه به نارینه اولاد ته ساتي او خپل ښځینه اولاد له محرومۍ سره مخ ساتي. دغه رنګ د پښتنې پېغلې د ژوند په اهمه فیصله کې د هغې رای، خوښې نا خوښې ته اهمیت نه ورکول کېږي او خپله خوښه او مرضي پر پښتنو لوڼو تپل کېږي، چې له عمله یې یو شمېر ستونزې مخې ته راځي، واده یو ښایسته ټولنیز تړون وي چې د ښځې په ژوند کې ډېرې اهمې تبدیلۍ راولي، خو ددې ژوند د ناکامۍ تیره هاغه وخت اېښودل کېږي، کله چې دغه جینۍ ته ورکړی د مهر حق د هغې څخه بېرته واخیستل شي او جینۍ تش د ژوند په نوي سفر کې د دې محرومۍ ښکار کړی شي، په ټولنه کې د نر او ښځې دې ټکر د ډېرو تور سرو د ژوند خوشحالۍ په خپله ولکه کې ساتلې دي او سړي د خپلې برترۍ له احساس سره ژوند کړی دی، تعلیم او صحت په بنیادي انساني حقونو کې راحتي راولي، ولې له بده مرغه په ځینو پښتنو کورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دلته هم د لور او زوی تر منځ لوی فرق ساتل کېږي، نارينه اولاد ته په هر صورت کې د تعليم او صحت ښې موقې ورکول کېږي، ولې هغه اولاد چې د ژوند په هره سخته کې له مور او پلار سره نږدې ناست وي، خدمت يې کوي مينه ورسره کوي، هغه نظر انداز ساتل کېږي او که چېرته هغه په خپل زور دا موقعې ترلاسه هم کړي، نو هاغه توجه ورته مور او پلار نه ورکوي کوم چې خپل نارينه اولاد ته ورکوي او لا په دې خبره د هغې د شخصيت سپکاوی هم کېږي، چې د پردي ډېران خزله ده.

همدغه رنګ ښځينه وو سره د داسې رويو د ساتنې مرکزونه زموږ خپل کورونه دي چې ښوونځيو ته د محرومۍ او کمترۍ احساس پکې ورکول کېږي. سيل او تفريح هم د انساني ژوند او صحت په ضرورتونو کې راځي، هر انسان دې ته اړتيا لري چې د ژوند د ستړياوو احساس له خپله ځانه په داسې هلو ځلو کې ورکړي، خو دلته هم پښتنې ښځينه له دې حق څخه محرومه ساتل کېږي او دا ځکه چې د ښځو لپاره د کور څلور دېوالونه د هغې په ميراث رسېدلي وي. له ښځو سره دا سلوک او فرق په هره اداره کې ساتل کېږي، له خپلو کورونو څخه که ووځو نو په غم، ښاديو کې هم دا توپير موجود دی، ښځينه د ودونو او خوشحاليو هرې موقع او دستورې ته په ساعتونو ساعتونو ځانونه سينګاروي، خو کله چې د ډوډۍ او خوراک وخت او موقع راشي نو دلته هم نارينه بری يوسي او ښځينه تر ټولو وروسته پالل کېږي، چې په خوراک کې شي.... د چرګ پنجرې، مرۍ او څټونه په برخه ور ورسېږي، هم داسې د رياست په سطح چې کومې فيصلې کېږي، په هغې کې ددې سيمې انساني ابادۍ، د سهولت، د هغوی د ترقۍ داسې ګټورې منصوبې او پروګرامونه نه شي جوړولی چې د هغې په نتيجه کې د ښځينه وو په ژوند کې مثبته تبديلي راولي، د معاش او اقتصاد په حواله هم په ځينو ځايونو کې ښځينه له روزګار او معاش نه ازادي ساتل کېږي ، په دې فکر که

(c) ketabton.com: The Digital Library

چېرې ښځه په اقتصادي توګه تکړه وي، د هغې په لاس کې پيسه وي نو هغه په کورونو او ژوند کې يو برابر، د سړي د حقونو په سمون خپله د حق غوښتنه کولای شي.

ځان يې زړو جامو کې جوړ کړو
لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وينه
خدای دې د ښې ورځې خاوند کړه
چې له شلېدلې لوپټې نه خلاصه شمه

زړې جامې او شلېدلې لوپټه د پښتني مېرمن په برخه رسېدلې هغه ميراث دی چې له هغه نه د خلاصون لپاره هرې پښتنې مېرمن نه يوه عملي مبارزه کول پکار دي، وخت ډېر بدل شوی دی بايد هر پښتون پلار، مور او د ژوند ملګرې په دې ضرورت پوه وي او هغه موقعې چې خپلو نارينه و ته ورکوي خپلو زنانه و ته دې هم ورکړي چې ژوند په حقيقت کې د ارتقاء پر لوري روان شي او د نړۍ د ترقي کړو هېوادونو په شان پښتانه هم ددې ارتقاع يوه برخه شي، بايد په هر اړخ د داسې دوسيو غندنه وشي، چې په ټولنه کې نر او ښځې تر منځ په توپير ساتلو ټولنه کې د ذهني او نفسياتي مرضونو د زياتوالي سبب ګرځي، موږ يوې صحت مندې او ترقي يافته ټولنې ته اړتيا لرو، خو دلته د هرې پښتنې مېرمن هم دا ذمه واري ده، چې په خپل ځان د داسې جبر لار ونيسي، د دې توپير ضد خپل اواز مظبوط کړي، دا ذمه واري د ميډيا او د هغو د منتظمينو هم ده، د رياست د واکمنو ادارو هم ده چې په دې لړ کې د دې سيمې انساني ابادۍ لپاره کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنوال محمد اسمعیل یون

# پراخ کمیت او موثر کیفیت

دا خبره ډېره مشهوره ده چې کیفیت په کمیت کې وي، په دې مانا چې که په لسو تنو کې یو تن با کفایته وي، نو په سلو کې به لس تنه د ښه کفایت څښتنان وي، په پخوانیو زمانو کې کمیت په ډېرو برخو کې ترکیفیت د مخه و، په تېره بیا په جګړو او نورو هغو ډګرونو کې چې د زور ازمویلو عنصر په کې مطرح و، کله چې به په دې حالاتو کې د جګړېیزو وسایلو څرنګوالی یو شان و، نو تر ډېره حده جګړه د هغه لوري په ګټه تمامېدله چې روحیه یې لوړه وه او کمیت یې تر بل لوري زیات و، خو په تېرو زمانو کې هم تدبیر، تفکر او کیفیت پر لویو ناتدبیره ډلو د وړو باکفایته ټولنو او ډلګیو بری تضمین کړی دی.

په هندوستان کې د پښتنو او مغلو د بېلابېلو کورنیو د پېړیو پېړیو واکمنې ددې ښکاره بېلګه ده چې منسجم، مدبر او باکفایته ټولې او ان یو څو کورنۍ او ټبرونه هم کولای شي پر یو لوی کمي اکثریت خپله واکمني ټینګه کړي.

له هغه وخته چې نړۍ د تخصص پر لوري ګامونه اخیستي، نو د کمیت پر ځای د کیفیت موضوع ډېر زور اخیستی دی، اوس کیفیتونه پر کمیتونو واکمني کوي او د هغو ټکنالوژۍ او ژوند لوري ته د بدلون جوګه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کميتونه تر ډېره حده د رايې او نظر د څرګندولو پر وخت پوښتل کېږي او يوازې مصارفي لښکر ګڼل کېږي، په ټاکنو او نظر پوښتنو کې کميت (شومره والی) ډېر رول لري، خو په حکومت جوړونه او د دولت پرمخبيونه کې بيا د کميت ځای کيفيت نيسي. د نړۍ په کچه هم هغه قومونه که څه هم د شمېر له مخې ډېر واړه دي، خو څرنګه چې د کيفيت پړاوونو ته يې ځانونه رسولي، په نړۍ کې تر ډېرو لويو قومونو زيات مطرح دي او په هر ډګر کې يې خبره خورا وزن لري. اسرائيل ددې ملتونو له جملې څخه يو دی، چې د شمېر له مخې په وړو ولسونو کې حسابېږي، خو په نړيوال سياسي او علمي کور کې ډېر زيات مطرح دی، تر اوسه پورې په علمي ډګر کې د نړۍ په کچه شاوخوا (۴۰) تنو د نوبل جايزې ترلاسه کړې دي. په دې کې (۱۸) تنه يوازې اسرائيل دي، ياني د اوسني عصري علم د پرمختګ په ډګر کې د اسرائيلو برخه نږدې نيمايي ده، اسرائيل په خپل کم کميت د عربو د پراخ اکثريت په مقابل کې ولاړ دي او ان دا چې ټولو مسلمانانو او د نړۍ د نورو اديانو پلويانو ته زيات مشکلات پنځوي. داسې ډېرې نورې بېلګې شته، خو اوس راځم د پښتنو پراخ اکثريت ته! دې کې هېڅ شک نه شته چې پښتنانه په افغانستان کې ثابت او څرګند اکثريت دی او په سيمه کې د شمېر له مخې په مطرحو ولسونو کې حسابيږي. خو دا خبره د غور وړ ده چې د پښتنو له دې پراخ کميت سره کيفي ودې هم موازي حرکت کړی دی که نه؟ دا حقيقت بايد ومنو چې د نسل تکثير په پښتنو کې ډېر زيات دی، خو د علم تکثر بيا په دې انډول نه دی. که دا معادله يو بل سره انډوليږه وای، نو بيا خو پر پښتنو دومره ستونزې نه راتللې. پښتانه اوس د نورو ګڼو ستونزو ترڅنګ دوه اساسي ستونزې لري: يو دا چې د پښتنو طبيعي سياسي جغرافيه پر دوو برخو وېشل شوې، تر هغه وخته چې لر او بر پښتون په خپله واحده طبيعي جغرافيا کې سره راټول نه شي، نو ډېرې ستونزې به همداسې پر ځای پاتې وي او افغانستان کې به هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دايمي طبيعي ثبات پر وړاندې ستونزې راټوکېږي او بل دا چې پښتانه خپل ذهن کې يو کيفي بدلون رانه ولي.

تر څو چې پښتانه د پوهې په ګاڼه سمبال نه شي او د خپل برخليک ټاکلو لپاره خپل فکري کيفيت پياوړی نه کړي، ډېره سخته ده چې پښتانه پر خپلو ستونزو برلاسي شي. د تېرو څو پېړيو په بهير کې بيا تردې دمه، پښتانه د افغانستان په حکومت کې تر ډېره بريده په عنوان او حاشيه کې واقع وو او لا دي، د حکومت متن په اساسي مانا د دوی په لاس کې نه و، کومو پښتنو چې د حکومت په متن کې هم کار کاوه ، اکثره په بله ژبه کې حل شوي او دل شوي وو.

د يو حکومت عنوانونه او لمنې وخت پر وخت بدلېږي، خو اصلي اډانه يا متن په اسانۍ سره نه بدليږي. عنوان د مسوليت بار پر غاړه اخلي او حاشيه تر ډېره حده واړه خدماتي کارونه تر سره کوي، خو د يوه نظام پېروی او شيره اصلاً د متن په لاس کې وي.

که غواړو چې د پښتنو ستونزو ته په اساني مانا حل لارې پيدا کړو، نو يوه اساسي حل لاره يې همدا ده چې مفکر پښتانه بايد پر يوه ښه کيفيت باندې د پښتنو د پراخ اکثريت د بدلولو لپاره کار وکړي. ددې لپاره يوه دقيقه ستراتيژي جوړه کړي، که ددې ستراتيژي تطبيق تدريجي بڼه هم ولري ودې لري، خو چې وي او ورو ورو بايد ورته تر هغه حده چټکتيا ورکړای شي، چې د کميت او کيفيت حرکت متوازن شي، د پښتنو په کميت کې هم ډېرې زياتې ښېګڼې او ځانګړنې شته خو که دې سره مؤثر کيفيت ملګری شي، نو ساری به يې د نړۍ په ولسونو کې ډېر کم پيدا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنمل سرور ماموند

# د ډیورند کرښه او د هغې اغیزې

افغانستان چې د سترې جګړې او ساړه جنګ د زبر ځواکونو د سیالیو ډګر و او دا چې زیات ځاني، مادي او فرهنګي زیانونو سره مخ و چې په دې لړ کې د بریتانوي استعمار د ځانګړو د سیسو ښکار شو او هغه ستونزې چې ورسره هېواد او سیمه مخ ده د همدغو ښکیلاکګرو سیاستونو پایله ده. د بریتانوي تاج د ځواکمنۍ لپاره د دغې امپراطورۍ یرغلګرو د مرکانتالیزم یا د سوداګرۍ دسیاست په دوران کې د هند نیمې وچې ته د سرو او سپینو زرو په تلا ش کې را ورسېدل ځکه چې د نړۍ د امپراطوریو ځواک د سرو او سپینو زرو د مقدار له مخې ټاکل کېده . د هند نیمې وچې ته په رارسېدو او هغه امتیازات یې چې د مغولي واکمن جهانګیر څخه یې د هند د ختیځې کمپنۍ په وجود کې ترلاسه کړي وو د دې لپاره یې زمینه برابره کړه چې په دې سیمه کې پښې ښخې کړي او د نورو اروپایي لوبغاړو پر وړاندې یې په سیمه کې د خپلو پلانونو د عملي کولو په لړ کې د افغانستان جیوپولیتیک او جیو ستراتیژیك اهمیت ته په پام سره د وړاندې تګ د پالیسۍ د پلي کولو لپاره پلانونه طرح کړل چې یو یې د جګړې د لارې د افغانستان ښکیلاك و. هغه مهال چې د افغانستان د سدوزیو واکمني د کورنیو سیالیو ښکار وه، نو همدا وجه وه چې بریتانوي ښکیلاکګر د افغانستان ختیځو پولو ته را ورسېدل او د بلې خوا د روسیې د تزار پوځونه هم د منځنۍ اسیا له لارې د افغانستان شمال ته رانږدې کېدل؛ دلته وه چې دوو زبر ځواکونو همغه مهال افغانستان ته خورا زیاته توجه درلودله. انګریزانو چې خپل اروپایي سیال فرانسه یې د هند په جنوب کې د ماتې سره مخ کړی و نو د ایران او هرات د لارې یې هم د فرانسې د نفوذ د مخنیوي لپاره کار کاوه او په شمال کې یې د تزاري روسیې د ماتولو لپاره په افغانستان د نظامي وړاندې تګ پالیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملي کوله. کله نا کله د دغو زبر ځواکونو سیالیو د داسې سازشونه بڼه خپلوله چې په کې د افغانستان ټوټې کول او زیانمنول شامل وو. افغانستان د هغه مهال د سترې لوبې د " قربانۍ ګډوری" و. د افغانستان د همغه مهال زیانمنونکی حالت د بریتانوي هند د بهرنیو چارو وزیر سرالفریډ لویال پخپل یو شعر کې امیر شیرعلي خان ته داسې انځور کړی و:

" افغان د ژرندې د دوو پلونو تر منځ د انه ده چې د دغو تیږو تر منځ د طوطیا په څېر مېده کېږي" .

د هغه مهال د افغانستان واکمن امیر شیرعلي خان په ډېرې ناخوښۍ د هند وایسرای لارډ لېټن د دې په ځواب کې ولیکل: " افغانستان د غنمو دانه نه بلکې د تلې شاهین او مېزان دی، که چېرې هغه د یوې پلې خواته کږېږي نو د تلې بله پله به الوځي."[1]

د افغان انګلیس د دوهمې جګړې په ترڅ کې د افغان جنګیالیو د زیات مقاومت په پایله کې انګریزان او تزاری روسیه دې موافقې ته ورسېدل چې د هغه مهال په بخارا کې د مقیم امیر عبدالرحمن خان په اړه د هغه د نیمه خود مختار واکمن په توګه سره موافقې ته ورسیږي. بریتانیا د روسیې تزارته وړاندیز وکړ چې افغانستان د یو حایل زون په توګه د روسیې او بریتانوي هند تر منځ پاتې شي او له همدې ځایه وه چې د ډیورنډ د کرښې د تحمیل لپاره طرحې را منځته شوې. دغه او نورترړونونه د دې لپاره وو چې په سېمه کې د پراختیا غوښتني سیاستونه په بل ډول پلي شي. ځکه بریتانوي استعمار ونه کړای شو پر افغانستان باندې مستقیم تسلط تر لاسه کړي او د خپل نفوذ ساحه تر امو د سینده پورې پراخه کړي.

دغه تړون د یو استعماري ځواك له خوا پرته له دې چې بل لوری( افغانستان) د هغه په لیکلو کې ونډه ولري طرح شو او د یو استعماري اړخ

---

[1] میر محمد غبار

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خوا د بل نیمه خپلواك اړخ سره په نا برابرو شرایطو سره مطرح شو. دلته لاندېنۍ پوښتنې د پام وړ دي:

۱. ایا استعماری ځواك د جګړې په شرایطو کې د خپل هیواد د پولو څخه زرګونه میله لیرې د سیمې د هیوادونو د دولتي پولو د ټاکلو قانوني واك درلود؟

۲. د بریتانوي هند دوهم درجه شخص( د بهرنیو چارو وزیر) د بل لوري د لومړۍ کچې د واکمن سره په مساوي شرایطو سره د دغه ډول تړون د لاسلیك کولو صلاحیت درلود؟

۳. د افغانستان د وخت امیر چې د بریتانوي هند څخه یې مستمري تر لاسه کوله د ۱۸۸۸ کال څخه را په دې خوا د زیاتو فشارونو سره مخ و او د تیري د ګواښونو په فضاء کې ورته هغسې یو سند د لاسلیك لپاره وړاندې کیږي چې په کې د وړاندې څخه د عوامي واك له مخې مشورې نه وې شوې. نو ایا دغه شان موافقه کیدلای شی برابره حقوقي او قانوني جنبه ولري؟

۴. دغه سند یواځې د استعماري زبر ځواك په ژبه یاني انګلیسي کې لاسلیك شوی او دا چې د هغه په ترتیب کې د افغاني لوري مشورې نه وې نو ځکه د هغه انګلیسي متن امیر لاسلیك کړی چې امیر په انګلیسي ژبه نه پوهیدلو او داچې په بخارا کې ډیر وخت کډوال و نو کیدای شي چې په روسي ژبه به پوهیدلو!!!. د دغه ډول یو مهم سند متن یواځې د جګړې د برلاسي خوا په ژبه چې ان دسیمې د هیوادونو ژبه هم نه وه چې په دې توګه هغه پر هغه واکمن تحمیل شوی دی چې د طرح کونکي له خوا یې مستمري اخیستله. نو داسې یو تحمیل شوی تړون په دغه شان نا برابره شرایطو کې څه ډول حقوقي جنبه لري او ایا هغه کیدلای شي چې د اولس له خوا په وروسته پړاوونو کې د منلو وړ دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. ایا هغه قراردادونه چې د جګړې د حالت د مدیریت لپاره تړل کېږي او یا تحمیل کیږي کله چې د جګړې حالت پای ته رسېږي په همغه قوت پاتې کېدلای شي؟

۶. دغه کرښه چې د برلاسي یرغلګر له خوا د کاغذ پر مخ طرحه شوې د هغې په اړه د هغو خلکو څخه چې پر خاوره یې کرښه تېریدله د هغې د مشروعیت لپاره پوښتنه شوې وه؟

۷. ایا دغه سند د نورو قانوني پړاوونو لپاره د اړوندو دولتونو د تقنیني بهیرونو څخه تېر شوی و؟

۸. ایا د ډیورند توافق لیك د لومړنیو خواوو او د هغو وروسته واکمنیو له خوا رعایت شوی و ؟

۹. دغه توافق لیك د خپل ماهیت له مخې دایمي بڼه درلودله او که موقتي؟ یا نې د جګړې د حالت لپاره د مسالو د لنډ مهاله حل په موخه شوی دی او که نه؟

۱۰. ایا هغو خلکو چې د چا سرنوشت ورسره تړلی دی دغه کرښه یې د یوې دولتي پولې په توګه ګڼلې وه او کنه؟ په داسې حال کې چې قبیلې، خېلونه او کورنۍ یې سره ویشلې دي او هیڅ وخت هغوی د تګ راتګ پر مهال د سرحدي رژیم په توګه هغه نه ده رعایت کړې.

د پوهاند محمد حسن کاکړ د لیکنې له مخې د افغانستان امیر د توافق لیك د لاسلیك وروسته انګریزانو ته ځینې اعتراضونه واستول چې د کرښې په اوږدو کې د نفوذ د ساحو په اړه وو، خو د بریتانوي هند وایسرای د هغو ځواب ورنه کړ. په دې مانا چې اعتراضونه وارد وو!

کله چې د هنري ماتمرډیورنډ ماموریت خپل د د سپسو دغه ماموریت پای ته ورساوه نو امیر د هند وایسري ته چې د هند په نیمه قاره کې د بریتانوي امپراطورۍ لومړی مقام و ولیکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

" که تاسو هغوي ( قبايلي سيمې) زما د واکمنۍ څخه لېرې کړئ نو هغه به نه ستاسې او نه هم زموږ د ګټې وړ وي: تاسو به همیشه د هغوي سره په جګړه او ستونزه کې اوسئ ، او ... " [۲]

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ ليکي:

" مهمه داده چې برتانوي لوړ پوړو مامورانو د ډيورنډ توافق ليك په خپله په ضمني ډول باطل کړی. سرجارج روس -کيپل د صوبه سرحد لوی کميشنرته د افغانستان د خپلواکۍ له جنګ نه وروسته و ويل چې: [زموږ پور شخص ( امير) حبيب الله ته و، او موږ د هغه د ورور يا زامنو مديون نه يو.] د دغې وينا نه دهغه مطلب دا و چې هغه مقدار پيسې چې دهند د بريتانوي حکومت د ډيورند د توافق له شرايطو نه ازادوي، تر هغه مهمه دا ده چې د ډيورند د توافق ليك په ضمني ډول د راولپنډۍ د تړون له مخې چې د هند د باندنيو چارو د وزير د ۱۹۱۹ کال د اګست په اتمه منلی، هم باطل کړی. د دغه تړون په ضميمه کې ای ايچ ګرانت ويلي چې : ( پر هغه برسېره دغه جنګ ټول پخواني تړونونه باطل کړي دي.) " [۳]

لکه چې پورته وويل شو امير عبدالرحمن خان چې نيمه خود مختار واکمن و او د هېواد د بهرنيو پاليسيو د مديريت لپاره د بريتانوي هند تابع و پخپل ليك کې د هند وايسري ته دا واضح کړې وه چې دغه سند يې د اجبار او تحميل له مخې لاسليك کړی نو په دې صورت کې د سند حقوقي اړخ تر پوښتنې لاندې راځي. له بلې خوا د ډيورند د کرښې د سند په سريزه کې داسې لولو:

" په داسې حال کې چې د هندوستان په خوا کې د افغانستان د سرحدي سيمې په هکله ځينې مسالې رامنځته شوي ، او په داسې حال کې دواړه والا حضرت امير او د هندوستان حکومت هيله من دي چې دغه مسالې د دوستۍ په فهم او د دواړو د نفوذ د ساحو د حد په ټاکلو سره حل کړي ....".

---

[۲] خليل نوري د امير عبدالرحمن خان لمسی، ۲۰۱۰/۰۳/۱۳

[۳] پوهاند محمد حسن کاکړ، اسمايي، ۱۴ فبروري، ۲۰۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کومي مسالې وې او په هغه مهال د افغانستان سره د هند د حکومت سرحدات کوم وو او دنفوذ ساحې کومې وې؟ د نفوذ د ساحو په اړه د امیر هغه لیك چې د اعتراض په توګه د هند وایسرای ته په دغه مهال کې استول شوی دی پوره وضاحت لری.

په دې سیمه کې په ۱۹۱۹ کې لومړني ستر بدلون هغه مهال رامنځته شو چې افغانستان د بریتانیې استعمار ته ماتې ورکړه او دې ته یې اړ باسلو چې د افغانستان استقلال هم په کورنیو او هم په باندنیو چارو کې په رسمیت وپیژني. د افغانستان د یو خپلواك دولت په توګه د پیژندلو په سند کې د ډیورند د کرښې د حقوقي حالت په اړه څه نه دي راغلي او دا په دې مانا چې د افغانستان د پولو ټاکل د یو استعماري ځواك د واکونو برخه نه وه. بل ستربدلون په ۱۹۴۷ کې راغي چې هغه د دغې وچې ویش و او دا چې انګریزي استعمار خپل تسلط له لاسه ورکړ نو په دې صورت کې د هغه تر مخه تحمیل شوي قراردادونو هم خپل ماهیت له لاسه ورکړ. او دا چې د هند په وچه کې د ریفراندم او ټول پوښتنې پایلې د دغه تړون په اړه هغه پوښتنې چې را پورته کوي کومې دي؟

د بریتانیې استعمار دغه ډول پولې د خپلو مستعمرو په ټولو قلمرونو کې د کاغذ پر مخ داسې راکښې کړې دي چې د اوسنیو شخړو او لانجو لپاره د باروتو د بوجیو کار ورکوي. په منځنۍ ختیځ کې د فلسطینیانو پرخلاف عمل او هلته د نړۍ د ټولو برخو څخه د یهودو په راټولولو سره د فلسطینیانو د هویت د پای ته رسولو استعماري دسیسه لااوس هم د شخړو اصلي سرچینه ده . د اسیا په وچه کې هم دغه ډول کار تر سره شوی او انګریزانو کله چې هم یو اولس تر خپل ښکېلاك لاندې په پوره ډول نه دی راوستی نو بیا یې هلته د ویش او حاکمیت کولو د روش څخه کار ا خیستی دی .

د افغانستان د اولس استازو د ۱۹۴۹ کال چې د هغه مهال د ملي شورا اوومه غونډه وه د ډیورند د کرښې په فزیکي ( دیفکتو) او هم په حقوقي ( دیجور) لحاظ رد کړه او دا په دې مانا چې د کرښې د تحمیل پر مهال د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان دولت په بهرنیو چارو کې خپلواك دولت نه و بلکې هغه یو تحت الحمایه (پروټیکټریټ) واکمني وه چې ورته د توافق لیك بل اړخ چې په حقوقي لحاظ دواړو برابر حیثیت نه درلود مستمري هم ورکوله چې په دې صورت کې د ملي ګټو د ساتنې په اړه اختیارات هم له منځه ځي.

## په سیمه او نړۍ د ترون اغیزې:

لکه چې وویل شو امیر عبدالرحمن خان د بریتانوي هند وایسرای ته پخپل اعتراضیه لیك کې دا جوته کړې وه چې د دغې کرښې د تحمیل سره به د دې سیمې د تنظیم لپاره کومې ننګونې د ځان سره ولري چې دا په ټوله کې د دغه تحمیلي ترون اصلي ماهیت په نښه کوي. د یوې قبیلې، یو کلي او یوې کورنۍ په منځ ویشل پرته له دې چې دهغو خلکو اراده اوګټې په کې شاملې وي داسې یو عمل دی چې یواځې یو استعماري ځواك هغه تحمیل کولای شي.

د دې کرښې په دواړو خواوو کې قبیلو او کورنیو همیشه د یو شان ټولنیزو مقرراتو او دودونو په چوکاټ کې ژوند کړی او هغوی دغه کرښه په عمل کې نه ده منلې. د کاغذ پرمخ هانري ډیورند د لته قبیلې قومونه چې په کورني او د شتمنیو او د ژوندانه د اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې نه شلېدونکي اړیکي درلودل او لري یې پرته له دې چې په دغه پروژه کې افغان چارواکي او پخپله خلك شامل وي داسې سره و ویشل:

| قبیله | په افغانستان کې سلنه | د تش په نامه کرښې بل اړخ ته سلنه |
|---|---|---|
| سالارزی (ترکاڼي) | ۳۰ | ۷۰ |
| مشواڼي | ۸۰ | ۲۰ |
| ماموند | ۳۰ | ۷۰ |
| صافی | ۹۰ | ۱۰ |

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| مهمند | ۴۰ | ۶۰ |
| شینواري | ۸۰ | ۲۰ |
| ځاځي | ۹۹ | ۱ |
| ځدران | ۹۷ | ۳ |
| منګل | ۹۵ | ۵ |
| څمکني | ۶۰ | ۴۰ |
| ګربز | ۹۰ | ۱۰ |
| وزیر | ۲۰ | ۸۰ |
| د خوست د ولایت ځیني قبیلې | ۹۶ | ۴ |
| سلیمانخیل | ۸۰ | ۲۰ |
| بیتنی | ۵ | ۹۵ |
| دفتاني | ۶۰ | ۴۰ |
| بړیخ | ۹۰ | ۱۰ |
| کاکړ | ۴۰ | ۶۰ |
| اڅکزی | ۳۵ | ۶۵ |
| نورزي | ۹۰ | ۱۰[۴] |
| نور ې قبیلې | ... | |

(پورتني ارقام د احصاییو له مخې کره نه دي او د دغو قبیلو او خیلونو د مشرانو د اټکل له مخې یاد شوي دي څو د کرښې په دواړو خواوو کې د هغوي د شتون په اړه معلومات وړاندې شي)

---

[٤] د سپین ږیرو سره مرکي ۲۰۰۹ کال ، کابل

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتنو د نورو قبیلو لکه افریدی، ختټ، بنګښ، مروت، ورکزي، توري، مسید ، اتمانخیل، جدون، یوسفزي چې د هغو زیات شمېر د پولې په بله خوا کې میشت دي. هغوي چې د پولې په دواړو خواوو کې وېشل شوي دي په ټولو سیاسي- نظامي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو بهېرونو کې مستقیمه ونډه لري او اغېزې یې خورا زیاتې دي.

د شیخ ملي د ځمکو د ویش د سیستم له مخې د افغانستان د کنړ په ولایت کې د ماموند قبیله د باجوړ د سیمې سره تړلې ده او هغه د ځمکې وروستنی ویش چې په ۱۳۴۳ کال کې وشو د ډیورنډ د تش په نامه د سرحدي پولې څخه کورنۍ په دواړو خواوو کې سره وویشلې شوې او لااوس هم د خیلونو او کورنیو تر منځ د کنړ د ولایت د شیګل د ولسوالۍ د شلتن د درې خمکې د باجوړ د وړو ماموندو د ځمکو سره د ویش په سیستم کې دي چې کورنۍ په دواړو خواوو کې ملکیتونه لري او د ډیورنډ کرښه د هغوي لپاره کوم اهمیت نه لري.

د انګریزانو د وخت د دغه ناوړه ویش له امله د کرښې په دواړو خواوو کې وګړي د یو منظم دولتي سیستم څخه د باندې پاتې شول، په سیاسي او اقتصادي ډګرونو کې ورته هغه ونډه ونه رسېدله چې له مخې یې هلته تر قې راغلې واي. خلك د تعلیم څخه محروم پاتې شول او د ښځو تعلیم خو تر اوسه هم هلته د نشت په برابر دی. داچې د انګریزانو له خوا همغه مهال د جرمونو د قابو کولو لپاره د ایف سي ار په نوم د منځنیو پېړیو ناوړه قانون وضع شو نو په اصطلاح دغو خودمختتارو سېمو کې د انسان وژونکو او مجرمینو لپاره پټن ځایونه رامنځته شول او د نوي عصر ترهګرو هم دلته ځالې جوړې کړي دي.

انګریزانو هغه مهال د ډیورنډ د کرښې د تحمیلي تړون په چوکاټ کې د دغې سېمې څخه د حایل زون په توګه او د ستري لوبې او ساړه جنګ په دوران کې یې ورڅخه د خپل شمالي سیال او زبر ځواك د ماتولو لپاره کار اخیستلو . په دغه پلان کې د ۲۱ پیړۍ سیالان بریالي شول ځکه همدا سېمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه چې د ساړه جنګ لپاره يې د لوژيستيکي او ايډيالوژيکي پلاتفورم په حيث کارورکړ. دلته دا د پام وړ ده چې د ساړه جنګ د دوران د دښمن د ماتولو لپاره چې د کوم تاکتيك او لارو چارو کار واخيستل شو همدغه تاکتيکونه اوس د لته د ترهګرۍ اصلي سرچينه جوړوي.

دغه سرحدي کرښه چې لا هم متنازعه کرښه ده نږدې ۲۳۱۰ کلو متره اوږده ده او د هغې د اغيزمن کنترول لپاره زياتو انساني او مادي سرچينو ته اړتيا ده.

د بده مرغه د دې کرښې په دواړو خواوو کې دوديز قومي جوړښتونه مات شول، د قبيلو مشران د زرګونو په شمېر کې د يو منظم پلان له مخې و وژل شول نوځکه اوس د ترهګرۍ لپاره ډګر خالي دي. د دې سېمې پښتانه د تعليم څخه محروم دي او په اقتصادي لحاظ د خپل ژوند د تامين لپاره هم ترهګري د يوبديل په توګه کاروي چې ترهګرې کړۍ د هغوي په استعمال کې مهارت لري.

له بلې خوا د سېمې د دوو هستوي دولتونو تر منځ د کشمېر د شخړې له امله هم قبايلي سيمه يو ستراتيژيك اهميت لري ځکه د کشمېرڅخه راغلي جنګيالۍ ډلې دلته ځانته ځاي ميندلای شي او همدا وجه ده چې دلته د ټيکاو او امن لپاره زمينه نه ده مساعده. تر هغې چې په سيمه کې د بريتانوي استعمار د دوران څخه راپاتې مسالې د حل يوه معقوله لاره ونه مومي نو د کرښې په دواړو خواوو کې پښتانه به د سيمه ييزو او نړيوالو دسيسو ښکار وي او هم به دځان او هم دنورو لپاره د ګواښونو لامل ګرځي او د نړيوال تمدن، ټولنيزې سوکالۍ او اقتصادي پرمختيا څخه به شاته پاتې وي.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

داود جنبش

# پښتانه او نړۍ

د پښتون، پښتو او پښتنو ټکي به په تاریخ کې هم کله دومره د نړیوالو له خوا نه وي یاد شوي چې په تېرو دوو لسیزو کې- لومړی د طالبانو د ظهور او وروسته د هغوی د نزول په تړاو چې عمومي افکار یې د پښتنې ټولنې زېږنده بولي. پر دې به لا نه غږېږو چې طالب رېښتیا د پښتنې ټولنې محصول دی او که پښتنو ته را صادر شوی دی. خو پر دې به هرومرو تمېږو چې دغو انګېرنو او اخیستنو پښتنو ته له ځانه سره څه راوړي دي.

لومړی راځئ وګورو چې په لویه نړۍ کې د پښتانه تاریخي ځای چېرې او دریځ څه و؟

پښتون ښایي د هغو لږو قومونو په ډله کې راشي چې ها زما د یوه همکار خبره «نه یې نړۍ وپېژانده او نه نړۍ دی سم وپېژانده!»

پښتون په دودیز ډول له خپلې نړدې کړۍ ورهاخوا د اړیک پالنې شوقي نه دی او که یې پالي هم د پردو له کړکۍ. دده راشه درشه تل له خپل سره ده: له چم، ګاونډ او تربره سره؛ چې له دې ورهاخوا شي له کلیوالو، سیمه والو سره؛ آن ډېر لږ د هېواد کچې ته وځي (یا لږ تر لږه تر دا وروستیو پورې دغسې وه). نوره نړۍ یې ډېره نه خوښېږي او «خپل غر د بل له تخت او زر سره نه برابروي». که له تاریخي پلوه ددغسې یوې مراودې پیلولو ته اړ شوی، نورې نړۍ ته مخامخ نه دی وتلی او له واسطې یې کار اخیستی دی او دا واسطه د سیمې هغه ولسونه وو چې تر ده دمخه په نړیواله راشه درشه کېوتي وو: په لویدیځ کې فارسیان، په ختیځ کې د هند د نیمې وچې ولسونه او یو لږ مهال په شمال کې روسان. له نړۍ سره په دغو محدودو تاریخي روابطو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې چې موږ یې بېلګې موندلی شو، دده د ستونزې سته هم په دغه پردې کړکۍ کې ده. په لوېدیځ کې د پښتانه تصویر د همدغو ګاونډیو ولسونو د تعریف پر بنسټ جوړ شوی دی چې له مخې یې پښتون داسې یو څوک دی: مغرور، دودپال، قهرجن، مکار، بې تمدنه، بې وعدې، سر ټمبه، خرافاتي، قانون ماتوونکی، جاهل، کینه کښ، غچ اخیستونکی او داسې نور.

د شلمې پېړۍ په پیل کې انګرېز ښوونکی ډبلیو ګېلبرسن په خپل اثر «د پوختو لومړني کتاب» کې د پښتانه تر تعریفولو وروسته له هغه سره د رابطې محدودیت داسې بیانوي:

«له (پښتانه) سره په خپله ژبه خبرې نه شي کېدی او راشه درشه ورسره له منځګړو پرته شوني نه ده. په دې کې له دوو دلیلونو څخه یو شته: یا دا چې دی پخپله د خپلې ژبې د ورزده کړې ورتیا نه لري او یا دا چې د خپل ولس او خپلو چارو په وړاندې بې تفاوته دی».

پښتو او پښتنو ته پام هم د لوېدیځ تر ټولو قامونو دمخه انګرېزانو اړولی او دا کار یې لومړی د مذهبي او وروسته پوځي دلایلو پر بنسټ کړیدی. د لندن د ختیځ پېژندنې پوهنتون- سواس په یوه څېړنه کې راغلي دي: « له پښتو سره د مفاهمې د یوې وسیلې په توګه د انګریزانو مینه د ۱۹ پېړۍ له نیمايي څخه پیدا شوې ده. لومړنی مقصد چې پښتو پکې وکارېدله د انجیل خپرېدل و. د عیسویانو دا سپېڅلی کتاب لومړی ځل پر ۱۸۱۸ کال په پښتو راووت. وروسته بیا هغو انګریزي افسرانو چې د برتانوي هند په پښتني سیمو کې یې دندې درلودې پښتو ته مخه کړه چې له یوې خوا له ځايي ولس سره بې واسطې وغږېدلی شي او له بلې خوا دغه ولس چې پښتو وایي، وپېژني.»

په پښتونخوا کې انګرېز افسر جګړن راورټي د نولسمې پېړۍ په دویمه نیمايي کې ظاهراً لومړنی کس و چې د لندن چارواکو ته یې د پښتنو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندلو او پښتو زده کولو سپارښتنه وکړه او پخپله يې هم ورته يو ګرامر وليکه چې څېړونکي يې په دې ژبه کې لومړنی بولي. که څه هم په شمال کې روسانو د پيترزبورګ پوهنتون له لارې د پښتو پېژندنې هڅې تر انګرېزانو دمخه پيل کړې وې، خو انګرېزي افسرانو د عملي اړتياوو له مخې پامور پرمختيا ورکړه. په «بنو يا زموږ افغاني سرحد» نومي کتاب (۱۸۷۶) کې ايس ايس توربورن پر پښتون قبايلي وګړي د هغه انګرېز د خبرو اغېز ته ګوته نيسي چې پښتو يې زده کړې ده. دی ليکي:

«د هغه غرني پښتون خوښي چې انګرېز بادار يې ورسره دده په پښتو ژبه خبرې وکړي رېښتونې او ناپايه وي.»

د «لومړني پوختو کتاب» ليکوال هم خپلو همفکرو ته د پښتو زده کړه په پښتني ټولنه کې د بدلون راوستلو يواځينی لار معرفي کوي او ليکي: «دا هغه قام نه دی چې په سپکولو او د خورا ډېر زور په کارولو مات شي، که څه هم ښايي دا هماغه يواځيني ځيزونه وي چې دی پرې سم پوهېږي. موږ ته اما په کار ده چې ددغه کس د پېژندنې لور ته لکه هغسې چې دی، دده د ژبې د زده کړې له لارې پر له پسې هڅه وکړو؛ پخپله دی او د هغه چاپېريال وپېژنو؛ هڅه وکړو چې له ده سره د کلك خو سم سنجول شوي، عادلانه او دده له مذهبي عقايدو، دودونو او هېوادنيو رسمونو سره په همغږي چلند دده جهالت او سرکشي له منځه يوسو.»

خو څرنګه چې د پښتنو او پښتو لور ته د لوېديځوالو هڅې پر پوځي بنسټونو ولاړې وې چې دواړه لوري پکې خوږ شوي، نو د نړدې کولو پر ځای يې هغوی لا هم يو له بل نه لېرې کړيدي. دا هماغه پړاو دی چې د «پيرنګي» ټکی چې د انګرېزي foreigner يا «بهرني» اړول شوې بڼه ده، د يوه خورا ناوړه غليم مترادف وګرځېد او پښتون کولتور ته ننوت. له پيرنګي سره تړلی هر شی د کرکې وړ شو، د هغه د موخو او نيتونو په اړه شکونه پيدا شول او څرنګه چې پښتون د هېڅ «پيرنګي» په ژبه هم نه پوهېده يا لږ پوهېده، د سيمې منځګړو چې دده په استازيتوب غږېدل دغه واټن نور هم ژور کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتانه څېره چې څه ډول په نولسمه پېړۍ کې د لوېديځوالو په سترګو کې جوړه شوې، په ۲۱ پېړۍ کې هم وانه وښته. دغه تصوير د راند موسسې غړې جوناه بلانك په دې وروستيو کې داسې ښودلی دی:

«د پښتنو هره روغه په هماغه شېبه کې د حالت د ساتلو لپاره وي. که حالت واوړي، روغه او تړون هم ورسره د سترګو په رپ کې ځي. هر تړون د شخصي روابطو پر بنسټ جوړېږي او له هر پښتانه سره اړيکي يو خوځنده څيز دی. دا لکه د شنه بوټي په څېر دی چې پرله پسې به اوبه ورکوي، که لږ غفلت دې وکړ نو ټول تړاوونه وچېږي او مري.»

بلانك چې په پښتنو کې کوم بدلون هم موندلی، له بده مرغه هغه هم مثبت نه دی او دده پر مادي کېدو او اخلاقي ورستېدو ټينګار لري، لکه چې ليکي:

«پيسې په هره ټولنه کې ښې ايسي، خو د پښتانه تر ټولو لومړی له دې امله خوښېږي چې د خپل عزت لوړوالی پکې ويني... يعنې چې نوم يې لوړ شي او خلك ورته په درنه سترګه وګوري. هغه معاملې او تړونونه چې په خپل ولس کې د يوه قومي مشر عزت لوړوي، تر هغو معاملو چې ده ته يوازې د بهرني ګوډاګي نوم ورکوي، د پايېدو ډېره اړتيا لري.»

له پيسو سره د پښتنو مينه په تېر کې هم راغلې او آن د نولسمې پېړۍ انګرېزانو هم بيا بيا ياده کړې ده. د همدغو انګرېزانو خبرې پر ۱۹۸۰ کال د هغه مهال د واکمن ببرك کارمل پلار جنرال محمد حسين د شوروي ځواکونو يوه قوماندان جنرال الکساندر مايوروف ته د مشورې په بڼه له سره داسې تکرار کړې وې: «اورېدلې به دې وي چې افغان ماتولی نشې، خو په پيسو يې پېرودلی شې!»

ډنمارکي بشرپېژندونکي فريدريك بارت يادونه کړې چې پښتنه ټولنه لږ تر لږه د شلمې پېړۍ تر اواسطو پورې خورا بې پيسو يوه ټولنه وه. تجارت بد بلل کېده؛ په تنخواه له حکومت سره کار کول د غلامۍ انډول و؛ او هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې قومي مشر چې ځانته يې څه ويل ددې جرات نه کاوه چې په حکومت کې دننده واخلي. بارت يادونه کوي چې د لوېديځ د ډالرو سمندر د افغانستان په ټولو وګړو کې د پيسو نه سړېدونکې حرص رامنځته کړ چې پښتانه هم پکې راځي.

بهرني څېړونکي دا مني چې پښتنه ټولنه هم د يوه ژوندي موجود په توګه اوښتې، خو دا اوښتنه ددې پر ځای چې د پښتنو رنګ ښه کړي، لا يې بد کړېدی. د بي سي جورنال په نامه د يوې مجلې ليکوال رابرت کېمپ په همدې تړاو وايي:

«د هغو دليلونو له امله چې د افغان ټولنې په نورو برخو کې يې بدلونونه راوستل، پښتانه هم په تېرو د برشو کلو کې له ژورو بدلونو څخه تېر شوي چې په دوی کې يې د افراطي کېدو کچه تر هر بل افغان قوم لوړه کړې ده. ښايي په دې کې د ډيورنډ ليکې پر دواړو خواو د شوروي د راتګ خلاف مبارزه کې د پښتنو ګډې ښکېلتيا ونډه لرلې وي. طالبان چې د نورو خبرو ترڅنګ محافظه کار مذهبي عقايد لري، د يوه پښتني جوړښت په توګه هم پاتې شوي او دې کار هم د نورو پښتنو په افراطي کولو کې ونډه درلودلې ده. د ډيورنډ ليکې په اوږدو کې د روان ترخه غبرګون ستنه هم ښايي په هغو هڅو کې نغښتې وي چې غواړي په يوه کليواله، دوديزه او قبايلي ټولنه کې د اوس مهال تمدن ور وتپل شي. ځينې پښتانه ښايي له ياغيانو سره د ملګرتيا له لارې غواړي د بهرنيو فلمونو، ليبرالو نظريو، نشه يي توکو او له ښځو څخه د ټولنيزو محدوديتونو د پورته کېدو مخه ونيسي.»

په دې ډول نو هاغه د مرحوم سيال خبره، «تر سلو قيامتو وروسته هم» پښتون د بهرنيانو له نظره لا اوس هم د تنګ نظرۍ او افراطيت په هماغه «زاړه قبر کې پروت دی» چې د اړولو هيله يې نشي کېدی. د اوښتون لپاره د پښتنو د نه چمتو کېدو اصلي دليل هم د دوی په قبايلي او کليوالي جوړښت کې بلل کېږي. لوېديځوال چې کله د افغانستان قومونه سره پرتله کوي، ناپښتانه ښاري شوي متمدن وګړي بولي چې نه يوازې اوسمهالي کولتوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ټولنيز بدلونونه په ورين تندي مني، چې پخپله يې په خپرولو کې ونډه هم اخلي. خو د پښتنانه په اړه نظر هغسې دی چې دوه سوه کاله پخوا و . دغه نظر «د پښتنو خلاف زموږ جګړې» نومي کتاب کې خورا جوت راغلی دی. د کتاب ليکوال انتول لېوېن چې په لندن کې د کينګز کالج استاد دی، وايي:

«له بده مرغه د پښتنو غوڅ اکثريت لا هم په کليو کې ژوند کوي، يا په دې وروستيو کې ښارونو ته کډه شوي چې لا يې هم د ښاري ټولنې پرانستی چلند نه دی زده کړی. عملړلی واقعيت دادی چې د پښتنو په منځ کې لا هم داسې يوه پراخه ولسي کتله نده رامنځته شوې چې د ليبرالو اصلاحاتو لاره پرانيزي يا لږ تر لږه ددغو اصلاحاتو ملاتړ وکړي او يا پښتانه ځوانان دې ته رامات کړي چې د طالب لپاره د جنګېدو پر ځای د ځان لپاره وجنګېږي.»

زما له نظره په پښتنو کې د ځان د بدلولو اړتيا اوس تر هر بل وخت ډېره ستره ده. دا بدلون تر ټولو لومړی مخامخ له نړۍ سره په مراوده کې راځي، په خبرو او راشه درشه راځي. له ښه مرغه چې اوس د بهرنيو ژبو زده کړې د واسطو اړتيا هم له منځه وړې ده.

شکاکيت، کرکه، نه زغم، په پرېکړو کې بيړه، مخقضاوتونه، له مرکز تېښته، ځان بروالی، باتې وهل، خپلې نيمګړتياوې په بل اړول، مرورېدل، ابدي کينه، ابدي دوستي، ړانده باورونه، خرافاتي والی، خپل ځان د نورو لپاره سېزل، بېځايه قناعت او دې ته ورته نور او نور لرې کول او غورځول غواړي. پښتون بايد په ټينګه له نړۍ سره خپل روابط له هېڅ اسرې او پلمې پرته له سره تعريف کړي او پخپله خپل نوی او متمدن انځور نړۍ ته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عطاءالله خان حیران

# پښتانه چارواکي او مضر احتیاط

که مې ورور که مې عزیز، که میا ملاوي
چې د ښمن وي د وطن زه يې دښمن يم

روشنفکران یا روڼ اندي د خپل علم پرمټ تیاره ذهنونه روښانه کوي خپل هغه علمي پانګه چې یو روښنفکر يې لري د قلم او د ویناوو پرمټ يې خپل ولس ته لېږدوي، روشنفکر د روشنفکرۍ د اصولو له مخې له هرڅه نه پرده پورته کوي، د هېڅ شي پرمخ نقاب نه پرېږدي، هغه که په هره توګه وي، که یو روشنفکر د یوه حقیقت په ویلو خپل ژوند په خطرکېویني، نو په مستعار نوم دغه حقیقت خپل ولس ته وړاندې کوي. د لیکوالۍ په اصولوکې ورته دا جواز ورکړل شوی دی، خو د سترګو پټولو حق وربانديې نه لري، ځکه دا بیا له ولس او له خپل قلم او علم سره جفا ده او بله خبره چې ډېره اړینه ده هغه ژمنتیا ده باید یو روشنفکر چې څه لیکي او یاڅه وایي باید په ټوله مانا په کې رښتیني واوسي او د رښتینولۍ ترڅنګ خپله هم د زړه له تله ورته ژمن واوسي داسې نه چې تاته یوڅه وایي او خپله بل څه کوي.

نو پردې اساس ژمن او هوډمن زړور روڼ اندو نظر په ټول قامي ژوند او محیط باندې پکار دی، هوجرې، جوماتونه، ښوونځي او پوهنځي ترمنځ واټنونه که دې ټولوته نظر ونه کړي، بیا نه شي کولی چې په ذهنونو کې د علم او پوهې انقلاب رامنځته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه روڼ اندي لپاره صداقت هم له ضرورت نه زیات اړین دی، ځکه ځیني لیکنې چې لیکوال په کې له صداقت نه کار نه وي اخیستی او د زړه له درده نه، بلکې د خپتې له درده یې لیکلې وي، نو هغه لیکنه موږ ته هېڅ خوند نه راکوي حتا د لوستولو حوصله یې نه لرو. په کومه لیکنه او وینا کې چې صدق موجود وي او د زړه له درده لیکل شوي وي هغه زموږ په روح باندې اغېزه کوي موږ اړباسي چې ترپایه یې ولولواو دا ډول لیکنې د ارواپوهنې او د ښوونې او روزنې فلسفې له نظره زموږ په ذهن کې تر ډېره خوندي پاتې کېږي.

په ټول لوی افغانستان کې د کمیت له پلوه ډېر زیات روڼ اندي لرو، خو د کیفت له پلوه بیا د ګوتو په شمار روڼ اندي په پښتونخوا، جنوبي پښتونخوا او په افغانستان کې لرو چې نظریاتو یې د ولس اذهان یوڅه روښانه کړي دي نور ټول د مضر احتیاط په ناروغۍ اخته دي.

لومړی راځم دې ته چې دغه مظراحتیاط کارو روڼ اندو، مضراحتیاط خومره ددوی خپل شخصیت زیانمن کړی دی، څومره یې د ژمنو او هوډمنو روڼ اندو ته زیان اړولی دی او ددې ترڅنګ یې ټولنې ته څومره زیان اړولی دی.

یو احتیاط دی او یو مضر احتیاط، احتیاط ښه دی، خو مضراحتیاط مضر دی، مضراحتیاط عموماً د شخصي ګټو په خاطر کېږي. زموږ یو شمېر روڼ اندي په ټول لوی افغانستان، پښتونخوا، جنوبي پښتونخوا او په افغانستان کې له دې امله له مضراحتیاط څخه کار اخلي، دوی فکر کوي چې په دې سره به دوی ته هرڅوك د ملي شخصیت په توګه احترام لري ( یوشمېر روڼ اندي سیاستوال او نوم ځرګند پښتانه ددې لپاره له پښتو پالنې او ان پښتو یادونې او کړنې څخه ډډه کوي چې څوك ورته ژبپال او ملت پال یا نشنیلسټ او همدارنګه فاشست ونه وایي، دا ډول تورونه دوی ته له کفر نه هم بد ښکاري ) دوی ته ښه سړیتوب په دې کې ښکاري چې د خپل قوم له حقونو تېر شي او یا یې په غوښتلوکې له ضرورت نه زیات محتاط واوسي،

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

عموماً له دغه ډول خلکو نه د پښتون قوم لپاره ډېره ناوړه ګټه اخیستل شوې ده. زما د قوم په نوم یې کېښولی وي، یوازې په فزیکي ډول پښتون وي، خو په فکري لحاظ او د خپل مضر احتیاط پرمټ د پښتو او د پښتنو لپاره زهر قاتل وي، بیا چې کله مړ شي بیا زما وي، بیا په ما تاوان وي، بیا یې ماته پېغورونه هم راکوي، چې ستا پښتون و او یا ستا پښتون دی، نور څه غوارې دغه ډول تش په نامه روڼ اندي نه په ټولنه کې هغه شان رسوخ لري او نه په تاریخ کې په ښه نوم یادېږي، د یوه غلام په نوم په ټولنه کې شهرت مومي، په ژمنو، رښتیني او هوډمنو روڼ اندو باندې د مظر احتیاط کارو روڼ اندو ناوړه اغېزه داده چې په ټولنه کې ولس وربانديې دومره په اسانۍ سره باور نه کوي. د وخت په تېرېدو سره او د ډېر امتحان وروسته دغه ژمن او هوډمن زړور روڼ اندي، د خلکو د زړونو په سکرین خپل تصویر جوړوي چې دغه مظراحتیاط کاره روڼ اندي په ټولنه کې د باور فضا اړپېچلې کوي چې دا دې ټولنې ته سخته ضربه ده.

ولس ته یې او په ځانګړې توګه ځوانانو ته یې زیان ترهرڅه زیات دی، ځکه چې ځوانان او په ټوله کې ولس، ددغو مظر احتیاط کاري په لومړي سر کې هغه شان نه وي پېژندلي، نو د دوی په اذهانوکې دغه ښاغلي د یو ایډیال په توګه نقش وي کله چې دوی د مضر احتیاط له امله وشوېږي، نو ورسره سم د هغو د مینوالو فکرونه هم وشوېږي، نو هغوی بیا یوڅه وخت خپل ځان ته زورېږي چې ولې یې خپلې ټولې هیلې دوی پورې تړلې له هغې نه وروسته بیا دوی له سره ژوند پیلوي، په فکري لحاظ دغه مظراحتیاط کار د خپل ولس د فکرونو قاتلان وي.

که موږ خپل تېر تاریخ مطالعه کړو او د خپلو روڼ اندو ژوند اند او فلسفه لولو، نو هغوی هم په خپله په خپل وخت کې هم د مضراحتیاط کاري درلودل، خو هغوی هغه شان پټ نه شو پاتې کېدی په هغه وخت کې خوشال بابا (رح) به مظراحتیاط کارو ته بې ننګه ویل، په ننني اصطلاح کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مضراحتیاط کارو په نامه پېژندل کېږي، سترخوشال بابا (رح) په خپل شعر کې ورنه د اسې انګېرلي.

د بــې ننګــو پښـتنو لــه غمــه مــا
لــويي پرېښـوه ونيولــه کمــه مــا
دا هــم ښــه کــه پــه دا کــارکې هــومره کــار وي
چــې کــه واخيسـت انتقــام لــه ګرمــه مــا
هغــه ملاچــې مــې پــه هــوډ ســره لــوی غــروه
لــه ناکامــه کــړه مغــل تــه خمــه مــا
چــې دننــګ ګــوهر مــې مــات شــو دواړه ســترګې
پــه ژړا نــه کــړې يــودم لــه نمــه مــا
مګــر بخــت راســره بيــا مــدد اغــاز کــا
چــې فــارغ کــا د انــدو لــه ســمه مــا
هــاتي ځکــه پــه ســرلوني تــوري خــاوري
چــې خبــر کــړ دخوشــال لــه غمــه مــا

نـو پـردې اسـاس کـه تېـر تـاريخ تـه هـم وګـورو مـوږ هغـه وخـت هـم دغـه مظراحتيـاط کـاري چـې نـن ورسره مـخ يـو هغـه وخـت يـې هـم زمـوږ پوښـمېر رښتينو روڼ اندو مشرانو ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړي دي او دتـاريخ پـه تورو پاڼو کې شرمېدلي، نومونه ثبت شوي دي چې نن درباندې خپل او پـردي شرمېږي.

د مضـرو احتيـاط کـارو بـازار پـه افغانسـتان غونـدې ټولنـه کـې ځکـه ګـرم وي، چې د علم کچه په کې خورا ټيټه ده په کومـه ټولنـه کـې چـې د علـم کچـه ټيټه وي، نو هلته دا ښاغلي ښه په کې خوشاله وي، په کومه ټولنه کې چـې د علم کچه لوړه وي، هلته دغه شان خلك ډېر ژر رسواکېږي او ډېر ژر لـه منځـه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مضراحتیاط یا د ډار ویروس په دې لسو کلنو کې خورا ډېرشوی، څه چې د ډېرو پښتنو چارواکو روح ته یې لاړ موندلې ده، روح ته یې لاړ په دې مانا کوم پښتانه چارواکي چې په واك کې وي له مضر احتیاط نه کار اخیستل خو هغه له وړاندې نه په ځان فرض کړي وي، خو ځینې چار واکي چې له دندې ګوښه شوي وي او په واك کې نه وي، دوی بیا هم له مضراحتیاط نه په دې موخه کار اخلي چې که خدای یې بیا واك ته ورسوي، نو اوس مضراحتیاط ددوی په روح کې ځای موندلی دی او ربښتنیي زړورو پښتنو روڼ اندو ته دا یو لوی ګواښ دی، ځکه چې د مقابل لوري ترمنځ دوی ولاړ دي، نو پردې اساس چې له مقابل لوري سره نېغ په نېغه او لاس په لاس شو، نو تر هرڅه نه وړاندې باید دغه د مضراحتیاط کارو ډله له مخې نه په یو شکل نه په یو شکل لرې کړو.

## څنګه کولی شو چې د مضراحتیاط کارو چارواکو مخه ونیسو؟

لومړی ورته د سوال ځولۍ غوړوم چې بس خدای( ج) ته وګوره دومره فساد یې وکړ چې هېواد مو په فساد کې لومړی مقام خپل کړ دومره څه دې غلاکړل چې د بچو او لمسو دې بس دی، نور باید په خپل کورکې کېني انتظار دې وباسي ترڅو چې انتقالي عدالت منځته راځي او حساب ورسره کېږي، هو داسې نه ده دا دې له خیاله وباسي چې خلاص به شي ولا ورسره حساب ونه کړم او یادې سر له ننه قسم وکړي چې څه مې کړي دي، نور مې توبه ده بس له مضراحتیاط نه دې کار نه اخلي پرېږده چې هېواد مو ترقي وکړي ولسونه مو دعلم په ګاڼه سمبال شي او په خوښه ژوند وکړي.

خو فکر نه کوم ځکه چې دوی کومې مزې او کوم عیشونه په مضر احتیاط کې لیدلي په مرګ به یې هم ورنه وانه وړي، ځکه دوی چا پېژندل، له لومړي بن نه وړاندې دوی تاسې پېژندل او که مو پېژندل ، نو تاسې ته معلومه ده چې دوی څه لرل او څه یې کول او اوس څه کوي او څه دي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ددې لپاره چې ددغو مضر احتیاط کار مو یوې څنډې ته کړې وي باید ولس ته ددوی کړنې ولس ته څرګندې کړو باید نور یې پر وړاندې چوپه خوله پاتې نه شو، نو باید ورسره حساب وکړو چې زما د قوم په نوم ناست یې زما قوم ته دې څه کړي دي، نور باید په هېڅ غونډه کې دوی ته د وینا حق څه چې د ناستې حق هم ورنه کړو په رسنیو کې ددې خلکو پر وړاندې باید کلکه مبارزه وشي اړیکې باید ورسره غوڅې شي او ځوانان یې باید پر وړاندې لاریونونه وکړي، ولسمشرته باید دا وښایي چې دا بې کفایته زموږ استازیتوب نه شي کولی موږ ته زموږ واقعي استازي په دنده وګماره که موږ ددوی پر وړاندې همداسې چوپه خوله پاتې شو، نو پایلې به یې له دې نه نورې هم خرابې وي.

او هغه واقعي مشران چې تل یې زموږ لپاره مبارزه کړې او تل د خپل ولس او د لوی افغانستان هیله لري او خپل خوږ ژوند یې د خپل هېواد او ولس په خدمت کې تېروي باید ډېر ونازول شي او ډېره مینه ورکړل شي زه په ډاډ سره ویلی شم چې نننی ځوانان به یې خپل سرونه په پښو وشیندي ډاډه دې اوسي.

په جهان د ننګیالو وي دا دوه کاره

یا به وخوري ککرۍ یا به کامران شي

دلوی ازاد او خپلواك افغانستان په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثناءالله تسل

# پښتانه او ګاونډیان

(له ګوابنه ډکه ماضي او روښانه راتلونکی)

سریزه:

پښتنې سیمې سویلې اسیا، منځنۍ اسیا د منځني ختیځ او بیا له نړۍ سره تړي. او په دغه سیمه کې ثبات او پرمختګ د ګاونډیو هیوادونو په ثبات او پرمختګ پورې تړلی دی او بالعکس په پښتنو سیمو کې شخړې او ستونزې په سیمه او نړۍ اغیز لري، ځکه دغه سیمه د ځانګړي جیو پولیټیک او جیو ایکانومیک ارزښت څخه برخمنه ده. خو دغه سیمه له ډیر پخوا راهیسې د ګاونډیانو او د سیمې هیوادونو ترمنځ د منفي سیالیو ډګر و. ګاونډیو هیوادونو د دغه سیمې اوسیدونکې پښتانه دومره وځپل او دغه سیمه یې دومره نا ارامه کړه، چې په پښتون کور کې د بل اور لوګیو د دوی سترګې هم ورترخې کړې اوس وارخطا دي چې څه وکړي.

په پښتنو سیمه کې د جګړې نامعلوم تداوم او د بهرنیو ځواکونو وتل د دغه سیمې د ارزښت او پایښت په اړه اندیښنې راپورته کړي، او حتی ګاونډیان او د سیمې یو شمیر هیوادونه د خپل شتون په اړه په ویره کې اچولي. پاکستان چې په پښتنې سیمه کې د نا امنیو رامنځ ته کوونکی بلل کیږي داسې اندیښنې دي چې له امله یې اوس د همدې هیواد شتوان له ګوابښ سره مخامخ دی.

په لنډ تیر کې د پښتنو د سیمې د نا امنیو ښکاره لوبغاړي القاعده، طالبان، حزب اسلامي او نورې ډلې دي خو د پردې تر شا د دغه جنګیالیو تر شا یو شمیر ګاونډیو هیوادونو ترځنګ نړیوال زبر ځواکونه هم شته دی. زه هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم چې په دې مقاله کې یوائې د هغو ګاونډیو او د سیمې هیوادونو پر پالیسۍ وغږیږم چې د افغانستان او پښتنو پر وړاندې یې لري چې مهم یې پاکستان او هندوستان دي.

## پښتانه او ګاونډیان:

د ګاونډیو سره د پښتنو ستونزه دانه ده چې پښتانه سوله غواړي او ګاونډیان د سولې مخالف دي. ستونزه داده چې ګاونډیان په پښتنې سیمه کې د خپلو ګټو او پر خپلو شرایطو برابر سوله غواړي. د ګاونډیانو د ګټو نه همغږي د دې لامل شوی چې پښتنې سېمې ناامنه شي او د پرمختګ له ټولو امکاناتو بې برخې پاتې شي دلته ترهګرۍ وده کړې او ګاونډیان ، سیمه او نړۍ ته ګواښونه رامنځ ته کوي.

اوس نو د پښتنو ستونزه یوائې دې قوم پورې نه ده تړلې هغه څه چې پښتون قوم ترینه نن ځوریږي د سیمې هیوادونه او ګاونډیان به هم و ګواښي او همدا لامل دی چې اوس د افغانستان په اړه او په ځانګړې توګه د پښتنو سیمو په اړه د د غه هیوادونو په پالیسیو کې نرمښت راغلی.

بل لامل د ګاونډي او سیمې هیوادونو په پالیسیو کې بدلونونه په سیمه کې اقتصادي پرمختګونه دي. په نننۍ نړۍ کې سهیلي اسیا د نړۍ په هغو سیمو کې شمیرل کیږي چې اقتصاد یې په چټکۍ سره د پرمختګ په حال کې دی او د منځنۍ اسیا انرژۍ ته اړتیالري او دغه اړتیایي پرته د یو باثباته افغانستان نشې پوره کیدلای نو اړ دي چې په افغانستان کې دسولې لپاره سره ګډې هلې ځلې وکړي.

اوس به راشم د پښتنو په اړه د ګاونډیو هیوادونو په دریځونو او پالیسیو به لږه رڼا واچوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پاکستان:

وايي که ګاونډی درسره همکار و نو بيا ترينه ښه دوست او ملګری نشته، که ګاونډی دي دوښمن شو نو بيا ترينه خطرناک ترين دوښمن نشته. (ويل کيږي چې ان عقيده بدلولی شې خو د ګاونډي بدلول نا شوني دي) پاکستان د خپلواکۍ له لومړۍ ورځې پښتنو سره ظلم پيل کړو، دغه هيواد په ۱۹۴۷ز کال پاکستان سره د پښتونستان د يوځای کيدو يانه کيدو په پلمه غير منطقي ريفرنډم وکړو چې پښتنو ته يې دوه خوښې مخ ته ايښې وې چې پاکستان سره يوځای کيدل او يا هندوستان سره، که څه هم هغه وخت پښتنو دغه ريفرنډم غير منصفانه وبللو او وړانديز يې کولو چې بايد خپلواکه پاتې کيدل ماده دې هم په کې اضافه شي خو د هند د ګانګريس او پاکستان لخوا يې وړانديز ونه منل شو.

پاکستان پر دې بسنه ونه کړه او هڅه يې پيل کړه چې پښتون نيشنليزم مخنيوی وکړي، دوي په قبايلي سيمو کې د ايف سي ار او پوليټکل ايجنټ قانون همداسې حاکم وساتلو او له دې لارې يې د پولې دواړو غاړو ته د نشنلزم نظريه له منځه يوړله او پرځای يې پر يوه داسې نظريه کار وکړ، چې په لنډمهال کې د دوي ګټې ونه ګواښي. پاکستان په سيمه کې د پښتون نيشنلزم د ځان د بقاء لپاره سترګواښ ګڼې، ځکه يې د پلې کيدو مخه هم نيولې.

پاکستان همدارنګه نړۍ او سيمې ته پښتانه ترهګر معرفي کړل او د سيمې هيوادونو ته يې دا نظريه هم ورکړه چې پښتانه ګواکې د پاکستان د لاس اله ده. مشرف په رسنيو کې د پښتنو د حق څخه دفاع چغې د دې په خاطر ووهلې چې هندوستان فکر وکړي چې پښتانه د پاکستان د ګټو ساتونکې دي.

په پښتنو سيمه کې د پاکستان پراخه نفوذ دې ته هم زمينه برابره کړه چې پښتانه هم په نړيواله کچه او هم په سيمه ييزه کچه له خپلو ګاونډيانو او

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستراتیژیک ملګرو څخه لري وساتي. هندوستان او روسیه پښتنو باندې شک کوي چې د پاکستان وفادار ځواک دی. پاکستان همدارنګه هڅه وکړله چې د پښتنو سیمه د مخدره موادو د کرکیلې په مرکز بدله کړي. مخدره مواد چې په زرهاو پښتانه يې معتاد دي هم د پښتنو لپاره یو ګواښ رامنځ ته کړې دی. دوی د تداوۍ لپاره هم مخدره مواد کاروي او داچې په دې سیمه کې بې کارې ده د دې شونتیا زیاته ده چې ځوانان زیاتره په مخدره موادو معتاد شي.

څومره چې د سیمې هیوادونه په افغانستان کې د طالبانو او بنسټپالو له حکومت د راتلو څخه په ویره کې دی هومره پاکستان په افغانستان او پښتنو سیمه کې د ثبات او پرمختلو او قوي حکومت څخه په ویره کې دی..

داچې اوس په سیمه کې نوي بدلونونو او پرمختګونو د سیمې پر حالاتو اغیز کړی دی، د کارپوهانو په اند پاکستان به هم هڅه وکړي چې د دغه حالاتو سره ځان اعیار کړي او پښتنو پر وړاندې له مستقیمې جګړې لاس واخلي. دوي وايي چې که څه هم دابه ستونزمنه وي چې پاکستان دې د دغه قوم او سیمې په اړه په خپلو پالیسیو کې بنسټیز بدلون راولي خو داسې هیلې شته چې د پاکستان او پښتنو ترمنځ به اړیکې د پخوا په پرتله ښې شي او دغه اړیکې به کله سړې وي او کله تودې.

## هندوستان:

پښتنو سره د هندوستان اړیکې ډیر اوږد تاریخ لري، دواړه هیوادونو ولسونه او حکومتونه یو بل ته متقابل احترام لري، او کله کله دغه اړیکې د پښتنو او پاکستان د خرابو اړیکو له امله ډیرې تودې شي. که څه هم د هندوستان اړیکې د پښتنو سره د طالبانو په دوره کې سړې شوې وې او دشمال ټلوالې سره اړیکې تودې شوې وې. خو له ۲۰۰۱ ز کال راوروسته هندوستان هڅه کوي چې د پښتنو سره اړیکې ښې کړي او په دې وروستیو کې یې هڅې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیـل کـړي چـې هغـه تـور داغ او د پښـتنو هغـه ګیلـه چـې هنـد پـر افغانسـتان د شـوروي ی‌رغـل ملاتـړ ترخنـګ د شـمال ټلـوالې ملاتـړ کـړی دی لـرې کـړي. هندوسـتان پښـتنو سـیمو تـه پاملرنـه زیاتـه شـوې ده او هلتـه یـې د بیـارغونې پرژوې پیل کړي دي او همدارنګه خپلو ډیپلوماټانو ته د پښتو ژبې زده کړه هـم پیل کړې ده.

## ولې هندوستان لپاره پښتانه مهم دي؟

پښتني سیمې د هندوستان لپاره هم په اقتصادي او هم په امنیتي پلوه ډیر اهمیت لري. ځکه هندوستان له دغه سیمې او پښتنو ځخه په ځو برخو کې ویره لري، لومړی هندوستان فکر کوي چې دغه سیمه د پاکستان لخوا هندوستان ته د حایل سیمې په توګه بدله شوې ده. بل داچې په کشمیر جګړه کې ښکیلې جهادي ډلې هم د پښتنو په سیمو کې دي. دریم دا چې په کارګل او نورو جګړو کې پښتانه د پاکستان پوځ سره اوږه اوږده جګړه کوي. ځلورم داچې هندوستان ویره لري چې دغه قوم بې تعلیمه پاتې کیدل په لنډاو اوږ د مهال کې په سیمه کې د هندوستان ګټې ګواښلی شي.

همدا لامل دې چې په هندوستان کې پالیسي جوړونکي د پښتنو سره د اړیکو په خاطر په دوه نظریو ویشل شوي ، د لومړي نظر خاوندان فکر کوي چې د شوروي پرضد جګړې پښتانه د تشدد ځخه ډک کلتور ته اړولي دی چې د دوی بیرته راګرځول ډیر ګران کار دی، دوی فکر کوي چې القاعده او پاکستاني پوځ لخوا د پښتنو په سیمو کې د مذهبي ډلو روزل او پردوی اغیز به هندوستان ته ګرانه کړي چې دغه قوم سره کومه معامله وکړي. دوی وایي چې دغه قوم سره زموږ د پولې نه درلودل بل لامل دی چې باید نور په دې وخت ضایع نشي چې موږ پښتنو په اړه د تیر شان فکر وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم نظر خاوندان وايي چې هندوستان بايد د خپل امنيت د خوندي کيدلو او اقتصادي پرمختلګ په خاطر په دغه سيمه کې پانګه اچونه وکړي او همدارنګه القاعده او پاکستان پرې نږدي چې دغه سيمه دې د دوي پرضد وکاروي. دوی وايي داهغه قوم دی چې بايد لاس ورکړل شي او ملاتړ يي وشي. دوي همدارنګه فکر کوي چې پر پاکستان د فشار په توګه د پښتنو ملاتړ د هندوستان لپاره اړين دی.

بل داچې پښتنو سره د هندوستان اړيکې ډيرې جيو ستراتيژيکې دي، که موږ په دې وروستيو کې هندوستان او پاکستان ترمنځ د پولې پر سر نښتې ته پام وکړو دا راپه ګوته کوي چې دغه دواړه هيوادونه لا اوس هم د يو بل سره ښې اړيکو درلودلو ته تمايل نه لري. هندوستان تور لګوي چې پاکستان دا هرڅه د دې لپاره کوي چې په هندوستان کې راتلونکې ټاکنې تر اغيز لاندې راولي. خو هندوستان هم فکر کوي چې پاکستان بايد په لويديځ پوله کې د افغانستان سره بوخت وساتي.

. خو د پښتنو او هندوستان ترمنځ دغه اړيکې به هله له ګواښ سره مخ شي چې پښتانه د پاکستان سره د ډيورنډ کرښې موضوع راپورته کړي او هندوستان دريځ روښانه شي. د يادولو ده چې هندوستان د ډيورنډ پرکرښه د پاکستان سره ورته دريځ لري او لامل يي چين سره پر پوله د هندوستان ورته ستونزه ده چې هند يي دعوا لري.

که څه هم هندوستان د ډيورنډ کرښې په اړه د پاکستان او افغانستان شخړه کې دريځ څرګند نه دی خو يو شمير لاملونه لري: يو داچې هندوستان فکر کوي چې د ډيورنډ کرښې په اړه د دريځ څرګندول به کيدای شي د پولې هاخوا پښتانه چې تر نن ورځې يي دريځ د پاکستان سره موافق دی له ځان څخه خفه کړي. هندوستان هڅه کوي چې پر دغه پوله د دپښتنو او يا د پاکستان او افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځ ترمنځ نښته رامنځ ته نه شي. ځکه په هغه حال کې بيا دوی اړ دي چې خپل دريځ څرګند کړي.

همداسې په ګوشته کې د پاکستاني او افغان ځواکونو د جګړې وروسته له هندوستان څخه د ولسمشر کرزي د وسلو د مرستې غوښتنه په دې خاطر له هندوستان لخوا په لومړيو کې رد شوه چې دوی فکر کولو چې د کرزی حکومت د پښتنو نمايندګي نه کوی او په داسې وخت کې د کرزي د حکومت ملاتړ چې اکثره مهمې څوکۍ د شمال ټلوالې په ولکه کې دي چې يو ځل بيا به د هندوستان پرورانديې دپښتنو کرکه زياته کړي.

هندوستان د پښتنو سره د پولې د نه درلودلو له امله هومره نفوذ چې پاکستان پيداکړې دوی نه دی پيداکړی. نو ځکه خو دوی بايد د پښتنو سره د اړيکو جوړولو او دلته د نفوذ پيداکولو په وخت کې بايد دوه ځله فکر وکړي. يو داچې څنګه به وکولای شي چې دغه نفوذ پيداکړي او څنګه يې ه وساتي.

## پښتانه او د ګاونډيانو له خوا د فدراليزم هڅه:

په دې وروستيو کې يو شمير ګاونډيو هيوادونو د خپلو افغاني لاسپوڅو له لارې هڅې شروع کړي چې د افغانستان نظام فدرالي کړي. چې داهم د پښتنو لپاره او هم د افغانستان لپاره خطرناکې پايلې لري. که په افغانستان کې نظام فدرالي شي نو افغانستان به په قومونو وويشل شي او همدارنګه به پښتانه چې خپل منځې او بهرنې ستونزې يې ډيرې دي وروسته پاتې شي.د شمال اوسيدونکي کولای شي چې د ګاونډيانو او نړيوالو سره معاملې وکړي او خپلې سيمې ته د اقتصادي او سياسي پلوه پرمختګ ورکړي. که چيرې فدرالي نظام راشي نو پښتانه چې لااوس هم قبيلوي فکر لري په خپل منځو کې د واک پر سر سياليو کې به بوخت شي هره قبيله به هڅه وکړي چې واک راخپل کړي ګاونډيان به هم يوه قبيله د بلې قبيلې پرضد وکاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې سره به ايران او پاکستان دوه ګټې وکړي يو خو به په افغانستان کې خپل نفوذ وساتي او بل داچې پښتنې سيمې به همداسې وروسته پاتې وي.

## روښانه راتلونکې:

لکه څرنګه مو چې مخکې يادونه وکړه اوس د پښتنو سيمې امنيت يوائې پښتنو ته ګواښ نه دی او يوائې پښتانه په اقتصادي او منيتې ډګر کې له ګواښ سره نه دي مخ بلکې زموږ ګاونډيان هم د اقتصادي ستونزو سره لاس او ګريوان دي. او زموږ د ګاونډيانو امنيتي انديښنې هله کميږي چې پښتنې سيمې امن کې وي او اقتصاد يې هله وده کوي چې دغه سيمه د پول په توګه وکاروي.

څکه د کارپوهانو په اند په پښتنو سيمه کې د ګاونډيو او سيمې هيوادونو د ګټو د ټکر له امله دغه سيمه د دوی ترمنځ د منفي رقابت پر ميدان بدله شوې او دا اور به تر هغې دوام کوي چې د ګاونډيو او سيمې هيوادونو د ګټو ټکر راکم شي. خو په سيمه کې وروستيو پرمختګونو په ډاګه کړه چې د سيمې هيوادونه لکه هندوستان،چين، روسيه او د منځنۍ اسيا يو شمير هيوادونه هڅه کوي چې د افغانستان په سر ګټې سره شريکې کړي او سوله ييزې سيالۍ له لارې خپلې ګټې ترلاسه کړي.

داچې څه شې د دې لامل شو چې د سيمې هيوادونه او ګاونډيان نور سوله غوارې په لاندې ټکو کې به پرې رڼا واچوو:

## اقتصادي پرمختګونه او انرژۍ ته اړتيا:

افغانستان او سيمې ته د امريکا د راتګ هدف د ترهګرو د ځپلو ترڅنګ د وريښمو پخوانۍ تاريخي لار راژوندي کول دي. دوی عملا هڅې پيل کړي. داچې اوس د سيمې اقتصاد د پرمختګ په حال کې دی نو د نړۍ او د سيمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیوادونو ته د پښتنو سیمه نوره هم مهمه شوه او حالات داسې ښکاري چې په سیمه کې روغه او سوله ییزه سیالي پیل شي. چې ښه بیلګه یې د هندوستان او چین د افغانستان پر سر ناسته وه په کومه کې چې دواړو هیوادونو په افغانستان کې خپله اقتصادي تګلاره له یو بل سره شریکه کړه او د افغانستان په امنیت یې د لومړي ځل لپاره خبرې وکړې. اوس داسې هڅې روانې دي چې په سیمه کې د ګټو انډول رامنځ ته شي خو لاهم خنډونه شته. پاکستان چې د پښتنو په سیمه کې د ناامنیو اصلي لامل ګڼل کیږي لایې هم خپله ستراتیژي د دغه سیمې په اړه نه ده بدله کړې. خو پاکستان مجبور دی ځکه په سیمه کې اقتصادي سیالۍ په اوج کې روانه ده د بنګله دیش او سري لانکا اقتصاد هم د پرمختګ په حال کې دی او په سیمه کې یواځنی هیواد دی چې اقتصاد یې له رکود سره مخ دی او د راتلونکې لپاره یې هیلې هم کمې دی هغه پاکستان دی. که چیرې پاکستان په همدا پالیسیو تاکید کوي نو ډیر زر دی چې سهیلي اسیا کې بنګله دیش، سري لانکا او دهندوستان میانمر ترمنځ یو اقتصادي بلاک رامنځ ته شي چې مشري به یې یواځې هندوستان وکړي.

هندوستان هڅه کوي چې د ویزې په اړه بندیز اسانه کړي، په سیمه کې ورته هڅې د سیمې د هوساینې زیرې ورکوي پښتانه چې د دې سیمې اوسیدونکي دی ، که په لوی لاس له پامه ونه غورځول شي نو هیله ده چې له دې کاروان سره به د ارامۍ او هوساینې ساه واخلي .

د وریښمو لار په راژوندي کولو سره به چې پښتني سیمې په کې مهم رول لري د سیمې د اوسیدونکو اقتصاد وده وکړي او دغه سیمه به د نړۍ سره وتړل شي چې د ترهګرۍ پرضد جګړه کې به هم اغیزمن ثابته شي. پاکستان چې د اقتصادي ستونزو سره مخ دی بیاهم نه پریږدي چې پښتني سیمې دې د اقتصاد له پلوه پرځان بسیا شي او د ایران سره په ګډه هڅه کوي چې ټولې اقتصادي پروژې د ایران له لارې نړۍ سره وصل کړي.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچې سیمه د اقتصاد له پلوه سره تړل کیږي نو پښتانه کولای شي چې د دغه فرصت څخه استفاده وکړي او خپلې شکیدلې اړیکې د سیمې له پیاوړو هیوادونو لکه چین، روسیه او هندوستان سره ورغوي. چین اوس د پخوا په پرتله د پښتنو سره د اړیکو د جوړولو هڅې پیل کړي دي.

## روسیه:

روسیه هم د پوټین په دې دوره کې هڅه کوي چې افغانستان او په ځانګړې ډول د پښتنو سره اړیکې راسمې کړې او هڅې یې پیل کړي دي چې په دغه سیمه کې دې ترهګر وځپل شي. دوی د پښتنو سیمې په اړه دوه اندیښنې لري یو په دغه سیمه کې ناامني مستقیم او یا غیر مستقیم د روسې او منځنۍ اسیا د یو شمیر هیوادونو پر امنیت هم بد اغیز کوي. دوهم داچې روسیه هڅه کوي چې په سیمه کې د اقتصادي ودې د پرمختګ لپاره کار وکړي.

## پایله:

دا چې په سیمه د چټک پرمختګ په حال کې ده هر څوک د دې سیمې په جغرافیه کې دخپل شتون د ثابتیدو او پایښت هڅې کوي په یو نه یو لار د خپلو ولسونو لپاره د هوساینې او ارامۍ خوبونه ویني ، دوی اوس درک کړې چې ډیر کرته ډیرې کتې یوازې د زور له لارې لاس ته نه راځي اوسنۍ نړۍ د تفاهم او درک ده ، هرڅوک خپلې ګټې سنجوي او پر بنسټ یې خپل راتلونکې بنا کوي ، پښتانه هم باید د یو ویښ او باشعوره قوم په توګه له دې کاروان پاتې نه شي په سیمه کې له شته فرصتونو د ځان په ګټه کار واخلي ، ځکه چې تاریخ په خپل سره حرکت نه کوي ، جغرفیا ، ولسونه او ویښ قومونه دي چې د تاریخ زرینې پاڼې جوړوي، نو ځکه خو پښتانه هم باید له شته فرصتونو سالمه ګټه پورته کړي او نور د نورو دګټو لپاره قرباني نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدآصف ننګ

# مذهبي افراطيت او پښتانه

د صديو او پېړيو خبره ده، ان خبره له هغه ځای ده له کوم وخت او کومې ورځې چې پښتانه خدای پاك خلق کړي دي، تشدد، ټينګار، سرټمبګي، احساساتي غبرګونونه، سيالي او تربګينی، سختيو ته مټ ورکول، فداکاري، ايثار، غيرت، ننګ، زړورتوب، سرتېري، عزتمندی، سرښندنه، مېلمه پالنه، زغم، ګذشت، يومختوب، قاطعيت او له بلاګانو سره د ګډ ژوند دوام او... دا هغه مقبوح او محمود صفات دي چې تر ډېره حده د پښتنو په ذات کې يې په کثرت سره موندلی شو.

دا مې د بحث عمده ټکي نه دي، دا مې هسې يوه سلسله هغه صفاتو او اوصافو ته اشاره وه چې په حقيقت کې مې د خپل مطلب ((مذهبي افراطيت)) تل ته رسوي او د بحث مفاهيم راته اسانه کېږي. مذهبي افراطيت د پښتنو خپل مال نه دی، نه په تاريخي لحاظ او نه هم په فرهنګي لحاظ. بلکې دا په ټوله کې د بدو تاريخي حوادثو او بيا د اوسني وضعيت عامل د همدې وروستی لسيزو د واقعاتو او پېښو يوه مجبوره او قهري زېږنده ده، چې تفاصيلو ته يې وروسته راځم.

افراط هغه صفت دی چې له يوه ځانګړي خصلت څخه نه، بلکې له ګڼو خصايصو څخه نشات اخلي، افراط ((له معين حد څخه زيادت)) ته وايي شرعاً له ((حق يا له حقيقي منضبطه حدودو څخه تېري او تجاوز)) ته وايي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه تاکل شوي معقول حد څخه زيات څه کول، چې د هماغه شي معقوليت ورسره خرابېږي، ديته افراط يا زياده روي وايي.

دا د افراط اسانه تعريف و، اما کله چې خبره د مذهبي افراطيت کوو، بيا نو ضرور د ځينو هغو مفاهيمو بحث رامخې ته کيږي، کوم چې له شرعي احکامو څخه په عدول او زياتي پوري اړه لري.

د افراط عکس تفريط دی، يعني تر حد کم څه کول، هغه څه چې مطلوب دي تر مطلوب حد يې په کم انداز ترسره کول. د اسلام په مقدس دين کې افراط او تفريط دواړه نامطلوبه دي. اسلام مستقيم حد غواړي، پوره، بشپړ، معقول حد، منطقي حد، حکيمانه حد او هغه حد چې شريعت ټاکلی، هغه حد چې په شريعت کې له مسلمان غوښتل شوی، په هغه کې افراط او تفريط نه دی پکار.

کوښښ کوم، چې تر اخره پورې په ساده وينا خپل مبحث ارايه کړم، نه غواړم لغاتونه خرڅ کړم، غواړم په ساده پښتو له خپلو هغو پښتنو سره د زړه غوټه خلاصه کړم، کوم چې پوهول يې ماته يوه وجيبه ښکاري.

خپل بحث له صديو او پېړيو نه، بلکې د همدې وروستيو څو لسيزو له حوادثو، انقلابونو، مبارزو، مجاهدتونو او قربانيو يې پيلوم، بيا په خاصه توگه له هغه دور څخه له کومه چې پدې ځانگړې جغرافيا کې (په پښتون ميشته سياسي جغرافيا)، له انگريزي استعمار، روسي ښکيلاک او د نن زماني له روان کړکېچ سره اړه لري.

په دې (۵۵) مليوني جغرافيا کی (لر او بر پښتنانه کې) له څو نړيوالو او محلي مسلسلو ښکيلاکونو سره تر ډېره حده پښتانه او بيا په ټوله کې افغانان مواجه ول، اما پدې کې شك نشته چې تر ټولو لوړه او ډېره بيه، غټه صدمه او ستره قرباني پښتنو ورکړې، يو دليل يې د استبداد او ښکيلاك په لاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

استوګني جغرافيايي مجبوريت او قهريت و او بل يې د سياسي خرد او شعور ناکاواکي وه.

البته د ښکيلاک او استبداد په وړاندې وطني مبارزې، اسلامي احساسات او وطني شهامتونه هغه ارزښتونه دي چې موږ پرون هم پرې وياړېدو او نن هم او بل هرکله به پرې وياړو، خو لطفاً هغه څه چې په افراطيت پورې اړه لري، هغه دي له دغو ارزښتونو سره نه تړل کيږي او نه پرې معتقد يم!!

له ښکېلاک سره مبارزې او له وطن او نواميسو نه دفاع هميشه محترمه ده او وي به، خو د سياسي شعور مشکل په دې ټولو دورو او پدې ټولو مرحلو کې موجود و، کېدی شوای دغو سرښندنو او قربانيو دومره لوړ قيمت نه وايي غوښتی کوم چې موږ ورکړی، کيدای شوای د دومره سرښندنو او قربانيو ثمره او نتيجه په مراتبو ښه او بهتره وايي کومه چې له دې سرښندنو، برياوو او قربانيو وروسته تر لاسه شوي.

که خبره د واقعي وياړونو او مسلمو ارزښتونو کېږي، نو حتمي او واجبي به له تاريخ څخه د عبرتونو او درسونو خبره هم کېږي، هسې چتې د شملې ول لوړول او د يو بل پر سينه د ګلانو په ټومبلو کيسه نه جوړېږي، کيسه هغه وخت جوړېږي، چې زموږ د سرنوشت او برخليك خبره پکې جوړه شوي وي، دلته زه قصداً غواړم په وياړونو کم او پر ناکامیابه نتايجو ډېر تم شم، کوم چې له ماضي څخه تر نن او آن تر سبا پورې زما و ولس په بدبختيو او بد سرنوشت کې نقش لري، دا خپل حق او د ولس حق بولم چې بايد په نتايجو يې اګاه کړو او هغه څه چې ناسم شوي، هغه بيا تکرار نشي.

که د تير شوي پرون پر کړنو او نتايجو يې نن بحث کوو او پر دې اعتراف کوو چې د پرون تر کړنو او نتايجو بهتره او معقوله کړنې ترسره کېدی شوای او بهتره او ارزښتناکه او ډير پايداره نتايج لاسته راتلای شوای نو بيا خو که

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تېر شوي پرون افسوس ځای نه نیسي، نو باید او لازماً خو د نن کردار او د نن په دریځونو لږ ماتل او احتیاط وکړو. که پرون تیر شوی خو تیر شوی، اما له ماضي څخه زده کړه حتمي ده او که څوك له ماضي څخه زده کړه نشي کولی، هغوی د قرآن کریم په تعبیر د هغو ژوو په شان دي چې ماغزه لري خو تعقل او تدبر پرې نشي کولی، سترګې لري خو بینایي نشي پرې کولی، غوږونه لري خو اوریدل نشي پرې کولی، واقعاً دوی د حیواناتو په شان دي، بلکې تر هغوی هم بدتر او غافل دي. ((لهم قلوب لا يفقهون بها ولهم أعين لا يبصرون بها ولهم آذان لا يسمعون بها أولئك كالأنعام بل هم أضل أولئك هم الغافلون))

یعني انسان ته چې خدای پاك عقل، سترګې، غوږونه او ژبه ورکړې دا هر یو یې د یو ماموریت او د یو مثمره خلاقیت او عمل لپاره ورکړي، له عقل څخه که سیاسي شعور او د سیاسي معقولیت استفاده نه وي نو معقول نتایج به څنګه ترینه په لاس راځي؟ البته که چېري د سیاسي شعور نتایج په یوې ټولنې او یو ملت پورې اړه ولري او سم استعمال نشي، بیا خو د دنیوي بدبختیو تر څنګ اخروي ځواب هم غوښتل کېږي.

## جغرافیایي مجبوریتونه، ښکیلاکګري، نړیوالې لوبې او پښتانه:

د دې ترڅنګ چې په نننۍ پښتنې جغرافیا کې د مذهبي افراطیت مظاهر موجود دي، خو د دې افراطیت عوامل او اسباب څه دي، د دې خبرې وضاحت هم لازم دی، افراطیت یو معلول دی، عامل نه دی، عامل یې نورې ناخوالې دي، په یو انسان چې ناخوالې، ابتلاګانې او سختۍ راشي، نو بې حوصلې شي. حتی ډېر کله اقتصادي ناخوالې، فقر او غربت د دې سبب کېږي، چې اجتماعي ژوند او آن کورنۍ ژوند ورسره ګډوډ شي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانانو پـه مجموع کې او بیا پـه خاصـه توګـه پښـتنو، د خپـل جغرافیـایي موقعیت او مجبوریت له کبله، له لیري څخه د راغلیو مستبدینو، د استبداد او استیلا طلبه امپراطوریو او استعمار ښکېلاکو خوړلي دي، چې هرځل یې د دې هیواد پر وګړو بدې اغیزې پرېښې، لـه ډېرو تـاریخي مثـالونو تیریږم یـو دوه داسې مثالونه مخې ته ږدم چې زموږ د سترګو په وړاندې تیر شوي، مثلاً د سپتمبر د یوولسمې پېښې پـه تـړاو چې امریکـا د القاعـده پـه خلاف کـوم دریځ غوره کړ، تر ډېره حده یې د هیواد پـه معینـه جغرافیـا کې یـو سلسـله افراط ډک اعمال ترسره کړل، د تروریزم په پلمه یې د سمیه ییزو ملکي خلکو له نیولو، توهینولو شروع تر بندي کولو، د کورونو تلاشي، هغوی ته د غلیم په سترګه کتل، پر ولسي وګړو بمبارد او... له دېنه علاوه ډېر داسې دریځونه ونیـول چې اکثـراً همـدا دریځونـه او ناسـنجیده یوجانبـه کړنې د نـن ورځـې د اوږد خشونت او تشدد د زیږدنې او دوام سبب شوي.

پوهیږو چې بې شمېره ډېر مسایل او واقعات پـه نږدې او لیـري تـاریخ کې پېښ شوي چې د ټولو بیان یې سخت کار دی اما پرته له شک چې پـه پښـتنو کې د افراطیت او بیـا پـه دې وروسـتي لسیزه کې د مـذهبي افراطیت عمده لاملونه، د پښتنو خپل مال نـه دی، دا د نـاخوالو او د بهرنیـو لاملونـو زېږنـده دہ. خو تر ډېره حده د اوسنۍ رواني لسیزې د مذهبي افراطیت د تحرک عمده لامل د سیمې او ګاونډیو استخباراتو پـه لاس ترسره کېږي، دوی د همـدې جغرافیا او نړیوالې بدفهمۍ نه په استفادې سره د پښتنو له دردونو استفاده کوي او له هغوی څخه د یوې نامطلوبې جګړې په چلولو کې د سون د مـوادو په توګه کار اخلي.

## د اسلام مقدس دیـن، عنـدي تعبیرونـه، ناسم تفسـیرونه او د پښتنو راتلونکی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لنډ تعبير او په زغرده ويلی شو، چې د اسلام د سپېڅلي دين احکام، د اسلام د مقدس دين ارشادات، اوامر او نواهي يې د بشريت د دنيوي او اخروي خير، فلاح، ګټې، بهبود او نيکمرغۍ لپاره دي. دا دين لوی رب العزت ذات د انسانانو د اخروي ژوند د تضمين لپاره يوائې نه دی رالېږلی، بلکې د دنيوي ژوند د نيکمرغه معمار او با سعادته بدلون لپاره هم رالېږلی، الله تعالی فرمايي ﴿هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا﴾ موږ تاسو خلق کړي ياست له ځمکې څخه ترڅو يې عمران کړئ، داسې عمران، هغه د خلکو په تعبير، چې د نن زماني کمپيوټري عقل هم ورته حيران پاتې شي، يانې مکمل، سالم، انساني، مادي، معنوی او هر اړخيزه عمران، داسې عمران چې له فرهنګ نيولې، تر سياسته، تر اقتصاد، تر ديانت، اجتماعيت او د ژوند تر ټولو اړخونو پورې يې غزون موجود او محسوس وي. ايا د دې ايت په مصداق، چې د انسان رسالت يې په ځمکه کې مشخص کړئ، تشدد، جګړې او کمکش ته کوم ځای پاتې کېږي؟!!

حتی که د جهاد مانا ته د دين د مقدسو احکامو په رڼا کې وکتل شي، زما په عقيده د قران په مقدسو احکامو کې جهاد، مقدس جنګ ته نه، بلکې مقدسې مبارزې او مقدس پيکار ته وايي چې ساحه يې تر جنګ ډېره پراخه او انساني ده. هغه څه چې اسلام ټينګار پرې کوي، د عدوان او تجاوز په وړاندې دفاع ده او دا دفاع تر هغه ساعت پورې تر کوم ساعت پورې چې عدوان او تجاوز منتفي شي. ﴿حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا﴾ او يا دا چې ﴿وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾. که چېرې د مصالحې او سولې لپاره غاړه کېښودل شي، نو بايد تاسو هم ورته غاړه کېږدئ او پر خدای توکل وکړئ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دفاع او مبارزي کې توانمندي، استطاعت او د زمان قيد ډېر مهم دی، که دا هرڅه مهيا او ممکن ول، بيا هم د معقوليت، خردمندۍ، ګټې او منافعو موضوع بايد او لازماً په پام کې ونيول شي.

زماني قيد ځکه مهم دی چې د قرآن کريم او متبرکه نبوي احاديثو کې داسې کوم يو مورد نه موندل کېږي، چې د جګړې، خشونت او تربګينو پر دوام تاکيد وکړي، دا هم واضح ده چې په اسلام کې د استيلا او تيرۍ جګړې بيخي نشته، اما د افغانانو په کور کې جګړې پای نه لري، بس په جګړو پسې جګړې او چې له نورو سره خلاصي شي بيا يې په خپلو کې هم حساب نه خلاصېږي.

د تاريخ په اوږدو کې افغانانو ډېري قربانۍ ورکړې دي، دا قربانۍ تر ډېره حده په مذهبي بنسټ ولاړې وي، بلکې غالباً په همدې بنياد ترسره شوي هم دي، اما په پای کې نتيجه څه وه؟ کېدای شي ډېرو نورو ته يې ښه پريمانه ګټه اړولي وي، اما آيا معقوله ده چې تر دوه ميليون قربانيو (د روسانو په وړاندې) وروسته موږ نه د انقلاب برم وساته او نه مو د شعارونو تقدس!! او وطن ته چې څومره تاوان رسيدلی هغه خو هيڅ مه حسابه! دا هم د سوال وړ ده چې په پای کې اسلام او اسلامي امت ته څه منفعت په ميراث پاتې ده!! آيا د يو ښه اسلامي نظام د جوړيدو او حاکميت زمينه مساعده شوې؟ آيا داسې کوم نظام يې په نتيجه کې منځ ته راغی چې هغه دې د ولس لپاره ايډيال، نمونه او د سترګو تور وي؟ ښايي سوالونه ډير وي، ښايي ځوابونه هم ډير وي، خو که د منطق، عقل او خرد په سترګو محاسبه وشي، او لږ په سړه سينه له تاريخ درس واخلو او دغه تير واقعات يې په درايت سره راوسپړو او له يوه يوه يې جاج واخلو حتماً دې نتيجې ته رسيږو چې پدې ټولو کې موږ له حکمت، تدبر او منفعت طلبۍ څخه کار ندی اخيستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دې وروستۍ لسیزې ثمره او لنډون:

په دې وروستۍ لسیزه کې هغه څه چې تر ډېره حده په مذهبي افراطیت پورې په تړاو د پښتنو په هکله د قضاوت وړ دي، هغه په جګړو کې د دوی مسلسل او مزمن ښکیل پاتي کېدل دي.

په جګړو کې د نورو افراطي کړنو ترڅنګ خبره آن د ځان پټاوولو ته هم رسیدلې! ښایې کومه ورځ داسې هم راشي چې د اسلام د مقدس دین د احکامو په رڼا کې، یعنې د سیاسي او استخباراتي لوبو په غیاب کې، ربښتوني علما راپیدا شي او په دې هکله ربښتونی قضاوت وکړي، چې داسې د مرګ کومې ته ورتلل، ملکي وګړو ته مرګ ژوبله رسول، د یوې ټولنې په وګړو کې د ویرې او وحشت خورول، مادي او معنوي تاوانونه اړول، او په دې توګه ځان جنت رسول، د کوم مذهب له احکامو څخه په استفادې ترسره شوي!؟

بله مسئله چې په دې وروستۍ لسیزه کې د تامل وړ ده، د جګړو منظم او مزمنه دوام ده چې تر ډېره حده د پښتنو په لویه جغرافیا کې ترسره کېږي! ولې په دې جغرافیا کې د افراطیت د ترویج په ځای نور انساني فعالیتونه مخ په زوال دي؟ د تعلیم تعمیم، اقتصادي ځواکمنتیا او پرمختګ، د مرفه او سوکاله ژوند لپاره د زمینو مساعدول، د فرهنګي فعالیتونو غوړېدا، اجتماعي استحکام، د امن او امان فضا رامینځته کول، د نسل سالم او سازنده تربیت، له نړیوالې ټولنې سره د مثبتو اړیکو ایجاد او... چېرته دي؟

تر څو به دغه لویه جغرافیا د نورو مغرضینو او په خاصه توګه د سیمه ییزو استخباراتو او مافیاوو د لوبو میدان وي؟ او تر څو به دغه عزتمن او ویاړمن ولس صرف او صرف د اور، باروتو او تشدد په څپو کې تباه کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايي يوه ورځ، د همدې وضعيت له دوام سره، د بې اعتبارۍ او تخلف سلسله په خاصه توګه په پښتنو کې دومره ژوره شوې وي، چې د نړيوال نفرت او انزجار ترڅنګ ډېر نور قامونه هم ونه غواړي چې له پښتنو سره ګاونډيتوب وکړي!! که خبره خدای مکړه داسې ځای ته رسېږي، نو لوی لاس به پکې د هغو مذهبي مرشدينو وي، چې د دين ناسم قرائتونه، زموږ ځوان ټبر ته ورښيي، دا ماته لويه ګناه ښکاري چې زموږ اهل نصيحت او اهل نظر په دې ټولو تيارو او باريکيو خاموشه پاتې کېږي. بيا خو زما په نظر هغه څوک چې د بدې ورځې د ملامتي پړه ډېره پرې اوړي همدا موجوده او ژوندي منورين، علما او پوهان به وي، چې دوی پر هغو ترخو واقعيتونو او بدو عواقبو قام خبر نه کړ، چې بايد يې پرې خبر کړی وای.

غوښتل مې له دې لويې غميزې سره په تړاو، په جزئياتو او په ډېرو هغو کرکترونو بحث وکړم، کوم چې له مذهبي افراطيت سره تړاو لري، مثلاً هغه څه چې د پښتنو په کورني ژوند، اجتماعي ناخوالو، اقتصادي پسمانده ګۍ، له نړۍ او معاصرو مدنيتو سره غوڅون او له سياسي نظام جوړونې سره د دوی مسلسل تحريم، په جګړيزو ماموريتونو کې يې دوامداره ښکيل پاتې کيدل او...پورې اړه لري، اما دا کيسه په يوې مقالې کې نه ځايږي، ځکه نو د موضوع په عمومي تحليل اکتفا کوم او پر دې موضوع د نورو مباحثو او دقيقو توضيحاتو لپاره د نورو ليکوالانو او نقادانو ليدلوري ته په تمه، خپله خبره ختموم، ښايې يوه عمده برخه د دې بحث د ځينو لخوا ښه تفسير نشي، اما باور لرم چې په پای کې به د يوه خردمنده تفکر او تدبر زمينه حتماً برابريږي، چې هغه به د ولس او په خاصه توګه د همدې جنګي جغرافيا په خير تمامېږي. خدای پاک دې افغانستان سرلوړی او د قامونو ترمينځ دې ملي وحدت دايم او قايم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثنا الله خان یوسفزي وینا

ډېرو درنو د قدر وړ او قدرمنو وروڼو او خویندو ستاسو په خدمت کې ډېر ډېر سلامونه او مننه.

د پښتون بده ورځ او ورځخه د ژغورنې لارې پیدا کول، داسې موضوع ده چې د هر پښتون د زړه په ژورو او د ذهن په ورځونو کې یې ځای نیولی او د هر حساسه انسان لړمون ورځخه لوځړه دی.

دا موضوع د څېړلو څخه مخکې باید خبر شو، چې ایا دلته راټول شوي دا درانه خلك كه كوم نظر ته هم ورسېدل ایا دا به د هغه خلكو په پرېكړو او فكر باندې اغېزه وكړي شي، څوك چې د قضا او قدر فعلي واكداران دي؟ زه په دې برخه كې تامل لرم. خو بیا هم د ښاغلي یون صیب ابتكار ته ښه راغلاست وایم. د ډاكتر اقبال خبره:

ایك بلبل هی كه هی محوه ترنم اب تك

اسی سینی می هی نغمو كا تلاطم اب تك

د موضوع ارزښت او ستاسو په شان درنو خلكو د لیدنې لېوالتیا كابل ته راورسولم.

خو د چا خبره:

اسمان بار امانت نه تو انست كشید

قرعه فال به نام این دیوانه زدند

په دې موضوع باندې چې څوك غږېږي، نو ماته د بادشاه خان د یوه ولسي غونډه را په یاده شي. په دې غونډه كې د پښتنو په بده ورځ او د خلاصون په چارو خبره كېده، دغسې خان مایك ته راغی او د خلكو څخه یې وپوښتل چې ایا تاسو ته د پښتنو د بدبختۍ مسول څو غټ دښمنان په ګوته كړم، خلكو

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل په خوله دې ګوړې شکرې. دغه څه خو موږ غواړو دغه دښمنان راوښايه چې ځان ورڅخه خلاص کړو.

غني خان ورته وويل، چې يو خو د پاکستان مشر ايوب خان دی، دويم يې غفارخان دی او دريم د کابل ظاهر خان. بادشاه خان وويل، مايك ورڅخه واخلئ، دی لېونی دی، لېونۍ خبرې کوي.

ډاکتر اقبال وايي:

چه ګويم نقطه زشت ونکو چيست
زبان لرزد که معنی پيچ داراست
بيرون شاخ بينی خاروګل را
درون شاخ نی ګل ونه خار است

په څرګنده ګورو، نو د تېرو پنځه دېرشو کالو په اوږدو کې نه يوازې پښتون، بلکې د افغانستان پېژندګلوي، ملي مقدسات او قامي غرور ، هرڅه يو په يو د پښو لاندې شوي او کېږي.

په دې کار کې د پردو نه زيات د خپلو لاس ونيو.

اوس به راشو زما موضوع ته يانې (د پښتون د يووالي لارې چارې):

نه پوهېږم نيم ځان به نيمه پيل شوی روح او سر تر پښو په دوه بېل شوي وجود به څنګه خوشاله شي. د سکانو سره د جګړې پر وخت چې کوم تاوان زموږ وجود ته رارسېدلي او د لعنتي ډيورنډ د لاس پرهر چې ترڅو نه وي جوړ شوی، ددغې مسئلې هېڅ مداوا نه شي کېدی.

په طبيبانو نه رغېږم
زه په دا خپل مرض پوهېږم

زه د کوم هېواد د خاورې د تماميت او ملي حاکميت ته د تاوان رسولو طرفداره نه يم، لږ تر لږه بايد د ژبې، خپلې خپلوۍ او د ازاده راشه درشه لاره د کوم ځنډ او خنډ څخه پرته ببرته شي. پوښتون قوم ته د سره کېناستلو او خپلو ستونزو او کړنلارو باندې د غږېدو وسايل اماده شي.

د ۱۹۷۶م کال خبره ده. د هند د پارلمان د ولسي جرګې يو څو غړي تاشکند ته تلل، الوتکه يې د کابل په هوايي ډګر پلې شوه او د بلې الوتکې په انتظار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د کابل هوټل ته ولاړل. په کابل کې د هند سفیر سره د لیدنې په وخت کې سفیر دوی ته وویل کاش که موږ یو دوه شپې نور هم په کابل کې پاتې شوي وای، نو دا ښکلی وطن به موږ لیدلی وای. بله ورځ هوایي ډګر ته لړ، وروسته ورسېدل او د تاشکند پرواز یې ونه شونیولی. بل پرواز دوه ورځې وروسته و او دوی ته د کابل د شاوخوا سیمې د لیدو فرصت په لاس ورغی.

د سفر څخه په ستنېدو له دوی څخه یو وکیل چې د کشمیر اوسېدونکی دی، ماته وویل په افغانستان کې موجوده وضع د کوم لوی بدلون او تباهۍ نښانې لري. ما ورڅخه پوښتنه وکړه، چې یو څه خو ماته هم ددغه علامو په هکله ووایه، ده راته وویل، د کابل د پوهنتون ساحه او له کابل څخه پنځه کیلو میتره لرې سیمه کې د زرو کالو توپیر لیدلای شي. د کابل د پوهنتون په شنو رغو کې مستې پېغلې د پاریس فیشن لري او هغه د قرغې نه بله خوا چې کوم کاکا قولبه کوله هغه اغوستل او د ژوند نورې چارې د بابا ادم د زمانې وې. دومره توپیر او د حاکم دومره لاپرواهي په دا شان ډېر وخت دوام نه شي لرلی. ددغه وکیل بصیرت ته حیران پاتې شوم، چې دده د سفر څخه وروسته ډېر ژر په افغانستان کې داسې تحولات راغلل چې په تصور کې نه ځایېدل.

د مشرتابه لاپرواهي د ولسونو بخت ته ژرندې ووهې. د شېبو تېروتنې په پېړیو پېړیو کې نه جبیره کېږي، سترګې د داسې پېښې لارې ته نیولي دي، چې د ولس د پراخه پرګنو د صفونه څخه کوم مخلص، پوهه او د لرې نظر څښتن مشرتابه رامنځته شي او د فکر او تدبر خاوندان مخې ته راشي.

زه مسافر ثناالله یوسفزی د پښتون قوم د نوي کهول د ژوندو زلمو او د لرې نظر د مشرانو څخه دا لېواله هیله کوم، چې د سره د کېناستو او پر دغې مسلې د غږېدو غم وخوري. که داسې ونه شي، نو تاریخ به موږه هم په هغه بې احساسه، بې وجدانه صفونو کې شمار کړي، چې په تاریخ کې محکوم شوي ده.

نور څه ویل نه غواړم

www.melliahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د قومونو او سرحدونو چارو وزیر، ډاکتر اکرم خپلواك وینا

درنو استادانو، لیکوالانو، له لر او بر څخه راغلیو د باغیوره، با دیانته قوم استازو، مشرانو کشرانو، السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

د افغانستان د ملي تحریك او د ژوندون راډیو ټلویزیون څخه په مننې چې د خپل قوم د غمیزې په اړوند یې دوستانو ته زحمت ورکړی او نن په مختلفو موضوعاتو باندې لیکوالان محققین، مورخین او ځوانان په دې ناوخوالو باندې جرګه دي او خپل نظریات شریکوي، د یو افغان په صفت، د یو پښتون په صفت په دې عقیده یم چې د پښتون قوم ثبات د اسیا ثبات سره تړلی دی، د پښتون قوم ثبات د دې سیمې له پرمختګ سره تړلی دی او بې ثباتي یې د ټولو سیمې له بې ثباتۍ سره تړلې ده.

خو بیا هم د یو پښتون په صفت تر څو چې زموږ لیکوال، مورخ، شاعر، سیاستوال او مشر په خپل منځ کې په هغو ناخوالو باندې او په هغو تاریخي واقعو باندې بحث ونه کړي، راویې نه سپړي، زه په دې فکر یم چې د شعار له لارې موږ خپل هدف ته نه رسېږو. زه کله کله د خپلو شاعرانو څخه ګیله من په دې یم، هغه څه چې دوی وایي هغه څه په موږ کې نه شته. یو کاذب، بې ځایه افتخارات ورکول دې قوم ته د قوم په ګټه نه دي، دا په دې مانا چې (۵۰) ملیونه قوم په اقتصادي، فرهنګي او کولتوري پرستیجه په کوم حالت کې دی. له نورو قومونو سره پیټې رتله کړېځ، دې کې شك نه شته چې موږ یو ژوندی قوم یو، خو په دې هم باید سترګې پټې نه کړو، چې موږ تل د احساساتو قرباني شوي یو او په احساساتو مو قوم د نابودۍ سره مخامخ کړی دی. که دقیقاً ټول تاریخ وګورئ، موږ له دغسې ناخوالو سره مخامخ یو، هغه څه چې زه ددې قوم په اړه مطالعه لرم او ګورم یې او یا له هغو تجاربو څخه چې په دې څو کالو کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د یو مسول په توګه مې دوه درې ولایتونو کې کار کړی او له هغې نه علاوه، د مختلفو ځوانانو او مشرانو سره ناسته پاسته لرم؛ د پښتنو د تراژیدۍ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدبختۍ او ددې ټولو ناخوالو اساسي لاملونه دوه دي او دغه دوه ناخوالې نور علتونه زېږوي، چې ددې قوم د پرمختګ، هوساينې او پېشرفت مخه يې نيولې، لومړنی شی چې هغه ددې قوم د تراژيدۍ سبب دی، هغه ناپوهي ده، د تېر تاريخ څخه نيولې تر نن ورځې پورې دا قوم په خپله ددې قوم د ځوانانو له لاسه وژل شوی، ټکر شوی، بې عزته شوی او له منځه وړل شوی، هېڅ نړيوال قوت او هېڅوك به ددې جرئت ونه لري چې په دې قوم دې يرغل وکړي، تر څو چې په خپله قوم يې په خپله په ځان ونه کړي، ددې اساسي لامل دادی، چې موږ له هغه نعمت څخه چې هغه خدای(ج) خپل بنده ته لومړنی شی ويلی دی هغه زده کړه ده، له هغې بې برخې يو، او هر وخت د هرې ايډيالوژۍ د هر افکارو د هرې پديدې چې ويل شوي دي موږ ورته لبيك ويلی دی، په سر کې يې ودرېدلي يو، توره او اسونه مو نيزه کړي دي او بيا مو په خپل قوم باندې شروع کړې ده.

دويم د بدبختۍ او تراژيدۍ لوی لامل هغه غربت دی، هغه بې وزلي ده، هغه فقر دی، پيغمبر(ص) وايي، چې فقر انسان کفر ته نږدې کوي، علت دادی، چې ته خپل اولاد ته د نفقې د راوړلو لپاره هر هغه نامشروع عمل ته لاس اچوې چې هغه ستا د نابودۍ سبب کېږي، نن غميزه چې روانه ده، مخکې جناب استاد ورته اشاره وکړه، په خپل منځ کې خپله وژنو، تر څو چې موږ اساسي واقعيتونو ته رانه شو، په شعار ورکولو په دغسې مبارزو چې هغه کومه نتيجه نه ورکوي، په ۲۱ پېړۍ کې په دې قوم کې مورخين شته‌ته، فرهنګيان شته، سياستوال شته او دې د بل هر زمان نه اوس زيات پرمختګ کړی، خو همغومره په هماغه اندازه له زياتو خطراتو سره مخ يو، هغه په دې مانا چې موږ هغه رسالت چې راسپارل شوی، په سمه توګه نه دی ترسره کړی، داسې لارې چارې غوره کوو، چې د ځان لپاره د تېښتې يوه لاره غوره کوو، چې ما خو دا کول، خو دا ونه شول، په دې باورمند يم چې د يو سياستوال نه نيولې، تر قومي مشر، فرهنګي او ټول د خپل مسوليت په اندازه چې راسپارل شوی دی، ددې قوم د مشکلاتو په رفع کولو کې بايد هماغه اندازه خدمت وکړو. په دې عقيده نه يم چې، موږ د قوم د پرمختګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره ټول پېټي په سیاستوالو واچوو، ځکه چې سیاستوال به خپل اهداف او مرام لري، یا قومي مشر باندې واچوو، یا دیني عالم باندې واچوو او یا په ځوانانو واچوو، دا یو مشترك حرکت دی، باید مشترك د حل لارې ورته ولټول شي.

درې شیان دي، چې هر څوك او هره بېروني پدیده هغه استعمال کړي په اسانه یې استعمالولای شي، یو دې قوم ته د اسلامي مقدساتو وړاندې کول دي، کله چې د اسلامي شعایرو خبره وکړې، د جهاد خبره وکړې، بې له دې نه چې دی یې وګوري، چې ایا دا روا ده که ناروا، په کومه لار ده، دغه وړاندې کوونکی څوك دی، دا برنامه د چا ده، بې له قید او شرطه ورته لبیك وایي.

دویم شی، هغه قومیت دی، که خپل نورزی یې هر څومره مخالف هم وي، خو د احمدزي، پوپلزي او بارکزي په مقابل کې د کاکړ او مومند په مقابل کې ورسره ولاړ دی او بې له دې نه چې تفکیك وکړي، وایي دا برحقه دی.

دریم شی، هغه خاوره، هغه وطن دی، موږ په دغه مقتعي زمان کې، دغو چېلنجونو ته چې مخامخ یو او هغه لوی سیاسي، کولتوري، اقتصادي یرغل چې په دې قوم باندې دی، د راپورته کولو لپاره یې باید له داسې لارو چارو څخه کار واخلو چې ځوان نسل اوس د افراطیت په یو لوی بحران کې ډوب دی، راویستلو لپاره یې له نورو لارو چارو څخه کار واخلو. د ناپوهۍ او غربت د ختمولو لپاره، لومړنی شی امن دی، دا نن که ته وګورې، دومره بشري قوه دلته موجوده ده، چې (۵۰) کاله نور هم جنګېدلای شي، او دومره یې تربیه کړي دي، چې د هغوی بېرته اصلاح کول اسانه او وړه خبره نه ده. زه په دې عقیده یم، ددې پرځای چې موږ شعار ورکړو، چې کوم قوم ښه دی، کوم قوم بد دی، کوم قوم څومره ګټه وکړه او څومره یې بیلات وکړل، ټولو پاملرنه دې ته وکړو، چې خپل قوم څنګه له دې بدختیو څخه راویستلای شو، دا د پښتونولۍ او د اسلام د مقدس دین له اساساتو هغه لومړی لارښود دی چې وایي بل مه توهینوه، تا به څوك نه توهینوي، د بل دین ته سپکاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مه کوه، ستا دین ته به څوك توهین نه کوي، د بل مشر ته توهین مه کوه، ستا مشر ته به څوك توهین نه کوي، او د پښتنو اصل هم همدا دی چې تل یې په دې ټینګار کړی، چې د مشرانو او مېلمنو درنښت او عزت د دوی له هغو ارزښتونو څخه دی، چې په ټوله نړۍ کې پېژندل شوی دی. ولې نن دې قوم ته لویه ضربه د هغوی د ارزښتونو د له منځه وړل دي، زه په دې عقیده یم، چې په وژلو مې نه شي ورك کولای، خو په ملي ارزښتونو، پښتونولي ارزښتونو افغاني ارزښتونه یې چې رانه واخیستل دا قوم راتلونکی نسل یې په بې لارې باندې روان کړ، هغه ډموکراسي او هغه د بشر حقوق چې د پښتنو په قوم کې دي، په نړۍ کې به یې ونه ګورې، مګر متاسفانه چې ما ونه شوای کولای چې دنیا ته دا خپل ملي ارزښتونه، دا مثبتې پدیدې وړاندې کړم. او تل مو د احساساتي او افراطي لارې قدم اخیستی چې دنیا ته مو ښودلې ده ، موږ یو افراطي قوم یو، دلته قبایلي مشران ناست دي، که دوه قومونه او دوه کورنۍ په خپل منځ کې مخامخ په جنګ کې وي، یو بل وژني خو ماشوم، تور سرې، سپین ږیري له دې جنګ څخه مستثنا دي، دا ارزښت په بل هېڅ کې نه شته، مګر نن ته ګورې چې د بل قوم ځوان داسې تربیه شوی، چې د هغه د تورسرې د عزت په ځای کولو پرځای، د هغه اختطاف کول، د هغې وژل، د هغو ماشومانو بې لارې کول، دا روا دي، خو پښتون لیکوال په ډېره کمه اندازه، هېڅ پښتون سیاستوال هېڅ پښتون مشر دا غږ نه پورته کوي، چې دا زما د دود او دستور خلاف کار دی، ولسواکي په دې مانا چې هر عمل ته اجرا کوې، باید د ټولو وګړو په کې خوښه وي، د پښتنو په کلیو او بانډو کې که ته د ویالو حشر هم کوې، یوه ورځ مخکې ټول کلی راغواړې چې موافقه ونه شي هغه حشر ځنډوې، یو عادي کار لویه فیصله خو لا پرېږده، دا په کومه دموکراسۍ کې دي، په بله دنیا کې ته په جبر باندې په یو کلي کې په یوه کونډه او ځوان باندې څه تحمیلولای شې، په هېڅ صورت نه! مګر متاسفانه چې دغه ارزښتونه زموږ له لاسه وتلي دي. راځم دې مسلې ته چې زموږ ځینې درانه استادان، لیکوالان او شاعران ددې پرځای چې واقعیتونو ته مخه وکړي، په احساساتو باندې ځینې شیان تحلیلوي او بیا

www.melitahrik.com 0777 400 126

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې د مطبوعاتو له لارې راوباسي، زه وایم که روان جنګ ددې قوم د پرمختګ لپاره وي، راځئ موږ او تاسې به هم فیصله وکړو ورسره یوځای به شو! که نه وي، نو ولې ځان غلطوم او ولې قوم غلطوم، که په افغانستان کې ناټو قوتونه راغلي وي، وبه یې منم چې ته یې وکه، په وزیرستان کې، په باجوړ کې په سوات کې زما مشر څه ګناه کړې ده، چې وژل کېږي، او دغه سیاستوال دغه مورخ، دغه لیکوال، دې ولس دې ځوان نسل ته ددې پرځای چې دې ولس ته واقعیت ووایي، د مختلفو مبارزو نومونه ورکوي. زه وایم زما مکتب هزاره نه دی سوځولی، له دې بامیانو نه دی راغلی چې زما مکتب یې سوځولي وي، تاجك نه دی سوځولی چې له پنجشېر او نورو سیمو راغلي وي او زما مکتب یې سوځولی وي، زما ازبك ورور نه دی سوځولی چې له فاریاب څخه یې تشریف راوړی وي او زما مکتب یې سوځولی او یا پنجابی نه دی راغلی چې تاته یې په وزیرستان کې مکتب سوځولی وي، خو زما او ستا په واسطه یې سوځولی دی، زه او ته ددې پرځای چې بل ته کنځل وکړو، خپل ځان باید جوړ کړو. زه وایم د هغو قومونو مشرانو ته تاسې باید مډال ورکړئ، چې خپل قوم یې له جنګ څخه ساتلی دی، هغه د مډال مستحق دی، هغه هېڅکله دا نه دي ویلي، چې زه د پښتون مشرتوب کوم، د خپل قوم مشرتوب یې کړی، خپل قوم یې له جنګ څخه هم ساتلی، پرمختګ یې هم ورکړی او ژوند ته یې هم پرېښی دی. ته نر شه خپل قوم له دې مشکل څخه راوباسه، ستا مخه چا نیولې ده. داسې نه ده چې دې نظام کې ولسمشر ویلي وي چې پلانکی مشره، پلانکی وزیره، پلانکی لیکواله، پلانکی فرهنګي او پلانکی سیاستواله، ته به خپل قوم ته خدمت نه کوې، په کوم قدرت کې ته نه یې، خو تا ددې پرځای چې قوم ته خدمت وکړې، دا له احمده نیولې تر محموده پورې، استثنا په کې نه شته، تر ټېټ مشره نیولې تر پورته مشر پورې، خپل هدف ته نه رسېږو.

زه د پکتیکا دوه ډېر ترخه مثالونه درکوم:

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پکتیکا کې مکتبونه شته، (۴۰۰۰) ښوونکي دي، نه پوهېږم چې اوسنی تشکیل به زیات شوی وي او که کم شوی به وي، زما په وخت کې په پکتیکا کې (۴۰۰۰) معلمینو هره میاشت معاش اخیسته، د افغانستان په څو ولایتونو کې حسابېده، چې په دومره زیاته اندازه معلمینو ته معاش ورکاوه، تاته حکومت څه وکړي، د کاغذ پرمخ بودجه هلته تلله، دا بودجه چې موږ کنټرولوله، د پوهنې محترم وزارت ریفورم شروع کړ، تر څو چې له دغه حالت څخه چې یو تجارتي حالت دی، اصلي واقعیت ته راوباسو، دا د بل هېچا ګناه نه ده دا زما او ستا ګناه ده، چې هغه په دې باندې وپوهوو، چې دا ستا د راتلونکي مسله ده، چا ددې لپاره کار کړی، کومه مدني ټولنه تللې، کوم فرهنګي حرکت تللی، ددې پرځای چې دا کار وکړو، په کابل کې ناست یو او انتقادونه کوو.

بله مسله، زه لاړم د ډېلې ولسوالۍ ده ډېره پخوانۍ ولسوالۍ، کلنیك او ولسوالۍ ودانۍ مې په کې شروع کړه، ماته خپلو مشرانو وویل چې موږ ته یې مه جوړوه، د هغه ګناه نه ده، دا زما او ستا د اهل فکر، اهل قلم، اهل فرهنګ ګناه ده چې ما او تا خپل قوم په دغو ارزښتونو نه دی پوه کړی او په کابل کې ناست یو له دغه ځایه شعارونه ورکوو، عمل نه شته، له ما یې نیولې ببرته پرما ختمه، زه په چا انتقاد نه کوم، لومړی خپل ځان مسول بولم او بیا نور. ما ورته وویل چې ملك صیب او حاجي صیب، څلوېښت کاله مخکې موږ هم په پکتیا کې چا سړك نه پرېښووده، پېژنده مو هم نه، داود خان به سړك جوړاوه موږ به ورسره مبارزه کوله، مګر نن په دې پوه شوي یو چې اول خپل سړك غواړو او خپل مکتب او د قومونو هم په همدې لاټجه ده چې زما سړك ولې نه جوړوئ. لومړنی شی چې اوس یوځل بیا ورسره مخامخ شوي یو، یوځل تېر تاریخ کې د وزیرستان تعلیم یافته لاړ، په پېښور او کراچۍ کې کېناست، د مومندو باجوړ او سوات لاړل په کویټه او کراچۍ کې کېناستل، او د هلمند او پکتیا او پکتیکا چاچې پنځه روپۍ پیدا کړې او چاچې لږ تعلیم پیدا کړه، هغه کابل کې پاتې شو او کابلی شو، هغه قوم مو په هغو تاریکیو کې پرېښود، نن بیا هم داسې حالت روان دی، د هغو پدیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مقابل کې لومړنی شی چې دا قوم یې جنګ ته کش کړی دی، باید پښتون روشنفکر، سیاستوال او لیکوالل په دې باندې فیصله وکړي، چې ایا دغه پدیدې چې اوس زما په قوم کې روانې دي، دغه افراطیت چې دغه ځوانان ورسره مخامخ دي، په حقه دي که په ناحقه، کله چې ته هغه ته په مطبوعاتو کې مشروعیت ورکوې، لومړی په دې باید فیصله وکړو او بیا ددې لپاره مبارزه وکړو چې دا قوم په قاموليږ پښتونولۍ په یوه میاشت کې راپورته کولی شئ او د هغې مبارزې په مقابل کې یې درولی شئ.

د ګوشتې مسله راغله، ټول قوم متحد شو، ځکه هغه احساس چې له دې ټبر سره د وطن په اړوند دی، له هېچا سره نه شته، لومړی چې د خپل قوم څخه افراطیت ختم نه کړې، نو د هېڅ ډول پرمختګ تمه او هیله مه لره، که ته یو دقیقه سروې وکړې، هلته په داسې حالت کې ده چې، نن یو ځوان په دې خوشالېږي، چې یو څوك حلال کړي، پخوا به په ډېرو کمو منطقو کې اوازه وه چې پلانکی یو قاتل دی او د یو چا له وژلو څخه خوند اخلي، نن یو تنکی ځوان هم تر دې رسېدلی دی، چې د یو چا له وژلو او حلالولو څخه خوند اخلي، ددې ایندە به څه کېږي. هیله مې داده چې په دې اړوند باندې جدي فکر وکړو او دا قوم له دې ناخوالو څخه راوباسو، دې قوم ته یوه جدي مبارزه وکړو، ټول قوم او هېڅوك تاسره په دې مبارزه کې مخالفت نه لري، خو په دې مبارزه کې درسره هرڅوك مخالفت لري، چې خپل کور نه جوړوې او بل چا چې کور جوړ کړی دی هغه ته کنځا کوې، وروره خپل کور دې جوړ کړه، که لاس دې چا وتړل، نو بیا غږ وکړه چې لاس مې تړل شوي، زه وایم راځئ لومړی په دې مبارزه موافقه وکړو چې قوم څنګه له افراطیت او جنګ څخه راوویستل شي او له هغه څخه وروسته بیا متهې راونغاړو له غربت څخه یې خلاص کړو او پوهنې ته یې سوق کړو، که دا ونه کړو، نو په یو بل پسې د مقالې لیکلو، غندلو او فیسبوك کې په لیکلو نه کېږي، ځکه دا مقالې هغوی نه ګوري او نه فیسبوك پېژني، دا خو تاسې ګورئ او ستاسې سر خلاص دی، زه وایم چې ددې مبارزې لپاره په اساسي ټکو باندې کار وکړو، زه به په سیاسي مسایلو کې له ډېرو خلکو سره اختلاف لرم، خو د قوم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړښت کې له هېڅ سره اختلاف نه لرم، که زموږ مشترك پیغام د میډیا له لارې خصوصاً د راډیوګانو له لارې، چې نن په اسانه کولای شو، خپل پیغام د دنیا ګوټ ګوټ ته ورسوو، د افراطیت پر ضد او ددغه روان ناورین پرضد مبارزه وکړو او دغه بحران پښتون ضد بحران وبولو، بیا موږ دا قوم له دې حالت څخه راویستلی شو، یو شی چې ډېر انتقاد په مختلفو امنیتي غونډو کې په جمهور رئیس باندې کېده چې زموږ امنیتي قواوې د دې وړتیا نه لري چې ټول ناټو قوتونه دې له کلیو څخه راووځي او دا یو واقعیت هم و، موږ ددې وړتیا لرو، چې خپل غږ په ننګرهار کې، کونړ کې، خوست کې، پکتیکا کې، سوات کې پېښور کې پورته کړو او ددې غږ سره اوتومات دا قوم له تا سره درېږي. کله چې افراطیت له دې قوم څخه لاړ، بېرته ته خپلو ارزښتونو ته راځي، او بیا ته کولای شې چې یو درست رهبر هم ورته پیدا کړې، ته کولای شې د معارف لپاره هم جدي ګامونه واخلې. د سرحدونو او قبایلو وزارت هر هغه وړاندیز چې دا قوم له جنګ څخه راویستلی شي، ورته لبیك وایي، زموږ لومړنی شعار د ډیورنډ دواړو غاړو ته قومونه له جنګ څخه راویستل دي، په دې اړوند که د سیمینار د ګډونوالو هر ډول پېشنهاد وي، زه اطمینان درکوم چې په ټول توان او ټول قوت درپسې ولاړ یو. نور مو وخت نه نیسم کور مو ودان، ډېر ښه سیمینار مې دایر کړی دی.

د ښبرازه او باثباته افغانستان په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجنیر امین ظریف

# پښتانه او د هغوی بشري ځواك

پښتانه د خپل لرغوني تاریخ په لرلو سره د نړۍ له نورو وګړو څخه توپیر لري، پښتانه غښتلي متې، ښایسته څېرې، پاك او سپېڅلي زړونه لري، پښتانه د نړۍ د نورو متمدنو ملتونو څخه چې د تاریخ په اوږدو کې له پخوا زماني څخه ژوند کوي، دوی هم ددغې ویاړ لري، هغه تاریخ چې د انسانانو په ګوتو لیکل شوی دی، (۵۲۰۰) کاله عمر لري او پښتانه ددغه زرین تاریخ ویاړ لري. پښتانه د خپل لرغونوالي له مخې، له مکې څخه نیولې د دنیا په څلورو وچو کې مېشته دي، او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د تاریخ په بېلابېلو مرحلو کې مېشته شوي دي، د خپل هنر او طبعي ځواك چې د دوی په ختمه کې انځکل شوی دی، نړیوالو ته یې د ژوند به ډګر کې ښودلی دی. لکه د علم او ادب په برخه کې، د تورو، نېزو، اسونو ځغلول او داسې نورې لوبې چې په هغه کې د انسانانو فزیکي غښتلتیا په ګوته کېږي.

د منځني ختیځ هېوادونه چې پیاوړی اقتصاد لري او په سر کې سعودي عربستان، کویټ، قطر، متحده عربي امارات چې ښېرازه ځمکې او پراخه طبیعي زېرمې لري، دا هغه ځانګړتیاوې دي، چې د نړۍ ټولو وګړو پام یې ځانته راړولی او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه خلك هلته مېشته شوي دي. پښتانه هم لکه د نورو وګړو په څېر، د هغه هېواد اوسېدونکي دي، چې د ښه اقتصاد خاوندان نه دي، سره له دې چې په افغانستان کې پراخه ځمکې، طبیعي زېرمې، سیندونه، پاکې اوبه او کانونه لري، چې کولای شي د هېواد او خلکو په برخه لیك کې د پام وړ بدلون راولي، ولې هغه ستونزې چې د نړیوالو له خوا د سیمې هېوادونو په منځ کې رامنځته شوي دي، دغه بهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په ټپه ودرولی او يا د نشت په برابر دی. همدا لامل دی چې پښتانه هم د منځني ختيځ په هېوادونو کې مېشته شوي دي، چې له هغه څخه تقريباً څلور لکه او پنځوس زره پښتانه چې د لر او بر پښتانه په کې شامل دي، په متحده عربي اماراتو کې د منځني ختيځ په هېوادونو کې مېشته دي، که دغه بشري ځواک د خپل هېواد په دننه کې د کانونو او طبيعي زېرمو راويستلو کې بوخت شي، چې د دوی دغه ستونزمن ژوند ښه شي او د بله پلوه به د هېواد په اقتصادي پياوړتيا کې مهم رول ولوبوي. متحده عربي امارات چې د افغانانو دويم کور دی، د هغه هېواد د وګړو ياني عربي ورونو او د هغه له مشرتابه څخه چې پښتنو ته يې په پراخه سينه هرکلی ويلی دی، په متحده عربي اماراتو کې د مېشتو افغانانو په استازي، ترينه مننه کوم. ولې خپله خاوره، خپله خاوره وي. څلور لکه او پنځوس زره پښتانه که د ورځې په اټکل ډول (۵۰) درهمه حقه الزحمه ولري، نو د دوی ورځنۍ حق الزحمه دوه مليونه دوه لکه او پنځوس زره درهمه چې شپږ لکه يوولس زره څلور سوه ديارلس ډالر معادل کېږي او که د دوی ګټه يوازې پنځه لس سلنه حساب شي نو د يو نوي زره اوه سوه دولس ډالره کېږي او متباقي نور پنځه لکه نولس زره اوه سوه يو ډالر يې ورځخه په ټولنيز ژوند خوراك، څښاك، ټرانسپورت او نورو کې بهرنيو هېوادونو کې مصرفېږي که همدغه رقم په يوه مياشت کې وګورو، نو د پنځه لس مليونه پنځه لکه درې سوه ډالره ته رسېږي، که ددغه رقم کلنی حساب وکړو، نو د يو سلو او اوه اتيا مليونه ډالره او په پنځو کلونو کې تقريباً د يو مليارد ډالرو ته لوړېږي، چې هلته په بهرنيو هېوادونو کې لګېږي، همدارنګه د منځني ختيځ په هېوادونو کې د اوه سوه په شاوخوا کې لوی او واړه ساختماني شرکتونه په کار بوخت دي چې په مليونونو ډالره پانګونه يې هلته کړې ده او دغه شرکتونه د هغوی حکومتونو ته د هغوی له قوانينو سره سم مالي او نور ټکسونه ورکوي، چې دا هم د اقتصاد په پياوړتيا کې لوی رول لوبوي، ددې ترڅنګ زموږ د پانګوالو د برش مليارده درهم په منځني ختيځ کې پانګونه شوې ده، چې مجموعي ګټه يې اته سوه مليونه ډالره ده، چې د نورو هېوادونو په بانکونو کې وربانديې معاملې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي، ددې ترڅنګ زموږ بشري ځواك هلته په شاقه کارونو بوخت دی، زه د خپل هېواد په مشرانو او پښتنو چارواکو غږ کوم، چې د خپل بشري ځواك لپاره د ګټې وړ تدابير ونيسي، تر څو وکولای شو د خپل هېواد په پرمختګ کې تري ګټه واخلو.

له توجه څخه مو مننه، کور مو ودان ژوندي اوسئ

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د جنرال عبدالواحد طاقت وینا

ډېرو ښاغلو درنو خویندو ورونو السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

په سر کې د ملي تحریك له مشرتابه هئیت څخه ډېره مننه چې داسې یو سیمینار یې جوړ کړی دی او موږ ورته راغلي یو.

دا دومره ساده خبره نه ده، چې پښتون قوم سره ټوټې ټوټې کېږي او دا ټوټې نه سره جوړېږي، ځینې به فکر کوي چې دا به طبیعي شوي وي، دا به خودجوش کار وي خو نه، په دې باندې په ملیاردونو ډالر مصرف شوي دي، تر څو پښتانه ټوټه ټوټه شي او سره وپاشل شي، د سیمې استخبارات کوښښ کوي، چې لومړی غلجي او دوراني تقسیم کړي بیا یې په وړو وړو قومونو سره ووېشي، ددې وېش لپاره استخباراتو ډېر زیات کار کړی دی او حتی په پېړیو پېړیو کار شوی دی.

نو زما موضوع هم همدا ده چې پښتانه او د سیمې استخبارات او نړیوال استخبارات، ګران روستار تره کي صیب تر ډېره د نړیوالو استخباراتو په اړه په خپلو خبرو کې وویل هغه عمق یې تشریح کړ، خو موږ به داسې ووایو که د سکندر مقدوني څخه یې راواخلو تر چنګېزه تر هلاکو تر بابره دا ټول او دغسې د تزارې روسیې او برتانیې کوم چې دې سیمې ته افغانستان بدنیتونه وو، هغه یوازې دا نه و، چې جیوپالټیك، جیوستراتیژیك موقعیت زموږ لپاره بلا و، بلکې بله خبره وه، هغه دا چې د پښتون قوم عزایم، زموږ غرور، زموږ یووالی، زموږ عزمت، زموږ شان او شوکت نړیوالو نه شو زغملای، د همدې له امله وو، چې لومړی یې موږ نیم کړو، یانې د ډیورنډ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

منحوسې کرښې په وسیله یې پښتانه سره ووېشل، دغه سرطاني ناسور تراوسه پورې وده کوي او د لروبر پښتانه په دې منحوسه کرښه باندې جلا شوي دي، که څه هم زموږ، هیلې، زموږ ارمانونه، زموږ عزایم دا نه دي وېشل شوي او نه به هم ووېشل شي، خو په فزیکي لحاظ چې کوم لوی درد انګرېزانو راپیدا کړی دی، د پښتنو ترمنځ دغه ناوړه کرښه راکاږل دا یوه استخباراتي لوبه وه، که چېرې موږ د دویمې نړیوالو جګړې څخه راوروسته یانې کله چې سړه جګړه پیلېږي، او د پاکستان وجود رامنځه کېږي او د اسیا د یووالي ترمنځ دلته تبارز کوي، ددې ترڅنګ د پښتنو لپاره ډېرې لویې لویې منصوبې جوړېږي، تاسو ګورئ کله چې پاکستان جوړېږي هلته یوې خواته قران کریم ږدي او بلې خواته ګیتا او ګرند نو غفارخان دوی ته یې ویل چې تاسې ګرند او ګیتا منئ که قران منئ، هغوی مجبور دي چې وایي موږ قران منو، کنه دغه لوبه نه راتله، موږ هلته د پښتنو او د بلوڅو د سرنوشت لپاره د حق خودرادیت لپاره د مبارزې چې تقریباً شپېته اویا کاله چې موږ دغه جګړه کړې او مبارزه مو کړې ده سبا بله ورځ به یې بیا نمانځو.

خو ډېر عوامل دادي، چې د سړې جګړې په دوران کې پښتانه د پښتنو پرضد استعمال شول، دا جګړه د سړې جګړې څخه وروسته ختمه نه شوه او لادوام لري. په پاکستان کې پښتان په شپږو ټوټو تنظیمونو وېشل او تاجکو ته په یوه تنظیم کې ځای ورکول دا د دې استخباراتو یوه بله لوبه وه، اهل تشیعه ته په ایران کې اته ګوندونه ورکول او بیا له هغوی څخه یو وحدت اسلامي جوړول او بیا د اکبري، مزاري او نورو شاخو باندې تقسیمول، دا یوه بله لوبه وه چې په افغانستان کې دا جګړه پایته ونه رسېږي، د جګړې د پایته نه رسولو یوه بله استخباراتي لوبه دا وه، چې (ای اس ای)، (سي اي اې) او (ام اي سکس) په ګډه او د (کې جي بي) په اشتراك په افغانستان کې د ملي روغې جوړې چې ډاکتر صیب نجیب الله اعلان کړی او پیل کړی و، د هغه لپاره یې ډېره ښه ستراتیژي جوړه کړې وه، هغه په یوه ډېره ناولې او چټله کودتا کې د شمالټلوالې او وطن ګوند د یو ګروپ ستمي ګروپ له خوا وشوه. راځو دېته چې که د ملي روغې جوړې پروسه کامیابه شوې وای، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس به دا دربدري نه واى، نه به په افغانستان کې جګړه واى، هغه د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا پروګرام و، د ملګرو ملتونو په پروګرام باندې کودتا وشوه، هغه کودتاچيان زموږ له طرفه محکوم دي او سزا به ويني. بيا له دې نه وروسته د طالبانو تحريك او د هغه لپاره زمينې مساعدول، په ګورنر هاول کې د افغانستان لپاره د درې مياشتو لپاره پاچا مقررول، دا بله استخباراتي لوبه وه، تر څو يو بل قوت چې هغه طالبي نظام دى، هغه ته زمينه برابره کړي. د طالبانو راپرځول او د هغوى پر خلاف د (بي ۵۲) پر مټ باندې او د ناټو شتون په افغانستان کې. کله چې سړه جګړه ختمېږي، نو ناټو ولې حضور پيداکوي، چې وارسا نه شته، نو ناټو بايد وجود ونه لري، د ناټو لپاره دا شرط و، چې بايد يو فرضي دښمن ولري، نو اسلام يې د يو تروريزم او القاعده په اړ کې سره اخته کړ او ناټو دلته تراوسه پورې نظامي حضور لري، موږ د ناټو له حضور سره کلك مخالف يو، په ډېر قوي عزم او اراده باندې ناټو بايد موږ له افغانستان څخه وباسو.

راځو تجليلونو ته! انګلستان د استقلال ورځ نه لري، هېڅ وخت نه ده مستعمره شوې، نو د استقلال ورځ به ولې ولري، موږ ولې د استقلال ډېرې ورځې لرو، يو وارې مستعمره شو او څوك مو مستعمره کوي، په موږ کې خپل اجنټان وروزي استخبارات کار وکړي او موږ هغوى رادعوت کړو، کله شاه شجاع او کله څوك. دلته چې ناټو وويستل بيا به يې يو استقلال ګڼو، لکه ډاکتر نجيب الله هغه د ملي نجات ورځ وبلله، موږ هغه هم نمانځو، ځکه چې شورويانو مو له دې وطن څخه وويستل، نو سبا چې ناټو ووځي، دا به هم بيا نمانځو، نو افغانان به بل څه کار نه کوي، تمام عمر به ورځې نمانځي، موږ بايد هېڅ وخت مستعمره نه شو او موږ بايد هېڅ وخت غلام نه شو. زموږ د پښتنو وينو يې واخيستې او د يهودو په لابراتوارونو کې يې معاينه کړلې، چې زموږ جنټيك پيداکړي، چې دا څه ډول قوم دى چې پلار ورته مړ کړه او ځوى بيا نېغ ولاړ وي، سر يې نه ټيټېږي، دا جينيټيك يې چې کله معاينه کړ، کله به يې ويل چې دا د جرمنيانو په څېر خلك دي، اخر يې وويل چې دا بني اسرايل دي. يو وخت احمدي نژاد وويل که چېرې اسرايل پر

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ حمله وکړوي، نو موږ به پر افغانانو یانو پښتنو برید وکړو، ما ویل لکه چې احمدي نژاد هماغه کتاب لوستلی دی چې موږ یې بني اسرایل معرفي کړي یو.

موږ باید په خپل عزم او اراده د ټولو استخباراتي کړیو مخه په افغانستان کې ونیسو.

نور مو وخت نه نیسم، ستاسو له توجه څخه ډېره مننه

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد حلیم فدایي

# پښتانه او افراطیت

په فتح الباري کتاب المظالم کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث شریف له بخاري څخه راوړل شویدی: ((عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا نَنْصُرُهُ مَظْلُومًا فَكَيْفَ نَنْصُرُهُ ظَالِمًا قَالَ تَأْخُذُ فَوْقَ يَدَيْهِ.)) رواه البخاري (۲۴۴۴)

د خپل ورور که ظالم یا مظلوم وي مرسته ورسره وکړه. صحابه وو وفرمایل چې ای د الله پیغمبره! د مظلوم خو به مرسته وکړو، اما د ظالم څنګه مرسته وکړو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل دظالم له ظلم څخه لاس منع کول د هغه مرسته ده. بله داچې دلته کله د پښتنو د مظلومیت خبره کوو، دا د نورو قومونو د سپکاوي او له هغوی سره د تعصب له امله نه، بلکې د افراط مخه نیول دي. هېڅکله د یوه قوم یوازې پدې خاطر دفاع ونه شي چې یو څوك په هغه قوم پورې اړه لري، بلکې د مظلوم دفاع وکړي. په همدې تناظر کې یوې بنسټیزې پوښتنې ته په دې لیکنه کې ځواب ویل شوی دی چې آیا پښتانه افراطي دي او که افراطیت ته تېل وهل شوې دي؟ مخکې له دې چې دې پوښتنې ته ځواب ووایم، غواړم د افراطیت تعریف لوستونکو ته وړاندې کړم. په انګلیسي ویکیپېډیا کې افراطیت داسې تعریف شوی دی:

Extremism is any ideology (particularly in politics or religion), considered to be far outside the mainstream attitudes of a society or to violate common.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افراطیت (په دین او سیاست کې) هغې نظریې ته وایي چې د ټولنې د معمول او منل شوي طرز فکر څخه ډېره دباندې وي او یا د عمومي اذهانو څخه ډېره ها خوا وي.

فـري ډیکشـنري افراطیـت داسـې تعریفـوي: One who advocates or resorts to measures beyond the norm, especially in politics.

هغه څوك چې د منل شویو نورمونو هاخوا ، په ځانګړي ډول په سیاست کې په نورو وسایلو تکیه کوي.

زما له نظره افراطیت د اعتدال ضد دی او هرڅوك چې په دین او سیاست کې له ټاکل شویو متفق علیه اصولو، قوانینو او حدودو څخه تېری کوي او ځان او ټولنه غیر متوازنه کوي، هغه افراطي دی. حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي: ((ډېر خلك به زما په محبت کې او ډېر به زما سره په کرکه کې دوزخ ته ولاړ شي)) او پښتانه متل کوي چې: ((مه دومره خوږېږه چې خلك دې ژوندی تېر کړي او مه دومره تریخېږه چې خلك د ایسته واچوي)). له دواړو خبرو دا معلومېږي چې افراطیت په ښو او بدو دواړو کې امکان لري.

## افغان او افغانستان:

له نن څخه ۱۷۰۰ کاله دمخه پښتنو ته افغان او یا په ځینو روایتونوکې اپګان د نورو له خوا ویل شوی دی او له ۷۰۰ کلونو راهیسې د افغانستان کلمه په مختلفو اسنادو او کتابونو کې تر نن پورې استعمالېږي او بالاخره د افغان او افغانستان کلمات او مفاهیم د افغانستان په اساسي قانون کې د هېواد په ټولو وګړو اطلاق کېږي.

اساساً حق دا وو چې پښتانه او افغانستان لکه د نورو ګاونډیو هېوادونو په څېر په خپل اصلي او د اکثریت ولس په نوم نومول شوي وای اما قانون، ولسواکۍ او د اقلیتونو حقونو ته په درناوي دا کلمه پښتنو په ورین تندي منلې چې دا په خپله د قانون، ډیموکراسۍ او د نورو حقونو ته درناوی او د

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

افراطیت خلاف عمل دی. له افغان او افغانستان څخه دفاع له قانونمندۍ څخه دفاع او د تعصب پر خلاف مدني مبارزه ده.

## اسلام من حیث القوم منل:

افغانان هغه ولس دی چې د اسلام مبارك دین چې د سولې، اعتدال او عدم تشدد دین دی او مزاج او فطرت یې ورسره برابر دی پرته له چون او چرا من حیث القوم منلی، نه من الحیث الفرد. د افغانانو ډېرې ځانګړتیاوې له اسلام سره ورته والی لري. مثلا: د قرآن او حدیثو تدوین تر ډېره بریده د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې په شفاهي بڼه وو او خپل لوظ او ژبې ته ژمن ول او د پښتنو په ادبیاتو کې لنډۍ او متلونه تر ډېره وخته په شفاهي توګه را نقل شوي دي، هغه ځکه چې دومره امین دي چې په کټ مټ را نقلولو کې یې خیانت نه دی کړی او هم لوظ او ژبه یې داسې قانون دی چې هېڅ جابر او ظالم یې نه شي ماتولای. طلاق په اسلام کې هم بد دي او په پښتنو کې هم. دا د افغانانو په خټه کې نغښتې فطري اخلاقي او قانوني ځانګړنه ده او سره له دې چې د قرآن او حدیثو بشپړ او حقیقي تفسیر ورته نه دی ښودل شوی اما د همدې لوظ او ژبې پر اساس پر اسلام کلك ولاړ دي، ځکه چې هلته ددوی ترمنځ اعتدال، اخلاق او لوظ درې مشترکې ځانګړنې دي.

## جرګه د مدني ټولنې تر ټولو پخوانی بنسټ دی:

د مدني ټولنې په اړه ګڼې او ځینې وخت معکوسې انګېرنې موجودې دي. د بېلګې په ډول: ځینې افغانان په دې باور دي، چې مدني ټولنه یو نوی مفهوم دی او د بهرنیو اجنډا یوه برخه ده؛ ځینې مدني ټولنه یوازې او یوازې تر ښارونو او تعلیم یافته خلکو پورې محدوده ګڼي. ډېر کم شمېر محلي ټولنې لکه جرګې د مدني ټولنې برخه نه ګڼي او ډېری افغانان وایي چې دا د مدني ټولنې برخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځئ د مدني ټولنې او جرګې ځانګړتیاوې سره پرتله کړو.

۱. داوطلب او په خپله خوښه کار کوي، یا د افغانانو په اصطلاح د حشر او د خدای د رضا لپاره کار کوي.

۲. نادولتي وي، په دې مانا چې د دولت په تشکیلاتو کې واقع نه وي.

۳. غیر انتفاعي وي یا په بله وینا په شخصي ګټو نه وي ولاړه. د عامه او ولسي ګټو لپاره کار وکړي، نه د شخص او ځان لپاره.

۴. غیر حزبي او غیر پارتیزاني وي. د کومې خاصې ډلې او ټپلې لپاره کار ونه کړي.

۵. په یوه منظم چوکاټ او اصولو کې کار کوي.

۶.د غړو ترمنځ یې د عمل اشتراك موجود وي، یعنې په اجتماعي او ټولنیز ډول کار کوي او انفرادي بڼه ونه لري.

۷.غیر سیاسي وي، په دې مانا چې سیاسي واك ته د ځان د رسېدو لپاره فعال سیاست نه کوي، بلکې نورو ته د سیاسي واك رسېدو زمینه برابروي.

۸. د مذهب، رنګ، نسل او قوم پر اساس پرېکړې د متخاصمو ډلو ترمنځ پرېکړې نه کوي.

۹. د مشورو او تفاهم په نتیجه کې پرېکړې کول.

ددې ځانګړتیاوو په تناظر کې مدني ټولنه داسې تعریفوو: هغه ساحه یا حوزه چې نادولتي، غیر انتفاعي، غیر سیاسي، غیر حزبي، غیر پارتیزاني ولسي موسسې او بنسټونه په رضاکارانه ډول، د ولسي ګټو د تأمین لپاره په یوه منظم چوکاټ او اصولو کې له کورنۍ څخه پورته او له دولت څخه ښکته په ګډه په کې فعالیت کوي، مدني ټولنه وایي. په افغانستان کې دا ساحه جرګه ده چې تقریبا د افغانانو له موجودیت سره وجود درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د مدني ټولنې پورته (۹) ځانګړتیاوې له جرګې سره پرتله کړو، کټ مټ یو ډول دي. اما متاسفانه د وخت د حکومتونو له خوا لکه د نورو متمدینو ټولنو په څېر یې مالي، سیاسي او تخنیکي ملاتړ نه دی شوی، بلکې له دې څخه محروم شوې دي. همدې علت افغانان د جرګې پر ځای جګړې ته تمبه کړي دي.

# د افراطیت خلاف عملي میکانیزمونه:

د سولې د تحقق او افراطیت د له منځه وړلو لپاره افغانان له پېړیو راهیسې ځانګړي اصطلاحات او عملي منلي میکانیزمونه لري او د افغانانو دود او کلتور دې بنسټیزې پوښتنې ته چې د افراطیت، محرومیت، مظلومیت مخه به څنګه نیول کېږي، ځواب ویلی دی.. ډاکټر کبیر ستوری د وحدت ورځپاڼې ۱۴ مارچ ۱۹۹۸ ګڼه کې ځینې میکانیزمونو ته اشارې کړي دي:

**سوله او روغه**: سوله د څه مودې لپاره د دواړو خواو ترمینځ د جګړې بندیز ته وایي چې د جرګې له خوا لګول کېږي او ټاکلې ناغه (جریمه) پرې ایښودل کېږي چې کوم اړخ یې مات کړي د هغه څخه اخیستل کېږي. روغه بیا دایمي جوړې او پخلاینې ته وایي، ټولې پخوانۍ لانجې حل او ورورولي بېرته مینځ ته راشي.

**ننواتې**: کله چې سړی ځان پړ (ملامت) ګڼي، نو مقابل اړخ ته ننواتې ورځي او بښنه غواړي. د ننواتې منل د پښتنو یو غوره صفت دی او د مړي له بدو هم تېرېږي. په ننواتې کې زیات پښتانه د ځان سره پسونه هم بیایي او بیا یې هلته حلالوي او یا د ځان سره قران شریف او ښځې بیايي، ځکه چې پښتانه د ښځو پړوني ته په درنه سترګه ګوري او خامخا یې بښنه مني.

**برمته**: که څوک په یوه کلي کې په چا پور لري او نه یې ورکوي، نو د پور خاوند د پوروړي د کلي کسان او یا مال نیسي تر هغو یې نه ورکوي چې د ده پور یې نه وي ورکړی ډېرې برمتې بیا د جرګو او مرکو له لارې فیصله کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تړه او تړون** : کله چې یو بهرنی دښمن په یو ځای یرغل کوي، نو دلته ټول ولس راټولېږي پخپل مینځ کې یو تړون او پرېکړه کوي او په ګډه د یرغل مخه نیسي.

**چغه**: کله چې یوه کلي کې په چا دښمن داړه وکړي، نو د کلي ټول خلك د وسلو سره راوځي او د باندیني خطر مخه نیسي.

**اشر**: کله چې د یوه تن له وسه د لنډ وخت درونډ کار لکه غوبل یا کوهی کندل پوره نه وي، نو د کلي خلك د مرستې لپاره راغواړي هغوی ورسره مرسته کوي او دی به یې مېلمه پالنه کوي.

**ټوله ښبنه، ښندنه:** که چا ته د کوم مصیبت له کبله تاوان ورسېږي، نو د کلي خلك او خپلوان یې ورته پیسې راټولوي چې خپل کار پرې ببرته روان کړي.

**تیږه**: حدبندي او بنسټ ایښودلو ته وایي جرګه دواړو خواو ته خپل حد معلوموي چې ترې به نه اوړي او د تیږې په ماتولو ناغه ( جریمه ) لګوي.

**پیغور او بد ل**: د پیغور په واسطه د پښتنو پښتو (صفتونه) په پوښتنه کې اچول کېږي او پښتانه د بدل اخیستلو ته ملا تړي. بدل ډېر ډولونه ( قسمونه ) لري کله کله د روغې په حالت کې د مړي په بدل کې ښځې ورکول کېږي چې « سوره» ورته وایي او خپلوي مینځ ته راځي او یا د قاتل له پرې (ډلې) له خوا یو تن ورته په ګوته کېږي چې ده ستاسو کس وژلی دی او « کشنده » ورکول کېږي، چې همدا وژلی شي او بدل به یې نه اخیستل کېږي. « کشنده » بیا پټ ګرځي او یا چېرته بل وطن ته تښتي او هلته خپل سر په امن کې کوي. داسې افراطیت نه دی چې نړیوال برجونه چا والوزل، د افراط ګري او تروریزم ماسټرمایندان څوك دي؟ او انتقام له یوه سوله خوښوونکي ولس څخه اخیستل کېږي.

## منځګړی یا دریم ګړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شخړو د هوارۍ (Conflict Resolution)، د اوربند (Ceasefire)، د ګڼو اړخونو ترمنځ د چارو د اسانتیا (Facilitation) او بالاخره د خشونت (Violence) او جګړې (War) د ختمولو او د سولې (Peace) د تحقق لپاره دریم ګړي (Mediator) چې دواړو اړخونو (Involved Parties) ته د منلو وړ وي مهم نقش لوبوي او دا کار ټول د خبرو او تفاهم له لارې ترسره کېږي، نه د زور او جګړې له لارې.

په نړیواله کچه د پورتنیو هدفونو لپاره مستقل انستیټوټونه او اداري جوړې دي چې البته په پروژه يي او د پیسو په مقابل کې د یوه او یا بل اړخ په ګټه پرېکړه کوي، اما افغانان يې د یوه اصیل کلتور او دود په توګه په داوطلبانه ډول ترسره کوي. د ډېرو مهمو نړیوالو میثاقونو او دریم ګړو د پرېکړو د تطبیق لپاره تل د اجرایي تضمین خبره لاینحل پاته ده اما جرګه د دریم ګړو له لارې خپله پرېکړه وروسته له هغه چې جرګه واك ورکړي، په ډېره کمه موده کې حلوي. زموږ ډېرو موسساتو دا ستونزه ځکه حل نه کړه چې دلته افغانان بیا هم له دې سوله ییز حق او نقش څخه محروم شول. کله چې دریم ګړی پرېکړه وکړي او مخالف طرف له هغې څخه سرغړونه وکړي، دوی په ټول قوت د هغې مخه نیسي. دا ډول مینځګړتوب ولو که یو طرف ملامت هم کړي، ځان ته پیغور نه ګڼي او نه يې د تسلیمۍ پر مانا تعبیروي، اما اوسنۍ د سولې اکثره غیر فطري پروسې د تسلیمۍ په مانا دي، نه د ستونزو د حل لپاره.

## اربکي:

د جرګو د پرېکړو د عملي کولو لپاره ولس د تکړه ځوانانو څخه په برابر اندازه د ولسونو په تفاهم یوه ډله ټاکي چې ورته اربکی وايي. اربکی جرګې او قوم ته بشپړ مسولیت لري چې پور د پوروړو څخه واخلي او د قوم امنیت وساتي. په نوره نړۍ کې همدا دود یو څه موسساتي شوی دی او ورته (Community Police) وايي. دا ډول پولیس قانوني قاموس داسې تعریفوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

A philosophy that combines traditional aspects of law enforcement with prevention measures, problem-solving, community engagement, and community partnerships

ژباړه: هغه نظریه چې د قانون د تطبیق دودیز اړخونه په دې ډول چې د ولس امنیتي تدابیر، د ستونزو حل، د ولس ګډون او مالکیت په ځان کې را ونغاړي، ورته ولسي پولیس وایي. بدختانه دلته هم د اربکي د اصولو مخالف په بله بڼه او ډول وګړي ګمارل کېږي چې په اصل کې قوم او ولس له دې مهم سوله ییز اجرایي قوت څخه محرومول دي او یو بل ډول وربانديې تپل کېږي.

ik.com

# بدل:

که یو څوك بل څوك مړکړي او د مړي د کورنۍ کوم بل غړی قاتل ووژني، نو ویل کېږي چې دغه شخص د خپلې کورنۍ د غړي بدل واخیست او له همدې سره دواړو لوري د دریمګړو په خوله سولې ته سره کېني. په بدۍ کې د جینۍ ورکولو ته هم بدل وایي. دا چې په خپله پروسه او یا وسیله څه ډول ده، په دې کې ستونزې او خبرې شته، اما که یې هدف ته ځیر شو، هدف بیا هم ډېر مقدس او هغه د سولې تحقق او د نورو مسلسلو قتلونو مخنیوی دی. په طبیعت کې افغانان همدا ذهنیت او همدا ځانګړتیا لري. په افغانستان کې ظاهراً د سولې د مقدس هدف لپاره خو په ملیونونو افغانان ووژل شول او لا یې وژنه روانه ده، آیا دا مهذبه، متمدنه او انساني تګلاره ده؟ آیا افغانان په یوه نابرابر جنګ نه دي تېل وهل شوي؟

# مشرتوب:

مشر (Leader)، خان (Community Leader)، ملك (Village Leader)، مېلمانه یا جرګه مار بدرګه کول (Protocol) ټول متمدن او عصري مفاهیم دي چې اصلي دنده یې سوله ییزې هڅې دي او د افغانانو په کلتور کې له پخوا موجود دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرحوم قدرت الله حداد د ملي تاريخ فلسفه د بدرګې په پېژندګلوۍ کې داسې ليکي: ((بدرګې ته په اوسني اصطلاح کې تشريفات وايي. بدرګه دکام د با اعتباره ځوانانو څخه جوړېږي چې د دوی دنده جرګه مار، مېلمانه او داسې نور چې دښمني ولري ديوې سيمې څخه بلې سيمې ته رسوي او يا د عزت او درناوي لپاره وي چې ځيني خلک او ډلې خپلو سيمو ته راولي او يا يې بلې سيمې ته بيايي. د بدرګې خلک زړور، جنګيالي او وسله بند تکړه خلک وي اوهم د پښتونولۍ په ټولو اصولو پوه وي. بدرګه داسې هم وي که نجلۍ او مېرمنې يوازې يا څو کسه وي، نو په بدرګه کې سپين سرې مېرمنې وي چې نجلۍ اوښځې خپلې سيمې ته په امن رسوي، ځکه چې د پښتنو سيمې د امن او عزت سيمه وي بايد هېڅ چا ته په کې د عزت، پت، او مال تاوان ونه رسېږي.)) دلته په امنيتي ځواکونو کې د اړتيا په وخت کې د ښځو ګډون او د ښځو پر وړاندې د خشونت او افراط مخنيوی د افغانانو مهمه ځانګړنه ده. دا لنډۍ هم د پښتون د اصليت عکاسي کوي چې:

که د زلمو نه پوره نه شوه

ګرانه وطنه جينکۍ به دې ګټينه

خوشال خان ختټك په افغان کلتور کې د رهبر او مشر ځانګړتياوې داسې بيان کړې دي:

خاني کار د هر چانه دی د هغه دی

چې صرفه يې نه په سر وي نه په زر

سخاوت او شجاعت سره زيبا دی

بهادر به خالي نه وي له سخا

چې ګنډل خوړل بخښل کا خان هغه

چې لرې توره د توري خان هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په معاصر او متمدن تعریفاتو کې د لیډر ځانګړتیاوې هم دادي چې هرڅوك لیډر نه دی، فداکاري، سخاوت، شجاعت، زړورتیا او دسترخوان د یوه ښه لیډر له ځینو ځانګړتیاوو څخه دي او لیډر هرڅه د ملت او قوم لپاره کوي، نه د ځان لپاره؟ آیا افغانان له داسې یوه لیډر څخه محروم شوي نه دي؟ او که یې لري نه؟ ولې ټولنه او مشرتوب طبیعي رشد ته نه پرېښودل کېږي؟ د غزلبڼ شاعر استاد صدیق پسرلی وایي:

دا دنیا د سپکو ده، درانه به وي پـــــــراته پاتې

خاورې چې هم سپکې شي بې باله الوتلای شي

د پښتنو په خته کې اعتدال او عدالت نغښتی دی. تاسو وګورئ چې وایي وینه په وینه نه پاکېږي او د قتل په موضوع کې ټوله هڅه دا وي چې روغه وشي او اسلام هم لومړی پر بخښنې او عفوې ټینګار کوي. پښتانه د سوله ییز حل لپاره اساسي قانون، جرګه، سوله او روغه، ننواتې، ښه‌نه، برمته، مرکه، اربکی، درېیمګړی، اشر، تېږه، پړونی، بدرګه، تړه او تړون، چغه، مشر، خان او... لري. نو ویلای شو چې افراطیت د پښتون د مزاج او فطرت خلاف عمل دی، البته د محرومیت، انزوا، مشرتابه او ټولو سیاسي، فرهنګي، اقتصادي، تعلیمي او امنیتي پروسو څخه محرومول او د افغانستان طبیعي سرحدونه په سیاسي تپل شویو سرحدونو بدلول او بالاخره له خپل وطن څخه نورو هېوادونو ته د مهاجرت لپاره مجبورول، دوی پیغور، بدل او انتقام ته چې تر ټولو اخرنۍ وسیله ده، مجبوروي او که یې وس ونه رسېږي، نو بیا وایي چې تر وژلې زوی پرېښې ګومل ښه ده. همدا اوس د پښتون ولس بې تفاوتي د دوی د بې وسۍ او جګړه یې مجبوري ده، کنه ددوی په خته کې افراطیت نه شته، دا هم یوه وارداتي متاع ده چې د مصرف بازار یې افغانستان، تولیدونکي او خرڅوونکي یې نړیوال او سیمه ییز سوداګر دي. پښتانه جرګه مار دي، اما جګړه مار نه دی. البته ددې یادونه هم اړینه ده چې ووایو د پښتنو په عمل او ځینو دودونو کې افراطیت شته او هغه هم له دې کبله پر ځای پاتې دی چې ددې دودونو د اصلاح لپاره هیڅ کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دی شوی او په زوره له حکومت او دولت څخه بېرون ساتل شوی دی. دا حتمي نه ده چې د یو کس افراطي عمل د هغه قوم د فکر او طبیعت استازیتوب وکړي. له بل پلوه، د پښتنو د غرني طبیعت او جنګي تجربې څخه پردیو داسې ګټه پورته کړې ده چې نظامونه او دولتونه یې ورباندې چپه کړي دي، اما ددوی څخه د دولت او ملت جوړوني په ځانګړي ډول امنیتي بنسټونو په سمبالښت او ټینګښت کې نه دا چې استفاده نه ده کړې، بلکې په زوره یې د قومي سیاستونو په نتیجه کې محروم کړي دي. دا محرومیت دوی تل مجبور کړي دي چې پردي دوی د نظامونو لپاره د یوه ګواښ او وسیلې په توګه وکاروي.

په دې ۳۵ کلنه نا برابره جګړه کې، که یې مخه ونه نیول شي، ورو ورو به بالاخره جګړه په یوه طبیعي کلتور بدله شي او له یو نسل څخه به بل ته انتقالېږي او افراطیت به بیا بالاخره د راتلوونکو نسلونو یو نه مهارېدونکې ځانګړنه شي. هیله ده دولت د ممبر، تېغر، دفتر او سوداګر ترمنځ د افراطیت د له منځه وړلو او اعتدال لپاره یو مشترك لرلید د منظمو اقتصادي، فرهنګي، اجتماعي، سیاسي، امنیتي او دیني پروګرامونو له لارې رامنځته کړي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوکتور شفیق صمیم وینا

اسلام علیکم!

لومړی مننه کوم له استاد یون څخه او راغلو رسنیو نه هم مننه کوم په ځانګړي ډول له حسینه ګل تنها خور ته چې یوازې راغلې زه ترې مننداوی یم، بیا هم ټولو راغلو مېلمنو ته ښه راغلاست وایم.

زما موضوع د عربي هېوادونو سره دافغانستان اړیکې

په ټوله نړۍ کې ۵۷ اسلامي هېوادونه دي چې هغه د او ای سي د اسلامي هېوادونو مرستندویه سازمان کې سره راټول دي چې ۲۲ عربي هېوادونه دي چې دا په عرب لیګ کې شامل دی، عربي هېوادونه بیا په داخل کې چې د اسلامي هېوادونو سازمان چې اصلي دی په دې کې بیا ټول عربي هېوادونه شامل دي، د خلیجي هېوادونو سازمان چې دا شپږ هېوادونه دي عربي امارات، کویټ، بحرین، قطر، سلطنت عمان، سعودي عربستان

د افریقایي هېوادونو ټولنه د مغرب عربي هېوادونو ټولنه الجزایر، ټونس، لیبیا، المغرب او موریتیانا، په زیاتره عربي هېوادونو کې سیاسي نظامونه په میراثي ډول حکومتونه کوي افغانستان چې د اسلامي نړۍ یو مهم جز دی، ټول عربي هېوادونه چې اسلامي هېوادونه دي او افغانستان هم اسلامي هېواد دی ډېر سره مشترکات لري.

راځم دې ته چې عربي هېوادونه سره موږ رېښتیا هم ګڼ مشترکات لرو، پدې کې شک نشته چې کله چې صحابه کرام راغلي دي او نړۍ ته یې اسلام رارسولی دی زموږ هېواد ته یې هم رارسولی دی د هماغه وخت نه مسلمانان یو، موږ د عربي هېوادونو سره په ګڼو برخو سیاسي، دیني او اقتصادي او ټولنیزو چارو کې اړیکې لرو خو د خپګان خبره داده چې په اقتصادي برخو کې زموږ اړیکې د عربي هېوادونو سره کمې دي لکه څنګه چې ظریف صیب وویلې چې موږ په اماراتو کې ډېر افغانان لرو، ډېر د تعجب خبره داده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ په عمان کې درې زره کارګران په یو ښار کې کار کوي خو دبده بخته ټول د خوست او پکتیا دي، هېڅ بل افغان نشته د بل قوم، موږ ټولو توکمونو او ژبو ته احترام لرو خو پخپله ژبه باندې ټینګار کوو، زموږ ملا دې هم په خپله ژبه خبرې وکړي، زموږ ډاکټر دې هم پخپله ژبه خبرې وکړي، زموږامام دې هم په خطبه کې په پښتو ژبه خبرې وکړي او دا کوم عیب نه دی دا زموږ حق دی، خو زموږ اړیکې د عربو سره کم رنګې دي یانې ډیپلوماټیکې اړیکې مو کمزورې دي، علت یې دادی چې هلته زموږ سفارتونه وروسته جوړ شوي، د بېلګې په توګه په سعودي عربستان کې ملك عبدالعزیز چې موسس داوسني دولت دی دوی په لومړي سرك ې یوازې د خلیجي هېوادونو سره اړیکې درلودې او خپل یو د تره زوی هغه یې دیوې معاهدې د لاسلیکولو لپاره خلیجي هېوادونو ته لېږلی وو هغه یوه لاسلیك وکړه چې پواسطه یې عراق او نجب سرا جلا شول دا د ډیورنډ دکرښې پشان ناوړه معاهده وه، نو هماغه وه چې هغه معاهده یې ملغا اعلان کړه، د افغانستان په تاریخ کې لومړنۍ اړیکې میرویس نیکه ټینګې کړي چې لومړي ځل لپاره حجاز ته ولاړاو حرمینو شریفینو له امامانو نه فتوا واخیسته د ګرګین پر ضد چې تاریخ کې مشهوره کیسه ده او د هغوی څخه یې د ګورګین پرضد فتوا واخیسته ، میرویس نیکه لومړنی سفیر خپل ورور یې هندوستان ته لېږلی وو خو عربي هېوادونو ته یې خپل سفیران نه دي لېږلي، خو د احمدشاه بابا په وخت کې چې نهه مهم پوستونه جوړ شول او د عثماني دولت ته احمدشاه بابا لیك عثماني خلیفه ته استولی وو او پکې یې لیکلي وو چې ما هندوستان فتح کړی او ددې په ویاړ ماته په مدینه منوره کې یو مسجد زما په نوم کړه هماغه ده چې خلیفه د بابا خبره ومنله، دا د اړیکو یوه سلسله وه، د بارکزیانو او محمدزیانو په دوره کې هم د امیر شېرعلي خان امیر یعقوب خان او عبدالرحمان خان په وخت کې هم څه ناڅه اړیکې وې، قوي خبره داده چې د امیر حبیب الله خان په وخت کې د بهرنیو چارو وزارت جوړ شو، بیا غازي امان الله خان په وخت کې خپله لاړ او د سعودي پاچا ۲۲ ورځو کې ورته د لرګیو نه قصر جوړ کړ او ورته یې ډالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ، د نادرشاه خان په وخت کې سیاسي اړیکې لاقوي شوې سفیر لاړ او لومړی سفیر هلته محمد صادق مجددي وو بیا د ظاهر شاه په وخت کې چې محمد هاشم مېوندوال کله صداعظم شو بیا عبدالهادي خان داوی سفیرشو بیا شمس الدین مجروح په قاهره کې سفیر شو، په جده کې قونلسګري موجوده وه، همدارنګه په عراق کې، اردن کله چې د پښتونستان مسله را اوچته شوه بیا عربانو پکې ډېر مهم رول لوبوه چې پخپله د مصر پاچا جمال عبدالناصر دلته راغی او استاد سیاف دهغه ترجماني دلته کلوله، او نور د سعودي پاچا هم هیت راواستوه او د پاکستان او افغانستان لانجه یو څه کمه شوه، موږ وایو چې عربي هېوادونه ولې موږ ته مهم دي

په عربي هېوادونو کې کله چې زموږ سفیران استول کېږي هغه په عربي کولتور او ژبه نه پوهېږي، خو زموږ سفیرانو ته دا شرم ښکاري ماچې اکثره د ځینې سفیرانو نه پوښتنه کړې چې ولې اړیکې نه پالئ؟ دوی وایې دلته ټول وهابیان او اخوانیان دي او موږ ته ګټه نه شي رسولی! دوی ته موږ اړتیا نه لرو او زموږ په وطن کې لانجې جوړوي، ټول عربي هېوادونه اسلامي هېوادونه دي او افغانستان هم په اسلامي نړۍ کې یو مشهور اسلامي هېواد دی. کې ټولو افغانانو ته په درنه سترګه ګوري په ځانګړي ډول پښتنو ته په ډېره درنه سترګه ګوري، ځکه هغوی ته داحقیقت رسېدلی چې افغانستان کې د اسلام مقدس دین پښتنو ساتلي او په افغانستان کې  داسلام مقدس دین د پښتنو پر سر ساتل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پروفیسور عبدالخالق رشید وینا

مونږ څنګه کولای شو چې ځان شعوري کړو، پښتون شعوري کړو؟

یو ملت  یو قوم چې ځلور زره کلن تاریخ لري په دې خاوره کې لري او په همدې موده کې چا نه وي پورته کړی، هر څوك چې دلته راغلي یا یې مقاومت ورسره کړی یا یې پخپل ځان کړي حل کړي او یا ورځنې په تېښته تښتېدلي دي، دا چې د یوه ملت لپاره دا چانس شته او دا د ډېرو ملتونو په برخه نه دی، مونږ چې د نړۍ د ملتونو تاریخ لولو هغوی د یوه ځای نه بل ځای ته دا ملتونه تللی راغلي دي خو مونږ دا ویاړ لرو چې مونږ ځلور زره او اتلس کاله  پدې خاوره زمونږ موجودیت ثابت پاتې شوی دی .مونږ خپل هېواد کې یو  چېرته تللی نه یو، او مرګ او ژوند مو همدلته تېر کړی دی.

ایا مونږ اوس پدې باندې فکر کړی دی چې مونږ څنګه کولای شو پښتون شعوري کړو

تعلیم مو کمزوری دی، تاریخ  مو چې مهم دی مونږ یې لږ هغه مو هم له یاده وتلی دی، زه په هندوستان کې اوه زره محصلین لرم په اوه زره محصلینو کې ځلور زره پښتانه دي، ولې هر یو نه چې پوښتنه وکړې چې ته د کوم ځای یې؟ ولې د خپل کلي او وطن په تاریخ نه پوهېږي، امان الله خان او احمد شاه بابا په اړه معلومات یې خو لا څه کوي!.

شېرشاه سوري  به ویلې چې قبیلویت پرېږده! قومیت غوره کړئ! شېرشاه د هندوستان په تاریخ کې هغه پاچا وه چې په ۲۰۰۳ کال ك د هندوستان صدراعظم واج پایي د لال کلا نه اعلان وکړ او ویې ویل چې ای د هندوستان ملته! تاسو پدې مه مغروره کېږئ چې مونږ پرمختګ کړی او مونږ اتوم جوړ کړی، تراوسه پورې مو د افغان ښېرشاه هغه پلانونه چې هندوستان لپاره یې جوړ کړي وو نه دي عملي کړي.

www.melltahrik.com 0774001116

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ملت چې دوه سوه کاله چې دی حاکم وه د هند تره بحره تر مرکزي اسيا پورې تر ايران پورې تراوسه د ځان د ژغورنې لپاره هېڅ چانس نه لري او ځان ترې نه شي ايستلی، جنګ دې د امپرياليزم سره دی، دسوسياليزم سره دی، خو موبايل د هغوی استعمالوې، پيسې يې هغوی ته ځي، اوس پدې پېړۍ کې پښتون لپاره څه اړتيا ده خو پاچاخان يوه پېړۍ مخکې وويل چې عدم تشدد د پښتنو لپاره د ژغورنې يوازينۍ لاره ده، شپږ ګاونډيان دې اټومي وسلې لري، يو کلاشيفکوف باندې څه نه کېږي، زوی او لور باندې دې تعليم وکړه! تر څو سيال شې، دې ته وايي شعوري کېدل، زما يوه لور ده وايي زما يو پاکستاني صنفي وايي زه افغان يم، خو زموږ افغانان وايي زه تاجک يم، زه هزاره يم، د باچا خان فلسفه نورو عملي کړه خو موږ يې هم عملي کړو، زه د غزني يم د غزني ولايت نه يو پښتون وکيل رانغی، حال دا چې غزني يو پښتون ولايت دی.

حق غوښتل کېږي ورکول کېږي نه، زموږ دحل لاره داده چې کار وکړو دا ونه ګورو چې خلک څه کوي، خلکو خبرو پسې ونه ګرځو.

داسې نه چې موږ کدر نه لرو، همدا اوس د کاناډا او امريکا په مهمو پوهنتونونو کې دپښتانه ځوانان درس ورکوي، ايا موږ خبر يوو ايا له دوی څخه مو ګټه اخيستې، پدې هيله چې پښتنو شته ستونزې حل شي

مننه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلام جیلاني څواك وینا

# په تېره یوه لسیزه کې وژل شوي پښتانه مشران

ټولو ته سلامونه وایم، دلته د ستونزو په اړه خبرې کېږي، زموږ تر ټولو لویه ستونزه داده چې موږ سره تقسیم یوو، زموږ وجود په دوه برخو وېشل شوی، لر اوبر دې واوري، تر څو چې لر اوبر پښتون یوځای نه شي زموږ ستونزه نه حلېږي، یو کېږو که نه قسم په خدای چې ورکېږو:.

ملتونه که لوری وټاکي او تکل وکړي هرو مرو پایله ورکوي، ځکه د ملتونو مخه څوك نشي نیولی، پښتو کې یو متل دی وایي سل دې ومره خو یو دې مه مره، خوزموږ پښتانه هم یو مري او هم سل مري، دا یوازې د جګړې خبره نه ده، او نه هم تصادفي خبره ده په ډېر سیستماتیك ډول باندې هڅه شوې ډېر پښتانه مشران ختم کړي او پښتانه د رهبرۍ نه بې برخې شي په ځانګړې ډول په تېرو دیارلس کلونو کې، له دې پخوا هم قومي مشران له صحنې نه وویستل شي، کله چې د خلق ګوند له خوا کوداتا وشوا پښتنو مشرانو سره داسې کار وشو لکه سیاسي مخالفین، هغې وخت کې داسې فکر کېده چې د پاڅون یوه هسته کېدای شي همدا قومي مشران وي، او د مترقي ټولنې د جوړولو په پلمه باندې دا سلسله پیل شوه، په قبیلوي ټولنه کې قومي مشران برخلیك ټاکي او په مترقي ټولنو کې سیاسي ګوندونه لوری ټاکي، د جهاد په وخت کې دا کار قصدي وشول، کوم کارونه به چې قومي مشرانو کول دا کار قومندانانو وکړل، ای اېس ای دا کار وکړ، چې مستقیم ډول یې قومندانان تر خپل کنټرول لاندې راوستل، پاکستان ته یې ګټه داوه چې په محلي سطحه د پېښنو جریان کې دوی شامل کړل په هره سیمه کې یې نفوذ پیدا کړل او قومندانانو به په ډېر ویاړ ویل چې د مقاماتو سره مو اړیکه ده یانې ای اېس ای سره مو اړیکه ده، دې کار طالبانو ته زمینه برابره کړه، بیا القاعده راغله

www.melitahrik.com 0771400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د سپټمبر پېښې وشوې او نړېواله ټولنه داغله هیله داوه چې بیا به قومي جوړښتونه بېرته خپل ځای ومومي، خو حکومت دا نیت نه درلود ، په ځانګړې ډول د حکومت غوښتې برخې شمالټلوالې نه غوښتل چې پښتانه قومي جوړښتونه رامنځته شي.

او دوی نه قصدي نه غوښتل چې پښتانه بېرته په طبعي ډول رامنځته شي، طالبان بېرته را پورته کړای شول، د خپلو موخو لپاره پدې مرحله کې چې د طالبانو د نفوذ د مخنیوې لپاره یواځینې ګواښ قومي مشران، او جرګه وه، بیا د قومي مشرانو وژل شروع شول، یوازې شپږ سوه قومي مشرانو نه زیات په کندهار کې ووژل شول.

ویل کېږي نژدې دریالس سوه قومي مشران په پښتونخوا کې وژل کېږي، په وزیرستان کې اصلي قومي مشر نه دی پاتې شوی ټول له منځه وړل شوي، دا ددې لپاره چې پښتانه خپل رهبر ونلري، داسې سیاسي رهبریت نشته او نه سیاسي قوت شته چې د پښتنو د حقوقو څخه دفاع وکړي، شمالټلوالې ونه غوښتل چې پښتانه خپل رهبر ولري، په شمالي ولایتونو کې یې ټلواله کوي او په جنوبي ولایتونو کې یې طالب کوي چې پښتانه خپل رهبر ولري.

ددې لپاره چې د پښتون نشنلیزم له منځه لاړ شي او بې رهبره شي، حل لاره یې داده چې پښتانه مشر پیدا کړي او سره بیا منسجم شي که نه دا ستونزې نه حلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# د افغانستان ملي تحريك

## (پښتون په تراژيدۍ کې او د ژغورنې لار)

## د يو ورځني نړيوال، پوهنيز، شننيز او څېړنيز سيمينار د برخوالو

# پرېکړه ليك

## ۱۳۹۲ ل کال د وږي ۷مه نېټه

## کابل- افغانستان

د ۱۳۹۲ل کال د وږي مياشتې پر (۷)مه نېټه په کابل ستار هوټل کې يو يو ورځنی نړيوال او پوهنيز سيمينار جوړ شو. په دې سيمينار کې په لسګونو لرو بر افغان ليکوالو، پوهانو او د بېلابېلو برخو کارپوهانو ګډون درلود. د سيمينار ويناوالو دې ترخه واقعيت ته ګوته ونيوله، چې پښتانه په يو لوی ناورين او يوه ترخه تراژيدۍ کې راګير دي. په تراژيدۍ کې که نن يوازې پښتانه سېزل کېږي، نو ددې اټکل شته چې ددې غميزې لمبې به نورو لرې نږدې ولسونو او سيمو ته هم ورسېږي. د سيمينار ګډونوالو پر دې ټينګار وکړ چې سوله د ټولو ولسونو يو مهم ضرورت دی او بايد دې چې ولسونه يو بل سره مرسته او همکاري وکړي. د سيمينار ګډونوالو په دې باب دغه لاندې پرېکړه ليك صادر کړ:

۱- پښتانه په لوی لاس په روانه لويه تراژيدۍ کې ساتل کېږي، هر څوك چې له هر لوري ددې تراژيدۍ اوږدول غواړي، وروستۍ لمبې به يې دوی ته هم ورسېږي، نو په کار ده چې له هر ډول لمسونو څخه لاس واخلي.

۲- افراط او تفريط پر پښتون ولس تحميل شوي، دا دواړه پديدې د پښتون له اصلي کرکتر سره اړخ نه لګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- پښتو ژبه يوه محرومه او محکومه ژبه ده، په دې محکوميت او محروميت کې د پښتنو د رقيبانو ترڅنګ خپله پښتنو هم ونډه اخيستې، موږ نور په هېڅ ډول دا محروميت، محکوميت او مظلوميت نه شو زغملای.

۴- په پښتنو کې اوس د يو اساسي سياسي حرکت او مشرتابه خلا ده، ددې خلا د ډکولو لپاره بايد په تدبير او دقت ګام پورته شي.

۵- پښتانه په لوی لاس د ولسواکۍ او ټاکنو له بهير لرې ساتل کېږي، داسې لارې چارې بايد ولټول شي، چې پښتانه د خپل قومي اکثريت په شان سياسي اکثريت هم ثابت کړي.

۶- يو زيات شمېر د مضر مصلحت او مضر احتياط پر ناروغۍ اخته دي، له هرې ممکنـــې لارې چـــې وي، ژر تـــر ژره بايـــد ددې نـــاروغۍ درملنـــه وشـــي.
۷- جګړه د پښتنو ټول ارزښتونه له منځه وړي، همدا اوس د بېلابېلو جګړه مارو غاړو له خوا د پښتنو عاموژنه روانه ده ، دا عاموژنه په هېڅ ډول د زغم او توجيه وړ نه ده، له ټولو نړيوالو او کورنيو بشري سازمانونو څخه غواړو چې د پښتنو د جنوسايډ د ختمولو لپاره خپل غږ پورته کړي.

۸- د تعليم نشتوالي او ناعموالی او اقتصادي فقر د پښتنو د بدمرغۍ نور عوامل دي، د پوهنې وزارت په ګډون له ټولو اړوندو ادارو څخه غوښتنه کوو چې د پښتنو له استحقاق سره سره سم هڅوی ته برابر کړي.

۹- د ډيورنډ کرښه يوه منحوسه، کرغېړنه او جبري کرښه ده، يو واحد ملت يې پر دوو برخو په جبري ډول وېشلی، دا سرطاني کرښه په هېڅ وجه د منلو وړ نه ده او څومره ژر چې کېږي بايد دړې وړې شي، ډيورنډ مړ او کرښه يې هم مړه ده.

۱۰- د سيمينار ګډونوال د سيمينار د ويناوالو له نورو ګټورو ويناوو سره هم موافق دي او په ټوليز ډول يې تائيدوي.

د سيمينار ګډونوال غوښتنه کوي چې ددې سيمينار ويناوې او ليکنې دې په کتابي بڼه هم چاپ شي او د رسنيو له لارې دې هم خپرې شي.

www.meliatahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کوروداني

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (شېرعلي شېر) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوالو او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**